# د افغانی
# سید جمال الدین
# خاطرات

Download from: aghalibrary.com

# د ژب اړوونکي مقدمه

د مرحوم افغاني سيد جمال الدين په باب به مو ډېر څه اورېدلي او ډېر څه به مو لوستي وي خو کوم حقايق او معلومات چي د ده د پېژندګلوی، د ده د افکارو، د ده د فلسفې او د ده د ژوندانه د سرګذشت په باب په دغه کتاب کښې شته په بل هيڅ اثر کښي به يې ونه ګورئ او نه به موليدلي وي. دغه خاطرات د هغه چا له خوا راټول شوي او ترتيب شوي دي چي د سيد د ژوندانه په وروستيو کلو کښي د مرګ تر ورځي پوري ورسره يوځای و او په عين حال کښي په سيد ډېر ګران او د ده د اعتماد وړ و. تر دې پوري چي اسرار يې هم ترې پټ نه وو او په هر څه کښي يې همراز و. شپه او ورځ يوځای ورسره اوسېده او له مخلصو او فداکارو شاګردانو او مريدانو نه يې و. نو له دې کبله د دغه کتاب محتويات له بلي هري ليکنې نه د ډاډ وړ دي او علاقه مندان کولای شي چي د خپلو معلوماتو تنده پرې ماته کړي او سيد په هغه ښه وپېژني چي و. په دې کتاب کښي د ده د ژوندانه په بېلو-بېلو اړخونو پوره رڼا اچول شوي او چي محتويات يې په دقت ولوستل شي سړی کولای شي چي د ده په سياسي فلسفه، ديني عقايدو او اجتماعي نظرياتو وپوهېږي او استفاده ترې وکړي. د ده افغانيت هم په واضحه توګه ترې ثابتيږي او په مکرر ډول د ده د افغانيت ثبوت ورکوي.

د ده د عقايدو، افکارو او فلسفې په باب، د ده د اصليت او تاريخ په باب، دده د دين او مذهب په باب راز-راز شيان ويل شوي او مثبتي او منفي نظريې پرې ورکړي شوي دي خو د ده اصلي او ذاتي شخصيت په پوره توګه نه چا پېژندلی او نه يې هغسې چي وو معرفي کړی دی او که چا پېژندلی وي اوهغسي يې معرفي کړی وي نو هغه به يوازې د دغو خاطراتو مولف محمدالباث المخزومي وي او بس.

Download from: aghalibrary.com

په دغه كتاب كښي كه څه هم يوه خاصه او معينه موضوع تعقيب شوې نه ده ، بلكي مختلفي موضوع ګاني دي چي په بېلو-بېلو وختونو كښي په جلا-جلا شرايطو كښي يو د جلا-جلا عواملو او ايجاباتو په اثر د ده له خولې راوتلي او نوموړي مولف سره راټولي كړي دي خو له فايدې خالي نه دي او هر څوك هر وخت استفاده ترې كړاى شي. او د دغه كتاب مطالب او محتويات زړښت نه لري او تر اوسه پوري او الى ماشاالله به د استفادې وړ وي. د ده د ټولو كوښښونو غايه او موخه د شرق او شرقيانو راويښول او خپلو سياسي، اجتماعي، عرفاني او اقتصادي فرايضو او وجايبو ته د هغوى ملتفت كول و او د دغه كار ضرورت اوس هم احساسيږي او هر وخت بايد په نظر كښي وي. كه د ده افكارو او سياسي تبليغاتو په هغه وخت كښي شرقيان راويښ كړل او د خلكو په اذهانو او عقايدو كښي يې د نهضت روحيه راژوندۍ كړه او د غير صالحو حكومتونو په ضد يې راوپارول او كه په ټول شرق كښي يې انقلابي ولولې را پورته كړې او د خلكو د تفكر طرز مسير ته يې تغير وركړ او د ده دغه كار د دې باعث شو چي له هر ځاى نه وشړل شي او د غرض خاوندان يې له ځانه ورټي نو نن هم لا په نړۍ كښي مخصوصاً په شرقي هيوادو كښي هغه عوامل او شرايط شته چي په هغه وخت كښي وو، اوس هم اكثره شرقي ملتونه په داسي لومو كښي ګير دي چي د خپل خلاصون دپاره د سيد افكارو ته اړه لري، استعماري او استثماري سياستونه اوس هم شته (كه څه هم بڼه يې بدله اوسي) او له هغه سره د مقابلې او مجادلې دپاره د سيد رسا افكارو ته ضرورت ليدل كيږي. د پخوا او رسېدلو خلكو خبرې پخې وي او په هر وخت كښي استفاده ترې كېداى شي. په دغه كتاب كښي داسي حقايق شته چي اوس هم د سړي افكار په خروښ راولي او د حق خواهۍ جذبه يې راپاروي هغو نواقصو ته ګوته نيسي او لاري ګودري يې ښيي چي په هغه وخت كښي په شرقي ملتونو كښي و او اوس هم شته.

Download from: aghalibrary.com

کوم وخت چي دغه نایاب او مفید کتاب زما لاس ته راغی او په محتویاتو مي يې ځان پوه کړ اراده مي وکړه چي په پښتو ملي ژبه يې ترجمه کړم، همهغه و چي په ۱۳۴۳ه ش کال کښي مي د هغه په ترجمه پیل وکړ او سمدلاسه تر چاپ لاندي ونیول شو چي یوه برخه يې په همهغه وخت چاپ هم شو، خو رسمي مشاغلو فرصت رانه کړ چي د دغه کتاب پاتي برخه هم ترجمه کړم، او اوس چي يو هغه فرصت راته میسر شو او د بیهقي د کتاب خپرولو د محترمي موسسې محترمو کارکوونکو د دغه کتاب د ترجمې د تکمیلولو غوښتنه راڅخه وکړه په مینه او علاقمندۍ مي ومنله او دغه دی د پاک خدای(ج) په مرسته مي پای ته ورسوله او نوموړي محترمي موسسې ته مي تقدیم کړه چي تر چاپ لاندي يې ونیسي.

خو یو څو ضروري یادوني باید وکړم چي ما د دغه کتاب په ترجمه کښي د تحت اللفظي ترجمې روش غوره کړی نه دی او د هغه مطلب مي را اخیستی او د پښتو په سبک مي لیکلی دی. د آیتونو او حدیثونو ترجمه مي هم په حاصل کړې ده نه ټکي په ټکي، ځکه چي ټکي په ټکي ترجمه د جملو او سطرونو سلامت له منځه وړي او په ښه توګه استفاده نه شي ترې کېدای. همدارنګه ځیني هغه موضوع ګاني مي پرېښودې چي اختصاصي بڼه يې درلوده او د عامو خلکو د استفادې وړ نه وې لکه د (نیچریه) د رسالې او د نشوې او ارتقا د مقالې ترجمه.

او د مولف هغه مقالې مي هم ترجمه نه کړې چي ده د سید په غوښتنه د ده د خاطراتو په لړ کښي راوړي وې.

هیله ده چي دغه کتاب ژر چاپ شي او د علاقمندانو د استفادې وړ وګرځي.

محمدشاه ارشاد

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدالله الذي بعث في كل امۀ نذيراً، و ارسل خاتم النبيين محمداً سراجاً منيرا، وانزل عليه و من يؤت الحكمۀ فقد اوتی خيراً كثيراً، والصلاۃ والسلام علی سائرالانبياۀ والمرسلين هداۃ الخلق الی الحق و علی الهم و صحبهم احمعين[١].

## تمهيد

د دغه كتاب (د افغاني سيد جمال الدين خاطرات) اكثره موضوع ګاني د سلطان عبدالحميد په وخت کښي له ۱۲۱۰ هق/۱۸۹۲م کال نه تر ۱۲۱٤هق/۱۸۹۷م کال پوري په ډېر احتياط بلکي په ډار او وېره ليکلي شوي وې، ځکه چي په دغه وخت کښي شديد مراقبت او ډېر جاسوسان موجود وو آن په بې ګناهو خلکو پوري به تومتونه او تورونه لګېدل مخصوصاً په سيد جمال الدين او په هغو کسانو پوري چي له ده سره به يې ناسته ولاړه درلوده او لا به يې کور ته ورتلل.

دغه خبره به اوس خلکو ته ډېره مهمه نه برېښي خو که ديوې پېړۍ دريمي تېري برخي ته وګوري او هغه موضوع ګاني هم په نظر کښي ونيسي چي په استانه کښي ليکل شوي او پرته له دې چي کوم تغيير

---

[١] ثنا او ستاينه هغه خدای لره ده چي هر امت ته يې نذير (ډاروونکی) لېږلی او خاتم النبيين حضرت محمد(ض) د روښاني ډېوې په څېر راواستولی او پرې نازل کړې يې دی، چا ته چي حکمت او پوهه ورکړه شوه ډېر څه او ډېر خيرات ورکړ شوی دی د درود او سلام دې وي په نورو هغو انبياوو او رسولانو چي خلک د حق لاري ته رابولي، او د دوی په کهول او ملګرو دې سلامونه وي.

Download from: aghalibrary.com

او توپير پکښي راوستل شي عيناً قيد شوي دي نو د دغه کار په خطر به پوه شي، همدارنګه د دغو خاطراتو مطالعه کوونکی بايد دا خبره هم په نظر کښي ونيسي چي د دغه کتاب موضوع ګاني او مطالب مسلسل او پرله پسې ليکل شوي نه دي او سبب يې دا دی چي دغه مطالب په يوه موضوع کښي ليکل شوي نه دي او نه يو مطلب لري بلکي مختلفي خبري دي چي ځيني يې په حوادثو بنا دي او ځيني يې د سوال او استفهام په توګه او يو څه يې د مناظرې په توګه او يو څه يې په بله توګه پيښي شوي او موږ دغه ټولي خبري په همغه شکل راټولي کړي دي او د هغو د صدور علتونه او کيفيتونه مو هم ښودلي دي.

د عثماني اساسي قانون له اعلان نه وروسته ځينو ډېرو ملګرو (چي د جمال الدين د خاطراتو) د کتاب په وجود خبر و دا وپتېيله چي اوس دا موقع رارسېدلې ده چي دغه کتاب له يوې مودې پټ ساتلو نه وروسته چاپ شي.

له ځيني مصري ورونو او نورو هغو هندي دوستانو چي ورسره مي معرفت هم نه درلوده، ډېر ليکونه رارسېدلي او غوښتنه يې کوله چي د دغه کتاب په چاپولو پيل وکړم خو هر وخت چي به مي د دغه کتاب د چاپ اراده وکړه د سيد جمال الدين هغه وينا راپه زړه شوه او مخي ته به مي ودرېده چي (په شرق کښي آحزاب) تر عنوان لاندي يې ليکلې وه چي د اتحاد او ترقۍ د جمعيت په رجالو تطبيقېده چي پرته له خودخواهۍ، خودپسندۍ او دروغ ويلو بل څه ورسره نه و.

له دې کبله ډېرو ملګرو دا خطره پيدا شوه چي مبادا دغه کتاب له منځه لاړ شي او منتظرين محروم پاتي شي، نو له دې کبله دا مناسب

وليدل شوه چي د کتاب چاپ بل مناسب وخت ته ټال شي چي له خطر سره مواجه نه شي.

څو کاله په همدې توګه تېر شول، کله به مي د کتاب د چاپ اراده وکړه او کله به مي صرف نظر ترې وکړ، تر څو چي ۱۳۲۹هق/۱۹۱۲م کال شو چي بيا ځينو دوستانو چي په سر کښي يې د ورځپاڼو فاضل نمايندګان وو د دغه کتاب د نشر غوښتنه راځخه وکړه نو بيا موږ د دغي غوښتني په اجابت د دغه کتاب د فهرست په طبع او نشر پيل وکړ او پخوا له دې چي د هغه له خپرولو فارغ شو د سياست فضا ګردجنه شوه او د اتحاد او ترقۍ د جمعيت ځينو مشرانو ته دا وېره پيدا شوه چي مبادا د دغه کتاب موضوع ګاني د کومي دستګاه په ضد نه اوسي، نو د دې خبري په صدد کښي شول چي ځانته معلومه کاندي چي آيا د دغه کتاب غايه حقيقتاً د اشخاصو ګوش مالي، د حکومتي هيئتونو تقبيح اولا د حکومتونو چپه کول نه دي او که څنګه له دې پسې جوخت عمومي جګړه ونښته او متحدينو ښارونه او هيوادونه لاندي کړل او بيا يې په وړو-وړو دولتونو ووېشل. نو بيا موږ د دغو عواملو په حکم دې ته مجبور او ناچار شوو چي د دغه کتاب نشر ټال کړو.

او ددې لپاره چي زموږ په خبره د مطالعه کوونکي باور راشي هغه چا يې فهرست دلته ذکر کوو چي اتلس کاله دمخه د بيروت په ادبي مطبعه کښي په ۱۹۱۲م کال کښي چاپ شوی دی او متن يې دا دی:

# د افغاني جمال الدین د خاطراتو کتاب

## د مخزومي محمدباشا په قلم

له هري خوا نه د ورونو، دوستانو او د معارف د خلکو غوښتني ډيري زياتي شوې چي د شرق د لوی حکيم جمال الدين افغاني د خاطراتو کتاب چاپ کی شي، تر دې چي که څه هم دغه کار د تکليف نه خالي نه و خو د دغو غوښتنو په مقابل کښي د انکار مجال راپاتي نه شو اوله دې نه پرته بله چاره نه وه چي د دوی د غوښتنو اجابت وکړو او خبره يې ومنو.

او دا دی د رای العام د مبارکي جريدې د ۱۳۲۹کال د ذی الحجي د مياشتي د ۲۲ تاريخ د ۴۹۲ ګڼي متن.

## د افغاني آثار

زموږ په هيواد او په نورو شرقي هيوادو کښي د پوهانو او د قلم له خاوندانو نه هيڅوک نشته چي د شرق د حکيم مرحوم سيد جمال الدين افغاني قدر ونه کړي او په لوړه مرتبه ورته قايل نه وي، ځکه چي ده د شرق د نهضت په لار کښي ډېر ربړونه او کړاوونه ګاللي او په پوره حکمت او درايت يې دغه نقشه سرته رسولې ده.

موږ پخوا اورېدلي و چي مرحوم سيد جمال الدين افغاني استاني ته په وروستي مسافرت کښي چي په ۱۳۱۰ه ق کال کښي يې کړی و او په همدې مسافرت کښي په ۱۳۲۴هق کښي يې دارالبقا ته رحلت

وكړ خپل ټول هغه افكار برالا ته راوويستل كوم چي يې زموږ د وطنوالو د بهبود په نسبت درلودل او زموږ د سور يې د فاضلو او نوابغو ليكوالو له جملې څخه محمدباشا المخزومي د سيد دغه ټول افكار سره راټول كړي او د يوه كتاب په شكل يې سره غونډ كړي دي چي په يقيني ډول سره مفيد او جليل دي.

موږ ته د مصر او هند د ډېرو پوهانو او علماوو خبر رارسېدلی و چي نوموړي باشا نه يې د دغه كتاب د چاپ او نشر غوښتنه كوله، مخصوصاً وروسته له هغه چي عثماني اساسي قانون اعلان شو نو دغو پوهانو په ډېر شوق سره له نوموړي باشا نه وغوښته چي د دغه كار په انجام كښي تعلل ونه كړي او وعده يې وركړه چي په دغه لار كښي دوی هم ورسره ملګري دي او په ګډه سره به موانع لري كړي او په ګډو كو ښښونو به دغه كتاب د نشر ميدان ته راوباسي، او موږ نه پوهېږو چي په څه نوموړي حضرت ددغي غوښتني له اجابت او منلو ډډه كوله، په داسي حال كښي چي ټول امت ددغسي حكيم خبرو او افكارو ته حاجت درلود او په مينه يې استقبالولې او محمدباشا په آستانه كښي د سيد د ژوندانه تر وروستۍ سلګۍ پوري ورسره و او د ښې بازو او متې حيثيت يې درلوده او تر پايه پوري يې همراز و او خپل هيڅ شی يې نه ترې پټاوه، نو له دې كبله موږ له ځينو وطنوالو هيله كوو چي د دغه كتاب په نشر كښي سستي او تكاسلي ونه كړي او همدارنګه د جرايدو خاوندانو ته په كار دی چي مهمي اجتماعي موضوع ګاني يې اقتباس او نشر كاندي تر څو چي خلك استفاده ترې وكړي، او همدارنګه موږ له خپل دغه غيرتي وطندار نه هيله كوو چي د دغي غوښتني په اجابت او منلو كښي سستي ونه كړي او نه بخل ښكاره كړي، نوموړی باشا هغه

شخصيت دى چي د مصر، استاني او سوريې اخبار والا يې د قدامت او سابقه دارۍ او خدمت ګذارۍ حق پېژني او تقدير يې كوي.

او دا ده د لسان الحال د مباركي جريدې د ١٣٢٧ كال د جنوري د مياشتي د ٤٨٤ ګڼې ليكنه.

# د افغاني سید جمال الدین آثار

د شرق لري او نژدې خلك ټول په دې خبر دي چي مرحوم سید جمال الدین افغاني په شرق کښي د فکري نهضت له سترو او محکمو ستنو نه و او داسي دوربین نظر یې درلود چي له لري به په نښه لګېده او د حکمت چینې په ترې بهېدې او د ده د مذهب د عاشقانو تنده به پرې ماتېده او د ده د ادراک لوړتیا ته به په تعجب کښي لوېدل.

موږ ته په دې مقام کښي دا میسره نه ده چي د دغه حکیم ټول مناقب یو په یو بیان کړو او لا هغه څه وڅېړو چي نوموړي د ایران حکومت او لا د حمیدي په دوره کښي د استاني د حکومت له لاسه ګاللي او ربړونه یې لیدلي دي، ځکه چي دغه خبره اکثره خواصو ته معلومه ده او له چا نه پټه نه ده. خو په دغه تمهید کښي چي د کوم شي څېړل غواړو هغه دا دی چي مرحوم سید جمال الدین سره له دې چي په حکمت، سیاست او اجتماعي فلسفه کښي زیات شهرت درلود متاسفانه د ده اقوال او نظریې په کوم خاص کتاب کښي جمع شوي نه دي او نه یې دغه ژوندي آثار سره غونډې شوي دي چي د ادب ارادتمندان اود سیاست طالبان یې مطالعه کړی شي او لا د ضرورت په وخت کښي مراجعه ورته وکړي.

زموږ یوه وطندار حضرت محمد باشا المخزومي چي د خپل وخت له فاضلانو او نوابغو ځني دی دغه کمبودي او رخنه ولیده او لوړ همت یې دې ته واداره کړ چي دغه اقوال په یوه خاص کتاب کښي سره راټول کاندي او یوه ټاکلې موده ورته وټاکي چي په هغې کښي د دغه

کتاب د اشتراک بيه وټاکي چي موږ به دغه مطلب په بله موقع کښي راوړو.

او دا هم پټه نه ده چي حضرت محمد باشا د سيد جمال الدين له مخلصو دوستانو ځني و او په استانه کښي ګڼ ورسره اوسېده او سيد به خپل ټول اسرار ده ته ويل او خپلي مهمي خبري به يې ورته کولې، نو بيا په دې په دغه کتاب کښي ټول هغه مطالب راغونډ شوي دي چي له نورو اخبارونو او مجلو نه پاتي شوي وو، او دا کتاب د سيد په هغو نوادرو احتوا لري چي د سيد له امتيازاتو او خصوصياتو ګڼل کيږي.ا وموږ په دې کښي هم څه شک او شبه نه لرو چي اديبان او پوهان به دې کتاب ته په داسي توګه مخه وکړي لکه تږی چي يې خوږو اوبو ته کوي او د هغه د جمعه کوونکي ثنا او نمانځنه به وکوي چي دغه نفيس او قيمتي اثر يې منځته راوستی دی او په دې کښي څه مبالغه هم نشته ځکه چي د فضليت خاوندان د فضل خاوندان پېژني او نمانځنه يې کوي. او د مفيد د مبارکي جريدې د ۱۳۲۷ کال د جنوري د مياشتي په ۸۹۹ ګڼه کښي داسي راغلي دي.

# افغاني سيد جمال الدين او د هغه آثار

چا ته چي د افغاني سيد جمال الدين تاريخ معلوم وي او د ده اراوو او افکارو سره آشنا وي او په سياست يې خبر اوسي دا غواړي چي د دغه فيلسوف چي په شرق کښي د فکري نهضت موسس ګڼل کيږي له آثارو سره کامله آشنايي پيدا کاندي، موږ خوشحال يو چي زموږ له ډلې نه يو څوک پيدا شو چي د دغه استاد اقوال په يوه کتاب کښي سره راټول کاندي تر څو چي علاقمندانو ته اسانتياوي فراهمي شي او په آسانه سره له دغو ژونديو آثارو او نفيسو حکمتونو استفاده وکړای شي.

نو له دې کبله زموږ فاضل وطنوال محمد باشا المخزومي لازم وګڼل چي دغه کتاب تدوين او د خرڅلاو دپاره يې وړاندي کړي، او يوه موده ورته وټاکي چي په هغې کښي د کتاب بيه وټاکي. او په دې کښي هم شک نشته چي د استاد جما الدين په نسبت د نوموړي باشا پېژندګلوي او په استانه کښي له هغه سره دده ملګرتيا ده ته آسانتيا برابره کړې ده چي د ده ټول هغه اقوال سره راټول کاندي چي په پوري مختصر دي.

او په دې کښي هم دغه شک نه لرو چي د علاقمندانو له خوا به د دغه نفيس اثر تود هرکلی او استقبال وشي او لاس په لاس به يې سره وتښتوي. نو بنا په دې موږ ته مناسبه ده چي د دغه کتاب د مدون او ټولوونکي نمانځنه وکړو ځکه چي ده په دغه باره کښي خپل همت په کار اچولی او د هغه په تدوين کښي يې ډېر کوښښونه کړي دي.

او دا دی د دغه کتاب مهمي موضوع ګاني چي په هغه چاپي فهرست کښي خپرې شوي دي چي په ۱۹۱۲م کال کښي خپور شوی دی:

۱. تمهيد دی چي د مولف له خوا مقدمه هم ورسره ليکل شوې او د سيد عکس هم ورسره چاپ شوي دي. دغه مقدمه د سيد د ژوندانه په سرګذشت تر دغه وخته پوري چي دوهم وار آستانې ته راغی او هلته وفات شو احتوا لري. او دده په صفاتو، اخلاقو، له ملکرو سره په ناسته ولاړه، د ده په اوضاعو، له افغانستان څخه دده په وتلو (وروسته له هغه چي امير محمدعظم خان د وزير په حيث مقرر کړ) د لومړي ځل دپاره مصر ته د ده په راتګ، او آستانې ته د ده په راتګ او له هغه ځای څخه په فرارولو او ددغه تبعيد په سببونو، او دوهم پلا مصر ته د ده په راتګ او په هغه څه چي ده په دغه وار هلته وليدل او هغه څه چي د ده له راتګ نه پېښ شول مشتمله ده.

۲. په اخفا او اعلان کښي د ده رايه، او په هغه چا باندي د ده رد چي دی به يې ملزماوه چي دی هر څه برالا کوي او سر پټ نه ساتي.

۳. له ناصرالدين شاه نه د ده د ازردګۍ سبب او له ملوکو اميرانو سره په خبرو کښي د ده غلطت.

٤. هغه خبري چي ده له سلطان عبدالحميد سره د ناصرالدين شاه به باره کښي کړی وي او له سلطان سره له بيعت کولو نه د ده د رجوع کيفيت، او د سلطان عبدالحميد د ذکا او سياستمدارۍ په باره کښي د ده نظريه او له سلطان سره په عامه توګه د سلطنت په باب او د ده د خاص سيرت او سلوك په باب خبرې اترې، او هغه څه چي ده په ايران کښي ليدلي او د هغه په اثر له ايران نه فرار شوی دی. او د دغه تبعيد فظيع صورت او

اروپا ته د ده تګ، او د لارډ ساليسبوري او لارډ چرچل په بلنه لندن ته د تګ او له هغه ځای نه دوهمه پلا آستانې ته د ده راتګ چي بيا همدلته وفات شو(رح).

٥. د سيد جمال الدين د ژوند لوړ هدف او د مشرق او مغرب په ځمکو کښي د ده د ګرځېدو غرض.

٦. مخصوصاً په شرق کښي د سياسي ګوندونو په باره کښي د ده رايه.

٧. د هغه چا د خبرې ترديد چي ګمان يې کاوه چي د سيد جمال الدين حکمت نسبت زړه ته په ژبه کښي ډېر دی.

٨. د مصر او مصريانو په باره کښي د ده رايه او د حکومت د هغه شکل او صورت بيان چي په مصر کښي په خاصه توګه او په شرق کښي په عامه توګه بايد روی کار شي.

٩. د وطن په باره کښي د ده رايه او په دغه باب د انساني نوع په نسبت د ده فلسفه او په دې باره کښي د ده عقيده چي فردي اقتدار به له جهانه لاړ شي او د هغه د آسبابو بيان.

١٠. د وفدرونو او فاتحينو او مستعمرينو د فضايلو د تاثير په باب، او د عربو د فتوحاتو او د هغوی د ژبي د انتشار په باب د ده مثالونه.

١١. د ترکي شاعر او مورخ مرحوم ضيا باشاه د هغه شکال تفسير چي وايي ترکانو په اروپا کښي کوم اثر پرې ايښی نه دی، او هغه څه چي د عربو په فتوحاتو کښي ليدل کيږي د ترکو په فتوحاتو کښي په نظر نه راځي. او په دغه باره کښي د سيد دلايل چي په تفصيل سره يې د هغه اسباب هم بيان کړي دي.

١٢. د ژبي د آدابو د تاثير په باب.

۱۳. په دې باره کښې د ده استنتاج چې د ملك د صيانت او ساتنې په باره کښې له فروګذاشت سره-سره د اثر پرېښودل د تاثر باعث ګرځي او د وياړ وړ نه دي.

۱۴. د هغه څه په باره کښې چې د سيد جمال الدين په باب شهرت لري چې د ايجاب او سلب ه دواړو حالتونو کښې يې د اقتناع پوره مهارت درلوده او د دې خبري سبب.

۱۵. په مخاطب باندې د سيد د خبرو د تاثير په باب چې لټان او تنبلان به يې لويو کارونو ته واداره کول او بې زړه خلك به يې زړور کول.

۱٦. په دې باره کښې چې سلطان عبدالحميد ده ته تکليف ورکړ چې د ده د قصر له کومې وينځې سره واده وکړي، او هغه څه چې په دغه باره کښې د دوی تر منځ رد او بدل شول او څنګه يې ونه منله، او د ازدواج په باره کښې د ده حکمت (دغه بحث د ښځې او نر تر منځ د مساوات په باره کښې او په دا چې ځينې شرق فرنګي مآبان غواړي چې د ښځو حقوق بېرته ورکړل شي) د سيد په رايه مشتمل دی.

۱۷. د مصر له اعليحضرت خديو عباس حلمي سره د سيد مخامخ کېدل او د جاسوسانو له خوا د عباسي دولت د تاسيس افترا، او سلطان عبدالحميد ته د دغې مسئلې اهميت، او هغه خبرې چې د سيد او سلطان تر منځ په دغه باره کښې وشوې.

۱۸. له سيد سره د عباسي دولت په باب د مرحوم عبدالله نديم تړوکه او هغه چا ته د ده اشاره چې دغه دروغ يې خلق کړي وو.

۱۹. د خلافت د مقام لوړوالی د سيد په نظر کښې.

۲۰. د انګرېز په باب د ده رايه، او د هغه له خوا نه د انګرېزۍ او عربي ژبې تعريف او د سفيه او نادان وګڼي د شرعي حجر په باره کښي د ده فلسفه او دا چي غربيان څنګه او په څه تمو د شرق په لور هڅه کوي؟

۲۱. په شرق او شرقيانو باندي د هغو محروميتونو او محجوريتونو د مخنيوي د کيفيت په باب د ده رايه چي پرې واقع شوي وي او لا به واقع شي. او هغه حکمت او تدبير چي په دغه باره کښي لازم دی، او د مطلب د صعوبت بيان، او د هغه طفل د روزنې کيفيت چي د سبا ورځې مړونه ګرځي او د هغه له تکون او جوړښت نه يوه صالحه ټولنه جوړېدای شي چي په ځان حاکميت ولري او د غرب له چنګالو نه ځان خلاص کړای شي.

۲۲. د صبر او ثبات په باب د ده خبره.

۲۳. کوم مدنيت چي موږ يې مدنيت بولو له هغه څخه د سيد افکار، او د تنازع للبقا په جمله کښي د بقا کلمه د فنا په کلمه بدلول او په دغه باره کښي د ده مغالطه او دا چي د صحيح علم اثر دا دی چي خلک له جنګونو او جګړو نه منع کاندي، هغه جنګونه چي د انسان د وحشت ښکاره دلايل دي، او دی په دغه باره کښي ښه براهين لري او مطلب ډېر ښه افاده کوي.

۲٤. د اسلام د دعوت او د هغه د انتشار په باب د ده خبري، او دا چي صحيح نه ده او نه ښايي چي دين دي د علمي حقايقو مخالف اوسي، او که وي لازم دی چي سړی تاويل ته رجوع وکړي.

۲۵. په هغه څه چي قرآن مشتمل دی، د ممالکو له تدبير، د شورايي حکومتو له اصولو څخه عبادت دی او د نورو علومو او فنونو مقدماتو ته اشاره کوي.

۲٦. د اجتهاد دروازې له ترلو نه د سيد انکار.

۲۷. د سني او شيعه له نومو نه د سيد نفرت او دغه تفرقه له دې نه پرته چي د قدرت د خاوندانو مطامعو او د قوم ناپوهو خلکو خلق کړې وي کومه بله موجبه نه لري او نه ښايي چي وي دي.

۲۸. د اشتراکيت د سوسياليستي په باب د ده رايه او دا چي هغه له اديانو سره مخالفت نه لري بلکي تاييدوي يې.

۲۹. په دې باره کښي د ده خبري چي د اشياوو حقايق ثابت دي او په دغو حقايقو باندي د يوه فرد احاطه متعذره ده او په اسبابو باندي يې علم د وګړو تر منځ توزيع شوی دی.

۳۰. په دې باره کښي د ده عقيده چي حق غالباً له اکثريت سره نه وي او په دې باره کښي د ده دلايل.

۳۱. د درې ګونو اديانو په باره کښي د ده رايه او دا چي هغه درې وا ړه په مقصد او غايه کښي سره يو دي.

۳۲. په هغه چا باندي د ده رد چي وايي چي دی په دې کښي تېروتی دی چي د دغو اديانو اصول سره يو دي، ځکه چي دغه اديان په خپلو مباحثو کښي سره متناقض دي.

۳٤. د شرق په مسئله کښي د ده رايه او د فاتح سلطان محمد او سلطان سليم د مفکورې نمانځنه چي عربي ژبه يې رسمي کړه او د هغې د تعميم دپاره يې کوښښونه وکړل، او په دې باره کښي د ده دلايل چي مخصوصاً عرب ترکان کېدای نه شي، ځکه چي ډېر عجميان د شرق د مسئلې د حل په باب نتيجه او د ژبې، مدنيت، تاريخ په لحاظ د اقوامو د ثابتو اساسونو ذکر او په عثماني مملکت کښي د مختلفو عناصرو د حالاتو بيان او په دغه باره کښي د ژبې، تاريخ او تمدن تاثير.

۳۸. د هغه عدل د فرق ذکر چي د فاتح له خوا د علم، د میني او لوروني له لاري او لا د زور او غرور له لاري راغلی اوسي.

۳۹، ٤۰. د اسلامي دولتونو په باره کښي د ده رایه، او د هغوی د خطا او صواب په باره کښي د ده قضاوت او د هغه انحطاط او تقهقر اسباب چي موږ یې ګورو.

٤۱. د هند او د هغه د آیندې په باب د ده خبرې او د دغو ځایونو په فتح کولو کښي د غزنوي سلطان محمود سیرت او روش.

٤۲. دشرقیانو په دې عادت تعجب کول چي اوږدو خبرو ته میلان لري او د کار او عمل په باره کښي نسبت خپلو اسلافو ته ټنبلي کوي، او په دې باره کښي د ده مثالونه.

٤۳. د استعمار او مستعمرینو په باره کښي د ده رایه او دا چي مستعمره د استعماري دولت دپاره که څه هم ډېر قوي اوسي د یوې عاریتي جامې حیثیت لري او هرومرو به یې ببرته ورکوي، او په دې باره کښي د ده دلایل.

٤٤. په دې باره کښي د ده خبري چي مسلمانان عرب وي او که عجم یوازي په خپله ماضي ویاړي او له خپلي آیندې نه په سخت غفلت کښي دي. سره له دې چي په دوی لازم دی چي د خپل انحطاط دواعي او اسباب ولټوي او خپله وضع له خپلو اسلافو او پخوانیو سره مقایسه کاندي چي هغوی څنګه ویښ وګړي وو او څنګه صالح، مصلح او عادل حکام یې لرل.

٤٥. د شرق د حادثې د ښو ویلو او بد ویلو په باب د ده خبره.

٤٦. د ګټور تقلید په باب د ده مثالونه او په جاپان باندي چي یو شرقي هیواد دی استدلال کول.

۴۷. په دې باره کښي د ده خبره چي په دې عصر کښي تر ټولو د هغه ضعيف حق ضعيف تر دی چي هيڅ قوت نه لري او قوي ترين څيز چي په دې عصر کښي شته هغه د قوي مبطل باطل دليل دی چي په خپل قوت حق معطلوي.

۴۸. په عامه توګه د اسلام او مسلمانانو په باب او د هغو اسبابو په باره کښي د ده نظر چي د مسلمانانو د انحطاط موجب شوی دی. سره لدې چي د دوی په دين کښي د نهضت او ترقۍ ډېر تعليمات شته، او د نورو ملتونو د نهضت په خلاف چي په دين کښي يې دغه راز تعليمات نشته او نه يې ترقۍ او نهضت ته لمسوي د انحطاط په طرف درومي، او په دغه باره کښي د ده فلسفه.

۴۹. د قضا او قدر په باره کښي د ده رايه او په دغه باره کښي د ده افاضه.

۵۰. د ده وجيزې او حکمتي مثالونه.

دا وو د سيد جمال الدين د خاطراتو د کتاب مهمي موضوع ګاني چي فهرست يې مخکښي له دې نه (لکه چي وويل شو) چاپ شوی او نژدې د يوې پېړۍ له دريمي نه دمخه خپور شوی و.

د دغه کتاب د تدوين باعث دا و چي مرحوم سيد جمال الدين تر هغه وخته پوري چي د ۱۳۱۰هق کال په اوايلو کښي له انګلستان نه د دوهم ځل دپاره آستانې ته راغی او بيا هلته وفات شو کوم داسي مطبوع او چاپي او لاغير چاپي اثر نه درلود. [۱] چي د هغه څه چي به د ده په زړه کښي ګرځېدل او لا يې ويل نمايندګي وکړي، چي هغه له هغو پټو حکمتونو او معانيو نه عبارت و چي د حجاب آيت پرې نازل شوی و او

---

[۱] البته (د دهريانو د مذهب د ترديد) رساله له ده نه پاتي شوې وه چي په هند کښي يې ليکلې وه، چي هغه موږ د دې کتاب په پای کښي راوړې ده.

چا يې د ليدو حق نه درلوده، سره له دې چې ده ډېر مشكلات درلودل او په شدت سره تعقيبېده خو ده د خپل قوي عزم له مخې په ډېره بې پروايي د متغلبه حكامو په مقابل كښې قيام وكړ او د دوی هر راز ربړه يې پر غاړه واخيسته او د شرق د نهضت په لار كښې يې خپلو كوښښونو ته ادامه وركړه او د حقيقي حريت د تامين او د اجتماعي اوتوزيعي عدالت د تعميم په لار كښې يې خپل عالي هدف تعقيب كړ تر څو چې حقيقي عدالت او حريت د انساني نوع د طبقاتو تر منځ خپور شي او د هر چا كرامت مصون پاتې شي.

نو له كومې ورځې چې نوموړی مرحوم قسطنطنيې ته راغی زه لكه د ده سيوری ورسره وم او د «نيشانطاش» په كلي كښې مې د ده ګاونډيتوب غوره كړ او له ده نه مې وغوښتل چې د ده اقوال او افكار جمع او تدوين كړم او د ده نافذ نظر، ثاقبه رايه او پټ حكمتونه سره راټول كړم او د بني نوع د استفادې په لاس يې وركړم.

زما له دغه رغبت سره يې په لومړي سر كښې ډېره دلچسپي ښكاره نكړه او په ښه نظر يې ورته ونه كتل، خو وروسته يې زما غوښتنه حقه وګڼله او دا ورته ښكاره شوه چې په دغه كار كښې د شرق او شرقيانو خير مضمر دی او په ګټه به يې تمام شي نو اجازه يې راكړه او ويې منله چې د ده افكار سره راټول او تدوين شي او داسې راته وويل: ای ديني مخزوم شېخه! هر څه چې غواړې ويې ليكه، او هر څه چې ګورې په ياد يې ولره. او تر هر څه لومړی دې ته ملتفت اوسه چې له مشكلاتو سره به مخامخ شې او احتياط له لاسه مه وركوه او د تحمل ذرې واغونده، چې كه زما د خاطراتو په ليكلو د سلطان عبدالحميد او د هغه د جاسوسانو له شر او خطر نه سلامت پاتې

شوې د جامدو او مرتجعو عناصرو له مخالفت او دښمنۍ سره به مخامخ شې او غواړې به چې حقایق منقلب وښیې خو ته پروا پرې مه کوه، ځکه چې له دغسي عناصرو نه هیڅکله زمانه خالي کېدای نه شي تر څو چې ستا زمانه ترې فارغه کړي، او نه هیڅ یو مخلص له دغسي عناصرو نه نجات موندلی دی چې ته نجات ترې ومومې ډېر کرته به داسي خلك هم وګورې چې تنقید به کوي خو ته د دې دپاره چې حق او حقیقت ښکاره او رواج شي، بلکي د دې دپاره چې ورته وویل شي فلانی سړی پورته شو او داسي یې وویل او لا دا چې انتقاد یې وکړ او لا یې په اعتراض خوله چوله کړه، نو دغسي خلك ډېر کرته په غیر شعوري توګه د حق د ښکاره کېدو دپاره خدمت کوي او پرته له دې چې اراده ولري او لا وپوهیږي فضیلت خپروي، نو ته له دوی نه تېر شه او سلام پرې ووایه او بحث او څېړنه مه ورسره کوه دا و د سید د خبرو متن چې عیناً راوړه شو.

## د مولف مقدمه

**پخوا له دې چې د سيد جمال الدين د ژوند هغه سوانح وڅېړم او پکښي داخل شم کومي چې په متفرقو مطبوعاتو کښي چاپ شوی دی له خپلي خوا وايم چې: مرحوم سيد په خپل ځان مغرور نه و او هر هغه څوک به ډېر سپک ورته ښکاره کېده او استخفاف به يې کاوه چې په تشريفاتي کلماتو به يې ياداوه لکه جلالتمآب، جناب عالي غيره و غيره او لا به يې صفت کاوه او د حکيم لقب به يې ورکاوه او لا به يې ورته ويل چې ته له مرګ څخه نه ډارېږې، او لا به يې داسې نور لوړ صفات ورته منسوبول چې په ده کښي به و او ويل به يې چې: ما ته دا اهميت لري چې زه له دغو ټولو صفاتو نه يوازې قلبي اطمينان ته ورسېږم، ما په خپل ژوند کښي ايله دومره وکړای شو چې حق ووايم او پټ يې نه کړم، پرته له دې چې ما ته تمه ولرم او لا له چا نه وډار شم، بلکي هر څه مي برالا ويلي دي او زه د شجاعت ايله دې درجې ته رسېدلی يم چې ځيني شيان ووايم.**

**يوه ورځ مي ورته وويل چې ستا ځيني لري دوستان او هواخواهان[۱] غواړي چې ستا سوانح نشر کړي او د اخبار والاوو په اصطلاح د خپل اخبار ستونونه پرې ښکلي کړي نو دی موسکی شو او ويې ويل:**

---

[۱] دغه سړی جرجي زيدان د الهلال د مجلې خاوند و چې د خپل عادت په خلاف يې د ده په ژوند کښي د ده د سوانحو د نشرولو غوښتنه کړې وه ځکه چې ده د مړو مشاهيرو سوانح نشرولې او لکه چې به راشي د سيد له وفات نه وروسته زه په دې موفق شوم چې ورواېې ستوم. خو الهلال د ده کامله سوانح نشر نه کړه او يو څه تصرف يې په کښي وکړ او ما دلته ټوله راوړې ده.

عيان بيان ته اړه نه لري او هغه څه ورته ووايه چي فلانی سړی زما په باره کښي ويلي دي څنګه چي د رخي مرض د معاصرينو په منځ کښي زيات وی دی هم د خپلو همځولو او همقطارانو د رخي مورد و په تېره بيا وروسته له هغه چي اعلاحضرت سلطان عبدالحميد د توجه وړ شوی او د خپلي مهربانۍ په غېږي کښي يې ځای ورکړی و نو کوښښ به يې کاوه چي د ده منزلت ټيټ وښيي نو ويل به يې چي دی يو سرسري او ايله ګرد سړی دی او له پورتنۍ خبري نه د ده مطلب همدغه و.

نو بيا ما ورته وويل چي: ستا په شان يوه حکيم استاد ته دا نه ښايي چي په هغه څه د خپل عصر په خلکو بخل وکړې چي نورو ته يې نفع رسيږي او ده ته مصر نه اوسي. ده راته وويل چي په دې کښي به د هغه چا لپاره څه ګټه وي چي دا يادوي چي زه په۱۲۴۵ ه کال پيدا شوی يم او له نيمي پېړۍ نه زيات عمر مي تېر کړی او له خپلي خاوري(افغانستان) نه په وتلو مجبور کړی شوی يم او د خلکو اغراض او اميال لوبي راباندي کوي، او په دې هم مجبور کړی شوی يم چي د هند خاوره پرېږدم او له مصر نه وشړل شم، او له آستانې او د ځمکي له اکثرو پای تختو نه وويستل شم، دغه احوال ټول هغه خاطرات دي چي نه ما خوشحالوي او نه د قوم دپاره کومه فايده په کښي شته.

دا چي زه نه پرې خوشحالېږي دا بې معنی نه ده، چي زه ولي فرار او لا بندي کړی شوم او هيڅکله يې دا معنی نه ده، ځکه چي زه عقيده لرم چي له ظالمانو نه د حق غوښتلو په لار کښي بندي کېدل رياضت او فرار يدل سياحت اووژل کېدل شهادت دی او دا ډېره لوړه مرتبه ده چي چا ته حاصله شي.

بلکي زه په دغه ترڅ کښي له خپل ځان نه راضي نه يم، ځکه چي زه خپل ضعف او خمول په ځای کښېنولم او د شهادت لوړي مرتبې ته ونه رسېدم او د فراريانو په قطار کښي يې ځای راکړ چي له يوې ځمکي نه بلي ځمکي ته فرار شوم او له يوې بندي خانې نه بلي بندي خانې ته بوتلی شوم، او د غو پېښو زه د همت د خاوندانو او هغو کسانو له درجې نه لري کړم کوم چي لويو کارونو ته لاس اچوي او مهمي چاري په غاړه اخلي.

سره له دې چي مرحوم سيد جمال الدين هيڅ يو داسي خطرناک کار په دنيا کښي نه و چي ده د انسانيت د خير دپاره عموماً او د شرق دپاره خصوصاً هغه ته لاس اچولی نه اوسي او هغه هم په داسي زړورتيا چي قريب و چي د شجاعت د فضيلت له درجې نه يې تهور ته راوباسي خو ده په پورته ډول خبري کړي او له ځانه به يې نارضايت ښکاره کاوه مرحوم له دې نه علاوه يو صحيح حکيم، پوه خطيب و او ډېره قوي حافظه يې درلوده چي هر څه به يې ژر زده کول او ژر به ور په ياد کېدل او هيڅ شی په هيڅ وخت نه ترې هېرېده، حتی کومي خطابې چي به ده پخوا ارتجالاً الغا کړي او لااملا کړي وې حرف په حرف ټکي په ټکي به هغه ورته يادي وې او داسي به برېښېده چي د کتاب له مخي يې لولي. له تعصب نه سخت بېزار و که څه هم مسلمانان به يې ډېر يادول ځکه چي په شرق کښي همدی اکثريت درلوده او د همدوی ملکونه نيول شوي او له خپلو حقوقو محروم کړی شوي دي نو ځکه د ده خطاب اکثراً د دوی د راويښولو او پوهولو دپاره و او همدی به يې مخاطبول او که نه وي نو دی تر ټولو فلاسفه وو د پراخ نظر خاوند و او د مساوات د تعميم مفکوره يې درلوده او د انساني نوع تر منځ د مساوات او برابرۍ طرفدار و

**مخصوصاً په عمومي حقوقو کښي چي له معقول حريت نه پرته يې صحت نه شو موندلی شرق او شرقيان په مساوي توګه او له استثنا پرته ده ته مهم وو په لومړي نظر هيبت ناک ښکارېده اووروسته-وروسته به يې د ميني او مهربانۍ اثار څرګندېدل. حضرت جمال الدين شجاع، باجرته، کريم او مهربان، متواضع غير ذليل شخص و او په ملوکو او پادشاهانو به کلان کاري او تکبر کاوه تېز ذهني، قوي حجت، نافذ نظر يې درلود چي مخاطب به يې ځانته راښکو او په خپل قوي دليل به يې د ځان کاوه د مقدماتو په ترتيب کښي يې خاص اسلوب درلود چي نتايج به يې خود په خود راتلل، د لوی نفس او لوړ همت خاوند او د بشريت خيرخواه و او خپل مخاطبين به يې د لويو کارونو په انجامولو باعثول او د ژوند مشکلات به يې ډېر واړه ښودل، د صحيح عقيدې خاوند او په خدای باندي يې قوي ايمان درلود، د دين په حکمت سخت متمسک او په مذهب کښي له تقليد نه متنفر و، يو مجتهد و او د ده په اجتهاد کښي به د تفسير په لحاظ چي له مالوف نه به مخالف و يو راز غرابت برېښېده، چيرته به چي د خلکو غونډه ليده هلته به ورته او خبري به يې ورته کولې او په جدال کښي د ده قانع کول مشکل و، ځکه چي ده د مقابل طرف د دليل په ابطال کښي خاص مهارت او مخصوص اسلوب درلود او په آسانۍ سره به يې ځان ترې خلاصاوه خو مکابره به يې نه کوله او ډېر کرته به يې خپل مقابل ته حق ورکاوه او وروسته له هغه چي مقابل طرف به يې خپل غفلت ته ملتفت کړ او د هغه د دليل نواقص په يې ښکاره کړل نو بيا به يې خبره ورسره ومنله خو له دې کبله چي عصبي مزاج يې درلود، بحث به يې له جدت او تېزۍ نه خالي نه و.**

**په** ١٨٣٩/١٢٤٥م **کښې زېږېدلی او په** ١٣١٤ه/١٨٩٧م **کښې وفات شوی دی.**

## د جمال الدين روش (سيرت)

همدا و سيد جمال الدين د سيد صفدر زوی چي د افغانستان له يوې لويي کورنۍ څني دی او د نسب سلسله يې مشهور محدث سيدعلي ترمذي ته او له هغه پورته امام حسين بن علي(رض) بن ابی طالب ته رسيږي او دا يوه لويه کورنۍ ده چي د افغانستان د کنړ په سيمه کښي اوسيږي او له کابل نه تقريباً ۱۹۵ کېلو متره لري په ختيز کښي پرته ده، او دغه کورنۍ د افغانانو په زړونو کښي ستره مرتبه لري او په احترام ورته ګوري او د محترم نسب احترام يې ساتي، او دغې کورنۍ په يوه وخت کښي د افغانستان په يوه برخه حکومت او سلطه درلوده او امير دوست محمد خان د دوی له لاسه امارت وويست او د سيد پلار سيد صفدر او نور ترونه يې کابل ته راوستل.

هر څه چي د سيد مفصله سوانح ده هغه ده چي محقق استاد مرحوم شېخ محمد عبده ليکلې ده څکه چي هغه تل ورسره و او د ډېري مودې ملګری يې و او تر هر چا ورته وړاندېي و او د سيد په حال نسبت نورو ته ښه خبر و چي موږ به يې وروسته راوړو او هغه څه به هم پرې ورزيات کړو چي له ده نه پاتي شوي اوسي، او هغه هم شايد د سياست د ايجاب په حکم او لا په بله ملاحظه يو څه پرې ايښي اوسي له دغې جملې څخه چي ده ليکلي دي دا دي:

له دې کبله ي د دغه فاضل شخصيت په باره کښي خلک مشتبه شوي او اختلاف سره لري او د يوه خبره بل ته نه پاتي کېږي زه ځان اړ بولم چي د ده د شخصيت د پېژندګلوۍ په باره کښي يو څه وليکم. تر څو چي

**د هر چا په ذهن کښي د يوه ثابت حقيقت په څېر جلوه وکاندي، ځکه چي نوموړی فاضل د هر چا په مخيله کښي د هغه د نفسي تشخيص او تخيل له مخي په يوه شکل راغلی جوهر او پاک موجود خو د واهمينو د وهم سترګي او د اټکل او تخمين عقل يې اندازه معلومولی نه شي.**

**سيدجمال الدين د کنړ په اسعدآباد نومي کلي کښي په ۱۲۵٤ه/۱۸۳۹م کال کښي وزېږېد او له خپل پلار سره کابل ته راوستل شو او په اته کلنۍ يې په زده کړه پيل وکړ او پلار يې د ده روزني ته خاصه پاملرنه درلوده، ځکه چي پلار ته يې څرګنده شوې وه چي قوي فطرت، سرشاره ذکا او نوراني قريحه لري نو ځکه يې زياته پاملرنه ورته درلوده او نوموړي په لږه موده کښي د ټولو مروجو علومو مبادي زده کړل او تر پايه يې ورسول له دغي جملې نه يې د صرف، نحو، معاني، بيان، ليک او کتابت، تاريخ او شرعي علوم لکه تفسير، حديث، فقه، د فقه اصول، کلام، تصوف شول اوله عقلي علومو نه لکه منطق، عملي حکمت(سياست مدن، تدبير منزل، تهذيب النفس) نظري حکمت(طبعيات، الهيات) شول او رياضي علوم لکه حساب، هندسه، جبر، هيئت شول او د طب او تشريح علوم زده کړل.**

**او دغه ټول علوم يې د هغه وخت په طريقه له ماهرو استادانو نه په اتلس کلنۍ کښي زده کړل او پای ته يې ورسول.**

**او بيا هند ته لاړ او يو کال او څو مياشتي هلته پاتي شو او هلته يې د اروپا په نوې طريقه په رياضي علومو کښي په مطالعه پيل وکړ او بيا د حج د فريضې د ادا دپاره حجاز ته لاړ او دغه مسافرت يې يو کال اوږد شو چي له يوه ښار نه به بل ښار ته او له يو مملکت نه به بل مملکت ته ته تر څو چي په ۱۲۷۳ه کل کښي مکې مکرمې ته ورسېد او په دغه موده کښي**

د هغو ملتونو له ډېرو دودونو او رواجونو سره آشنا شو او غټه فایده یې ترې واخیسته چې د ده د سفر په مسیر کښې واقع و او بیا د حج د فریضې له ادا نه وروسته خپل هیواد ته راستون شو او د نوموړي امیر دوست محمد خان د حکومتي رجالو په سلك کښې داخل شو.

او کوم وخت چې امیر دوست محمد خان په هرات باندي چپاو ورووړ تر څو چې هغه خپل خسر او ترېره سلطان احمدشاه ته وروسپاري سید جمال الدین هم د ده په لښکر کښې له ده سره لاړ او د هرات د محاصرې په درسته موده کښې ورسره و تر څو چې نوموړي امیر په هرات کښې وفات او هرات له اوږدې محاصرې نه وروسته فتحه شو. او په (۱۲۸۰ه/۱۸٦٤م) کال کښې د امارت په کرسۍ د هغه ولیعهد شېرعلي خان کښېناست او د خپل وزیر محمدرفیق خان دی ولمساوه چې خپل ټول وروڼه ونیسي او بندیان یې کاندي په تېره بیا هغه چې تر ده مشران دي او که داسي نه کړي نو هغوی به هرومرو د امارت په تمه فتنه او فساد جوړ کړي او ملك به ورته راوپاروي په دغه وخت کښې د هرات په لښکر کښې د امیر درې وروڼه (محمداعظم، محمداسلم، محمدآمین) و او سید جمال الدین د محمداعظم ملګرتیا کوله خو کوم وخت چې دوی د امیر په اراده او د هغه د وزیر په لمسون پوه شول ټولو تېښته غوره کړه او هر یو خپل ولایت ته چې د خپل پلار له خوا ورته سپارل شوی و لاړ تر څو چې د هغه ځای د خلکو په ملاتړ د خپل ورور (امیر) له شر او ضرر نه خلاص شي او مقابله ورسره وکړای شي. همدا و چې د امیر په ضد له هري خوا فتنې راویښې شوې او د کورنیو جنګونو او جګړو اور بل شو، او له ډېرو سختو جګړو نه وروسته د محمداعظم خان او د هغه د وراره عبدالرحمن خان خبره غټه شوه او د مملکت پای تخت یې ونیو او د

عبدالرحمن خان پلار محمدافضل خان یې د غزني له محبس نه خوشي کړ او په مملکت یې د افغانستان نوم کېښود او محمدافضل خان له یوه کال نه وروسته وفات شو او د هغه له مرګک نه وروسته د امارت واګي د ده سکه ورور محمداعظم خان په لاس کښې واخیستې، او د سید جمال الدین مقام او منزلت د ده په نزد ډېر لوړ لاړ او د لومړي وزیر(صدراعظم) په حیث یې مقرر کړ او د خپلو اسلافو په خلاف یې په هر کار کښې مشوره ورسره کوله او پوره اعتماد یې پرې درلود او د هغه په مشوره به روان و، او که چیرته امیر په سید بدګمان شوی نه وای د افغانستان حکومت به ټول د سید په تدبیر له ده پوري تعلق نیولی وای، خو د ده خپلوانو هغه په سید باندي بدګمان کړ او دې ته یې واداره کړ چي کارونه خپلو خامو او بې تجربې زامنو ته وسپاري او هرج او مرج تولید شي. د ده د زامنو له جملې نه یو هم د کندهار نایب الحکومه و چي د خپل تره (شېرعلي خان) د راغورځولو دپاره چي په هرات کښې و او نور ټول ولایات یې له قبضې وتلي و په هرات حمله وروړه او دغه ځوان ګومان کاوه چي په خپل تره امیرشېرعلي خان به بری ومومي او د خپل پلار په نزد به زیات اعتبار وګټي او تر نورو وروڼو به خپل پلار ته معتبر اوسي، نو کوم وخت چي د خپل تره له لښکر سره مخامخ شو خپلي زړورتیا دې ته واداره کړ چي له دوه سوو سپایانو سره له خپل لښکر نه جلا شي او په دښمن یرغل وروړي، همدا و چي همدغسي یې وکړل او د دښمن صفونه یې ویجاړ، مات او برهم کړل او ټول یې په وېره کښې واچلو او نژدې و چي ماتې ورکاندي خو د امیر شېرعلي خان د لښکر قاید ملتفت شو چي دغه زړور زلمی له خپل لښکر نه راجلا شوی او له دوه سوو سپایانو سره د جګړې میدان ته راوتلی دی نو چپاوي حمله یې پرې وروړه او ویې نیو او بیا د

کندهار لښکر بې سر پاتې شو او تيت او پرک شو او د شېرعلي خان لښکر قوت وموند او په کندهار ورغی اوويې نيو او دوباره جنګ شديد شو او انګرېزانو هم د شېرعلي خان مرسته وکړه او ډېر سره او سپين يې ورته راولېږل او هغه دغه سره او سپين د قوم په مشرانو او د محمداعظم خان په مامورينو ووېشل او د ځان په لور يې کړل او خپل عهدونه يې مات کړل او له شېرعلي خان سره يو شول او له ډېرو خونړيو جګړو نه وروسته شېرعلي خان برى وموندہ او محمداعظم خان او د ده وراره ماتې وکړه او عبدالرحمن خان بخارې او محمداعظم خان ايران ته وتښتېداو اعظم خان له څو مياشتو وروسته په نيشاپور کښې وفات او سيد جمال الدين په کابل کښې اوسېده او امير شېرعلي خان د ده د کورنۍ په احترام او له دې کبله چې د خلکو له عمومي بلوا سره مخامخ نه شي ده ته څه ونه ويل ځکه چې افغانان د ساداتو ډېر احترام لري او حمايت يې کوي خو سره له دې په زړه کښې ورسره پاک نه و او غوښته يې چې کوم چل ورته جوړ کړي او له منځه يې وباسي. له همدې کبله سيد جمال الدين دا غوره کړه چې د افغانستان خاوره پرېږدي او بلي خوا ته لاړ شي. نو له ده څخه يې د حج اجازه وغوښته او هغه هم اجازه ورکړه خو په دې شرط چې د ايران له لاري لاړ نه شي تر څو چې له محمداعظم خان سره ونه ګوري، ځکه چې هغه لا مړ شوى نه و، همدا و چې په (١٢٨٥ه/١٨٦٩م) کال کښې د محمداعظم له ماتې نه درې مياشتې وروسته د هند له لاري د حج په نيت وخوځېد او ډېر شوق يې درلوده چې په هند کښې بې نامه او بې شهرته واوسيږي، نو ځکه يې په هند کښې يو افغاني سوداګر ته خط واستاوه او ترې ويې غوښته چې ده ته د يو ساده، بسيط او عادي مېلمه په حيث ځاى ورکړي او دواړه بسيط ژوند

ولري. خو د انګرېز بيدارو او باخبرو مامورينو په هند کښي د هري پېښي په دقت سره څار کاوه او سطحي يې نه ورته کتل خصوصاً په دغه وخت کښي افغانانو ته او دغه مسئله د سيد جمال الدين او د هغه د هيلو تر منځ حائله شوه چي غوښته يې په هند کښي بې نامه او بې نښانه ژوند وکړي، نو همدا و چي د هغه حکومت په سرحد کښي د سيد ډېر تود رسمي هرکلی وکړ په داسي حال کښي چي د دغسي رسمي استقبال هيڅ باعث موجود نه و، نو ځکه له دغه پېش آمد نه د ده اضطراب لا زيات شو، په تېره بيا چي د مستقبلينو په ډله کښي د هند معاريف او د ده دوستان او حتی د ده کوربه افغان يو هم نه و او ده دغه ګڼ ګور استقبال په خپله دې خبري مقابله کړ او د هغوی د هرکلي جواب يې په زړه کښي داسي ورکړ: (دا بې غرضه استقبال نه دی او نه د يوه کريم له خوا د ښه نيت له مخي شوی دی).

په دې موقع کښي جمال الدين بله چاره ونه ليده پرته له دې چي د هند د حکومتي وګړو د دغه تاوده هرکلي شکريه وکاندي او ترې وغواړي چي ده ته اجازه ورکاندي چي د خپل دوست افغاني تاجر کره واړوي خو هغوی په جواب کښي ورته وويل چي:

(حکومت ستا د مېلمستيا ټول ترتيبات نيولي دي او ځای يې درته ټاکلی دی او دا ممکنه ده چي له هغه ځای نه پرته بل ځای ته لاړ شې) نو دی ناچاره راضي شو، ځکه چي دی پوهېده چي اصرار څه فايده نه لري او نه څه له لاسه کيږي.

په لومړۍ ورځ د خلکو شمېر ډېر زيات نه و او له لسګونو افرادو وانه ووښت او له دې کبله موظفو کسانو وکړای شو چي هغه څه ثبت کاندي چي خلکو ده ته ويل او لا سيد خلکو ته ويل، خو په بله ورځ د زايرينو

شمېر له لسګونو نه سلګونو او په درېمه او څلورمه ورځ له سلګونو نه زرګونو او لويو-لويو ډلو ته ورسېد او يوه هفته پوره شوې نه وه چې په ټول هند کښې هنګامه ولوېده او د هند علماوو، راجاګانو د سيد په لور مخه کړه او د سيد د استوګنې سيمه د زيارت کوونکو سيورو ونيوه، او په دغو کسانو کښې ځيني هغه خلك هم شامل وو چې د هند حکومت نه شو کړای چې هغه له جمال الدين سره له ناستې ولاړې څخه منع کاندي او نه يې کړای شو چې هغه خبري اتري کنټرول او ثبت کاندي چې د دغو سلګونو ايلچيانو او سيد جمال الدين تر منځ کېدې او يو له بل سره يې راز او نياز کاوه.

خو کوم وخت چې د هند حکومت دغه وضع وليده او نور يې زغملی نه شوه د هند د حکومت يو لوی مامور سيد ته په داسې حال کښې چې راغی چې له سيد سره ډېر راجاګان او علما ناست وو نو ورته ويې ويل چې:

«د هند حکومت اجازه کړې وه چې تاسې دوه مياشتې په هند کښې واوسېږئ، خو اوس ناچاره شو چې تاسې ته ووايې چې روان حالت د دې اجازه نه ورکوي چې تاسې زيات له دې نه په هند کښې پاتې شئ» د مجلس په حاضرو کسانو دغه تهديد او اخطار ډېر بد ولګېد او د هغه په ضد يې د احتجاج اراده وکړه او په ډېر قار راوپارېدل خو سيد جمال الدين هغو ته د سکوت اشاره وکړه او د هغوی د حکومت د ستر مامور تر منځ حائل شو او داسې ځواب يې ورکړ:

«زه هند ته د دې لپاره راغلی نه يم چې د لويې برتانيې حکومت ووېروم او نه دې ته تيار يم چې د هغه په ضد خلك راوپاروم او لا يې په کارونو انتقاد وکړم، خو زما په شان له يوه مسافر او بې کسه سياح نه د هغه

وېره او لا له مانه د ضعيفو سياحانو په تګ راتګ بنديزونه ايښودل د برتانيې د حکومت د عزم په سستيا، د شوکت په ضعف، د عقل په لړتيا او په خپل حکم باندي د نه اعتماد کولو دلالت کوي او د برتانيې د حکومت په تاريخ کښي يې ثبتوي، او په حقيقت کښي د دې ثبوت ورکوي چي د هند په لويه خاوره کښي د هغه حکومت او قدرت د هغه ځای له خلکو نه په وارو-وارو ضعيف دی).

او بيا يې د مجلس خلکو ته مخه کړه او ورته ويې ويل: اې د هند خلکو! د خدای په عزت او د عدالت په سر مي دي لوړه وي چي ځانونه سلګونه ميليونه شمېرئ، که تاسي مچان هم وای او د خپلو حاميانو (انګرېزانو) او خپلو هغو زامنو په ضد قيام کړی وای چي د ټولو شمېر له لس زرو متجاوزين نه وي او په خپله توره ستاسي خپلواکي وژني او ثروتونه مو بېرون ته وړي ستاسو بنهار به هم د لويي برتانيې غوږونه کاڼه کړي وای او د هغوی د مشر ستر (ګلاډستون) د اورېدو قوت به مو له منځه وړی وای.

او که تاسي خدای مسخه کړئ او کشب يې درڅخه جوړ کړی وای او له بحر نه تېر شوي او د لويي برتانيې جزيرې ته ورپوريوتي وای او هرومرو به مو دوی د بحر په تل کښي غرق کړي وای او تاسي به بېرته احرار راستانه شوي وای).

جمال الدين لا خپلي خبري پای ته نه رسولي نه وې چي د حاضرينو په مخ د اوښکو سېلاو روان شو او په ژړا او انګولا يې لاس پوري کړ، په دغه وخت کښي جمال الدين په لوړ آواز پرې غږ کړ چي ژړا د ښځو کار دی يو غزنوي سلطان محمود په ژړا هند ته رانغی بلکي وېستلې توره په

هند رانئووت، تاسي بايد پوه شئ چي هغه قوم ژوندی نه بلل کيږي چي د خپلي خپلواکی په لار کښي په خلاصه تنده مرګ نه قبلوي.

او بيا په چټکی سره (له نوموړي مامور سره پاڅېده تر څو له هغه سره هر ځای ته چي غواړي لاړ شي، مامور ورته وويل: (اوس صبر وکړه سبا ته به ځې).

جمال الدين ورته وويل:(څه غواړې، چي چيرته لاړ شم!) هغه ورته وويل: (وروسته له هغه چي له هند نه ووتې هر چيرته چي غواړې لاړ شه).

او سبا ته يې د حکومت په مصرف په يوه بېړۍ کښي کښېناوه او د سويز له لاري مصر ته لاړ او نژدې څلوېښت ورځې هلته پاتي شو چي په دغه موده کښي ي له جامع ازهر سره ارتباط قايم کړ او د هغه ځای له طالبانو سره يې ملاقاتونه وکړل او يو بل ته يې ډېر تمايل وښود. او له هغه څخه يې د خپل سرګذشت او راتلونکي ارادې په شاوخوا کښي پوښتني وکړې او ده په خپل کور کښي توضېحات ورکړل او بيا د حجاز له تګ نه منصرف شو او د آستانې پر لور وخوځېد.

سيد استانې ته ورسېد او څو ورځي وروسته د هغه ځای د صدراعظم عالي باشا ملاقات ورته ميسر شو او په محترم او لوړ منزلت ورته قايل شو او صدراعظم د ده فضيلت وپژاند او بې مثله استقبال يې وکړ په داسي حال کښي چي سيد په خپل افغاني ساده لباس کښي و او افغاني چپن او پګړۍ يې لرله.

د ده د پوره فضيلت له مخي د استانې د اميرانو او وزيرانو زړونه ورته مايل شول او په هر مجلس کښي به يادېده او د ده د علم، ديانت او ادب

ستاينه به يې کوله او سره له دې چې دى د هغوى له خوى، بوى، ژبې او عاداتو سره ناآشنا و بيا هم د هغوى د خاص احترام مورد ګرځېدلى و.

او له شپږ مياشتو وروسته چې هلته يې تېرې کړې د معارف د علمي غړي په حيث ومنل شو او د علم او معارف د تعميم دپاره يې ډېرې ګټورې لارې ګودرې پيدا او خپلې غاړې خلاصې کړې خو د ده ځينو ملګرو له ده سره موافقه ونه کړه له دغې جملې نه (حسن فهمي افندي) شېخ الاسلام و چې د سيد د مفکورې په عملي کېدو سره د ده بازار يو څه کاسديده او په زړه کښې يې ورته واچوله چې د سيد په ضد يو حرکت پيدا کاندي او د هغه ارزښت او مقام راټيټ کاندي دې خبرې ته قابو و چې (١٢٨٧ه/١٨٧١م) کال د روژې مياشت شوه او د دارالفنون مدير (تحسين افندي) له سيد نه وغوښته چې په دغه دارالفنون کښې د صنعت د تشويق په باب يو کنفرانس ورکاندي. خو سيد عذر وغوښته چې زه په ترکي ژبه ښه نه پوهېږم، خو هغه اصرار وکړ او بالاخر سيد ورسره ومنله او يو مفصل کنفرانس يې وليکه او د معارف وزير صفوت باشا او د استانبول د امنيې عمومي قوماندان (شرواني زاده) او (منيف باشا) ته چې د دولن يو رکن او د معارف د مجلس غړى و وروښود او هر يوه د هغه تحسين او تمجيد وکړ او ډېره ستاينه يې وکړه.

نو کوم وخت چې د کنفرانس ټاکلې ورځ راورسېده ډېرو اورېدونکو پوهنتون ته مخه کړه او حکومتي ډېر وګړي او علمي شخصيتونه او د اخبارو نمايندګان او ډېر وزيران د کنفرانس د اورېدو دپاره پوهنتون ته راغلل.

سيد جمال الدين د خطابې منبر ته وخوت او خپل ليکلى تقرير يې په داسې بلاغت واوراوه چې د خلکو عقلونه يې تسخير او مسحور کړل او

شيخ الاسلام حسن فهمي افندي هم حاضر و او د هغه د وينا ضعيف ټکي يې نوټول تر څو چي يوه حربه په لاس ورشي او په هغې د سيد د لياقت او فضيلت ورمېږ ووهي او په هغه بڼه يې خلکو ته تمثيل کړي چي ابهت او جلال يې د خلکو له زړونو نه وباسي. او که له ده سره د حق مراعات واى او د حقيقت په نظر يې ورته کتلي واى د ده په خبرو کښي به يې دغسي څه پيدا کړي هم نه واى.

د سيد خطابه په دې وينا وه چي انساني ژوند او معيشت يې له يوه ژوندي ژوي سره تشبيه کاوه او هر صنعت يې د يوه غړي په حيث باله، او هر صنعت د يوه ملت په ژوند کښي وظيفه انجاموي چي هر اندام يې د بدن د بقا او پايښت دپاره سرته رسوي.

نو پادشاه يې له مغزو سره چي د تدبير او ارادې مرکز دى تشبيه کړ او آهنګري يې له اندامونو او کښت او کرونده يې له کبد(سږي) او د کښتۍ رانۍ صنعت يې له پښو سره او داسي نور صنعتونه يې له نورو اندامونو سره تشبه کړل او کافي خبري ي د هر اندام او صنعت په باب وکړې او بيا يې وويل: دغه شيان دي چي د انسانيت د سعادت جسم ترې جوړ شوى او جوړېږي:

او له روح نه پرته جسم ژوند نه شي کړاى او د دغه جسم روح لا (نبوت دى) او لا (حکمت) خو دومره فرق سره لري چي نبوت يوه الهى پېرزوينه ده او د چا تر سعي او کوښښ پوري اړه نه لري او څوک چي خداى غوښتى وي دغه برخه ورکوي او خداى ښه پوهېږي چي د رسالت په ورکړه څوک غوره کوي.

او هر څه چي حکمت دى د فکر محصول ګڼل کيږي او په معلوماتوکي په نظر کولو حاصليږي، او بل دا چي نبي له خطا نه معصوم

او مصئون وي او له حکيم نه خطا کيږي او بل دا چي د نبوت احکام د خدای له لوري راځي او په هغو کښي خطا او اشتباه نه وي او نه باطل لار ورته لري او په هغو باندي عمل کول د ايمان له فرايضو ګڼل کيږي. او هر څه چي د حکماوو ارا او افکار دي په خلکو باندي د هغو منل او پيروي فرض او لازمه نه ده مګر دا چي بهتري او اولويت لري، هغه هم په دې شرط چي د الهی شرع مخالف نه اوسي.

دا و هغه څه چي ده د نبوت په باره کښي ويلي و او دا له هغې وينا سره مطابقت لري چي د اسلامي شريعت علما يې وايي، خو حسن فهمي افندي له حق نه باطل ته روان شو تر څو چي خپل انتقام ترې واخلي او پروپاګند يې واچاوه چي سيد جمال الدين ګمان کوي چي نبوت(صفت) دی او د خپل پروپاګند د ثبوت دپاره يې د سيد هغه خبره يادوله چي نبوت يې د صنعت په بحث کښي راوړی او خبري يې پرې کړي دي (د بدخواهانو دلايل همدغسي وي) او بيا يې د مسجدونو امامان او واعظان ولمسول چي د ده دغه خبري په شدومد يادي کړي او ملامتي پرې ووايي.

نو بيا سيد جمال الدين وغوښته چي دغه مسئله محاکمې ته وړاندي کړي او د علمي محکمې قضاوت وغواړي تر څو چي هغه تومت له ځانه لري کړي چي د شيخ الاسلام له خوا ورتپل شوی و، او دا له يوې بې طرفي محاکمې پرته ناممکنه وه. خو دا به څنګه شوې وای سره له دې هم سيد په ټينګه د محاکمې غوښتنه کوله او اصرار يې کاوه او اخباروالاوو هم هم په دغه باره کښي ډېر څه وليکل او ډېري تبصيرې يې وکړې چي له هغې جملې نه ځينو د سيد جمال الدين ملاتړ کاوه او ځينو د شيخ الاسلام. د سيد ځينو ملګرو سيد ته سلا ورکړه چي په دغه

باره کښي چيټيا غوره کړي او د شېخ الاسلام په تومتونو سترګي پټي کړي او ترې تېر شي، ځکه چي د زمانې تېرېدل خودبه خوده د حقايقو له مخي پرده لري کوي او بې اساسه اشاعات خپروني له منځه وړي، خو ده ونه منله او د محاکمې غوښتني ته يې ادامه ورکړه او خبره دې درجې ته ورسېده چي صدراعظم په خپله په خپل ژوند او د سيد په ژوند ووېرېده او له دغي مجبورۍ نه يې سيد ته امر ورکړ چي د يو څو مياشتو دپاره له استانې نه ووزي که غوښته يې بېرته استانې ته راشي په عين حال کښي عالي باشا په خپل فرمان کښي د ده د فضيلت يادونه کړې او د وچ دماغو خلکو په تنګ نظرۍ يې افسوس ښکاره کړی و چي چي د حقايقو درک نه شي کړای عالي باشا په دې هم پوهېده چي د سيد په مقابل کښي د حسن فهمي افندي درېدل په واقع د ده په مقابل کښي درېدل و، ځکه چي ده سيد ته لوړ حيثيت ورکړی و او که محيط او د خلکو قابليت مساعدت ورسره کړی وای سيد به د شېخ الاسلام په ځای درولی وای، خو د حسن فهمي افندي زيرکي او سياستمدارۍ د عالي باشا نقشه ورشنډه کړه او ټول عوام او د مدرسو جامو شاګردان يې د ځان کړل او د سيد په ضد يې راوپارول، تر دې پوري چي صدراعظم يې دې ته اړويست چي سيد جمال الدين له استانې نه وباسي لکه چي مخکښي وويل شو.

سيد جمال الدين ته له استانې نه د وتلو په وروستۍ ورځ يو شمېر منور علما راغلل او د ده په تګ يې ډېر افسوس ښکاره کاوه او د شېخ الاسلام د حرکت غندنه يې کوله، حتی يو له دغو علماوو څخه چي له لويو مدرسينو څخه و په شېخ الاسلام او د هغو په ملګرو باندي د طعن او

لعن ويلو په باب دومره تشدد وکړ چې د دين کرامت ته يې صدمه ورسوله په دغه موقع کښې سيد جما ل الدين په قار راپاڅېد او ويې ويل:[1]

تر دې پورې بله لويه خطا نشته چې د يوه دين د پيرو له خوا د يو نامناسب حرکت په اثر دين ته بد وکتل شي او لا له دين نه ناوړه تعبير وشي، زه عقيده لرم چې بشري وګړي او ټولني د دوو سلطو له تاثير نه وتی نه شي، يو حکومتي سلطه او بله روحي او ديني سلطه دغه دواړه سلطې په حقيقت کښې يوه نښه ولي او يوه غايه لري. هو دا ممکنه ده چې په يوې له دغو دواړو خلل طاري شي چې په اصل وضع کښې نه وي، نو دلته په خلکو لازم دی چې د هغه د اصلاح په لار کښې کوښښ وکاندي او په هغه څه هم ځانونه وپوهوي چې دغه خلل له کومه ځايه راپيدا شوی دی؟ او بيا زيار وباسي چې هغه خپل اصلي حالت ته بېرته وګرځوي، بيا يې وويل:

حکومتي سلطه خواه د پادشاه په لاس کښې وي او که د سلطان په لاس کښې له ملت نه قوت اخلي تر څو چې د شر د خاوندانو جرړې وباسي او د شر د پېښېدو مخه ونيسي، د عامه او خاصه حقوقو صيانت وکړي او د ټولني دپاره د راحت او امنيت د فراهمولو په لار کښې بې خوبي وباسي او عدالت توزيع کاندي، او د خلکو عامه حقوق تامين کړي.

او که دغه سلطه يوه جاهل، ناپوهه، مغرور ، فرېبکار، منکير انسان ته وسپارل شوه له يوې فاسدالاخلاقه طبقې او مجهول النسب کورنۍ نه

---

[1] دا خبره د لسان الحال جريدې ليکلې او نور اخبارونو ترې اقتباس کړې ده لسان الحال تر دې عنوان لاندې راوړې ده: (جمال الدين او اهل دين).

راپيدا شوی و نو بيا خلك په خپله خوښه لوبي پرې كوي او بيا د خلكو په مقابل كښي داسي استدلال راوړی:

(د پادشاه اراده د مملكت قانون دی).

نو ددغي خبري په مقابل كښي په خلكو لازم دی چي قيام وكړي او په خپل ټول طاقت سره مقابله ورسره وكاندي، ځكه چي حقه خبره دا ده چي د هغه قوم اراده قانون دی چي اختيار يې له لاسه وركړی نه وي او نه حريت، واك او اختيار سلب سوی اوسي، هغه قانون چي په هر حاكم لازم وي چي د هغه خادم او د هغه په تنقيد او اجرا كښي امين اوسي.

او هره ټولنه چي د خپلو هوسونو او شهواني خواهشونو د لوبو ملعبه او بازيچه وي او افراد يې يو له بل سره مخالفت كوي او زوښ سره نه خوري او د خودخواهۍ او انانيت په څپو كښي ډوب وي نو بيا د قدرت خاوند د فرد په مقابل كښي د ملت په نامه خپل تجارت شروع كو ي او د ټولني ثروت د ځان پر ګټه رااړوي او د خپل ځان د عيش او نوش وسايل فراهموي.

نو دغسي خلك د صحرا ښاروېو ته ورته دي او لا له هغو نه هم ګمراه تر دي او په دغسي قومونو باندي د جور او ستم هغه قاعده صادقيږي چي مستبدو خلكو خلق كړې او استفاده يې ترې كړې ده او دا هغه قاعده ده چي پخوا ذكر شوه چي (د پادشاه اراده د مملكت قانون دی).

بيا يې وويل:

د روحي سلطې په باب هم همدغه خبره ده (له روحي سلطې څخه يې مطلب د هر دين هغه نفوذ دی چي د خپلو پيروانو په زړونو كښي يې لري) او د دغي سلطې نفوذ كله ناكله د حكومتي سلطې له نفوذ او د

پولیس له بیدارۍ او د قضا په مسله باندي د ناست قاضي عدل ته زیات وي او په ځینو وختونو کښي د قاضي له هغه حکم نه نافذ تر وي چي د قصاص په باره کښي یې د شهودو د شهادت له مخي کوي، هغه شاهدان چي د شهادت په ورکولو کښي ډېر کرته خطاوتی وي او بې ګناه سړی ګناه کار او یو ګناه کار بې ګناه معرفي کوي.

ځکه چي دین که حقیقتاً د انسان په سینه کښي ځای ونیسي روحاً انسان داسي تر تاثیر لاندي راولي اوله بدو او نامشروعو کارونو یې منع کوي چي حکومت او قانوني تعقیبات یې نه شي منع کولای، ځکه چي دا ممکنه ده چي انسان یو سړی ووژني او څوک یې ونه نیوی شي، مګر یو سړی که په دیني مبادیو عقیده ولري له هغه سره همېشه دیني او ایماني پولیس موجود وي او مخالف کار ته اقدام نه شي کړی او په درې ګونو آسماني ادیانو کښي داسي قطعاً نه لیدل کیږي چي د جامعې او ټولني له منافعو سره مخالف اوسي بلکي تل یې د خیر د کارونو په اجرا کولو لمسوي او ورته واداره کوي یې او د شر له ارتکاب نه یې منع کوي. دا دی د دیني روحیې ځیني منافع چي په مجمله توګه بیان شول.

خو که دغه سلطه منحرفه شي او خپل اصلي حیثیت او مقام له لاسه ورکړي او د اصلي جوهري وضع مختله شي په دغه وخت کښي لازم دی چي په ټول طاقت سره کوښښ وشي چي هغه خپل اصل ته راوګرځول شي او له انحراف نه بچ کړایشي. او بیا یې خپلي وینا ته ادامه ورکړه او ویې ویل: که دین د خپلي شریفي غایې په لور روان وي حکومتي سلطه یې هم ستاینه او ملاتړ کوي او که حکومتي سلطه په هغه لار روانه اوسي چي د هغې دپاره منځ ته راغلې وي چي هغه دعدالت د مبادیو له تعمیم او ترویج څخه عبارت دی نو روحي او دیني سلطه یې له

شک نه پرته ستاینه او شکریه کوي، او دغه دواړه سلطې یو له بل نه نفرت او جدایي نه کوي مګر دا چې له خپل اصلي محور نه منحرف شي او خپله غایه پرېږدي.

دا په استانه کښې د سید جمال الدین وروستۍ خبري وې چې ویې کړې اوبیا د ځینو دوستانو په خواهش او بلنه د ۱۲۸۸ه کال د محرم د میاشتي په اول او د ۱۸۷۱م کال د مارچ د میاشتي په ۲۲ نېټه له استانبول نه د مصر پر لور روان شو.

سید جمال الدین په دې نیت د مصر په لور روان شو چې د هغه ځای مناظر او مظاهر وګوري او تفریح وکړي نه دا چې هلته د استوګني اراده ولري، خو کوم وخت چې د مصر له والي ریاض باشا سره ملاقي شو هغه د استوګني بلنه ورکړه او پرته له دې چې په کومه وظیفه یې وګماري د میاشتي یې زر مصري فرشه معاش ورته مقرر کړ او په احترام یې ځای ورکړ. په هغه ځای کښې له اقامت او استوګني نه وروسته د هغه ځای د علم طالبانو ورته مخه کړه او د هغه له علم او پوهي یې استفاده وړه، هغوی سید واداره کړ چې په مصر کښې خپل تدریس جاري کړي او همدا و چې سید د کلام، نظري حکمت، هیئت، صرف اونحو، اصول الفقه د علومو په تدریس پیل وکړ او په خپل کور کښې به یې خلکو ته درس ورکاوه او ازهر ته قطعاً د مدرس په توګه ورداخل نه شو او کله ناکله به ي د جمعو په ورځو د ازهر زیارت کاوه.

د طالب العلمانو په زړونو کښې یې لوی منزلت پیدا کړ او ډېري علمي استفادې یې ترې وکړې او د ده دین او ادب ته په تعجب کښې وو. په ژبو یې د ده ثنا او ستاینه جاري وه او په ټول مصري قلمرو کښې یې د شهرت انګازې خپرې شوې، او بیا یې اراده وکړه چې د هغوی له عقلونو

نه د اوهامو پردې لري کړي او له حقایقو سره یې اشنا کاندي، نو همدا و چي د شاګردانو عقلونو په فعالیت لاس پوري کړ او د زړونو سترګي یې روښانه شوې، او بیا یې خپل شاګردان دې ته واداره کړل چي لیک او کتابت زده کړي، او د دې دپاره یې ادبي، حکمتي او دیني فصول اشنا کړل او خپل شاګردان یې په دغه لار کښي په کار واچول او ویې رسول، او د ده په کوښښونو سره په مصر کښي خط او کتابت تعمیم شو او پوره وړاندې لاړ او تر ده دمخه په مختلفو موضوع ګانو کښي جید لیکوال ډېر لږ وو.

او بیا په مصر کښي د ده د شاګردانو له جملې څخه ډېر لایق لیکوال منځ ته راغلل چي د نبوغ درجې ته رسېدلي وو او چا یې مخه نیوی نه شوه، او دغه کسان اکثره هغه ځوانان وو چي پخواني کسبګر وو او ټولو لا له سید نه لیک او کتابت زده کړی و او لا د ده له شاګردانو نه، چي له دې نه هیڅوک انکار نه شي کړی مګر هغه چي مکابره کوي او لا یې حق ته شا کړې اوسي.

همدغه څیز و چي له ده سره د ځینو وګړو د رخي او حسد موجب وګرځېده او په ده باندي یې دا طعنونه او تومتونه ویل چي دی د ځینو متاخرینو د فتوی په ضد او خلاف ځیني هغه فلسفي کتابونه لوي لوي چي لوستل او لوستل یې عقیده خرابوي. دغه فتوا که څه هم د متاخرو علماوو له پلوه په مطلقه توګه ورکړل شوې نه وه بلکي په دې عقیده وه چي د دغو کتابونو لوستل ضعیف العقلو خلکو ته ښه نه دي او هر څه چي د پوهو او قوي الایمان خلکو دپاره یې اجازه ورکړې وه چي د پخوانیو او اوسنیو علماوو کتابونه وګوري او د موافقو او مخالفو علماوو کتابونه مطالعه کاندي، چي د هغوی دپاره د دغه راز کتابونو مطالعه څه

زيان او ضرر نه رسوي بلكي د بصيرت د پراختيا او د ايمان د قوت او ثبات سبب يې ګرځي، خو د ده بدخواهانو د ده د منزلت د راټيټولو اوله ده نه د خلكو د اړولو په نيت دغه خبره په مطلقه توګه كوله او خلك به يې پرې بدګومانه كول. او له دې كبله د ده حاسدين موفق شول چې د ده په نسبت عوام او بازاري خلك يو څه بدګومانه كړي، مخصوصاً هغه خلك چې د ده د خبرو د اورېدو لپاره به راتلل او پرې پوهېدل به نه او له دې نه علاوه د ده خبرې به يې اړولې او تحريفولې به يې، خو له دغو ټولو كوښښونو او عكس العملونو سره-سره د پوهانو په زړونو كښې يې د سيد مقام ته څه صدمه ونه شوه رسولاى. د ده شان همدغسې په لوړتيا كښې و او د خلكو زړونه ورته مايل وو چې د مصر په تخت مرحوم توفيق باشا پلتۍ ووهلې او سيد جمال الدين د ده د هدفونو ملاتړ و او د ده محاسن او محامد يې خپرول او غوښته يې چې د خلكو زړونه ورته مايل اوسي.

خو څنګه چې جمال الدين فطرتاً سياست ته ډېر ميلان درلوده او د سياست په ټولو باريكيو پوه و نو د مصر حالات يې تر دقيقي او حكيمانه مطالعې او كتنې لاندې ونيول اوورته څرګنده شوه چې په مصر كښې د پرديو مداخلې ورځ په ورځ زياتيږي نو دا يې وپتېيله چې بايد د مصر وضعې ته تغير وركړل شي، په دغه وخت كښې سيد جمال الدين د ماسوني په اسكتلندي ډله كښې چې يوه پټه ډله او پټ حزت و داخل شوى و.

هر څه چې په دغه ډله كښې د دخول و او څه شى چې د ده وجود په هغې كښې پېښ كړل (هغه وخت چې دى د يوه عادي غړي په حيث پكښې و رييس شوى نه و) په لنډه توګه به يې تر هغه ځايه ذكر كړو چې د

ماسوني طريقه يې جواز ورکوي او موږ ته معلوم اوسي، سيد جمال الدين که څه هم د خبرو د پټوالي او د سري فعاليت مخالفو او هغه يې کوم فضيلت نه باله بلکي نفس او ضعف او د بې همتۍ دليل باله خو بيا هم په دغه ډله کښي داخل شوی و.

په دغه غونډه کښي لومړنی انتقاد چي سيد جمال الدين وړاندي کړ د هغه چا د خبري ترديد و چي د دغي ډلي د ملګرو يوه تن وويل چي: (د ماسوني ډله) له سياست سره څه سر او کار نه لري، خو سره له دې موږ په خپله دغه غونډه وېرېږو چي حکومت (ونه پاروي او موږ ونيسي) نو بيا سيد جمال الدين پاڅېد او ويې ويل:

زه ددې منتظر وم چي په مصر کښي ډېر عجايب او غرايب وګورم، مګر دا مي بېخي نه وه ځوولې چي وېره به د ماسوني د محافلو له ستنو راننوځي او شامل کسان به په وېره کښي واچوي او ماسوني ډله به دې ته اړباسي چي ځان له جهاني سياست نه خارج وبولي په داسي حال کښي چي دغه ډله د حريت په اساساتو ولاړه ده او د حريت د بنا د سرته رسولو په منظور منځ ته راغلې او د دغي بنا تعميراتي وسايل يې په لاس کښي دي او په داسي توګه يې استعمالوي چي د پخوانۍ بنا د انهدام او نړولو خيال نه لري. بلکي د صحيح حريت د معالمو د تشئيد، ورورولۍ، مساوات د قايمولو، د ظلم د ماڼيو نړولو، جبر او جور د له منځه وړلو دپاره جوړه شوې ده او که دا وېره ورسره وي د دغو حريت طلبانو له لاسه هيڅ هم پوره نه دي او نه به تېره په تېره کېدي او نه به ددغي بنا کومه موره پورته کړی شي چي کونج پيدا کاندي.

او بيا يې د ماسوني په شاوخوا کښي په همدغه اسکتلنډي محفل کښي په مجمل ډول خبري وکړې چي متن يې په لاندي ډول دی:

تر هغه وخته پوري يو صورت په ذهن کښي ځای نه شي نيوای او نه نقشېدی شي څو چي د هغه پوره تعريف او توصيف ونه شي، مثلاً انسان حيوان ناطق دی، خو د دې دپاره چي نور ځيني ويونکي حيوانات پکښي داخل نه شي د انسان د تعريف لپاره دا چي د تميز او خندا قوت او استعداد لري او په خپله طبع مميز او خندنی دي چي دغه تعريفات او توصيفات د انسان دپاره په ذهن کښي يو خاص صورت ورکوي او پېژندل کيږي چي انسان همدغه څيز دی .

خو ما دا خبره دردوي چي زه په دې صفت چي د ماسونيانو د ډلي يو غړی يم ماسونيت تعريف نه پېژنم او نه پوهېږم چي دا څه شی دی، او نه د هغه صورت زما په ذهن کښي شته اونه يې يو وصف راته معلوم دی چي د هغه په وسيله سره سړی دغي ډلي غړی کېدای او پکښي داخلېدای شي.

لومړنی څيز چي زه يې واداره کړم چي د احرارو په دله کښي داخل شم هغه دغه خطير عنوان و چي په غټو تورو ليکل شوی و: (حريت، مساوات، وروږګلوي) غرض يې: (د انساني ګټو تامين، د ظلم د ماڼيو ړنګول او د مطلق عدل د مباديو ټينګول دي) او له دغو ټولو عباراتو نه ماته د ماسونيت تعريف او معنی څرګنده شوه او پوه شوم چي دا مبادي د کار همت، د نفس لوړتيا غواړي او دا ايجابوي چي له ظلم سره د مقاومت په لار کښي د مرګ او بند پروا ونه کړي او هر څه آسانه وبولي.

بيا يې وويل: دا هغه تعريف و چي ما د ماسونيت دپاره غوره کړی او هغه مي منلی و خو په ډېر افسوس ګورم چي د خودخواهی او ځانځانی جراثيم او مکروبونه د جاه طلبی او رياست خواهی مينه، او د خپلو نفسي خواهشونو د تسکين په غرض دغه ډله له تهديد او وعيد څخه

وېرېږي په داسي حال کښي چي آزاده ماسوني د همدغسي امورو د له منځه وړلو دپاره منځ ته راغلې او بايد په جرات سره خپله وظيفه انجام کاندي.

او څوک چي د دغو مباديو په خلاف کار کوي هغو جابرو ملوکو او ظالمو حکامو ته ورته دي چي زما په نظر کښي د خوارجو حيثيت لري او په داسي تورتم کښي پراته دي چي تر هر چا زيات تنوير ته اړه لري.

او بيا يې هغه شيان ياد کړل چي د اسکټلنډي تر محفل پوري يې اړه درلوده او د سيد جمال الدين د مخالفينو د هوی او هوس په اثر منځ ته راغلی و چي دلته يې د ذکر ضرورت نه ليدل کيږي او له هغې جملې نه چي ده د اسکټلنډي له محفل نه د وتو او د پرېښودو په وخت کښي وويل دا و: اې ورونو! زه عقيده لرم او تاسي باور وکړئ چي زه د رياست هوس نه لرم او وايم چي ماسونيت تر دې اړ دی چي د رييس دپاره د هغې د سلطې زمينه برابره کړي چي د هغې په وسيله خپل  شخصي اغراض او منافع په لاس راوړي او لا يې د مادي او لا ادبي منفعت د جلب سبب شي.

ما پرېږدئ چي يو عادي، پاک او له رذايلو ګوښه ماسوني اوسم، نو زه چي په دغه باره کښي د شخصي ګټي غوښتونکی نه يم دا هم نه غواړم چي زما په واسطه د ماسونيت عيب وويل شي او اغيار او او پردي خلک ما د هغه د طعن غشی کاندي او د هغه پاکه لمن لکه داره شي، او ماسونيت بله ګناه نه لري پرته له دې چي زه يې پخوا له يوه دقيق او واقعي ازميښت نه منلی او قبول کړی يم. په دغه محفل کښي سيد جمال الدين دا هم وويل: چي يو زموږ له ورونو نه په ډېر وياړ او افتخار وويل چي (ماسونيت وياړي چي ډېره پخوانۍ ډله ده او ډېري پېړۍ په خپل

شکل او خپلو تقاليدو پاتي شوې ده) خو زه وايم چي دا خبره له حق او حقيقت نه ډېره لري ده، ځکه چي ماسونيت په خپل دغه شکل او خپلو موجوده تقاليدو نه يوازي قديم العهد او پخوانۍ نه ده بلکي د زانګو يو طفل دی چي که د دغې ډلي شامل غړي د هغې د اصلاحاتو فکر ونه کړي پخوا له دې چي ځوانه شي په زانګو کښي به خپه کړای شي او له زانګو نه به ترقي ونه شي کړای.

اې ورونو! ستاسو دغه ماسونيت نن ورځ د يو څو کارونو له ظرف او د يوه ورور له قبلولو څخه عبارت دی چي پخوانۍ هغه افسانې ورته لوستل کيږي چي سړی ستومانه کوي او څوک چي په دغه ډله کښي داخليږي عقيده يې ورضعيفه کوي او د ماسونيت مرتبه يې له سترګو لوېږي. ورونو! تاسي نن د رياست او مرؤسيت تابعيت او متبوعيت تر منځ ګير ياستئ چي شرق آمر اوسي او شرقي تابع، مال جمع شي او د شرق دپاره جزيه ورکړه شي، او په دې ټولو کښي داسي څه نه ليدل کيږي چي په شرق کښي د ماسونيت دپاره ګټور اوسي.

او د سيد جمال الدين د خبرو له جملې نه چي د ماسوني ډلي د تعجب وړ ګرځېدلې وي يوه هم دا وه چي يوه ورځ د دغسي ډلي يوه غړي سوال وکړ او کومک يې وغوښته. سيد جمال الدين پوښتنه وکړه چي دغه ورور څه ناجوړتيا لري، هغوی ورته وويل چي ناروغ خو نه دی مګر ډېر بې وزلی دی او د کومک مستحق دی. نو ده وويل چي د بدن صحت او د سوال ذلت په يوه انسان کښي جمع کېدای نه شي، ماسونيت د خپل هغه غړي مرستي ته لاس ورغځوي چي عليل اوسي او لا يې کوم اندام شل شوی اوسي، او بيا يې تر نورو ورونو مقدم بولي او که به همدغسي بې وزلی او فقيرۍ کښي ومري د هغه د اولاد تربيه او

**روزنه په غاړه اخلي او روزني ته يې خاصه پاملرنه کوي. او له دغسي مواردو نه پرته هغه څوک چې حقيقي انسان وي احسان کول ګناه بولي او هيڅکله څوک په مفت خوری نه اموخته کوي. دا و د سيد جمال الدين ځيني انتقادونه چې اسکنډلنډي محفل به يې کول او د هغه د غړو خلق يې په تنګ کړی و.**

**سيد جمال الدين ته دا معلومه شوې وه چې په دغه ډله کښي له دغسي خلکو سره د ده پاتي کېدل امکان نه لري چې په سستی، وېره او بزدلی اخته وي، نو بيا يې يوه بله وطني ډله جوړه کړه چې د (فرانسوی د شرقي ډلي) تابع وه، او په لږه موده کښي د دغي ډلي د غړو شمېر له درې سوو نه زيات شو چې د نخبه فکر خاوندان او د مصر هغه نهضت طلبان وو چې د سيد مريدان ګڼل کېدل او ټول علما او مخور خلک وو، او لومړنی کار چې ده وکړ د ډلي شاملين يې په څو څانګو او شعبو ووېشل تر څو چې د هغو بې عدالتيو مراقبت وکړي چې په رسمي اداره کښي کېدی.**

**مثلاً يوه د حربې د نظارت (وزارت) د انذار څانګه وه چې مربوط مقام به يې دې ته ملتفت کاوه چې په نفسياتو کښي عادلانه رفتار وکړي، مخصوصاً د هغو ضابطانو په باره کښي چې په نوبت به سوډان ته لېږل کېدل او له قانوني مودې نه زيات به په سوډان کښي پاتي کېدل، (عسکري)قانون په دغه وخت کښي دا و چې په سوډان کې مصري او غيرمصري (د قفقاز ترکان او لا داسي نور) ضابطان په نوبت سره د وه-دوه کاله په سوډان کښي پاتي شي خو مصري ضابطان بايد دوهم کال بدل شوی او په ځای ترکان لېږل شوی وای څلور کاله به پاتي کېدل او چا به يې غم نه خوړ او که چا به يې د بدلېدو اراده هم وشوه نو نور هغه**

مصري ضابطان به يې ورلېږل چي بې وسيلې به و او کوم وزير او امير ته به منسوب و.

بله ځانګه د عدليې او بله ځانګه د ماليې او نورو وزارتونو د انذار ځانګي وې چي مربوط مقامات به يې د حق احقاق او د عدالت او مباديو استقرار ته ملتفت کول چي له مصريانو سره عادلانه رويه وچلوي (ځکه چي که مصري مستخدم ته به يې د مياشتي پنځه پونډه ورکول نو غير مصريانو ته به يې-چي عين وظيفه به يې اجرا کوله- پنځلس او لا شل پونډه ورکول).

هري شعبې خپل کار شروع کړ او له هر وزارت سره به يې په داسي لهجه او اسلوب خبري کولې چي اورېدونکی به يې تعجب کښي اچول او بالاتر په حکومتي دايرو او دفترونو کښي يوه نوع هيجان پيدا شو چي څپې او امواج يې شاهي دربار ته ورسېدل په دغه وخت کښي د مصر په تخت مرحوم (توفيق باشا) ناست و او دغي خبري په وېره کښي واچاوه. نوموړی باشا د ماسونيت ډېر پرواګير نه و او نه يې پروا پرې کوله، حتی له دې هم منع راوړه چي د دغې ډلي د مصري وطني ځانګي غړی اوسي، او په دې کښي هم متردد و چي سيد جمال الدين ته د ملاقات موقع ورکاندي او که نه؟

خو له دغه حرکت نه وروسته په چټکۍ يې سيد جمال الدين خپل حضور ته راوباله او د ملاقات موقع يې ورکړه، هغه و چي سيدجمال الدين له څو ورځو وروسته د خديو حضور ته ورغی ا چي د هغه حضور ته وړاندي شو خديو ډېره مهرباني او ډېر لطف او تجمل ورسره وکړ او له هغه وروسته يې ورته وويل چي ستا د دې خبري معنی څه ده چي وايي: (زه د مصريانو دپاره د هر خير غوښتونکی يم، او خوشحال يم چي

خپل مصري ورونه خوښ، په ترقۍ او رستګارۍ وګورم، خو متاسفانه د دغه ځای اکثره خلك بې علمه، ويده او بې كاره دي او د دې وړ نه دي چې مهيجې خبرې ورته وكړی شي او راوپارول شي، ځكه چې په دې صورت كښې دوی خپل ځانونه او خپل مملكت په تهلكه كښې اچوي).

جمال الدين په جواب كښې ورته وويل: (د اعلاحضرت خديو له حضوره اجازه غواړم چې ما ته موقع راكاندي چې په حريت او اخلاص خپلې خبرې وكړم، د مصر په خلكو كښې هم د نورو په شان جاهل او ضعيف افراد شته، دوی د عالمو او عاقلو خلكو له وجهو نه محروم نه وي، نو په كومه سترګه چې تاسې هغوی ته ګورئ، هغوی هم په هغه سترګه تاسې ته ګوري، او كه د دې مخلص نصيحت ومنې او مشوره يې قبوله كړې او خلكو ته موقع وركړې چې په دولتي چارو كښې د مشورې او شورى له لارې برخه واخلي او د ملي شورى د انتخاب او تاسيس امر وركړې چې قوانين وضع او ستاسې په امر او اراده يې تر تطبيق لاندې ونيسي ستاسې د عرش او سلطنت د دوام دپاره به ګټور ثابت شي.) دا د هغو خبرو يه مهمه برخه وه چې د جمال الدين او د مصر د خديو(بادشاه) تر منځ رد او بدلې شوې او د خديو د ناراضۍ سبب شوې او په زړه كښې يې ورته واچوله چې ويې نيسي خو هيڅ شی يې ورته څرګند نه كړ او نه يې د خپل زړه په اراده خبر كړ.

سيد جمال الدين د خديو له مجلس نه ووت او د ماسونې په محفل كښې يې د خپلې نقشې په تطبيق لاس پورې كړ او داسې موثرې خطابې به يې وركولې چې سست خلك به يې راپاڅول، ويده به يې راويښول او له بزدلو نه به يې زړور جوړول او له بې زړه خلكو نه به يې زمريان جوړول، خپل شاګردان او خپل مريدان يې واداره كړل او دې ته يې

ولمسول چي د مصريانو د سلب شوو حقوقو مطالبه وکړي او راژوندی يې کاندي د سوريې د اديبانو او ليکوالو په سر کښي (اديب بيک اسحاق) چي له دغه نهضت سره ملګری و.

له دغه وروسته وطني فکري حرکت برالا شروع شو او حکومت په دقت او احتياط سره د هغه مراقبت کاوه او له مصريانو سره يې مجامله شروع کړه او په ښه نيت او د نيکو وعدو په ورکولو يې له خلکو سره نژدېکت غوښته او وعده يې ورکړه چي د ملي شورى مجلس به جوړ کاندي نو بايد دی چي له افراطي حرکت نه ځانونه وژغوري او امنيت او دسپلين خراب نه کاندي.

نو بيا دغو احرارو له سيد جمال الدين نه وغوښتل چي د مصر د پارلمان د تاسيس په باره کښي خپله نقشه او خپل پروګرام طرح کاندي او د خلکو دپاره يو واضح بيان ورکړي چي د هغه په مطابق د خپلو نمايندګانو د ټاکلو دپاره ترتيبات ونيسي نو ده ويل:

اې وروڼو! تقنيني (پارلمان) قوه د هر ملت چي وي خپله حقيقي معنی پيدا کولای شي مګر دا چي خپله د قوم له خوا انتخاب شوی اوسي او هر پارلماني مجلس چي د يوه پادشاه او لا د کوم امير په امر اولا د يوه خارجي طاقت په اراده تشکيل شوی اوسي او د هغه په امر او اراده حرکت کوي نو پوه شئ چي د دغه موهوم پارلماني قوت ژوند د هغه چا د ارادې تابع وي چي د هغه په اراده منځته راغلی اوسي.

نو د دغه محدث او د پارلمان د پيدا کووکي منافع د خلکو د نهضت تر منځ حايل ګرځي او موانع ورته ايجادوي، په تېره بيا چي د قدرت د خاوند له ارادې سره ټکر وخوري. تاريخ موږ ته داسي مثال ښودی نه شي چي د اقتدار خاوندان دي په خپله خوښه خپل قدرت بل ته په لاس

ورکړي او لا دي ملت ته دا حق ورکړي چي د دولت  په شئونو کښي لاس ولري او د هغو اراده او زمام دي په لاس کښي واخلي که څه هم د خلکو لويه هيله او توقع دا وي چي ځان د پرديو له تحکيم نه خلاص کاندي.

بيا يې وويل: که د مصر پارلمان (ملي مجلس) تشکيل شو تاسي به ډېر ژر وګورئ چي ظاهراً به بلاشکه يو اروپايي مجلس ته ورته وي او لږ تر لږه د ښی لاس او کيڼ لاس ګوندونه ولري او دا به هم ډېر ژر ګورئ چي د کيڼ لاس ګوند به په دغه مجلس کښي هيڅ ډول تاثير ونه لري ځکه چي ادناترينه غايه او پرنسيب به يې همدا وي چي د حکومت په ضد ودريږي او د ښی لاس ګوند يې ملاتړ اوسي.

بيا يې وويل: تاسي به زما له دې خبري نه تعجب کوئ چي دی څه وايي: ځکه چي دغه مسئله لا تر اوسه پوري د تصور په حال کښي ده او د عمل ميدان ته راوتلې نه ده خو کوم وخت چي ستاسي دغه موهوم مجلس تشکيل شو او ومو ليد چي د کيڼ لاس غړي يو د بل د وروسته د حکومت له معارضې نه لاس اخلي او د ښی لاس ګوند ته ورننوځي نو بيا به وواياست چي: (سيد جما ل الدين رښتيا ويلي و).

هو! زما خبره به رښتيا وخېژي خو زما په دغه پېش ګويی او دغه فراست زما فضيلت نه ثابتيږي او نه زما د فضيلت دليل ګڼل کېدای شي، ځکه دا زما د فراست نتيجه نه ده بلکي د دې نتيجه ده چي کوم وخت چي د يوه برهان مقدمات په صحيح توګه ترتيب شي نتيجه هم صحيح ورکوي.

نو بنا په دې د ملي مجلس مقدمات د هغه د منځ ته راوستونکي پوري اړه لري چي که موجد او باني يې له ملت نه يو خارج قوت اوسي د ملت

له منافعو سره ټکر خوري او له ملي مجلس سره تضاد لري، او دغسي مجلس څه ارزښت نه لري او لکه چي ډېر عمر نه شي پاتې کېداى همدارنګه ملت دپاره هم د يوې ذرې فايده هم نه لري.

اوبيا يې له تاثره په ډکه خندا وويل: چي تاسي به هغه څوک چي د قوم نماينده وي وګورئ چي په څه مصائبو مبتلا کيږي او زه د هغو دمصائبو او ربړونو د شمېر تخمين نه شم کړى، ځکه چي هغه به په کلي ډول خپل حريت له لاسه ورکوي او د بر سر اقتدار د قدرت د لاس آله به وي او هر څه چي غواړي هغسي به يې لوبوي او د قوم د منافع او مصالحو پر ضد به يې استعمالوي تر څو چي د وطن او لاد او زامن هغه څه ته ونه رسيږي چي دوى ورته رسېدلى دى.

ستاسي نماينده به ستاسي د مصر او ستاسي د زمانې اوسي، او دا به هغه مخور سړي وي چي په خپل ټول کوښښ يې د بزګرو مالونه خوړلي وي او خپل عيش تود کړى اوسي، دا به هغه بزدل انسان وي چي د هغو حاکمانو په مقابل کښي به د درېدو توان نه لري چي د ده همت يې وژلى اوسي او نه به په خپلو مغزو کښي د نهضت مفکوره لري دا به هغه څوک وي چي که څه هم قوي دليل په لاس کښي لري د ظالم حاکم په مقابل کښي به خپل دليل ويلى نه شي اونه به يې ورته وړاندي کولاى شي دا به هغه سړى وي چي د جابر قوت په اراده کښي به خير او حکمت بولي او دخير او حکمت تعبير به ترې کوي او له وطن نه دفاع کول او حساب غوښتل بې ادبي او بې تدبيري بولي او مصلحت به يې نه ګڼي. بې احتياطي او بې حرمتي به يې بولي چي په نتيجه کښي به د سړي د عزت النفس او قومي شعور ټول صفات د افسوس او تباهۍ موجب ګرځي او هر څه چي د ذلت بلنه کوي او د قوميت د احتقار موجب ګرځي او هغه

څه چې له منځه وړي چې په هغه سره د ملت حريت وده کوي نو بيا هغه د زمانې د حکمت او مصلحت په مطابق ګڼل کيږي.

دا هغه څه دي چې زه يې ګورم او ستاسي خيالي مجلس به ترې جوړيمي (که دغه خوبونه رښتيا شي) او دا کار به د فلسفې له هغې کليې قاعدې نه مخالف اوسي چې وايي: (وجود له عدم نه بهتر دی) او نتيجه به دا شي چې د دغسي يو مجلس له وجود نه عدم بهتر دی.

او بيا دغو افکارو، اقوالو او خطابو د مصر خلک يو بل د وروسته راوېښول او خپلو ملي فرايضو ته يې ملتفت کول او په دغو ټولو کښې هغه څه ليدل کېدل چې د برتانيې د لويي امپراطورۍ د سياست په نسبت يې د سيد جمال الدين په نفرت او کرکه دلالت کاوه او تل به يې انتقادونه پرې کول، د ده دغه بيانيې ټولې ترجمه شوې او د انګلستان جرايدو ته واستول شوې او نشر شوې او انګريزي مقامات په ډېر اهميت ورته قايل شول، حتى د انګلستان صدراعظم (ګلاډسټون) له دغې موضوع سره د مقابلې چارې په خپله غاړه واخيستې او چې د جمال الدين ډلې او د هغوی تبليغاتو په دغه درجه اهميت او تاثير پيدا کړ په مصر کښې د انګلستان قونسل مستر (فافياني) په وېره کښې ولوېد او د خپلو مراقبينو او جاسوسانو په وسيله يې هغه څه لاس ته راوستل چې حکومت يې په وېره کښې واچاوه او د مصر خديو يې وډاراوه. د مصر د بادشا په زړه کښې نور شيان هم وو چې په مصر کښې يې د سيد جمال الدين له استوګنې نه خوف درلود او د هغه استوګنه يې بده ګڼله، لکه چې مخکښې وويل شول.

نو بيا يې له مصر نه د سيد جمال الدين او د هغه د ملګري عارف افندي ابي تراب د وتلو امر ورکړ او هغه و چې په ١٢٩٦ه/١٨٧٩م کال

کښي د هند په اراده د مصر له خاوري ووت او چي د سويز بندر ته ورسېد د ده ځيني مريدان او د ايران قونسل او يو څه تاجران ورته راغلل او هر يوه له ځان سره يو څه پيسې راوړي وې او سيد جمال الدين ته يې وړاندي کړې چي د لاري خرڅ يې کاندي او ډېر کوښښ يې وکړ چي که هسي يې نه اخلي د پور په توګه يې واخلي، خو سره له دې هم ده قبولي نه کړې او داسي جواب يې ورکړ: (تاسي دغو پيسو ته تر ما ډېر اړياستئ او زمری چي هر چيرته ورسيږي خپل ښکار پيدا کولای شي) او بيا د بحر له لاري هند ته ورسېد او بيا د دکن په حيدرآباد کښي مېشت شو او د دهريانو د مذهب په رد يې خپله رساله وليکله چي د دې کتاب په پای کښي به راوړه شي.

خو چي په مصر کښي د انګرېزانو په ضد وروستۍ فتنه پېښه شوه له حيدرآباد نه کلکتې ته راوغوښتل شو او د هند حکومت په دې واداره کړ چي له کلکتې نه ونه خوځيږي تر څو چي د مصر شخړي پای ته ورسېدې او د انګرېز جنګ ختم شو. نو بيا يې اجازه ورکړه چي هر چيرته تلی شي، هغه و چي سيد اروپا ته وخوځېد او لندن ته ورسېد، په هغه ځای کښي د ځوورځو له اوسېدو نه وروسته پاريس ته لاړ او له درې کالو نه زيات هلته پاتي شو، په دغه موده کښي د ده ډېر ګران دوست او ملګری استاد علامه شېخ محمد عبده ورسره ملاقي شو، په دغه وخت کښي په مصر کښي يوه وطني ټولنه (د عروة الوثقی ټولنه) جوړه شوې وه او له سيد جمال الدين نه يې غوښتي و چي يوه جريده راوباسي چي مسلمانان د لوی خلافت تر بيرغ لاندي اسلامي يووالي ته راوبولي او هغه دغه تکليف د خپل ملګری محمد عبده په غاړه کېښود چي د هغې د خپرولو چاري په خپل لاس کښي واخلي او په کار پيل وکړي، هغه

**ورسره ومنله او اتلس ګڼې يې خپرې کړې او د شرقيانو په زړونو کښې يې عموماً او د مسلمانانو په زړونو کښې يې خصوصاً هغه ځای ونيو چې تر هغه پخوا نه کوم وعظ او نه کومې خطابې دغه تاثير کړی و. ځکه چې د دغې جريدې په ليکلو او خپرولو کښې د نيت او خلوص او د غرض پاکې موجوده وه او د هغې د سياست د اداره کوونکې مقصد ډېر صحيح او بې غرضه و بيا د هغې د نشر د ادامې په مخ کښې موانع ايجاد شوې او هند ته يې د ورتګ دروازې وتړل شوې، او د انګليس حکومت هغه کسان ډېر ربړول او ځورول چې دغه مجله به ورتله، حتی په مصر کښې يې هم ورتګ منع کړ او د وزيرانو د مجلس له خوا يې تصويب صادر کړ چې متن يې په نوموړې جريده کښې خپور شوی او موږ يې دلته رانقلوو: «د مصر د وزيرانو غونډه په قاهره کښې وشوه او د عروة الوثقی جريده تر بحث لاندې ونيول شوه او بيا يې داخلې وزارت له امر صادر کړ چې مصر ته د دغې جريدې د راتګ په ټينګه سره مخنيوی وکړي او په ټينګه يې مراقبت وکړي او د داخلې وزارت د پوستې ادارې ته امر ورکړ چې په دغه باره کښې زيات دقت وکړي او وروسته له هغه چې دغه فيصله په رسمې جريده کښې نشر شوه که له چا سره د عروة الوثقی ګڼه وليدل شو له پنځو پونډو نيولې تر پنځه ويشتو پونډو پورې به په نقدې جريمه محکوم شي. دغه جريمه په هغه وخت کښې ډېره غټه جريمه وه، ځکه چې په دغه وخت کښې د مصر د خلکو اقتصاديات د انګرېزانو د مداخلو په اثر ډېر ضعيف شوی و» خو موږ دا ګومان نه کوو چې په دغه فيصله کښې به کوم مصری وزير په خپل خوښه او حريت خپله رايه ورکړې اوسي، بلکې دا توهم هم نه کوو چې د مصر په تخت ناست چا به هم دغسې فيصلې ته تمايل ښودلی وي، او زموږ په زړه کښې دا هم نه ګرځي**

چې د مصر يواوسېدونکی مسلم وي او که غير مسلمان په دغه حکم راضی اوسي او هغه له عدالت سره موافق وبولي، په تېره بيا د دغسي يوې جريدې په باب چې د مصريانو د حقوقو د دفاع دپاره منځ ته راغلې او ددوی حقوق ژوندی کوي بلکي خپل ټول کوښښونه يې په دغه لار کښي په کار اچولی دی چې هفته د دوی د دښمنانو نقشې شنډې کړي او د هغوی د استفادې او استثمار لاسونه لنډ کاندي او دا يې هم مشرب نه دی چې د زيد ستاينه او د عمر غندنه وکړي، بلکي هدف يې تر دې ډېر لوړ دی او کار يې دا دی چې د نصيحت يخي اوبه ددوی د ظلم په اور سوو زړونو تويي کړي تر څو چې د شرقيانو زړونه په صفا او دوستۍ سره نژدې شي.

موږ د شرقي ملتونو له زامنو نه دا هيله کوو چې په خپلو منځو کښي له نزاع او مخالفت نه لاس واخلي او په خپل ټول طاقت سره د هغو عواملو په مقابل کښي قيام وکړي چې د دوی ملي موجوديت له منځه وړي او معنوي روحيه يې وژني او په ثروتونو يې عيش او نوش کوي. په دې هم بايد وپوهېږي چې د کور په داخلي چارو او سمون بوختېدل هغه وخت ممکن او ښه ګڼل کېږ ي چې له بيروني امنيت نه فارغ اوسي او په بيرون کښي داړي او چور او چپاو موجود نه وي.

دا وه د عروة الوثقی شېوه او طريقه چې هر چا ته معلومه ده او هر چا چې د هغې ګڼې ليدلي اوسي په دې پوهېږي چې هغې له لومړۍ ورځې نه دغه لار تعقيب کړې او د شرقيانو د مشروعو حقوقو ملاتړ يې کړی دی، نو بيا به د يوه عاقل سړي په زړه کښي چې خواه شرقي مسلمان وي او که غيرمسلمان څنګه دا خبره تېره شي او لا به يې راضي شي چې د هغه وطن ته د دغې مجلې د نه راتګ طرفدار اوسي او لا دغه

کار ته ميلان ښکاره کړي. مګر موږ ښه پوهېږو چي په دغه وخت کښې د مصر د مملکت د امرينو حرکات ټول اجباري او غير اختياري و او ددوی د حرکت د ميچنې لاستی د انګرېزانو په لاس کښې و او د هغوی د ارادې تابع و.

موږ نه غواړو چي انګرېزانو ته ووايو چي تاسي په دغه حکم ظالمان ياستئ ځکه چي په دغه مجله کښې داسي څيز نشته چي په نورو وطني او خارجي جرايدو کښې نه اوسي اول ا تر هغه زيات وي، ځکه چي ټول جرايد دوی پرده لري کوي او د دوی پټ شيان څرګندوي او هغه ناوړه رويه يې هم ښيي چي دوی له مصريانو سره کړې او کوي يې، او دا د دوی عادت دی چي په هند کښې د کوم اسلامي عالم په شهوت خبر شي او پوه شي چي د خلکو مخه ورته شوې ده نو بيا هغه د پوليسو دا ترې نه جلب کړي او چي ورشي نو بيا د پوليسو ضابط قرآن ورته وغوړوي او لا د حديثو کوم مشهور کتاب ورته وړاندي کړي او په هغو آيتونو او احاديثو ګوته کېداى چي د جهاد او غزا بحث په کښې وي او ورته ووايي چي ته په دې آيت او لا په دې حديث عقيده لرې؟ نو که ورته ويې ويل چي هو، ضابط ورته وايي چي بنا په دې ته به له موږ سره غزا کول واجبه ګڼې؟ نو که ورته وبه يې ويل چي زه يو درويش او ګوشه نشين سړی يم او زما عقيده په دې باندي همدومره ده چي دا يو ديني کتاب دی، بيا به ضابط درې څلور ورځي مهلت ورکړ چي د نوموړي آيت او حديث په باره کښې خپله رايه ښکاره کاندي، نو چي ټاکلې موده به تېره شوه او نوموړي عالم به خپله عقيده ونه ګرځوله اونه به يې خپل تحريف او نه به يې له خپل دين څخه خپل وتل اعلام کړل او نه به يې خپل تحريف او تبديل کومي مطبعې ته واستاوه چي چاپ شي بيا به

حکومت د (اندومان) ټاپو ته د تل دپاره فرار او تبعيد کړ. او که تا دغه جزيره ليدلې واى درمعلومه شوې به واى چې هغه له دغه راز مظلومو علماوو نه ډکه وه، نو چې د انګليس حکومت د خپل رعيت له مسلمانانو سره دغه روش ولري په دغه جريده کښې د اسلام د نامه وجود د دې خبرې دپاره بس دى چې درتګ يې خپل قلمرو ته منع کاندي او هغه څوک د خپل سر سخت دښمن وبولي چې دغه نوم يې پرې ايښودلى وي.

نو بنا په دې دا څه لري او د تعجب وړ خبره نه ده چې د دغې جريدې په باب دغسې ظالمانه امر صادر کاندي، خو موږ دا خبره برالا کوو چې دغه راز ظلمونه او جورونه نه شي کړاى چې د همت د خاوندانو همت ووژني او له خپلې ارادې لاس واخلي، او نه د دغې جريدې د توزيع او خپرولو مانع کېداى شي، او موږ کولاى شو چې په هر ترتيب چې وي عروة الوثقى د ظالم انګليس قلمرو ته ورننباسو او دا د عزم د خاوندانو او د نهضت طلبانو ټينګه اراده او ټينګ عزم دى. او بيا د محمداحمد سوډاني مهدي پېښه منځ ته راغل او خبره يې غټه شوه او انګرېزانو ته يو وار بيا پلمه پيدا شوه چې د مهدي د انقلاب د خاموشولو دپاره د مصر په داخلي چارو کښې ګوتې ووهي او مداخله وکاندي. نو بيا جمال الدين په عروة الوثقى کښې ډېري مقالې وليکلې چې په هغو سره يې د انګرېز حکومت تهديداوه او د حکومت رييس (صدراعظم) مستر ګلاډستون يې د دغه کار هغو وخيمو عواقبو ته ملتفت کاوه چې د انګرېز د حکومت له اقداماتو يې احتمال کېده او دې خبرې ته يې ملتفت کړ چې جنرال ګورډون به له ناوړه عاقبت سره مخامخ شي او د انګلستان حکومت به هم په دغه توګه ونه شي کړی چې خپلو نامشروعو

مقصدونو ته ورسيږي او دا يې په واضحو او قوي دلايلو ثابته کړې وه چې بيان به يې تر دې عنوان لاندي راشي: (عبرت او پند).

سيد جمال الدين د سوډان په باره کښي خپلو ليکنو ته ادامه ورکړه او په هغو کښي يې د برتانيې او د هغې د وزيرانو غلطۍ يوه-يوه شمېرله او د لارډ (ګرانفيل) خبري او د مستر (ګلاډستون) دليلونه ردول، او په مصر او سوډان کښي يې د برتانيې د حکومت غوره کړی سياست غانده او د هغه د سياست له مخ نه يې پرده لري کوله او په خاصه توګه يې د لندن مجلس په اضطراب کښي واچاوه. نو بنا پر دې لارډ سالسبوري او چرچل دې ته اړ شول چې سيد جمال الدين وغواړي تر څو چې له هغه څخه په دغه وخت کښي د مهدي د ظهور په شاوخوا کښي پوښتني وکړي، نو بيا هغه و چې لندن ته لاړ او له دوی سره يو ځای شو او په هغه ځای کښي يې د انګلستان د سياست په غلطيو رڼا واچلو او پوره توضيحات يې ورکړل مخصوصاً د اسلامي دولتونو په مقابل کښي د دوی روش چې دوی په مصر کښي تعقيباوه او دايې ټول په قطعي دلايلو او شديده لهجه چې له اخلاص نه ډکه وه دوی ته ښکاره کړل. او وروسته له هغه چې يو څه خبري د دوی تر منځ رد او بدلي شوې لارډ سالسبوري خبره لنډه کړه او جمال الدين ته يې وويل:

(د برتانيې حکومت ستا قدر پېژني او موږ ستا د نظريې تقدير او ستاينه کوو او دا ښه ګڼو چې له اسلامي حکومتونو سره دوستانه روش ولرو او تر هغه ځايه پوري چې زموږ شرايط او ظروف اجازه راکوي د دغې مفکورې رعايت به وساتو. نو ځکه موږ دا رخووله چې تا د سوډان د سلطان په صفت هلته واستوو او ته په خپل تدبير سره د مهدي د فتنې

جرړې وباسې او په هغه ځای کښې د برتانيې د اصلاحاتو لپاره لار همواره کړې....»

جمال الدين په جواب کښې ورته وويل: «دا يو عجيب تکليف او ستاسي د سياست يوه بله غلطي او ناپوهي ده جناب لارډ! ما ته اجازه راکړه چې له تا نه پوښتم چې آيا سوډان ستاسو ملك دی چې تاسي له خپلي خوا سلطان ورته واستوئ؟ «مصر د مصريانو ملك او سوډان يې يو جز او يوه برخه ده او د حق خاوند خليفه اعظم اعلا حضرت سلطان ژوندی دی او هغه دومره مادي او معنوي لښکر لري چې هر مشکل رفع او هره فتنه خاموشه کاندي او په اسلامي نړۍ او د هغې په نورو برخو کښې امنيت قايم کاندي» کوم اصلاحي نظريات چې برتانيه يې په نظر کښې لري او غواړي د هغو په پلمه د نورو په چارو کښې مداخله وکړي تر څو چې خپلي اصلاحي نقشې تطبيق کاندي نو د استطراد په توګه زه د برتانيې او د هغې د سترو کسانو نظر لکه لارډان شول آيرلنډ ته ملتفت کوم چې د دغې جزيرې يو ټاپو خلك د خپلي خپلواکۍ په لار کښې څه ربړونه په غاړه اخيستی او په څه بلاوو اخته دي هغوی خپله خپلواکي غواړي تر څو چې په خپل ملك کښې خپلي اصلاحي نقشې تطبيق او عملي کاندي نو بيا د برتانيې اصلاح طلب دولت څله د هغوی د سوال اجابت نه کوي او خپلواکي يې نه مني؟ تر څو چې هغوی په خپلو اصلاحاتو لاس پوري کړي او د برتانيې د اصلاح طلب دولت هيلي سرته ورسيږي؟ په داسي حال کښې چې ايرلنډيان تاسي ته له ښارګك نه هم نژدې دي او ستاسي او د هغوی تر منځ هغه روابط او علايق شته چې ستاسي او د مصر، سوډان او نورو شرقي ملتونو تر منځ هغه نشته.

په دغه وخت کښې لارډ ساليسبوري داسي حيران ويران پاتي شو لکه چي يوه سخته صدمه ورته رسېدلې وي او هيڅ خوله خوځولی نشي، ځکه چي ده انتظار درلوده چي سيد جمال الدين به د ده د پېشنهاد په مقابل کښې (چي پرته له کوم تکليف څخه د سوډان حکومت ورته رسيږي) د شکران او امتنان سجده ادا کاندي. خو چي ويې ليد چي د سيد جمال الدين همت تر دې ډېر لوی دی چي په دغسي له هيلو ډکو لومو کښې ونښلي او دا دام بايد بل مرغه ته کېښودل شي نو يې داسي کلمات ورته وويل چي دا ترې فهمېده چي: (موږ به په دغه باره کښې فکر وکړو) او په دې کلمو يې خدای پاماني ورسره وکړه (په مخه دي ښه، په خير لاړ شې).

جمال الدين له دغه ملاقات نه په همدې توګه ووت او د انګلستان لوی مشر ساليسبوري د جمال الدين له سياست او روش ته ډېره کرکه وکړه خو د انګلستان جرايد د سيد جمال الدين نظرياتو ته په ډېر اهميت قايل شول او د ده مباحثات يې مهم وګڼل، په تېره بيا هغه کسان چي د ايرلنډيانو له قضيې سره يې مثبته علاقه لرله او د انګلستان احرار ګڼل کېدل او په تېره بيا هغه کسان چي له لندن نه د راوتلو په وخت کښې يې د لندن سياسي مجلس د هرج او مرج په حال کښې ليدلی و.

او بيا بېرته فرانسې ته لاړ او په دغه وخت کښې د عروة الوثقی په ضد د برتانيې د حکومت تعقيبات او مراقبت خپلې نهايي درجې ته رسېدلی و او ټولې دروازې يې د هغې د خپرېدو پر مخ تړلې وې او هغه څوک به يې هم ډېر ربړاوه چي د هغې نوم قدري به يې اخيست، لنډه دا چي د لويې برتاني حکومت له ډېرو کوښښونو او مجاهدو وروسته په دې برياله شو چي د هغې د خپرېدو مخه ونيسي او بنده يې کړي. خو سره له دې

هم هغې د خلکو په زړونو کښې نقش موندلی و او هغه څه چې هغې د خلکو په ذهنونو کښې کرلی وو يو د بل د وروسته راتلو کېدل او ورورولي وده کوله او په شرقي ښارونو او مملکتونو کښې يې په تدريج سره ثمره بريښېده. په پاريس کښې د سيد جمال الدين د استوګني موده څه باندې درې کاله وه چې يو څه موده يې د عروة الوثقی په خپرولو او يو څه يې د دغسې خطابو په القا کولو تېره کړه او يو څه ډېرې موثرې مقالې يې په مهمو جرايدو کښې خپرې شوې چې د روسيې او انګلستان او د آستانې او مصر د دولتونو په سياست به يې بحث کاوه. او د ده له فلسفي بحثونو يو هم هغه مهم بحث و چې له فرانسوي مشهور فيلسوف (رينان) سره يې د (علم او اسلام د قرآن حقيقت او ودانۍ) په باب کړی و او د دغو مباحثاتو براهين او دلايل به د جمال الدين په راتلونکو اقوالو کښې راشي. رينان د ده د علم په صحت او حجت په قوت اعتراف وکړ او له خپلو ډېرو هغو نظرياتو وګرځېد چې ده د اسلام او قرآن په باره کښې لرل اوويل به يې چې اسلام او قرآن د مدنيت او آبادۍ او پيشرفت مانع دی او ويل به يې چې د مسلمانانو انحطاط او بېرته پاتې کېدل د دې خبرې نتيجه ده چې د دين پېشوايان د خپلو جامو دماغونو له کبله د دين له حکمت نه پوره خبر نه دي او ناوړه تعبيرونه يې ترې کړي دي. په پاريس کښې د سيد جمال الدين د استوګنې ټوله دوره په پت او عزت تېره شوه او اکثرو علماوو او پوهانو او فيلسوفانو به يې ډېر عزت کاوه او په لوړ علمي مقام ورته قايل وو.

## تهران ته د جمال الدين د غوښتنې

### كيفيت او له ناصرالدين شاه نه د هغه دردېدل، له پادشاهانو او لويانو سره په خبرو كښي د هغه غلطت

وروسته له هغه چي سيد جمال الدين ته څرګنده شوه چي پاريس، كه څه هم ده په عزت شپې په كښي تېرولې د ده د استوګني ځاى نه دى په عربي هيوادونو كښي (لكه نجد، حجاز او عراق شول) د سياحت په اراده شو، او دى لا په همدې تياري كښي و چي د ايران د بادشاه ناصرالدين شاه له خوا يو تيلګرام ورته راغى او ايران ته يې وباله. بيا ده خپل سياحت پرېښود او د تهران په لور وخوځېد، او چي آصفهان ته ورسېد د هغه ځاى له والي (ظل السلطان) سره ملاقي شو او ډېر عزت او قدرداني يې وكړه، دغه والي ډېر ذكي او پوه انسان و او سيد جمال الدين د شاه دپاره بهترين مرشد او لارښوونكى وګاڼه او د ايران د مملكت دپاره يې ډېر مفيد وباله او چي تهران ته ورسېد ناصرالدين شاه يې تود هركلى وكړ او په خلاصه او پراخه سينه يې هركلى ورته ووايه او د ده فضايل او محاسن يې وستايل او سمدستي يې د حربي وزارت وروسپاره او سربېره پر دې يې د خپل حضور مخصوص مستشار مقرر كړ، او د ده له مشورې نه پرته به يې هيڅ كار ته اقدام نه كاوه او ده هم د شورى او وزارت وظايف په ښه توګه انجام كړل، په عين زمان كښي سيد جمال الدين په سخته او صرېحه لهجه پېشنهاد وكړ چي بايد د ايران په اداري سيستم كښي تغير راشي او ټول زاړه او پخواني شيان وويستل شي، خلك راويش كړى شي او په حكومتي چارو كښي برخه او لاس ولري. د ايران

ټول مشران، علما سيد جمال الدين ته راټول شول او قسم يې وخوړ چې د ده په ا مر به ځانونه قربان کاندي او بايده ده چې دی خپلې اصلاحي مفکورې تر تطبيق لاندې ونيسي، خو ده د نه سرعت اشاره ورته وکړه او ورته ويې ويل فهموله چې د تدريج د قانون مراعات وکړي، خو چې ناصرالدين شاه وليد چې سيد ډېر لوی منزلت پيدا کړ او د ده خبري د ايران د دولتي مشرانو او علماوو په زړونو کښې زيات نفوذ او تاثير لري او د ټولو زړونه يې مسخر کړي دي ترې وډار شو او وېره ورته ولوېده او راز-راز شکونه ورته پيدا شول او په خپل سلطنت ووېرېد او له سيد سره يې خپلې وضع ته تغير ورکړ او سيد جمال الدين هم پرې وپوهېد او د سفر اجازه يې ترې وغوښته تر څو چې تبديل هوا وکړي، او هغه هم اجازه ورکړه او د روسيې په لور روان شو او د هغه مملکت مهم مراکز يې لکه مسکو، لينن ګراډ يې وکتل او د هغو ځايونو له خلکو سره يې خبري اتري وکړې او محترمانه يې هرکلی وکړ، ځکه چې هغوی د ده نوم او شهرت اورېدلی و او په لينن ګراډ کښې يې د هغه ځای د پوهانو او سياسي مشرانو سره وکتل او هغوی د سيد منزلت او مقام پېژاند چې اول د امير محمداعظم خان په وخت کښې د افغانستان لومړی وزير و او د هغه وخت په جرايدو کښې يې د افغانستان، ايران، عثماني دولت، روسيې او انګلستان د سياست په باب ګټوري او جامع مقالې خپرې کړي وې. او دغو مقالو د سياست په فضا کښې انګازې پيدا کړي وې او د انګرېز د حکومت د سياست په نسبت د سيد کرکه او په هغه باندې د هغه مدلل تنقيدونه ددې خبري سبب شو و چې د روسيې په مملکت کښې د ده دپاره زيات مجال پيدا شي او په ښه او درنده سترګه ورته وکتل شي، نو ځکه يې په هر ځای کښې ډېر اجلال او اکرام کېده

او د ده خبرو ته يې غوږ نيوه او د سياست ملاتړ يې کاوه، تر دې پورې چې قيصر خپل قصر ته وغوښت او اوږدې خبري او مفصل صحبت يې ورسره وکړ، او ډېر تود هرکلي يې وکړ او لوی يې وګاڼه او په دقت سره يې خبرو ته غوږ کېښود.

له دغو اوږدو او مفصلو خبرو وروسته قيصر پوښتنه ترې وکړه چې په څه له ناصرالدين شاه سره وران او مخالف شوی؟ نو ده بيا د ده د مشروطه حکومت په باب خپله رايه ورته څرګنده کړه او د هغه ضرورت او لزوم يې ورته وښود اودا چې ناصرالدين شاه له دې نوع حکومت نه کرکه درلوده او ځکه يې د سيد له نزدېکت نه منع راوړه. قيصر ورته وويل چې: «زه شاه حق په جانب ګڼم ځکه چې هيڅ پادشاه په دې راضي کېدای نه شي چې د ده د مملکت بزګر دي په ده باندې حاکم اوسي».

جمال الدين په جرات او فصاحت جواب ورکړ: اعلی حضرت قيصر: زه عقيده لرم چې د پادشاه او د تخت بقاوو دوام دپاره دا بهتره ده چې په مليونو زراعتي وګړي د ده دوستان اومخلصان اوسي، نه دا چې د ده دښمنان وي او د فرصت په انتظار اوسي او زړونه يې د کينې او انتقام له اوره ډک اوسي په دغه وخت کښې د قيصر په بڼه کښې د قار او غضب نښې څرګندې او ويچولي يې تريو شو او نوري خبري اوږدې نه کړي او له مجلس نه ولاړ شو او په ډېره سړه وضع يې له جمال الدين سره خدای پاماني وکړه، او بيا قيصر د خپل دربار لويو کسانو ته دستور ورکړ چې په چټکۍ سره سيد جمال الدين د روسيې له خاورې نه وباسي. سيد جمال الدين روسيه هم پرېښوده او په اروپا کښې ګرځېده څو ورځې په لندن کښې پاتې شو او د هغه ځای سياسي خلکو ورسره وکتل، لکه چې د نورو ښارونو سياسي کسانو ورسره کتل او احترام او اکرام يې کاوه او خپلو

سياسي غونډو او علمي مجلسونو ته يې وروغوښت تر څو چې يې له نژدې نه وګوري او خبري يې واوري، د ده ډېره اندېښنه او ډېري خبري په مملکت کښي د ناصرالدين شاه د ناوړه تصرف په باب وې او دا چې نوموړی په خپل مملکت کښي استبدادي حکومت چلوي او د مملکت وضع يې خرابه کړې ده، له دغو ټولو خبرو نه د ده مقصد دا و چې د دې خبري دپاره زمينه مساعده کړي چې که د ايران احرار د خپل استبدادي حکومت د چپه کولو او په ځای يې د يوه قانوني حکومت د راوستلو اراده وکړه د انګرېز حکومت يې مانع نه شي او د احرارو نهضت شنډ نه کړي. په اروپا کښي د سيد جمال الدين د ګرځېدو او سياحت په وخت کښي په پاريس کښي (۱۸۸۹م) د پاريس د ننداړتون د پرانيستلو مراسم شروع کېدل او ده هم وغوښتل چې د دغه ننداړتون د تماشاچيانو په ډله کښي وي، همدا و چې د پاريس په لاره کښي په مونيخ کښي له ناصرالدين شاه سره ملاقي شو او خپل حضور ته يې وباله او معذرت يې ترې وغوښته او تهران ته يې د نه مراجعت ګيله ترې وکړه چې ولې بېرته تهران ته راستون نه شوې؟ په پای کښي يې ترې وغوښته چې د ده ملګرتيا وکړي او د تل دپاره ورسره مل اوسي سيد دغه غوښتنه ومنله او له شاه سره يوځای ايران ته وخوځېد، دوی لا تهران ته رسېدلي نه وو چې د ايران مشران، حکام او علما سيد جمال الدين ته راغونډ شول تر څو چې د هغه له علم او فضيلت نه استفاده وکړي، خو دا وار ناصرالدين شاه په ډاډه زړه د خلکو له خوا د ده هرکلی استقبالاوه او پرې شکمن نه شو، او لومړی تکليف يې چې د سيد پر غاړه کېښود دا و چې له هغه څخه يې وغوښتل چې د عصر او زمانې د ايجاباتو په مطابق خپل قوانين وضع او ترتيب کاندي، (شايد د شاه دغه پېښ آمد په اروپا کښي د هغه د

سياحت نتيجه وي) نو همدا و چې د سيد جمال الدين په خپل معهود همت دغه کار ته لاس ورته کړ او د ايران دپاره يې اساسي قانون ترتيب او وضع کړ تر څو چې هلته مشروطه(شاهي دستوري) حکومت جوړ شي، نو سيد جمال الدين لا د دغه اساسي قانون کلي دساتير او مواد ټول تمام کړي نه وو چې ناصرالدين شاه ته يې وړاندي کړ او هغه چې وليدل چې د ده حکم او قدرت پکښي مقيد او محدود شوی او د ايران د خلکو قدرت د مجلس په وسيله نسبت د پادشاه قدرت ته زيات و نو دا خبره ډېره ګرانه وبرېښېده او جمال الدين ته يې وويل:

(جناب سيد! آيا دا خبره صحيح ده چې زه شهنشها يم د ايران د يوه بزګر په شان واوسم؟)

جمال الدين ورته وويل:

(اعلاحضرت شاه دي وپوهېږي چې ستا تاج، د سلطنت عظمت او ستا د عرش ستني به د قانوني حکومت په ترڅ کښي تر دې چې اوس دي محکمتري، لوړي او نافذتري وي په يو مملکت کښي بزګر، کارګر، صنعت ګر ستا له عظمت او ستا د مامورينو له اقتدار نه نافع تر دي او ما مخلص ته اجازه راکړه چې زه خپل دغه اخلاص د وخت له فوتېدو نه دمخه پای ته ورسوم. اعلاحضرتا! په دې کښي څه شک نشته او تا ته هم معلومه ده چې يو ملت له پادشاه نه پرته ژوند کړی شي او له ملت او رعيت نه پرته پادشاه وجود پيدا کولای نه شي).

د سيد جما ل الدين دغو صريحو خبرو د صدراعظم د هغو پټو خبرو تصديق وکړ چې د شاه په غوږ کښي يې څڅولي وې او شاه يې وېرولی و چې د سيد جمال الدين طرح کړي قوانين د مملکت دپاره څه ګټه نه رسوي خو يوازي حکومت قدرت د شاه له لاسه باسي او د کوڅې او

بازار خلكو او بزګرو او نور بې ارزښته خلكو ته يې وركوي. نو بيا شا له سيد نه ښكاره كركه وكړه او مخ يې ترې واړاوه او سيد جمال الدين هم د هغه كركه او اعراض احساس كړه او اجازه يې ترې وغوښته چي له تهران نه شل كېلو متره لري په شاه عبدالعظيم كښي واوسيږي. شاه اجازه وركړه او سيد هغې خوا ته وخوځېد او د علماوو، مخورو او مشرانو لويه ډله د مشايعت په توګه ورسره لاړه، او دا هغه كسان وو چي ده به هغوی د خپل حكومت د وضع اصلاح كولو ته لمسول او خطابې به وركولې او په هغوی باندي يې سخت تاثير كړی او دې ته يې چمتو كړي وو چي د خپلي خپلواكۍ د تامين او د خپل حكومت د وضع د اصلاح دپاره په يو لړ عملي اقداماتو لاس پوري كړي، ا ودغه روحيه د مملكت په طول او عرض او هري خوا خپره شوه او د ايران د اصلاح په باب د سيد جمال الدين د عزم او ارادې خبري كېدې او د غو انګازو او آوازو ناصرالدين شاه په وېره كښي واچاوه او پنځه سوه سپاره يې د شاه عبدالعظيم ښار ته ولېږل او سيد جمال الدين يې په داسي حال كښي ونيو چي ناروغ په بستر كښي پروت و او ښوربدی نه شو، حرارت يې څلوېښت درجې لوړ و او په ډېر فظيع صورت يې روان كړ او د يو څو دقيقو د استراحت اجازه يې هم ورنكړه او په همدې توګه يې د عثماني دولت تر سرحده د بصرې ولايت ته ورساوه. په ايران كښي په مجرد د دې چي په دغه شكل د سيد جمال الدين د فرارولو خبر خپور شو د سيد په دوستانو او مريدانو قيامت جوړ شو او د حكومت په مقابل كښي ودرېدل او نژدې و چي د وينو ويالې او رودونه وبهيږي خو د هغې زياتي وېري له كبله چي د شاه په زړه كښي لوېدلې وه داسي احتياطي ترتيبات ونيول چي د دغه انقلاب اور يې له ايرو لاندي مړ كړای شو. خو دغو ټولو احتياطي

ترتيباتو ونه شو کړای چې له شاه نه د مصيبت مخه واړوي ځکه چې له لرې مودې وروسته د يوه ايراني له خوا ووژل شو او د وهلو په وخت يې ورته وويل: (دا د سيد جمال الدين انتقام و). سيد جمال الدين په بصره کښې پاتې شو تر څو چې يې صحت بېرته ښه شو او بيا له هغه ځايه د لندن په لور روان شو او کوم وخت چې دی د انګرېز له لويو کسانو سره د ايران په باره او د ناصرالدين شاه د ناوړو حرکاتو په باب په خبرو اترو بوخت و او د انګرېز حکومت يې هغو ناوړو او وخيمو عواقبو ته ملتفت کاوه چې له ناصرالدين شاه سره د دوی د مرستي له کبله يې د پېښېدو تصور کېده چې په دغه وخت کښې د استانې د همايوني له دربار نه په لندن کښې د هغه ځای د سفير رستم پاشاه په واسطه يو ليک ورته راورسېد چې سيد جمال الدين يې استانې (استامبول) ته بللی و خو ده عذر ورته وړاندي کړ چې زه استانې ته تلی نه شم او د خپلو ملکونو دپاره اصلاحي مفکورې سنجوم. رستم باشا چې هر څومره کوښښونه وکړل په دې بريالی نه شو چې سيد قانع کاندي او استانې ته لاړ شي، خو څو ورځي وروسته دوه نور ليکونه يو رستم باشاه او بل سيد جما ل الدين ته راغلل او په دواړو کښې د سيد جمال الدين د فضل ستاينه شوې وه او له سيد جمال الدين نه غوښتل شوي و چې دغه بلنه ومني او رد يې نه کاندي. او د رستم باشا په نامه ليک دا هم په الحاح او شدت ياده شوې وه چې (اعلاحضرت سلطان په هيڅ ډول ستا عذر منلی نه شي چې سيد جمال الدين دي استانې ته په راتګ واداره کړی نه وي، تر څو چې سلطان يو ځل ورسره وګوري او بيا چې هر چيرته ځي لاړ دي شي بايد تلګرافي اطلاع راکړي). نو بيا سيد جما ل الدين له لندن نه استانې ته وخوځېد او په ۱۳۱۰هق او د ۱۸۹۲م کال په اواخرو کښې استامبول ته

ورسېد او د سلطان ياور چي د دربار له خوا موظف شو يو په ستېشن کښي د استقبال ته او هرکلي دپاره ورته منتظر و. ياور له هغه څه د صندوقونو او سامان پوښتنه وکړه چي د سفر سامان او صندقونه دي چيرته دي ده ورته وويل چي زه د کتابونو او جامو له صندوقونو نور صندوقونه نه لرم. ياور ورته وويل چي راويې ښيه چي درسره وايې خلم سيد خپلي سينې ته اشاره وکړه چي د کتابونو صندوق مې دا او د لباسونو صندوق مې دا دی (خپلي چپني ته يې ګوته ونيوه.) سيد څو کرته موړ ته ويلي و چي کوم وخت چي زه د لومړي ځل دپاره فرارېدم نو دوه چپني او دوه پرتګونه مي له ځان سره واخيستل، خو چي زما دغه فراري زياته او مکرره شوه له يوې چپني نه تېر شوم او په يوه قناعت وکړ، او چي هغه زړه شي بله اخلم او فالتو چپن نه راسره ګرځوم او نه خپل پېټي درنوم.

## کومي خبري چي سيد جمال الدين
## د ناصرالدين شاه په باب له سلطان عبدالحميد سره کړي وې

جمال الدين برابر دربار ته لاړ او سمدستي د سلطان په حضور باریاب شو او سلطان يې ډېر تود هرکلی وکړ او د ده په وياړ يې مجلسونه جوړ کړل او ځان ته يې ډېر نژدې کړ او خپل قصر ته نژدې يې د نيشانطاش په محله کښې يو قصر ورته تخليه او آماده کړ او په خاصه ګاډۍ کښې يې هلته ورساوه. سيد جمال الدين لکه چي مخکښې وويل شول په ناصرالدين شاه باندي ډېر په قار و او له هغه څخه د انتقام په صدد کښې و او په هر مجلس کښې به يې په هغه او د هغه په استبدادي حکومت او طعن او لعن وايه او په قبيحو الفاظو به يې ستايه، په دغه وخت کښې د ايران سفير سلطان عبدالحميد ته د ناصرالدين شاه مخصوص ليک راووړ چي پکښې ليکل شوی و چي سيد جمال الدين له بدرد ويلو نه منع کاندي. په دغه ترځ کښې يوه ورځ سيد جمال الدين د سلطان په حضور کښې ناست و او سلطان خواهش ترې وکړ چي د شاه له بدرد ويلو نه لاس واخلي او تېر هېر کاندي (البته دغه خواهش يې په ډېره نرمه او مهربانه لهجه ترې وکړ) په دغه وخت کښې د جمال الدين په لاس کښې تسبيح وې او سره راټولي يې کړې او په موټي کښې يې ونيوې او په لوړ آواز يې وويل چي: (د اميرالمومنين د اشارې په امتثال زه له همدې ساعت نه له ناصرالدين شاه نه تېر شوم او عفوه مي ورته وکړه) د مجلس حاضرينو د ده دغه خبره په دغه لهجه ډېره غټه وبلله او ښه پرې ونه لګېده خو جمال الدين پروا پرې رانه وړه او نه يې د هغوی په خبرو پروا وکړه

ځکه چې ده عقيده درلوده چې دی د عفوې حق لري او شاه ته يې عفوه وکړه. جمال الدين د خپل عادت له مخې د سلطان له حضور نه ووت او د سلطنتي دربار د تشريفاتو د رييس خونې ته لاړ او هغه په نرمه لهجه ورته وويل: حضرت سيد! کوم عزت چې سلطان تا ته درکړ او په کوم عزت او احترام يې چې ستا استقبال وکړ سابقه نه لري او نن ته موږ وليدې چې په عجيبه تنده لهجه دې خبرې ورسره کولې، هغه هم په داسې حال کښې چې د هغه په مخکښې دې په خپلو تسبو لوبې کولې. نو سيد جمال الدين ورته وويل: (سبحان الله) سلطان د ملت د مليونو وګړو په مقدراتو لوبې کوي او هيڅوک پيدا نه شو چې اعتراف پرې وکړي؟ آيا جمال الدين دا حق نه لري چې په خپلو تسبو په خپله خوښه لوبې وکاندي؟ د تشريفاتو رييس چې دغه خبره واورېده غلی له خپلې کوټې نه ووت او وېره ورولوېده چې څوک سلطان ته اطلاع ورنه کړي. د سيد جمال الدين په نسبت د سلطان نظر ډېر ښه و او په ډېره درنه سترګه به يې ورته کتل او اکرام او احترام به يې کاوه، له هغ وروسته چې استانې ته ورسېد هره ورځ او هره شپه به يې څو ساعته ورسره کتل او خبرې اترې به يې ورسره کولې، چې دغه ماجرا په لاندې ډول له تلخيص کيږي (که سلطان عبدالحميد د خپل عصر له څلورو تنو نوابغو سره په تله وتلل شي، د ذکا، پوهې او سياست له مخې به په هغو درونډ وخېژي په تېره بيا د خپل جليس په تسخير کښې، نو بيا په دې دا د تعجب خبره نه ده چې په هغه وخت کښې به چې ده د غربيانو له خوا د ده مملکت ته متوجه مشکلات له منځه وړل او د هغوی له نماينده سره به يې په دغه باب خبرې کولې هغه سړی به اعم له دې څخه چې امير و او که وزير پادشاه و او که سفير د ده له مجلس نه به راضي ووت او په دلايلو به يې قانع کېده،

خو افسوس دی چي د لويانو عيب هم لوی وي، او عجب او په ځان غره کېدل د لويانو لوی عيب دی».

او بيا يې وويل: «ما سلطان وليد چي د قانوني حکومت د ښېګڼو په باب يې زما ټولو پيشنهادونو ته د قبول چمتووالی څرګند کړ، ځکه چي ما ورته ويلي و چي د اسلام دين لومړنی دين دی چي د قرآن په حکم يې د شوری حکومت منځ ته راوستی او عملي کړی يې دی ((وامر هم شوری بينهم)). ما وليد چي دی د سياست په ټولو باريکيو ډېر ښه پوهېږي او د غربيانو مرامونه هم درک کولای شي او د هر هغه څه د دفعي دپاره چمتو و چي د ده د مملکت ته متوجه کېده او د حل لاري يې موندله».

ډېر لوی شی چي د ده د پوهي او سياستمدارۍ په باب زما د وحشت او حيرت سبب ګرځېد دا و چي د عثماني دولت په ضد د غربيانو د اتفاق د شنډولو دپاره داسي پټ وسايل په پټ په ار اچولي وو او اروپايانو ته يې داسي پرېښولې وه چي د عثماني سلطنت تجزيه د ټولي اروپا د تجزيې او خرابۍ موجب ګرځي.

همدارنګه د بالقان د هغو وړو دولتو په مقابل کښي د ده ويښتوب د ستاينې وړ و چي اروپايانو راپيدا کړی و او غوښته يې چي په هغو سره عثماني سلطنت ضعيف او منهدم کاندي او د هغو په ذريعه د عثماني دولت په شيوناتو کښي مداخله وکاندي او جز-جز يې کاندي او يوه-يوه برخه، يوه د بل د وروسته ترې جلا کاندي او هر وخت به چي اروپا اراده وکړ چي د عثماني دولت په ضد په جنګ ورته يو شی سلطان به په خپله کامله او عجيبه پوهه او هوښيارۍ د دغي غوټي د پرانيستلو دپاره داسي لار پيدا کړه چي هر څوک به هک پک ورته پاتي شو او د دوی د کيد او فرېب جمع به يې تيته پرکه کړه. نو بنا په دې بلغاريان سره له دې

**چې ډېر سرکښ خلك وو او د دوی پادشاه پرنس فردیناند هم ډېر هوښیار او سیاستمدار و سلطان عبدالحمید ته یې د اطاعت سرخم کړ او عثماني شعار یې (طربوش) واغوسته او د هغه د جنرالۍ په رتبه یې افتخار کاوه او له نورو جنرالانو سره یوځای د جمعې لمانځه ته لاړ. او هر څه چې د جبل اسو د امیر و د سلطان عبدالحمید په نسبت هغه زوی ته ورته و چې له خپل پلار نه پرته له بل چا سره د خوشحالۍ تصور نه شي کړی. هر وخت چې به تنګسه پرې راغله او لاس به یې تش شو نو له سلطان ته به یې قرض غوښته او هغه به هم بې له کوم سند او بدلې نه ورکولې او عوض به یې هم نه ترې غوښته، خپله لور یې چې د ایطالیې ولیعهد ته ورکړې وه د هغې ټول جهز یې له خپله جیبه ورکړی و او په دې توګه یې ټول بالقانات د ځان کړی و، او ټولو به د دغه لوی سلطان احترام ساته. اروپا د سلطان عبدالحمید له پاخه سیاست او هوښیارۍ او احتیاط ته ډېر خلق تنګه او له اکثره بالقاني دولتونو نه مایوسه شوه، نو بیا یې په نورو دسیسو لاس پوري کړ او خپل ټول همت یې د یونان د هغه وړوکي دولت غولوني و اغوا ته متوجه کړ چې تر ټولو کم حوصله، مغرور او ژر غولېدونکی و، او بیا یې د عثماني دولت په ضد په تحریکاتو شروع وکړه تر څو چې له سلطان عبدالحمید سره د جنګ زمینه برابره کړي**[1].

---

[1] وروسته له هغه چې جمال الدین د بصیرت په سترګو وکتل او د سیاست جریان او په هغه ځای کښې دسیسو ته ملتفت شو نو د یونان او عثماني دولت تر منځ په جنګ یې یقین راغی، او همدغسې وشو، هغه هم په داسې حال کښې چې سید د ناروغۍ په بستر پروت و، او هغه نتیجه منځ ته راووته چې سید یې انتظار ویست او دا د هغو دسایسو او مکرونو نتیجه وه چې اروپا د عثماني دولت او سلطان عبدالحمید په ضد سنجول او کول یې. دا و د یونان د حکومت حرکت چې د اروپایانو په امداد او مرسته یې جنګ شروع کړ، خو د دغه جنګ دوه میاشتې او لا څه زیاتې لا تېرې شوې نه وې چې عثماني لښکرې د یونان له

**جمال الدين افغان په دغه وخت کښي وويل:**

**(کومه بيداري او هوښياري چي ما په سلطان عبدالحميد کښي ليدله چي ډېر محتاط دی او د اروپا د مکايدو د له منځه وړلو لپاره هر راز آمادګي لري او هر څه ښه سنجولای شي او د خپل دولت د نهضت او ترقۍ دپاره پوره استعداد لري ((هغه نهضت چي د ټولي اسلامي نړۍ د نهضت ضامن دی)) نو دا راته ښه وبرېښېده چي لاس وراوږد کړم او بيعت ورسره وکړم، نو همدا و چي د پوهي او ارادې له مخي مي د خلافت بيعت ورسره وکړ، ځکه زه پوهېدم چي شرقي اسلامي مملکتونه تر هغه پوري د اروپايانو له شر او ضرر نه په آمن پاته کېدای نه شي او نه خپل موجوديت ساتلی شي تر څو چي ټول سره يو نه شي او د خلافت تر بيرغ لاندي سره راغونډ نه شي، او که داسي نه شي اسلامي دولتونه به يو د بل د وروسته د اروپايانو تر سلطې لاندي راشي او ټوټې-ټوټې به يې کاندي لکه چي همدغسي وشول).**

**سلطان عبدالحميد په همدې توګه د سيد جمال الدين اکرام او اعزاز کاوه او د هغه قدر يې ساته، او د خلکو او درباريانو چغليو او**

---

سرحدونو نه ورتېري شوې او غرونه او سنګرونه يې ونيول او يوناني مرغۍ له عثماني عقابو (ګوربتانو) نه تښتېدی، او بيا د يونان حکومت قيصر ته پناه يووړه او خواهش يې ترې وکړ چي ائنيې ته د جنګ په درولو نجات ورکاندي او په دې توګه د شاعر د دې بيت مصداق وګرځېد: (جنګ تل داسي نه وي چي تاسي څوولې ده چي فتحه به وکړئ تاسو ته جنګ هغه وخت آسان ښکاري چي عقلونه مو شرابو له منځ وړی وي او عواقب يې نه شي سنجولای). خو ښاغلي توفيق البکري د دغي موضوع حق په يوه قصيده کښي ډېر ښه ادا کړی دی او دا لومړنی زېری و چي استانې ته عبدالحميد ته راورسېد او د دغي فتحي او بري مبارکي يې ورکړه، د قصيدې مطالب دا دي:

دسایسو کوم تاثیر نه پرې کاوه، یوه ورځ سید جمال الدین د خپل مصري دوست چي استانې ته د ده د لیدو دپاره راغلی و سلطان عبدالحمید ته سپارښت وکړ چي رتبه او معاش یې ورزیات کاندي، سلطان ورسره ومنله او وعده یې ورکړه چي دغه کار به وکاندي جمال الدین بېرته راغی او خپل آشنا ته یې د هغه د اجرا ډاډګېرنه ورکړه. څو ورځي تېري شوې او د سلطان امر په دغه باره کښي صادر نه شو، نو بیا یې دوباره سلطان ته ولیکل او د خپلي وعدې اجرا یې ترې وغوښته. بیا هم څه ونه شو او جمال الدین ته ډېر قار ورغی او عجبه ورته ښکاره شوه چي په څه په خپله وعده وفا نه کوي. نو بیا یې د سلطان د ملاقات غوښتنه وکړه (دا لومړی ځل و چي د سلطان د ملاقات غوښتنه یې وکړه) همدا و چي سلطان اجازه ورکړه او چي ورغی له ډېره قاره خوټېده او د دې وېره کېده چي په ډېره وړه خبره له سلطان سره خپل مناسبات خراب کاندي. سلطان د پخواني عادت په توګه په خلاصه تندې او بشاشه ښه د ده هرکلی وکړ او سید په تروه تندې او نیولې څېره ورسره روغبړ وکړ. سلطان پوښتنه ترې وکړه: (خیر دي وي څه پېښ شوي دي؟) سید جمال الدین ورته وویل: (هیڅ خبره نشته او نه څه پېښ شوي دي، خاص د دې دپاره راغلی یم چي اجازه غواړم چي له تاسي اعلیحضرت سره خپل بیعت مات کړم، ځکه چي زه له تا سره په خپل بیعت پښېمان شوی او له خپلي خبري ګرځېدلی یم).

د دغي خبري په اورېدو سلطان ځان راټول کړ او وربېردېده او ویې ویل: (سیده! فکر دي شته چي څه وایې؟) سید ورته وویل چي: (هو! ما له تا سره د خلافت بیعت کړی دی، او له خلیفه سره نه ښایي چي په خپله وعده ولاړ نه اوسي، په داسي حال کښي چي ستا په لاس کښي د حل او

عقد قدرت شته او هر څه کولای شې نو درته ممکنه ده چې له چا سره د څه شي وعده ونه کړې او چې وعده دې وکړه باید دې چې پر ځای یې کړې، څو ورځې دمخه ما د فلاني سړي په باره کښې تا ته سپارښت وکړ او تا وعده وکړه چې کار به یې وکړې خو ودې نه کړ). په دغه وخت کښې د سلطان قار یو څه کښېناست او لږ څه حیران پاتې شو او خپل سر یې وښوراوه او بیا یې سید ته وویل: (سبحان الله حضرت سید! تا دغسې وړې خبرې هم دې ته واداره کوې چې د دغسې خبرو له کبله زما بیعت نقض کړې؟ ځله تا خپل فضل په نظر کښې ونه نیو او په حسن نیت دې زما لپاره د ډېرو ګرفتاریو عذر ونه لټاوه؟ ته پوهېږې چې د سلطنت کارونه زښت ډېر دي او کله ناکله ځیني خبري له ما نه هېرېږي، نو بايده وه چې پخوا له دې چې د بیعت ماتولو ته اراده وکړې یو وار بیا به دې ماته راپه یاد کړې وه او که نه وای شوې بیا به دې دغسې خبرې کولې، په ښادۍ شې لا په دغه کار).

او بیا یې سمدستي خپل امر صادر کړ او د سید غوښتنه یې ومنله او بیا یې ډېرې ټوکې ټکالې او خوش طبعۍ ورسره وکړې. په پای کښې جمال الدین ورته وویل: (حق او رښتیا باید وویل شي چې ما په دغه کار کښې سرعت وکړ او په خپله غلطۍ پوه شوم، خو ستا ډېرې مهربانۍ او د سینې پراخوالي زه دغې درجې ته ورسولم.) کوم وخت چې سید جمال الدین د سلطان له دربار نه ووت د دربار حاجب ور وړاندې شو او د سره بخمل همیانۍ یې ورکړه چې طلا (اشرپۍ) پکښې وې، سید جمال الدین هغه رد کړه او ویې ویل:

(حضرت بېک! سلطان ما ته قصر، فرش، خدم او حشم، مرکب او هر څه راکړي دي او هیڅ شي ته ضرورت نه لرم او نه یې د دغسې مال

قبلولو ته مجال راکړی دی). حاجب ورته وویل: (حضرت سید! د سلطان عطیه باید رد نه شي او نه يې څوك ردوي) نو بیا سید جمال الدین دغه هدیه قبوله کړه، او چي موږ ته راغی نوموړي همیانۍ يې په لاس کښې وه او خپله کیسه يې راته وکړه او ما ته يې وویل چي: (د بني مخزوم شېخه، دغه اشرپۍ وشمېره.) او چي ما وشمېرلې پنځه سوه عثماني طلاوي بیا يې راته وویل چي په دغو اشرپیو څه وکړو؟ ما ورته وویل چي: دوه چپني پرې واخله او نوري د خپلو سګرېټو د مصرف دپاره وساته. نو ده راته وویل چي زما میاشتنی معاش زموږ د اړتیاوو د پوره کولو دپاره کفایت کوي او دغو اشرپیو ته نور اړ خلك شته او بایده ده چي په محتاجو کسانو ووېشل شي، همدا و چي دوه میاشتي لا پوره شوي نه وې چي دغه ټولي اشرپۍ يې په اړو او بېوزلو علماوو او ادیبانو ووېشلې. سلطان په همدې توګه د سید احترام کاوه او مخه يې ورکوله او هغه به تل نصیحت ورته کاوه او د مملکت د خاینینو په باره کښې به یې د خبرو سیما نه کوله، که څه هم د هغوی خیانت له سید نه سلطان ته ډېر ښه معلوم و، یوه ورځ يې سلطان ته وویل: اعلاحضرت سلطان! زما له ډېرو شکایتونو نه به ملال شوی اوسې، خو له تا نه پرته بل څوك نشته چي زه خپل شکایت ورته وکړم او د خاینانو جلوګیري وکړي. د خپل نیکه محمود روش دي راواخله او د خپل دربار خاصان خاینان دي په قصاص کړه هغه خاصان چي ستا دربار ته نژدې او لا لري دي دلته باید د وزیرانو او په اطراف کښې د والیانو تخریبي اعمال کنټرول کړي چي دوی ټول مالیات او دولتي عواید په خپلو جېبونو کښې اچوي، ته باید له حجاب نه راووزې او برالا له خلکو سره په تماس کښې اوسې تر څو چي په ښه توګه د خلکو له احوال نه خبر شې. په دې عقیده ولره چي اجل

بهترین حارس دی (نو چې د چا اجل راشي یو ګړی هم نه وروسته کیږي او نه مخکښي کیږي) په دغه وخت کښي سلطان یو سوړ اوسیلی وویست او ویې ویل: (تا زما نیکه محمود رایاد کړ، خو زما او د هغه د محیط تر منځ ډېر توپیر شته د هغه په عصر کښي د اروپا حالت یو راز و او زما په دور کښي بل راز دی حتی چې د هغه وخت او د دې وخت د رعیت تر منځ هم زیات توپیر شته په هغه وخت کښي فساد یوازي تر عسکر پوري منحصر و او نن یې ټولو طبقاتو ته سرایت کړی دی نو ځکه ده وکولای شو چې د توري په زور فساد ورک کاندي او په عوض یې اصلاح راولي او نور عام خلك چې و صالح و او داسي نه و لکه چې اوس دی اې سید جمال الدین! ما خپل هیڅ یو وزیر بدل کړی نه دی چې خلف مې تر سلفه بدتر نه وي لیدلی او په لومړني مي شکر نه وي ویستلی (هر وخت چې یو ملت دوږخ ته ننویستل شي نو یو په بل لعنت وایي) نو بنا په دې له صبر نه پرته بله چاره نشته او که خدای کول په تدریج سره به اصلاحات راولم (او هر څه چې خدای غوښتي وي هغه کیږي). حضرت سید! ما له تا نه وغوښته چې د استانې مشیخت (یوه ستره دیني وظیفه وه) قبول کړه او اصلاحات پکښي راوله او په دغه لار کښي اساسي قدمونه واخله خو تا عذر راووړ او د مشیخت موجوده حالت په خپل حال پاتي شو او له دې کبله چې دغه کار مشکلات درلود او زمانه هم مساعده نه وه ما ستا عذر ومانه. نو ما هم معذور وګڼه چې که په چټکۍ مي اصلاحات رانشو وستی د دې خبري دلیل نه دی، چې زه اصلاحات نه غواړم بلکي محیط او زمانه مساعده نه ده. او د دې لپاره چې موږ له فرصت نه استفاده وکړو او خپل اصلاحي نظریات عملي کړای شو باید د یوې داسي پېښي انتظار وباسو چې اروپا په خپل غم مشغوله کاندي او موږ موقع ومومي چې

**خپل مشکلات رفع کړو که خدای کول. سید جمال الدین هغه وظایف او منصبونه چې د سلطان له خوا ورته وړاندي شوی و له دې کبله ونه منل چې ده به ویل: (چې د عالم وظیفه دا نه ده چې منصب او رتبه او معاش ولري بلکې وظیفه یې صحیح لاربنود نه او تعلیم دی، او رتبه یې دا ده چې خپل علم او خپل معلومات زیات کړي او په ښه توګه عمل پرې وکړي). او هر څه چې هغه مهمې خبري دي چې د ده او اعلاحضرت سلطان تر منځ رد و بدلي شوې دی د دې د کتاب په نورو فصلونو کښي به په تفصیل راشي. سید جمال الدین نژدې څلور کاله په استانه (استامبول) کښي پاتي شو او یوه دقیقه هم په ده باندي داسي تېره نه شوه چې وعظ او ارشاد، تحذیر او انذار به یې کړی نه وي او د خپل امانت حق به یې ادا کړی نه اوسي تر څو چې د ده په لاندینۍ ژامه د سرطان مرض ولګېد او درې کرته جراحي شو خو فایده یې ونه کړه او بالاخره د ۱۳۱٤ه کال د شوال د میاشت په اوومه (۱۸۹۷م کال د مارچ د میاشتي پر نهمه نېټه) وفات شو خدای دي رحم پرې وکړي.**

**هو د سید جمال الدین په مرګ د استانې ټول خلک ویرجن شول او د ټولو پوهانو او فاضلانو د افسوس او حسرت موجب وګرځېد، د ده په جنازه کښي علماوو، وزیرانو، امیرانو، مشرانو او فاضلانو ګډون وکړ او د ماشقه[1] د کلي په هدیره کښي محترمانه خاورو ته وسپارل شو. زما سکنی**

---

[1] دغه کلی د نشانطاش په اخیر کښي د یوې مشهوري عسکري قشلې تر څنګ پروت دی. اورېدلي مي دي چې د ده قبر یوه فاضل امریکایي (مستر کراین) په ښه توګه ودان کړی او د هغه په ودانۍ او کتاره یې تقریباً لس زره ډالره لګولي دي. (۱)

دا دی زموږ د شرقیانو همت چې د هغه په فوت باندي غمګین نشو او نور خلک یې قبر جوړوي موږ ته د خپلو ژوندیو حکیمانو او پوهانو غم خورو او نه د خپلو مړو قدر کوو.

**وروور مرحوم مصطفى مخزومي په دې ابياتو د ده مرثيه وکړه (چي زه يې حاصل درته راوړم) ((مرګ د جمال الدين اراده وکړه او د مرګ ښامار وخوړ او بيا ټول خلک غمګين شول، ځکه چي دنيا د غم او اندوه ځای دی، دی چي په ټولو علومو کښي امام و او د اسلامي شرع او قانون امين پېشوا و. دی هغه نامتو عالم او علم و چي علمي محافلو او مجالسو يې يو عمر د فضايلو يادونه کوله. د ده نسب محمد(ص) ته رسېده او د هغه لمسی و او همدا وياړ يې بس دی. ځکه چي هغه داسي کتاب راوړی و چي له هغه نه وروسته د بل کتاب او دين غوښتنه نه کيږي. د ده د اولادې په بهترينو کسانو دي د خدای هغه تحيات او درودونه اوسي چي د غمګينو زړونو غم پرې لري کيږي. د هغه چا په قبر باندي انوار اوريږي چي د لوړو اخلاقو خاوند وي او د اخلاقو د احيا په لار کښي يې خدمتونه کړي اوسي، او د دغسي خلکو ځای د خدای جنتونه دي چي پکښي اوسېږي به)).**

---

(١) اوس د مرحوم افغاني سيد جمال الدين هډوکي د ١٣٢٣هش کال په ا واخرو کښي په تابوت کښي د اعلاحضرت محمدظاهرشاه په اراده چي د علم او فضيلت تقدير کوي له استامبول نه کابل ته راوړل شول او د کابل د ښار په غرب کښي د ميرويس د جادې په شمال او د پوهنتون تر څنګ خاورو ته وسپارل شو، د ده د پرفيضه مزار د جوړولو کار په شانداره توګه روان دی او هيله ده چي په چټکۍ سره پای ته ورسيږي.

د ده د تابوت رانقلولو ته هغه وخت اراده وشوه چي د ترکيې د حکومت له خوا په هغه ځای باندي د نوي نقشې د تېرولو اراده وشوه او بيا د افغانستان حکومت زموږ د ګران پادشاه په اراده د نوموړي فيلسوف هډوکي خپل ټاټوبی کابل ته راوړل او په شانداره مراسمو خاورو ته وسپارل شول. (مترجم)

## د سيدجمال الدين صفات، مذهب، آمال، مقاصد، مناقب، اخلاق او علمي منزلت

هر څه چي د ده شخصي صفات وو ليدونكي ته به يو خالص عربي برېښېده او تا به ويل چي له حرمينو نه راغلی د، ګواكي ده د خپلي لومړنۍ پلارګنۍ لباس او صورت ساتلی و چي په حجاز كښي اوسېدل، چارشانه او ميانه قدی و، غنم رنګی عصبي او د موی مزاجي و، غټ معتدل سر، پراخه متناسبه ټنډه، غټي سترګي، پراخه زېړمي، په غوښه پټ غومبري يې درلودل، پلنه سينه يې لرله او د تېز نظر خاوند و او د ملاقات په وخت كښي به ډېر بشاش و او خدای ټول هغه صفات وركړي وو چي د يوه كامل سړي دپاره په كار وي، د اخلاقو كمال يې د خلقت د كمال نښه وه، جذاب نظر يې درلود خو لږ څه شانته كم بينه شوی و او د كتاب د لوستلو په وخت كښي به يې كتاب سترګو ته رانژدې كاوه، خو عينكي به يې نه استعمالولې، انګكي يې باريك وو اوږده وېښتان يې لرل او اوږده توره چپنه به يې اغوسته چي تر ښنګرو به يې رسېده او سپينه وړه پګړۍ به يې تړله. په مذهب حنيفي و، لكه چي وويل شو سره له دې چي مقلد نه و مګر بيا هم د صحيح سنت ډېر پابند او د ساداتو صوفيه و مشرب ته مايل و په خپل مذهب كښي د فرايضو په ادا كښي ډېر ټينګ و او د دين اصول او فروع به نه ترې پاتي كېدل. ديني غيرت يې دومره و چي چا سيالي نه شوه ورسره كړای او تر ټولو دمخه و او د دين په حكمت او د دين د پيروانو په حمايت كښي دومره غيرتي و چي تا به ويل چي اوس به يوه لمبه شي. كله ناكله به چي چا ددين په مباديو اعتراض وكړ او لا به

يې د دين بې حرمتي کړه تک سور به سره وخوټېد او تا به ويل چي له ډېره قاره به وچوي او لا به سره لمبه شي. هر څه چي د ده آمال او مقاصد وو بايد وويل شي چي ټول له يوه ريیسي مطلب پوري منحصر و او په کلي توګه د ده ټول افکار هغه ته متوجه و او درست عمر د هغه په لور کوښښونه کول، او که ووايو چي ټول هغه مصيبتونه چي ده ته رسېدلي و د همدغه مطلب په لار کښي ورته رسېدلي و د همدغه مطلب په لار کښي ورته رسېدلي و دروغ به نه وي او نه به مو مبالغه کړې وي. او هغه دا و چي بايد اسلامي دولت له ضعف نه قوت ته راووزي او هغه په داسي توګه راويښ کړي او ويې خوځوي چي خپل شؤنات په داسي توګه لوړ کاندي چي اسلامي ملتونه مترقي ملتونه او اسلامي دولت قوي دولتو ته ورسيږي، او د مسلمانانو عقلونه د اوحامو له غوټو او قيودو نه خلاص شي، او ټول شرقيان سره يو شي او يوې خوا ته مخه کاندي تر څو چي خپل بايللی مجد بېرته وګټي او له نورو سره برابر شي، او ده به په شرق کښي د انګرېزانو په سياست سختي حملې او انتقادونه کول، او د همدغه مقصد دپاره د دنيا له ټولو منافعو او مطامعو تېر شوی و او د نورو په شان ورته مايل نه و او له همدې کبله يې ښځه ونه کړه اونه يې څه مال او منال پيدا کړ. هو دا منم چي جمال الدين خپلو ټولو هيلو ته ونه رسېد خو د خپلو دوستانو او مريدانو په زړونو کښي يې داسي ژوندۍ روحيه پيدا کړه او داسي تخمونه يې د هغو په سينو کښي وکرل چي شرقي ملتونه به دستي او لا وروسته انتفاع ترې واخلي او خپلو ملي هيلو ته به ورسيږي او د هغه روح به په قبر کښي آرام شي، او د ده له مرګ نه به وروسته درودونه پرې وايي[1]

[1] د مرحوم محمد باشا المخزومي دغه پېشګويي رښتيا شوه او هغه جمال الدين چي په ټوله

## د ده مناقب:

**د ده مجلسونه او ناسته ولاړه له علمي فايدو او استفادو خالي نه وه او تل به علمي او څېړوري خبري کېدې، له لغوياتو لري او له لهوياتو پاک و، د خپلو زايرينو به يې ډېر احترام کاوه او د هر چا اندازه به يې ساتله، د هغوی راتګ ته به ولاړېده او د هغوی د خدای پاماني دپاره به ورسره ووت له مجلس نه يې نه واړه خلک منعه وو او نه زاړه، له هر چا سره به کښېناسته او په خلاصه تنده به يې خبري ورسره کولې، ډېر فصيح او بليغ**

---

شرقي او اسلامي نړۍ کښي يې ټاټوبی نه کېده او نه چا پرېښوده نن ټوله اسلامي نړۍ پرې وياړي او ستاينه يې کوي په آسيا او افريقا کښي ملي نهضتونه د ده د مباديو او تعليماتو مولود ګڼي اوروح ته يې د رحمت او آفرين درودونه استوي حتي ځيني هيوادونه داسي پرې وياړي چي پرته له کوم دليل نه هغه د ځان بولي او ګمان کوي هغه ايراني و. په داسي حال کښي چي په سوونو دلايل او اسناد شته چي هغه افغان دی او د افغانستان په مردزا يه خاوره کښي زېږېدلی او لوی شوی او روزل شوی دی او خپل سياسي او فلسفي افکار يې له همدې ځايه شروع کړي دي. دی له افغانستانه لاړ، له هند نه وشړل شو، په حجاز کښي چا پرې نښود، له ترکيې وشړل شو، له مصر نه ورټل شو، په ايران کښي چا ځای ورنکړ، په روسيه کښي يې پرې نښود، په پاريس کښي يې ټاټوبی ونشو، له لندن نه ورټل شو او او بالاخر په ترکيه کښي وفات شو او خپل نېک نوم يې باقي پرېښود. نن شرقي او اسلامي نړۍ په تېره بيا د مصر خلک هر کال د ده تلين نيسي او خپل نننی نهضت د هغه د افکارو او تلقيناتو مولود او مرهون ګڼي، په تېر کال کښي چي په مصر کښي د ده د وفات اووه شپېتمه کاليزه تجليلېده په يوه مصرۍ مجله کښي (چي اوس يې د ګڼي او ليکوال نوم راځخه هېر دی او هيله لرم چي تر چاپ دمخه به يې پيدا کړم) داسي ليکل شوی و:

((کاشکي زه د سيد جمال الدين په وخت کښي وای چي د ده له پرفيضه صحبت ځخه مي استفاده کړې وای او لا دی زموږ په زمانه کښي وای چي د سر په سترګو يې ليدلي وای چي هغه نيالګی څنګه په ثمر رسېدلی دی چي ده کښېنولی و او هم يې ليدلي وای چي د شرقي ملتونو د نهضتونو د توپان په مقابل کښي د استبداد او خودسرۍ ماڼۍ څنګه يوه د بل د وروسته نړېږي او پر ځای يې ملي او قانوني حکومتونه جوړيږي او د ملت آمالو او توقعاتو ته په احترام ګوري او د خلکو د هيلو نمايندګي کوي.) دا وه د سيد په مورد کښي د مخزومي د پيشګويۍ د صدق يو مثال چي په لنډه توګه ذکر شو. (ارشاد)

و او په فصاحت او صراحت به يې خبري كولې، او كه به يې له خپل اورېدونكي نه اشتباه او التباس احساس كړ خپل مطلب به يې دوباره په بسط او تفصيل سره ورته ووايه، او كه به اورېدونكى عامي سړى و نو په خبرو كښې به يې ځان د هغه درجې ته راټيټ كړ او په عاميانه ژبه به ورسره غږېده، ډېر ماهر خطيب او كامل خبرلوځ او د لوړ آواز خاوند و چي په شرق كښې يې نظير نه درلود، ټوكي به يې لږ كولې او موقر انسان و د سر په ساتلو كښې ډېر آمانت دار و او د چا سر به يې نه برالا كاوه، قانع او قانت سړى و او لږ خواړه به يې خوړل په ورځ كښې به يې يو وار ډوډۍ خوړه او نوره ټوله كرۍ ورځ به يې په چاى تېروله، اروپايي ډېر اعلى سګرټ به يې څكول، او له دې كبله چي ښه سګرټ به يې څكول نو ځكه به يې خپله اخيستل نه دا چي په بل چا يې رانيسي، د ده خاص طبيب ويلي دي چي (له دې كبله چي ډېر فرنګي سګرټ به يې څكول او ډېر چاى به يې څښى او په خوړو كښې به يې ډېره مالګه خوړه د سرطان په ناروغۍ اخته شو) (خو زه نه پوهېږم چي دغه خبره تر كومه ځايه پوري صحيح ده).

## د ده اخلاق:

د ده د زړه سلامتيا او پاكي د ده د لوړو صفاتو منشا وه، د حر ضمير خاوند و او صادقه لهجه يې درلوده، عفيف، نرم خويه، حليم او د پراخي سينې خاوند و مګر دا چي د ده شرف اولا دين ته صدمه ورسېده چي په دغه وخت كښې به يې حلم په داسي غضب بدل شو چي سكروټې به ترې بادېدې، له خپلي ټولي مهربانۍ او نرمۍ سره-سره لكه زمري حمله به يې كوله، ډېر سخي او جواد انسان و او هر څه چي به په لاس ورتلل لګول

به يي په خپل خدای يې پوره اعتماد درلود او د زمانې په حوادثو او پېښو به يې پروا نه کوله، لوی امانتدار وزه د نرمو خلکو په مقابل کښې ډېر نرم او د خشونت په مقابل کښې ډېر زيږ او خشن و، خپل سياسي مقصد ته چي مخ کښي تېر شو د رسېدو په لار کښې ډېر ساعي و او چي د اميد بارقه به ورته وځلېده نو په چټکۍ سره به يې د رسېدو هڅه کوله (او ډېر کرته د ده دغه تعجيل د ده د حرمان سبب کېده) دنيايي حرص يې نه درلود او نه يې له دنيا سره مينه لرله، له دنيوي تجمل څخه لري و، د ژوندانه د لويو چارو په باره کښي حريص و خو په وړو کارونو يې سر نه خوږاوه، زړه يې په ځای او ډېر زړور و، دومره چي له مرګه نه وېرېده او لکه چي مرګ نه پېژني، او چي به مرګ ته بېول کېده په دومره ډاډه زړه به روان و چي تا به ويل چي باتوره سړی دی او د فتحې دپاره ځي. خو ډېر تېز مزاجه انسان و او د ده دغه حدت او تېزۍ هغه مانۍ نړولې چي د ده زيرکۍ او هوښيارۍ به وداني کړي وې خو د خپل عمر په وروستيو کلونو کښي لکه د غره په شان لنګرداره و او ژر به نه عصبي کېده. په خپل نسب يې چي رسول الله (ص) ته رسېده وياړل خو ځان يې له نورو لوړ نه باله چي زه د دغسي پاکې کورنۍ يم. لنډه دا چي د ده فضايل د ده د علم په شان زيات وو، او حقيقي کمال خدای لره دی.

## د ده علوم:

د ده د علمي منزلت او معارفو شمېر هيڅ يو بليغ تحديدولی نه شي مګر دا چي يوه اشاره ورته وکړای شي، دغه سړی د معنی ګانو په دقايقو او د هغو په تحديد او اندازه کولو پوره سلطه لرله او په داسي توګه به يې څرګندولې چي له هغو سره وړ وه، لکه هره معنی د ده دپاره خلق شوې

اوسي، ده د مشكلو موضوعاتو د حل كولو دپاره خاص قدرت درلود لكه چې يو قوي سلطان په خپل مملكت قدرت لري، د ده يوه سرسري نظريه د مطلب غوټه خلاصوله، هره موضوع به چې ورته وړاندي شوه تا به ويل چې ده جوړه كړې او ده اختراع كړې ده او د هغې ټول اطراف او اكناف به يې بيانول، د پټو معنى ګانو له مخ نه به يې پرده لري كوله او د هغو پټ جواهر به يې بېرون ته راويستل، او چې د كوم فن په باره كښې به غږېده تا به ويل چې دى د همدې فن واضع دى. د داسي قوي تصور او تخيل خاوند و چي تا به ويل چي د ده ذهن د ابداع او ابتكار لپاره خلق شوى دى، په جدل كښي ژبور او د حجت او برهان په صنعت كښي حاذق و چي څوك ورته رسېداى نه شو مګر دا چي موږ ته معلوم نه اوسي، او د دې خبري د ثبوت دپاره همدومره بس ده چي هيڅا خبري ورسره اړولي نه دي مګر دا چي ملامت كړى يې اوسي، او هر چا چي دليل ورسره ويلى پر كړى يې دى. د ده په فضل اروپايانو هم اعتراف كاوه لكه چي شرقيانو مانه. لنډه دا چي كه زه ووايم چي خداى له انبياوو نه پرته بل هيڅا ته دومره قوي ذهن، وسيع عقل، نافذ بصيرت وركړى نه و لكه چي ده ته يې وركړى و مبالغه به نه وي (ذلك فضل الله يؤتيه من يشاؤ والله ذوالفضل العظيم).

هر څه چي د ده د ياد (ذاكري) قوت و تر دې پورته بل قوي دليل نشته چي فرانسوي ژبه يې په دري مياشتو كښي زده كړه او د دغي ژبي ډېر مفردات يې زده كړل چي ترجمه به يې ترې كوله او خپل مطلب به يې افاده كاوه او د الف او با له استاد نه پرته بل استاد درلود او هغه يې هم په دوه ورځو كښي زده كړه.

**په عقلي او نقلي علومو کښې يې پوره معلومات لرل، په تېره بيا د پخوانۍ فلسفې او د اسلام د تاريخ او د اسلامي تمدن او د اسلام او مسلمانانو د نورو احوالو په باره کښې. په پښتو، فارسي، عربي، ترکي او فرانسوي ژبو ډېر ښه پوهېده او له انګرېزي او روسي ژبي سره هم آشنا و. د پراخي مطالعې خاوند و او د ملتونو د آدابو او د هغوی د اخلاقو د فلسفې په باب داسي يو کتاب ليکل شوی نه و چي ده مطالعه کړی نه اوسي. هو! دی په خپلو ټولو هيلو بريالی نشو، او عمر يې هم تېر شو او د دهريانو د مذهب درد په باب له يوې رسالې نه پرته بل کوم کتاب يې تدوين نه کړ(چي دغه رساله به وروسته راشي لکه چي مخکښې اشاره ورته وشوه) خو د خلکو په سينو کښې يې هغه ژوندۍ روحيه پو کړه چي له ځينو نه يې شرقيانو استفاده وکړه او له ټولو نه به يې وروسته ګټه واخلي. او اوس پخوا له دې چي د سيد جمال الدين سيرت پای ته ورسوو د ده د معاصرو ليکوالو چي د ټولو په سر کښې د ادب له باغ نه تلی اديب بېک اسحاق واقع دی هغه تبصري راوړو چي د الهلال مجلې له يو څه تصرف سره رانقل کړی دی (ډېري پېړۍ تېري شوې او خلک د خپل معيشت د تامين په لار کښې د خپلو اړتياوو په مقتضي روان دي چي ډنګر يې له چاغ نه نشي بېلولای او نه يې مبدا له مصير نه پېژاندی شي، مګر دا چي د طبيعت مور لنګېدو ته نژدې شي او بيا داسي فرزندان او زامن وزېږوي چي د ژوندانه د وسايلو له اسرارو پرده لري کړي او بيا خلک له هغو نه هغه خوا داسي شرايع، قوانين او نواميس ګوري چي پخوا تر دې ترې غافل و. دغه کسان د علم اقطاب او د عالم انوار دي ځيني له دغو علماوو نه هغه طبيعيون فلاسفه دي چي د جهالت پردې څيري او د طبيعت اسرار راسپړي او د اختراع او اکتشاف لار هواروي،**

او ځيني له دغو علماوو نه عقليون هغه فلاسفه دي چې د حكمت په اسرارو لاس مومي چې د دغو نواميسو شا ته پټ پراته وي او بيا هغه عقلي او ادبي مواهب بيانوي چې خداى د خپل خلق په پيدايښت كې په وديعت ايښى دى، مګر د طبيعت مور تل دغه لورونه نه لري بلكې هر ځو كاله وروسته يو نيم دغسي فرزند زېږوي او خلك ځو پېړۍ د هغه په قدم درومي، او هر كله چې نژدې شي چې خلك د هغه لار پرېږدي او په غلطه روان شي نو بيا لورونه وكړي او يو بل فرزند وزېږوي چې په هغوى كښې نوې روح پو كړي او له درانده خوب نه راويښ شي او بېرته خپل رشد ته ورسيږي، او زمانه همدغسي تېرېږي تر څو چې بيا د دريم وار راشي. د زمانې شان د آبادۍ له اول نه په همدې توګه راغلى او تېرېږي، او د دغو فلاسفه وو له جملې نه سقراط او افلاطون او د فرس او عربو نور د معقول او منقول علماوو چې تر اوسه پورې د هغوى له لګولو څراغونو نه نور اقتباسوو او خپلې خونې پرې رڼا كوو.

خو پاك خداى په خپل خلق او په خپل جهان كښې د داسي لوړ حكمت خاوند دى چې بشري عقول يې درك كولاى نه شي او نه ورته رسېداى شي، په ځينو پېړيو او ځينو ختونو كښې حيني داسي وګړي نبوغ كوي چې په ديو كښې د فلاسفه وو قوت او د عمل د خاوندانو ټول مواهب په وفرت او كثرت موندل كېږي. خو داسي آفات احاطه پرې كوي چې د دوى د ايښو نيالګيو د ودې مانع ګرځي او تر موعوده وخته پورې له خاورو لاندې پټ پاتې كيږي خو څنګه چې انسانان د هيڅ يوه عمل تقدير نه كوي مګر دا چې په هغه څه فايده مرتبه وي او مقابل طرف يې په عاجله توګه منتظر اوسي نو ځكه د ځمكي په مخ د اكثرو لويانو برخه او نصيبه دا شي چې عام خلك د هغه اندازه نه شي

پېژنداى او نه يې په قدر پوهېږي، لكه چي د شرق له لوى فيلسوف او خطيب افغاني سيد جمال الدين سره هدغسي وشو دى د فلسفې له اقطابو نه يو قطب پيدا شو او د سياست له اركانو نه د يوه ركن په شان يې ژوند وكړ خو نه يې ظاهراً داسي كار پاى ته ورساوه چي عامو خلكو ليدلى واى او نه يې كوم كتاب وليكه(له همغي يوې رسالې نه پرته) چې خلكو ته د ده د منزلت معلوم شوى واى خو سره له دې هم دغه كار د ده شان او منزل نه راټيټوي، ځكه موږ د فلاسفه وو لوى فيلسوف(سقراط) وليد چي مړ شو ا څه يې ونه ليكل خو د ده شاگردانو د ده فلسفه وساتله ا مدونه يې كړه او د زمانې خلكو ته يو بل د وروسته په ميراث پاتي شوه. نو بنا په دې موږ هيله لرو چي د سيد جمال الدين له مريد انو او شاگردانو نه حساب شو او د ده له مريدۍ او شاگردۍ نه محروم نشو.

پاى

اوس دا خبره په موږ پاتي شوه چي د انصاف حق ادا كړو او د سيد جمال الدين ټول مناقب راوړو، او كه د ده يو صفت موږ ته معلوم وي او راېې نه وړو مسوول به شو او هغه دا دى چي چي دى به په اكثره ښارونو او مركزونو كښي مباحو مجلسونو ته ډېر ته، لكه عمومي باغونه، عمومي باغونه، عمومي مسافرخانې، د تفريح ځايونه شول، خو په ډېر قار او سنگينۍ به يې ګډون پكښي كاوه. او سيد به چي هر يوه دغسي مجلس ته ورغى هغه ځاى به د علم يوه حلقه شوه او د ادب د مذاكرې ځاى به وګرځېد. او يوه مدرسه به ترې جوړه شوه او هر چا به فايده ترې وړه او د سيد د منزلت قدر به يې كاوه.

دا يوازنى صفت و چي د ده دښمنانو او بدخواهانو به په ده باندي عيب وايه او د کمال نقصان به يې باله، په تېره بيا هغه کسان چي غوښته يې د ده ارزښت د خلکو په نظر کښي ټيټ وښيي او په دې خبر نه وو چي خداى ښه ګڼي چي په رخصتي احکامو يې عمل وشي لکه چي ښه ګڼي چي وجايب او عزايم يې عملي شي. په دې کښي څه باک او څه حرج دى چي يو مومن خپل غمونه او انديښنې په هغو ځيزونو لري کړي چي خداى روا کړي اوسي.

دا د هغه څه لنډيز و چي د افغاني سيد جمال الدين په باره کښي ويل شوي او موږ ته د ده له سيرت نه معلوم شوي دي او موږ د دې لپاره راوړل تر څو چي هغه افتراګاني او تومتونه دفع شي چي په ده باندي ويل شوي او لا جاهلانو پوري تړلى دى، دغو جاهلو اټکليانو به کله په دې تومتي کاوه چي له دين نه وتلى دى او کله به يې ويل چي عقيده يې ضعيفه شوې ده، او دا زموږ په عقيده کافي ده چي د عقل خاوندان په هغه سره د سيد جمال الدين د جوهر په پاکۍ او صفايۍ استدلال وکړي او د بدګويانو دپاره نور مجال پاتي نه شي چي د سيد په فضل طعن ووايي (ومالفضل الامن عندالله والله ذوالفضل العظيم).

## په پټولو او ښکاره کولو کښي د ده رايه

د سيد جمال الدين په اخلاقو او صفاتو کښي د مطالعې خاوند يو څه تناقض ګوري. کله به دومره کريم او سخي و چي د اسراف درجې ته به رسېده اوکله بيا دومره بخيل ښکارېده چي يو څاڅکی اوبه به يې نه ورکولې، له ځانه ښکته خلکو سره به يې دومره تواضع کوله چي د ذلت درجې ته به رسېده او له لويانو سره به يې دومره تکبر کاوه چي د جبارۍ درجې ته به نژدې ښکارېده، د پردې خبره به يې ډېره پټه ساتله او د چا سر به يې نه برالا کاوه، او خپل خاص آرا او افکار به يې په جرات سره برالا کول او پټول به يې نه، داسي چي موږ به د ده دغې سجيې ته حيران پاتي کېدو او تاويل به مو نشو ورته موندای، ځکه چي د جمهوري په مذهب د حکيم او حکمت له لوازمو نه کتمان دی او چي له ده نه به پوښتنه وشوه ده ويل: «زه په دې جهان کښي داسي کار او داسي خبره نه ګورم چي کتمان او پټول به يې لازم وي مګر دا چي په ښکاره کولو کښي يې عيب او عار وي».

د بشر نسبتي کمال هغه وخت پوره کيږي چي ډېر شيان يې برالا او لږ شيان يې پټ اوسي ډېر شيان برالا کوي او لږ شيان پټ. نو هغه دولت چي له خپل ملت نه خپل ټول کارونه پټوي هيڅ خير نه لري او نه آمين دولت ګڼل کيږي هغه خپل امانت په ښه توګه ادا کړی نه دی او نه يې په ښه توګه تصرف پکښي کړی دی هغه څوک چي ښه ګڼي چي هر څه چي وايي او لا ورته ويل کيږي پټ اوسي له نفاق نه پرته د بل څه اميد او هيله ورته کېدای نشي، نه بايد هغه ته نارينه وويل شي او نه نارينه ته ورته

وبلل شي او چا ته چي نارينتوب ښه ښکاري بايد هر څه برالا وکاندي. محبت په مطلقه معنی سره د هر څه دپاره حق او فطرتاً مستحسن او ښه دی، اعم له دې څخه چي دغه شيان افعال او اقوال اوسي او که ذات او صفات. نو چا ته چي په خبرو کښي صدق ښه ښکاري او مينه ورسره لري بايد پټ يې نه کړي او نه د هغو په برالا کېدو باک راوړي، او بالعکس څوک چي له دروغو او دروغجن سره مينه لري بايد خپل کارونه او خپلي خبري پټي کاندي او څوک چي د ښه کار له کوونکي سره مينه لري له هغه سره د خپلي ميني په اعلانولو کښي څه حرج نشته. او هر څه چي بد او قبيح کارونه دي هغه بايد پټ کړای شي او له ستر نه پرته بله چاره نه لري او نه بايد برالا شي.

بيا يې وويل: ‹بهترين څيز او ډېره ښه خبره چي ما د مروت په باب اورېدلې دا ده چي ‹په پټه هغه کار مه کوه چي په برالا يې شرمېږې››.

نو له دغو خبرو وروسته د هر چا خوښه چي خپل کارونه پټوي او که برالا کوي يې. بيا مور وويل چي حکيمه استاده! دلته ځيني داسي شيان شته چي قبيح نه دي مګر پټول يې په دې دليل لازم دي چي وايي: ‹د خپلو اړتياوو په پوره کولو کښي له کتمان نه مرسته وغواړئ› او بيا مو د حرب مسئله او د هغه د چارو د تدبير او د هغه د کتمان مسئله ورياده کړه چي د دا يو ضروري او ظاهره امر دی چي بايد د جنګ اسرار پټ وساتل شي. ده راته وويل: ‹اړتيا يو ذلت دی او ذلت قبيح دی، او د لږو اړتياوو خاوند ډېر برالا وي او د ډېرو اړتياوو خاوندان کتمان لري، نه ګورې کوم وخت چي لوی اسکندر ‹‹د ديوجينوس›› تر څنګه ودرېد او پوښتنه يې ترې وکړه چي څه غواړې چي درېې کړم؟ هغه په ځواب کښي ورته وويل چي: ‹‹سمدستي خو زما او د لمر تر منځ حايل کېږه مه او مه

سیوری راباندي کړه.)) او هر څه څه چې د جنګ مسئله ده زما په نزد د انسان له قبېح ترینو عملونو څخه دی چې انسان په ځمکه کښې کړی او لا یې کوي، او دا یوازنی کار دی چې باید پټ کړای شي، ځکه چې دا یو ناوړه او رسوا کار دی او د دې وړ دی چې د عمل میدان ته راونه وزي).

## په ژوند کښې د سيد جمال الدين لوړ غرض

ده ويلي چي: (لومړنی نظر چي ما دې جهان ته وکړ او ښه ورته په ځير شوم نو بيا مي د ځمکي کره(پېډوسکی) مخي ته کېښوده او له نورو کرو سره مي مقايسه کړه نو بيا مي وليد چي ځيني داسي کرې شته چي په سوونو ميليونو واري له ځمکي نه غټي دي او بيا انسانانو ته په ځير شوم چي په ځمکه کښې پراته او مېشت دي نو ومي ليد چي د دوی شمېر تقريباً له يونيم زر ميليونو نه تجاوز نه کوي او دغه شمېر نسبت د ځمکي پراختيا ته هيڅ دی. او بيا مي هغه کره په نظر کښې راوسته چي څو سوه ميليونه واره له ځمکي نه غټه ده، او دا مې هم فرض کړه چي هلته يو سړی زر کاله عمر کړای شي، او د ډېري ځمکي خاوند کېدای شي، نو په خيال کښې راغله چي په دې حساب کېدای شي چي يو سړی دومره ځمکه ولري چي د ټولي ځمکي د کرې قدر نه وي، او د اولادې لمسيانو او کړوسيانو شمېر يې هم ممکن دی چي د ځمکي د اوسېدونکو شمېر ته ورسيږي، په دې توګه چي سلګونه ښځي روا او د خلکو عمرونه هم زر کاله وي نو زما د دغه خيال او تخيل په اساس که د مريخ په يوه کلي کښې يو سړی دومره ځمکه ولري لکه د ځمکي کره او د اولادې شمېر يې هم د ځمکي د خلکو په شمېر وي نو آيا د دغه کلي د خلکو تر منځ به چي ټول د يوه پلار زامن دی دغه راز اختلاف موجود وي لکه چي د ځمکي د کرې د خلکو تر منځ شته او که نه؟

زما خيالات جواب راکړ چي (نه) بلکي د دغه کلي خلک به ټول په ډاډه زړونو آرام ژوند تېروي چي نه به يو په بل رخه کوي او نه کينه او

نه به غمجن کيږي، نيالګي به ګښېنوي او تخمونه به کري او رېبي او راټولوي به يې او خوري به يې. نه به د جنګ په معنی پوهېږي او نه به جګړې سره کوي ځکه چې دوی به پادشاه او د تمو خاوندان نه لري. واسع او پراخ ملك به وي او هر راز نعمتونه به لري او د کلي له مشر خپل پلار سره به د هغه واحد خدای(ج) عبادت او بندګي کوي چې د هر څه خالق او د کايناتو پيدا کوونکی دی. او بيا مي د ځمکي اوسېدونکو ته مخه کړه او هغه مهم ټکي مي تر څېړني لاندي ونيول چې د دوی د اختلاف سبب شوی دی او دا راته څرګنده شوه چې ددوی په اختلاف کښي د دين مسئله مهم رول او نقش لري، نو بيا مي موسوي، عيسوي او محمدي دريو واړه اديان تر داسي دقيقي مطالعې لاندي ونيول چې ځان مي له هر تقليد نه لري کړ او د عقل جلو مي خوشي کړ. نو بيا مي له ډېري  څېړني او ډېر ځير نه وروسته وليدل چې دغه درې واړه اديان په مبدا او غايه کښي سره يو دي. او که په کوم يوه کښي د مطلق خير څه کمبودتيا موجوده وي په بل سره د هغه نقصان پوره شوی دی. او چې ډېره زمانه تېره شوې او خلك بېرته ګمراه شوي دي او لا يې د دين په جوهر کښي څه نقصان راوستی دی نو سمدستي بل رسول ورته راغلی او کوم نقصانونه چې دوی راوستي هغه يې پوره کړي دي. او بيا شروع وکړه او د خپلي نظريې دپاره مي نقشه طرح کوله او خطونه مي ويستل او دعوتنامې مي ليکلې ((او دغه کار په داسي حال کښي ما کاوه چې ما د ټولو اديانو له پيروانو سره له نږدې کتلي نه و او د نه د هغوی تر منځ د اختلاف په اسبابو خبر وم، حتی د يوه دين د پيروانو تر منځ د اختلاف په اسبابو هم خبر نه وم چې څنګه سره متفرق شوي، ځانګي-ځانګي شوي او ډلي ټپلي يې جوړي کړي دي)).

خو کوم وخت چي په دې پوه شوم چي د دين د علمبردارانو، د دغو هواپرستانو او هغو ريسانو تر منځ له اتحاد نه پرته هيڅ کېداى نه شي کومو چي هره ډله خپله دکان ګرځولې او له هغو نه استفاده کوي او هره طايفه د سرو او سپينو زرو کان او خزانه ګڼي او د دوى سرمايه هغه ديني، مذهبي او طبقاتي او طايفوي اختلافونه دي چي دوى د خلکو تر منځ اچولى دى لکه چي شاعر وايي: (د شعر ترجمه).

(هر څوک د خپل تجارت دپاره يو دکان پرانيزي، او تاد دين دکان پرانيستى دى) (تا له خپل دين نه شاهين جوړ کړى دى چي ښکار پرې کوې، او د شاهين خاوندان نو برى نشي وړى).

نو بيا په دې هم پوه شوم چي د تفرقې د لري کولو په مقابل کښي دربېري او اختلاف له منځه وړي او دخلکو افکار دې ته راپاروي چي سره يو شي او د دين حقيقي اصولو ته مراجعه وکړي هغه سړى د دوى په نظر کښي (چي د دين له لارې د دوى روزي قطع کوي) کافر، ملحد، جاحد، له دين نه وتلى، مفسد، فتنه انګيز او تفرقه انداز برېښي او دغه راز نومونه پرې ږدي. او چي پوهه مي دغه حد ته ورسېده زما ټولي خيالي خوشحالۍ په خفګان بدلي شوې او له خپلي نظريې نه وګرځېدم او ضعف او سستي مي په اندامونو راخپره شوه. بيا مي خپل فکر بېرته راټول او د تصور تيتي مرغلري مي بېرته سره راغونډې کړې او شرقيانو ته مي وکتل، نو افغان ملت مي د تفکر او تصور نيلى ودراوه او ځان ته يې جلب کړم. ځکه چي هغه لومړنۍ ځمکه وه چي خاوره يې زما له جسم سره موښتې وه او زما مولد وه. او بيا مې هغه هند په نظر کښي راووست چي زما عقل او علم پکي پوره شوى و. بيا مي خپل ګاونډى هيواد ايران په نظر کښي ونيو او روابط مي راپه زړه شول او هغه څه راپه ياد شول

چي ما يو څه خپل همت ورته صرف کړی و او بيا مي جزيرة العرب: (مهبط الوحی او د تمدن د انوارو مشرق حجاز، يمن، نجد) عراق او د هغه هارون او مامون، او شام او د امويانو داعيان او سياستمداران، او اندلس او دارالحمرا او داسي نور اسلامي ښارونه راپه زړه شول او هغه څه مي سترګو ته ودرېدل چي د غربيانو له خوا په دوی شوي او په دغه بده ورځ اخته شوي دي. زما هدف او غايه شرق و شرق! او د ما د خپل دماغ کمره ټوله د هغه د مرض تشخيص ته متوجه کړې وه او د هغه د تداوۍ او علاج فکر مي کاوه نو بيا دا پته راته ولګېده چي د دوی ډېر وژونکی مرض او هغه څه چي د دوی د يووالي مانع ګرځي هغه د دوی د خلکو انقسام او دهغوی د افکارو تشتت او په يووالي اختلاف او په اختلاف باندي اتحاد دی په دې معنا چي ټولو اتفاق کړی دی چي سره يو به نشي او په دې متفق شوي دي چي نه سره متحد کيږي، او له دغسي قوم نه هيڅ نه ولاړيږي).

هو سيد جمال الدين په خپل ټول توان او مداوم کوښښ سره په دې لار کښي زيار وويست چي د شرق تيت پرک خلک سره يو او همتونه يې راويش او هغه خطر ته يې ملتفت کاندي چي د غرب له خوا ورته متوجه دی، هغه غربي خطر چي د دوی هستي تهديدوي او مرۍ يې خپه کوي، نو ده کوښښ وکړ چي شرقيان راويښ کاندي او د خپل يووالي د تامين په لار کښي خپل کوښښونه په کار واچوي او هر پاچا او هر امير د خپل قوم د ترقۍ او د خپل هيواد د بهبود دپاره چاره وسنجوي او د شورى د قانوني حکومت راوستو خپل مملکتونه تقويه کاندي، او يو بل ته سره نژدې شي او په اتحاد او تحالف(معاهده) يو بل تقويه کاندي تر څو چي ټول د يوه خلافت تر سيوري لاندي سره راغونډ شي او يو

مرکز ولري. دا و د ده د مفکورې لنډيز چي په لنډه توګه بيان شو، او دی هغه ته له رسېدو څخه مايوس نه و ځکه چي ده تل په دغه لار کښي خپل کوښښونه کول او راز-راز ربړونه او کړاوونه يې ګالل، او د دغه عالي مطلب په لار کښي يې هر ډول مصايبو او نوايهو ته تن ايښی و او څه پروا يې نه کوله. هو! دغه کار يې لري باله خو محال يې نه ګاڼه، بلکي ليده به مي چي هر فشار، جور، ربړ او کړاو چي به د غربيانو له خوا پر شرقيانو راغی خوشحالېده به او ويل به يې چي: (په فشار سره د يوه څير تيت او پرک اجزا بېرته سره نښلي او يو څيز ترې جوړېږي، او مشقتونه او ربړونه همتونه زېږوي). او د دې خبري تفصيل به د انګرېز او مصر په باب د ده په بحث کښي راشي.

## په شرق کښي د سياسي ګوندونو په باب د ده رايه

**ده ويل چي:**

«په شرق کښي سياسي احزاب د شرق دپاره بهترينه دوا ده خو متاسفانه په لږ موده کښي ببرته ډېر بد مرض ګرځي او سرخوږی پيدا کوي. موږ شرقيان د خپل حريت او خپلي خپلواکی د ساتني دپاره د سياسي احزابو تاسيس ښه ګڼو او ټول خلك زموږ دوستان ګرځي، او بيا يې پېښودو ته اړ کيږو او ټول ملك زموږ دښمنان ګرځي. د دغي خبري موثير عامل د خلکو او سياسي احزابو تر منځ د قواوو عدم تناسب دی. په لومړي سر کښي حزب په يوه ضعيف عنصر منځ ته راووزي او لا يې لږ وګړي جوړ کاندي چي په هغو کښي ژبور او تجربه ناک خلك وي او له استبداد او استعباد نه د خلکو زړونه د حزب د ډلي په لور مايل کيږي او د ضرورت او حاجت په مقتضی خلك پرې راټوليږي او د هغوی دغه کار ته ښه وايي او تحسين يې کوي، د هر چا هوس راځي چي پکښي داخل شي او د استبداد مانې ونړوي، او دا دملتونو عادت دی چي له يوه حالت نه بل حالت ته د اوښتو مينه لري او غواړي چي خپله وضع نوې کاندي او له دغه کبله کوښښ کوي چي د حکومت په مقابل کښي عرض و جود وکاندي.

په دغه وخت کښي د خلکو انتظار دا وي چي سمدستي تحول راشي، سعادت ي تامين شي، بدبختی يو مخ وکوچيږي، د دوی حريت، استقلال، بهبودي، مساوات يو دم تامين شي او د خدای دغه جهان ورته جنت وګرځي، او دا کار په ډېره اوږده زمانه کښي هم کېدای نه شي، دا

لا څه چي په لږه زمانه کښي او ډېر ژر وشي. خو سره له دې هم دوی د حزب ملاتړ کوي، اطاعت او انقياد يې کوي، او هر راز قرباني ورکوي. او هر وخت چي له قوم نه د حزب مطالبات پای ته ورسيږي او کار يې محکم شي نو بيا د حزب د مشرانو تر منځ په رياست باندي رقابت پيدا شي، او د هر يوه خودخواهي او خودپسندي د دې موجب شي چي د حزب په ارکانو کښي تزلزل راشي او وروسته له هغه چي يو موټی و سره تيت او پرک شي او بيا د خلکو له زړونو نه د دوی احترام وزي او له اطاعت نه يې غاړه غړوي په نتيجه کښي د حزب د غړو تر منځ يوه عمومي کرکه پيدا کيږي او د حزب د انحلال موجب ګرځي او هر څوک مجبوريږي چي له حزب نه ووزي او هغه ترک کاندي او ټول د حزب دښمن او بدخواه شي. او په دغه ترځ کښي يې څو مثالونه راوړل، او له هغې جملې نه يې هغه څه ياد کړل چي په افغانستان او نورو ځايونو کښي پېښ شوي وو او په مصر کښي يې د عرابي او د هغه د حزب پېښه ياده کړه. او بيا يې وويل چي (بايد زما له دې خبري نه دا ونه فهموله شي چي په احزابو باندي مطلقاً څه فايده مرتبه نه ده ځکه دغه شرق وروسته له هغه چي د زمانې ډېري ناسازګاری يې ليدلي او ډېر ربړونه او کړاوونه يې ګاللي او دغو پېښو د دوی په زړونو کښي د ذلت تخمونه کرلي او پستی ته يې تن ورکړی يوه ورځ به راشي او هغه ورځ هم ډېره لري نه ده چي له درانده خوبه راپاڅي او هغه پردې وڅيري چي د دوی د احساس په مخونو اچول شوي دي. د خوف لباس له ځانه لري کړي او د خپل ذلت او خواری ګردونه وڅنډي او بيا د نورو خپلواکو ملتونو په څېر د خپلي خپلواکی دپاره امادګي ونيسي او د بردګی او مريي توب له ژوند نه بېزار شي. او بيا د دغو اجتماعي تدريجي اساسونو په اساس

داسي يو مانع پيدا کېداى نه شي چي شرقيان له دې نه منع کاندي چي له يوه حزب نه په بل او له بل حزب نه په بل کښي داخل شي او رښتينو او غيررښتينو وعدو ته تن ورکړي او ويې مني، تر څو چي په شرق کښي هغه روحيه څرګنده شي چي په غرب کښي څرګنده شوې ده او داسي افراد او وګړي پکښي پيدا شي چي د وطن د ژوند په لار کښي خپل مرګ غنيمت ګڼي او د وطن د مرګ په لار کښي ژوند عار او پېغور بولي.
نو بيا په دغه وخت کښي د شرق لپاره هغه حزب ضروري او ښه دى چي د مريبتوب د مرض د علاج دپاره يوازنى دوا او يوازنى علاج دى، او بيا به د شرق ټول هغه زامن سره يو شي چي ذلتونه يې ګاللي او ربړونه يې ليدلي دي. او همدغه روحيه به د دوى په زړونو کښي د ورورګلوۍ، احتاد تعاون مفکوره راژوندۍ کړي او خپل بايللى عزت به بېرته وګټي چي دوى به د وطن وي او وطن به د دوى وي او په آرامه به ژوند کوي، د خپلي ټولني د مصالحو د تامين دپاره به بل ته لاس ورکوي او د مظلومانو ملاتړ به کوي، د هغوى حقوق به ورته اخلي او هغه څه به پرې واجب وي ادا کوي به يې او اندېښمن به نه وي.

## پر هغه چا باندي رد چي ګومان يې کاوه د سيدجمال الدين حکمت نسبت زړه ته په ژبه کښي ډېر دی

سيدجمال الدين د خپلي زمانې له خلکو سره په ډېرو صفاتو کښي توپير درلود او که د خپل عصر خلکو ته ورته وای هيڅکله به يې دغه امتياز ګټلی نه وای او نه به تاريخ د ده صفات او امتياز په دغه توګه حساب کړی او له لويو حکماوو ګڼلی وای. لکه چي مخ کښي مو وويل د ده هر څه برالا و او په چټکۍ سره به يې خپل آرا او هر هغه څه په برالا او برملا ويل چي د ده په ذهن کښي به ګرځېدل. که څه هم خطر او ضرر به يې درلود. نو له دې کبله د ده ځينومريدانو ګومان کاوه چي د ده حکمت په ژبه کښي دی نه په سينه کښي، او لا په بل عبارت د ژبې قدرت او تاثير يې له علم نه زيات دی. ځينو مريدانو يې يو وخت داسي وپوښته (له دې نه څوک منکر نه دی چي زموږ په زمانه کښي زموږ د استاد په څېر يو اجتماعي حکيم نشته ځکه چي دی په ډېرو ښارونو ګرځېدلی او د خپل شريف مقصد او لوړ غرض دپاره يې ډېر ربړونه او کړاوونه ګاللي دي خو ګورو چي دی په داسي حکيمانه خبرو خوله خوځوي چي نه ده ته فايده رسوي او نه خلکو ته او کله ناکله ډېر کرته اورېدونکي ته ضرر رسوي، ځکه چي د ده خبري اورېدونکي لويو کارونو ته واداره کوي او په غرور سره لاس ورته اچوي پرته له دې چي عاقبت يې په نظر کښي ونيسي او همدغه خبره د دې باعث ګرځي چي موږ ووايو چي د ده حکمت په ژبه کښي نسبت زړه ته ډېر دی. د سيد جمال الدين دغه خبره خوښه نه شوه او په مخ کښي يې د قار او غضب نښي ښکاره شوې او ويې

ويل: تر څو چي په شرق کښي مالك او مملوك، امير او صلوك موجود وي که څه هم صور ي اوسي په شرق کښي به ژبه څه ګټه رسولي شي او نه زړه. دوی ته حقیقت تریخ اووهمي شیان خواږه ښکاري، په ذلت کښي خپله آرامي ګوري او د ارتقا او عزت طلب ورته بدبختي او تکلیف ښکاري. ټول مسلمانان ناروغ دي او علاج یې په قرآن کښي شته خو که د حکمت او علاج طالبان د هغه په معانیو کښي تدبر وکړي او عملي یې کاندي. آیا اوسني مسلمانان په هغو مبادیو عمل کاندي چي حضرت محمد(ص) راوړي دي او د هغو په هغه شان پیروي کوي چي اصحابو یې کوله؟ او که وایي چي محمد(ص) حکیم نه و او لا یې حکمت له زړه څخه نه و دا یوه پوچه خبره ده چي خپل زړونه پرې خوشحالوئ او د بې همتو او ذلیلو منطق دی. اې قومه! محمد(ص) یو مرسل نبي و او له نبوت نه دمخه آمین او رښتینی و او په دې قانع نه شو چي د ده د کورنۍ غړي لکه د ده تره حمزه او تربور علي بن ابي طالب او د قریشو نور سرداران او د انصارو پهلوانان شول د مرګ میدان ته لاړ شي او دی لاړ نشي بلکي ده په خپله هم د جنګ جامې (خولۍ او زري) واغوستې، توره یې تر ملا کړه او د جنګ میدان ته ورننووت چي دوه غاښونه یې په جنګ کښي ووتل او ویني یې پر مخ رواني شوې تر څو چي له باطل سره مقابله او د حق ملاتړ وکړي او حق په خپل قرار ونیسي چي د ده دغه عمل ستاسو لپاره د پند او عبرت درس دی او دغه درس یې په خوله او عمل درکړی دی. نو آیا نني مسلمانان دغسي دي؟ آیا دوی دغه همت لري او دغسي کارونو ته اقدام کاندي؟ هئ افسوس! موږ ډېر بد بېرته پاتي کسان یو او پخواني ډېر ښه خلك او د هري ستاینې وړ وو. کوم وخت چي د خپل ذلت او خوارۍ خبره واوري زړونه مو سخت

ټکان وخوري او وربړديږي چې مبادا د هغه د لري کولو دپاره راوبلل شي او ورځخه وغوښتل شي چې د خپل ذلت ځنځيرونه وشکوئ او د عزت ژوند پيدا کړئ او بيا سرې-سرې خبري کوي او سفيهانه رايه ښرګندوي او د زړه حکمت غواړي نه د ژبې حکمت ودي مري هغه انسان چې په دغه توګه وي. «نو بيا چا چې دغه پوښتنه ترې کړې وه په خپله خبره پښېمانه شو او پوه شو چې د ده خبره حق وه».

## د مصر او مصريانو په باب د ده رايه او د هغه حکومت په باب د ده نظريه چي بايد په مصر کښي خصوصاً او په شرق کښي عموماً روی کار شي

سيد جمال الدين له مصر او مصريانو سره مينه درلوده او ټينګه رابطه يې ورسره لرله، د مصر د قضيې په باب به يې ډېر بحث کاوه او د برتانيې په چنګال کښي د هغوی د لوېدو خبري به يې کولې او هغه غلطۍ به يې يادولې چي د عثماني دولت له خوا واقع شوي وې، او امکان يې و چي جلوګيري او مخه يې ونيوله شي. او د عرابي د فتنې دخاموشولو دپاره د دوی د لښکرو نه لېږل يې د هغوی د سياست د خطايي دليل باله او ويل به يې:

«داسي معلومېږي چي فرعوني قوت له زمانې نه تعهد اخيستی دی چي د نيل وادي «مصر» به نه خوشي کوي او هر وخت چي له مصر نه يو فرعوني طاقت لاړ شي په عوض يې بل راځي او هغه جامه دي اغوندي او هر وخت چي يوه فرعوني عايله منقرضه شي بله عايله يې د ميراث دعوی کوي که څه هم له درباريانو نه له هغې خوا راغلې اوسي او بيا ځان له فرعوني کورنۍ سره نښلوي که څه هم د خدايۍ په دعوی کښي به يې لږ مشابهت ورسره درلود. او ډېر کرته به يې دا په خوله غږوله «خپل قوم يې ووېراوه او بيا هغوی د ده اطاعت وکړ» او ويل به يې: دا د مصر او مصريانو د ملاتړو عجيبه برخه ده چي په دوی کښي اوسيږي. مثلاً موسی چي د يوه مظلوم مصري ملاتړ يې کړی و بالاخره په تېښته وتښتېد او د فرعون عبادت کېده، په يوسف صديق تومت ووايه شو او پرته له دې

**چي ګناه يې کړې اوسي بندي کړای شو، او په نتيجه کښي حق په ځای قرار ونيو او باطل له منځه لاړ. امکان لري چي مصر د مصريانو دپاره پاتي شي خو په دې شرط چي دوی د عزم او په ځان باندي د اعتماد وسايل په کار واچوي او هغه څه آماده کاندي چي عزم او اراده يې مقتضي اوسي، له عزم او ارادې نه کار واخلي او خپلي قواوي په کار واچوي. ممکنه ده چي ډېر ژر دوی د فشار او اختناق په عواملو او موجب دغه کار وکاندي او چي دغه کار ته يې اراده وکړه او خبره يې يوه شوه، او ټول يوه هدف او يوې غايې ته متوجه شول، نو بيا به دوی قوي او نيرومند شي او که خپل دغه قوت يې د تحاسد او دسايسو بازار ته وړاندي نه کړ نو بيا به ته ووايې چي هر څه وشول او د قوم بری په برخه شو او نوي صحيح ژوند ته ورداخل شو. نه به مصر او نه به ټول شرق په خپلو دغو امارتونو او دولتونو ژوندی شي مګر دا چي پاک خدای هر يوه ته يو قوي او عادل[1] حاکم ورپه برخه کاندي چي استبدادي حکومت پرې ونه چلوي او نه فردي اراده حاکميت ولري. ځکه چي مطلق العنان قوت استبداد راولي او عدل تر هغه وخته پوري تحقق نه شي موندلای تر څو چي د حکومت قدرت مفيد شوی نه وي. يو مقصد مي د مصر د خلکو له حکومت څخه دا دی چي خلک د يوه صحيح قانون له مخي په حکومتي چارو کښي شريک اوسي او مشروطه حکومت ولري، او بيا يې وويل:**

[1] موم پوښتنه ترې وکړه چي ستا له خولې نه دا شايع ده چي (شرق يوه مستبد عادل حاکم ته اړه لري). ده په جواب کښي وويل: دا خبره د اضدادو د جمع له قبيلې نه ده، او عدل او استبداد څنګه يوځای کېدای شي؟ د حاکم بهترين صفت قوت او عدالت دی، چي په دې حساب په ضعيف عادل کښي کوم خير نشته لکه چي له قوي ظالم نه د خير هيله نه کيږي.

«كه دا صحيح اوسي چي ځيني شيان خلكو ته ښنل كيږي نه، نو د دغو شيانو له جملې څخه به مهمترين څيز حريت او استقلال اوسي چي هيچا ته ښنل شوى نه دى» ځكه چي حقيقي حريت هيڅكله هم يو بادشاه او لا كوم مقتدر په خپله خوښه خلكو ته ښنلى نه دى او نه يې ښني او همدارنګه استقلال چا، چا ته ښنلى نه دى. بلكي دغه دواړه نعمتونه له هغو څيزونو څخه دي چي خلك يې ګټي او په لاس يې راوړي، قرباني ورکوي او خپل طاقت په کار اچوي، خپليويني تويوي او په خپلو وينو خاوري لړي او بيا يې حاصلوي، او دغه کار د لوړ همت خاوند ملتونه کولای شي. خو د استبدادي حکومت شکل ته تغير ورکول او هغه په يو پارلماني حکومت اړول ډېر ګران کار نه دى او په آسانۍ سره مطلب ته رسېدل او هيلو ته نژدې کيږي، ځکه چي په دغسي مواردو کښي د پادشاه يوه اشاره کافي ده چي د خپل دربار نژدې کسانو ته يې وکړي او خپل رعيت او خپل ملت ته موقع ورکاندي چي په حکومتي چارو کښي برخه واخلي او د پارلمان له لاري خپل قدرت او موجوديت وساتي او بيا له يو څه تجربې وروسته د راحت او آرامتيا احساس وکړي او د خپل ملک د سلامتيا د تامين په لار کښي خلک له ځان سره ملګري کړي او ټول خلك د ده له عرش او تخت نه په مخلصانه توګه او له ميني نه په ډکو زړونو او په صميميت سره راټول شي او عزت يې وساتي او په دې توګه يو قانوني او پارلماني حکومت روی کار کاندي او د خپل مملکت عظمت وساتي. دلته د ملت نمايندګان د مملکتي چارو تکاليف پر غاړه اخيستي او ځانونه د مملکت نايبان او مسوولين ګڼي او په دې ترتيب له مفاسدو سره مبارزه کوي او په خپلو ځانونو او مالونو د وطن د حفاظت په لار کښي قرباني ورکوي. دا ده د هغو هوښيارو پادشاهانو دپاره زما

مشوره چي خپل عقلونه يې په کار اچولي وي او د عقل په لارښوونو له استبدادي حکومتونو نه تېر شوي او پارلماني او مشروطه حکومتونه يې جوړ کړي وي چي همدوی او هم د دوی رعيت په راحت او آرامتيا ژوند کوي. او دا د حکومت هغه صالح شکل دی چي زه يې د مصر او نورو شرقي اسلامي دولتونو او امارتونو لپاره غواړم. او که خبره ښېخي ښکاره او واضحه ووايم نو غالباً يو پارلماني صحيح شکل هيڅکله په هغه ملک کښي راتلی نه شي چي پادشاه يې د مطلق العناني مزه څکلې وي او په يوه سر يې حکومت کړی اوسي، او ډېره ګرانه پرې تماميږي چي د مجلس اراده او تصميم د ده له ارادې سره ټکر وخوري او لا د ده پر ميل باندي د مجلس تصميم غالب شي او له دې کبله زه وايم چي : (که خدای مصر او شرق ته يو قوي عادل حاکم ور په برخه کړ چي د خلکو د ارادې له مخې حکم پرې وکړي نو بيا به هر څه اسانه شي). دا سړی به لا موجود وي او لا به يې ملت خلقوي او راولي به يې، او بيا به د آمانتدارۍ په شرط د ملک واګي ورته سپاري او تعهد به ترې اخلي چي د اساسي قانون تابع اوسي او په همدې لوړه به يې تاج پر سر ږدي او پوهوي به يې چي تر څو چي دی د اساسي قانون حافظ او ساتندوی او د هغه په مقابل کښي آمانتدار اوسي دغه تاج به د ده پر سر وي، او که په خپله لوړه يې وفا ونه کړه او له اساسي قانون سره يې خيانت راواخيست نو لا به يې سر بې تاجه پاتي کيږي او لا به يې تاج بې سره پر ځمکه پرېوزي. او کوم وخت چي له يوه ملت سره د دې وېره پيدا شوه چي د دوی اميران او مشران د دوی له اساسي قانون سره اخلاص نه لري او لا يو قانوني او پارلماني حکومت متقي نه شي همدغسي ورسره وړ دي چي ورسره ويې کړي او که نه وي نو يو نژدې صالح امير په وارو-وارو له لري

پردي امير نه بهتر دی. او هر څه چي جمهوري حکومت دی په شرق کښي د نن ورځي دپاره مناسب نه دی او نه به د خلکو دپاره ګټور وي (او د دې بيان به وروسته راشي).

## د وطن په باره کښي د ده رایه او د انساني نوعي په نسبت د ده فلسفه او په دې باندي د ده عقیده چي فردي او استبدادي حکومتونه به له جهانه ورومي

د سيد جمال الدين له رايو نه يوه هم دا ده چي وايي: (د انساني عالم د اجتماعي هيئت له خصايصو څخه ده چي د هيڅ اقليم دپاره چي ښاري شوی او مدني شوی اوسي ميسره نه ده چي له زوره پرته د يوه سړي حکومت او فردي حکمرانی ته غاړه کېدي او دی په دې باره کښي يو لړ دلايل او مقدمات لري چي په مجمله توګه به يې مورډ راوړو.
کله چي مورډ ترې پوښتنه وکړه استاد څله؟ داسي يې وويل: (که چيرته شرق ته ميسره شي چي يو څوک د هغه ځای د خلکو په وساطت په هغو حکومت وکاندي!) او داسي يې ونه ويل: (چي که شرق او لا مصر ته له هغه څخه يو څوک ميسر شو چي د هغه ځای د خلکو په وساطت په غير استبدادي توګه په هغه حکومت وکړي!) ده په ځواب کښي وويل: (له انسان سره (لکه چي يوه نوعه ده) دا وړ ده چي د ځمکي له دغي وړوکي کرې نه پرته بل استوګنځی ونه لري، په دې معنا چي د نوعي يووالی د مکان د يووالي مقتضي دی نو تر څو چي انسان ته نامکنه وي چي په اوبو کښي ژوند وکړي نو وطن او مسکن به يې ارومرو همدغه (وچه) اوسي، او د دې مقدمې نتيجه دا شوه چي د انسان استوګنه او ژوند به د ځمکي په يوه معينه برخه پوري مختص نه وي چي په يوه ځای کښي به اوسېدای شي او په بل ځای کښي نه، خو په دې شرط چي د خدای د حکمت په مقتضا بشري حواس او د اقليم خواص پنځه نه وای چي په

دغو پنځو حواسو او پنځو خواصو ټول هغه قومونه او قبيلې چې پاک خدای له يوه نفس څخه پيدا کړي سره متمايز کيږي او دغه معموره په خپلو منځو کښې سره وېشي او د خپلو مملکتو او هيوادو په نامه يې يادوي. د اقليم د خواصو له جملې نه څلور يې خپله د اقليم له طبيعت نه مستفاد دي او پنځه خاصيته يې له بېرون نه پرې طاري کيږي چې هغه دين او ورته نژدې (اخلاق) (ژبه) (عوايد) او (اقليم) او تاثير يې پر ټولو دی. او د دغو عواملو په اثر قومونو ته امتياز په لاس ورځي او يو له بل نه متمايز او جلا کيږي او په دوی کښې په خپل مالوف وطن باندي د بقا او له هغه څخه د دفاع مينه ريښه ځغلوي او هر هغه څوک چې په دغه مميزه کښې له دوی نه غير اوسي هغه په مطلقه توګه پردی بولي.

نو هر وخت چې د ځمکي او لا د يوه اقليم او لا د يوه ښار د اوسېدونکو له جملې نه يوه قوم ته دغه جمعه کوونکي صفات او لا دغه مميزه پنځه خواصه په پوره توګه ورسېدل او د ټولو په منځ کښې په مساوي توګه حاصل او د هغو په آثارو متاثر شول او د هغو رنګ يې واخيست نو بيا د دوی تر منځ د کفائت او برابرۍ دعوی ميسرېدای شي او د امتياز او برترۍ مسئله له منځه ځي. نو که موږ په دې خبره د انسان غرور او دا چې هر څوک له ځانه راضي او دخپل نقصان له ليدو څخه ړوند دی او په لنډه توګه د ابن خلدون د وينا له مخې د خدايي (تاله) هغه ادعا چې په بشر کښې شته ورزياته کړو د هغه تکليف په اندازه به پوه شو چې فرد يې پر ځان ګالي او غواړي چې په هغو باندي (وروسته له هغه چې طبيعت د دوی تر منځ مساوات برقرار کړي) د امتياز په مميزه برې ومومي او له زور او غلبې او لا د ديني دعوت په وسيله له توسل نه پرته هغوی دې ته اړباسي چې په امتياز يې اعتراف وکړي تر څو چې

خپل دغه غرض ته ورسيږي. نو چي دغه امتياز ته رسېدل د زور او د ديني دعوت د توسل په لار ممنوع شي نو بيا پر قوم باندي د امتياز مدعيان (فرد وي او که ډله) ناچار دی چي په داسي وسايلو متوسل شي چي له هغه څه نه په غير اوسي چي دوی ورسره معتاد دي چي هغه ذاتي او شخصي فضيلت دی چي د علم او لياقت له لاري سړي ته ميسرېدای شي. بيا يې د زيات وضاحت دپاره وويل: که تاسي غربي عالم ته سترګي واړوئ نو وبه ګورئ چي د خپلو قومي مميزاتو په اثر اوسني تقسيمات په کښي راغلي او هر يو جلا-جلا استقلال لري خو په نسبتي توګه په فضايلو (علم او عمل) کښي سره مساوي شوي استبدادي نظام يې له منځه وړی او له دې وتلی دی چي د شخصي حکومت د ارادې تابع اوسي. او ژر ده چي دغه ډول مطلق العنان حکومتونه د تدريج د قانون په حکم او د فطرت په تقاضا له بشري عالم نه خپل تريږ په شا کړي او لاړ شي او په عوض يې داسي حکومتونه روی کار شي چي د خلکو په اراده منځ ته راغلي وي او د شوری له لاري ملت د حکومت په چارو کښي برخه ولري. نن اروپايان په يوه وخت کښي هم پر ځان حاکمان او هم د شوری د حکم په عامل محکومان دي او د دوی هر ملت له دې څخه مامون او مصئون دی چي د قوت او قومي مميزاتو خاوندان يې په زور په ځان پسې روان کاندي. لنډه دا چي حکومت د عقل او علم حق دی نه د زور او بل څيز. هر وخت چي له دغو دوو قوتو سره حماقت او جهالت مقابل شي دغه دوه قوتونه به پر جهل او نادانۍ بری مومي او همدارنګه فردي مطلق العنان حکومتونه به تر هغه وخته پوري وي او دوام به کوي تر څو ملت د جهل په تورتم کښي پروت اوسي. او هر وخت چي په يوه ملت کښي علم او پوهه تعميم شوه نو تر هر څه لومړی

**د دغه راز حکومتونو په مقابل کښي قيام کوي او غواړي چي هغه له منځه يوسي او ځان ترې خلاص کاندي. «دا په تېرو او پخوانيو خلکو کښي د خدای سنت او قانون دی او د خدای په سنت او قانون کښي تبديل او تغير نه موندل کيږي».**

## د هيئتونو او فاتحينو د تاثير په باره کښي

### د ده خبري او د عربو د فتوحاتو او د هغوی د خپرېدو په باب د ده مثالونه

د نژدې تماسونو دتاثير په باره کښي (خواه د هيئتونو د تګ راتګ په توګه وي او که د فتح په توګه) وايي چي دغه کار له موثرترينو عواملو څخه دی او په ښه توګه خپل تاثيرات خپروي، او د يوه ملت د ثقافت د خپرولو او د هغه د ژبي د تعميم دپاره ښه وسيله ده، او د دې خبري د ثبوت دپاره اسلامي فتوحات او د اسلام ظهور ډېر ښه مثال دی چي له يوې پېړۍ نه په لږه موده کښي د نړۍ په ډېره برخه کښي خپور شو او اسلامي ثقافت رواج وموندہ، ټول جزيرة العرب، شام، مصر، عراقينو، هند، لري ختيځ او حتی آستانې ته ورسېد او جوخت ورسره اسلامي ثقافت خپور شو او دا دی د خالد بن ابي ايوب انصاري قبر او (جامع العربيه) چي په (جامع العرب) شهرت لري د دغي خبري د ثبوت لوی شاهد دی. هو! دا بايد ومنله شي چي نورو هيوادونو ته د عربو داخلېدل او د هغو نيول په اصل او لومړي سر کښي د ديني دعوت او تعليماتو د تعميم او خپرولو په غرض و، او که به يې له مفتوحه هيوادونو نه جزيه اخيسته هغه هم د دې دپاره وه چي د هغو ساتنه او اداره يې پر غاړه درلوده او مساوي حقوق يې ورکول او له هغو باجونو څخه يې خلاصول چي د هغوی د اميرانو له خوا د هغوی په اوږو ايښودل شوی و او چا چي به اسلام قبلاوه په دې مجبور نه و چي د عربو عادات ومني او ژبه يې زده کاندي. او چي جزيې ته به يې غاړه کېښوده په زور به له

خپل دین څخه نه اړول کېده او نه به دې ته مجبور کېږي چي خپل قومي عنعنات او ممیزات پرېږدي، بلکي په خپلو عاداتو او خپلو اقلیمي موثراتو به پرېښودل کېدل، او د یوه هیڅ عربي فاتح په زړه کښي هم دا نه تېرېده چي د خپل قوم آداب او ژبه تعمیم کاندي او لا په دغه لار کښي لازم وسایل په کار واچوي. خو سره له دې ګورو هر چا چي د اسلام دین قبول کړی او لا یې اسلامي حکومت ته سر ټیټ کړی دی او لا یې جزیه منلې ده هغه په خپله خوښه دې ته غاړه ایښې چي عربي ادب زده کړي او ځان عرب کاندي. او د دې خبري سبب دا دی چي عربو له ځان سره ډېر لوړ اخلاق راوړي وو او د اخلاقو مظاهر یې په ښه توګه څرګند وو. لکه له دروغو ډډه کول، په عهد وفا کول د عدل پابندي، د شاه او ګدا تر منځ د حقیقي مساوات رعایت ساتل، هر چا ته حریت ورکول، د مظلوم غم خوړل، کرم او شجاعت ساتل او داسي نور ډېر فضایل شول. او دا یوه طبیعي خبره ده چي دغه صفات د خلکو پر زړونو یوه معنوي سلطه پیدا کوي په تېره بیا د هغو قومونو پر زړونو چي د دغو فضایلو فاقد اوسي. ځکه چي د انسان روح او شعور د انفعال استعداد لري او د طبیعي څیزونو انتخاب د هر حیوان په فطرت کښي شته او مظاهر یې په انسان کښي نسبت نورو حیواناتو ته په ښه او واضحه توګه لیدل کیږي. له همدې کبله د هغه وخت د ملتونو زړونه دې ته مایل وو چي د عربو د لښکرو ښه استقبال وکړي، اعم له دې څخه چي دغه ملتونه په زور فتحه شوي اوسي او که د سولې له لاري. او د عادتونو د قبول لومړۍ مقدمه ښه ګڼل (امتحان) دی او بیا د زماني په تېرېدو سره راسخه ملکه او عقیده ګرځي او د یوه قوم عادات ښه ګڼل د دې موجب ګرځي چي ورته نژدې شي او د نژدېکت ډېره غټه وسیله تفاهم دی او

دې ته يې واداره کوي چې د هغوی ژبه زده کړي تر څو چې تفاهم ورسره وکړای شي. په همدې توګه عربو ته زمينه برابره شوه او په ډېرو هغو ممالکو او هيوادونو کښې يې خپل ادبي اثرات پرېښودل چې دوی فتح کړي وو او په دغو مفتوحه ممالکو او هيوادونو کښې له عمراني آثارو علاوه يې ادبي آثار پرېښودل، لکه ژبه، عادتونه او اخلاق شول، هغه هم په داسي توګه چې استيصال يې ناممکن دی، بلکې د هغو ټولو کوښښونو پر خلاف چې ځينو دولتونو وغوښتل چې نوموړي آثار محو کړي محو يې نه شو کړای او تر نن ورځې پوري باقي دي. مثلاً مصر چې يو هرقلي روماني هيواد و او پېړی-پېړۍ د روم مقوقس حکومت پرې کړی په لږه موده کښې اسلامي او عربي هيواد شو او ټول عربي مميزات يې وګټل. همدارنګه سوريه، عراق او نور هيوادونه شول چې پرته له دې چې څه کوښښ شوی اوسي چې عربي هيوادو ته راوګرځول شي عربي او اسلامي هيوادونه شول. هو! دا بايد ومنو چې د دغو ملتونو د عربي کېدو ستر عامل او غټ باعث د عربو هماغه اخلاقي لوړ فضايل وو چې له ځان سره يې راوړي وو او د دغو ملتونو توجه او پاملرنه يې ځان ته راوګرځوله او د ځان يې کړل.

## د ترکي شاعر او مؤرخ مرحوم ضيا باشا د هغه مشکل تفسير چي ويل به يې ترکانو ونشو کړای چي په مفتوحه اروپا کښي خپل آثار پرېږدي

دی وايي: «يوه ورځ د ترکانو يو ستر اديب ما ته راغی او په لاس کښي يې يو کتاب ګوتی و چي د ضيا باشا مفکورې پکښي د ده په لاس ليکل شوي وې، او ما ولوست چي ترجمه يې عيناً رانقلوم».

موږ خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړه تر څو چي د اروپا زړه ته ورننوزو (ويانا) مو ونيوه او بيا دې ته اړ شوو چي هغه خوشي کړو، خو په دغو ځايونو کښي موږ نه ادبي او نه مادي کوم آثر په يادګار پرېښود او بنا پر دې په نوره ترکي اروپا کښي به هم زموږ حال همداسي وي. لکه بلغاريا، فلاخ، بغدان صرب، جبل اسود او داسي نور ښارونه شول. او ما تل د يوه عربي شاعر دغه بيت څوروي چي وايي:

«زموږ آثار زموږ په لويی دلالت کوي نو له موږ نه وروسته زموږ آثارو ته ګوره» او هر څه چي عرب شول، هغوی په ټولو مفتوحه ښارونو کښي اعم له دې څخه چي په جنګ يې نيولي اوسي او که په سوله خپل داسي معنوي او مادي آثار پرې ايښي دي چي پېړی-پېړی به پاتي وي او څوک يې له منځه وړای نه شي، مثلاً په مصر، شام او عراق کښي مسلمان او مسيحي او يهودي تر هر څه لومړی ځان عرب بولي او بيا خپل ديني انتساب يادوي. په اندلس کښي د دوی مادي آثار د نورو مفتوحه ښارونو تر مدني آثارو په کمه نه دي، او د ډېرو پېړيو له تېرېدو

وروسته هم دا ټول ګواهي ورکوي چې عربو پر دغو هيوادونو حکومت کړی او خپل آثار يې پرې ايښي دي.
تر ټولو د تعجب خبره لا دا ده چې ترکي، چرکسي، ارناوطي او نور عناصر او قومونه چې هر وخت په کوم عربي هيواد کښي مېشت شوي په لږه موده کښي عرب شوي او داسي ورسره خلط شوي دي چې سړی خيال کوي چې خالص او سوچه عرب دي. مګر موږ ونشو کړای چې تر خپلې سلطې لاندي ملتونو کومه وړه کورنۍ هم ترکۍ کړو، په داسي حال کښي چې موږ پر دغو ملتونو باندي عادلانه او مهربانانه او په ترکي لورېينه او مهربانۍ حکومت کړی دی.)

## جمال الدين وويل:

که چيرته ضيا باشا ژوندی وای ما به د ده شک ايستلی وای، موږ ورته وويل چې څنګه؟ ده وويل چې: ضيا باشا دلته په اشتباه کښي لوېدلی دی چې ترکان يې په ټوله معنا له عربو سره يو او ورته بللي دي. په دې معنا چې دوی هم د اسلام د دين په حلقه کښي داخل شوي او په خپلو فتوحاتو کښي يې د اسلامي سننو روحيه او نرمي ساتلې ده، خو دا ترې پاتي شوې او ملتفت شوی نه دی چې هر دين يوه ژبه لري، او د اسلام د دين ژبه عربي ده، او هره ژبه آداب لري چې له دغو آدبو نه د اخلاقو ملکه حاصلېږي او د هغو له ساتني نه عصبيت او قوميت تکون مومي. نو بنا پر دې له ترکانو نه يوه غټه خبره هېره شوې او يو ګټور حکمت ترې پاتي شوی دی چې سلطان محمد الفاتح هغه ته ملتفت شوی و او عربي ژبه يې رسمي کړې وه (اميد دی چې سلطان سليم يې هم عملي کاندي) او په ټولو هغو عجمي ملتونو کښي يې تعميم کړې

واى چي د اسلامي دولت تر اداري لاندي وو تر څو چي د اسلام په احکامو پوه شي او د عربي ژبي د علومو، ادابو او اخلاقي مکارمو په برکت د ارتقا پر لار روان شي.

او عرب په خپلو فتوحاتو کښي يوازي د دين په شکل دومره کامياب نه شول بلکي د هغه په احکامو باندي د پوهېدلو او په آدابو او تعليماتو يې د عمل کولو له کبله دغه موفقيت ور په برخه شو او دا کار د هغه په ژبه باندي له پوهېدو نه پرته ممکن نه دی او په ژبه باندي پوهېدل د دغه موفقيت مهم رکن دی. عثماني عظامو سلاطينو ډېر فتوحات وکړل، ډېر جزيل خيرونه يې ورسول او په خپله زمانه کښي يې د مسلمانانو ډېر نامتو علما ځانته نژدې کړل، عربي ژبه او ځيني علوم يې زده کړل او د عربي ژبي په قدر پوه شول او د هغې د نمانځني په باره کښي يې ډېر توغل او مبالغه وکړه، او حتی لکه چي ويل کيږي هيڅ يوه علمي وظيفه به يې تر هغه وخته پوري چا ته سپارله نه څو چي ويل کيږي هيڅ يوه علمي وظيفه به يې تر هغه وخته پوري چا ته سپارله نه څو چي به يې د فېروزآبادي عربي قاموس په يادو زده نه و (که رښتيا اوسي دا نامعقول تکليف دی).

ترکانو خپلو فتوحاتو ته په همدې توګه ادامه ورکړه او د خپلو فتوحاتو له مادي قوت نه پرته بل څه يې په دغه لار کښي په کار وانه چول اونه يې له مادياتو نه پرته بل څه مفتوحه هيوادونو ته يوووړل. هو! ترکانو په ډېره ساده توګه او بسيط شکل او په تعبدانه ډول اسلام ومانه خو د قرآن د معانيو له فهم نه ډېر لري ولوېدل او د عربي ژبي له آدابو نه لري پاتي شول. او که عرب د ترکانو په څېر واى نو له ترکانو نه به يې ښه آثار پرېښودي نه واى او نه به يې مدنيت او حضارت راوړی واى او په خپل

بدوي حالت به پاتي شوي وای چي مقصد او غرض به يې د ښارونو له نيولو نه د مالونو راټولول او ګټل و تر څو چي خپل ژوند ښه کاندي او عياشي او اسراف وکړي. نو بنا پر دې په عياشۍ او نادانۍ کښي ډوبېدل، تحمل او اصراف ته مايل کېدل، د اضمحلال او انقراض له اساسي عواملو څخه دي، او تر هر څه لږه نتيجه يې دا ده چي د خلکو همت راټيټوي او د لويو کارونو له اجرا نه يې ژغوري او د هغه څه پروا نه کوي چي ملك ورته اړ اوسي لکه د عمران او ودانۍ د اسبابو ادامه شوه. او شديدترين خطر يې دا دی چي دغه راز خلك د عامو خلکو د هيلو او غوښتنو تحقير کوي او اهميت نه ورکوي، او هر وخت چي يو پادشاه په خپل قصر کښي ناست وي او مسرف او عياش درباريان يې د خلکو د هيلو پروا نه کوي او فشار پرې راولي د خلکو زړونه ورته خوټيږي او کرکه ترې کوي، او دغه وضع ډېر درنګ نه کوي او په داسي وخت کښي انفلاق کوي چي نه يې مستبد پاچا انتظار لري او نه يې هغه اعوان چي د خلکو حقوق يې غصب کړي وي او په خپل خاص مهارت يې هضم کړي اوسي. ترکان په ظاهري وضع کښي له عربو سره يو دي خو نتيجه د نتيجې له مخي دردناکه ده چي هغوی يو څه وو او دوی بل څه دي. اما د عربو بهتري له دې کبله چي عمراني او ادبي آثار يې پرې ايښي دي نسبت هغو نتايجو ته ډېر اهميت نه لري کوم چي وروسته به يې بيان راشي.

**له دې څخه د سيد نتيجه اخيستل چې د ملک په ساتنه کښې له تفريط کولو سره-سره د آثارو پرېښودل لا د تاثير وړ دي او کوم وياړ نه لري**

**دی وايي:**

**دا چې ترکانو سره له دې چې په اروپا کښې یې فتوحات وکړل او (ويانا) ته ورننوتل او بيا له دغو هيوادونو نه پرته له دې چې ادبي او عمراني آثار پرېږدي ووتل دا کومه کمي نه ګڼل کيږي لکه چې په اندلس کښې د عربو آثار په دې صورت کښې د وياړني وړ نه دي چې هلته يې سيوری پاتي نشو، ملك یې له لاسه ووت او دولت یې منقرض شو، بلکي زما په عقيده څوک چې غواړي دغسي آثار منځ ته راوړي او خلکو ته يې ښکاره کړي او په دغه لار کښې هر راز خطرونه ومني او ډېر مالونه ولګوي دا پرې واجبه ده چې د هغو د ساتني دپاره تياری ونيسي او هلته خپل قوت او سلطه باقي پرېږدي نه دا چې خپل آثار پرېږدي او ترې راووزي، او په دغسي حالت کښې اثر پرېښودل حزن آورتر دی، ځکه چې دغه کار په وضاحت او صراحت سره د حکومت په تفريط او بې پروايي دلالت کوي او په سقاعت او عدم کفايت یې ګواهي ورکوي. بلکي زما په خيال په دغه توګه نه اثر پرېښودل تر اثر پرېښودلو بهتر دی ځکه چې تاثر نه راولي. (که څه هم ځيني اروپايان له دغه قياس سره مخالف دي). ترکانو او عربانوپه خپلو فتوحاتو کښې اعم له دې څخه چې آثار یې پرېښودي دي او که نه يو شی پرېښودی دی او هغه دا دی چې دوی داسي اولادونه بهر ته پرې ايښي دي چې د خپلو پلرونو او نيکونو په فتوحاتو وياړي او د طاقت اوقوت له برابرولو نه غافل دي او**

خپل وجايب نه پر ځای کوي. او که څوک پند ورکوي پند نه اخلي او که څوک يې راوېښوي ويښيږي نه او په خپل درانده خوب کښي پراته دي. او که دوی په الهی قانون عمل کړی وای او سعي او کوښښ يې د خدای د دې فرمودې په اثر (وان ليس للانسان الاماسعی) خپله پېښه ګرځولې وای د دوی به ګټه ناتمامه شوې وای او د خپلو ملتونو دپاره به يې ډېره ګټه وراړولې وای. سعي او کوښښ د کاميابۍ او موفقيت بهترينه لار ده او بايده ده چي هر څوک خپل نسل په دغه روحيه وروزي.

## د ژبې د آدابو د تاثير په باب د ده خبره

په نورو هيوادو کښي د عربي ژبې انتشار او خپرېدل د عربو له فتوحاتو سره څه اړه او ارتباط نه لري او نه عربي فاتحينو په دغه باره کښي څه وسايل او کوښښونه په کار اچولي دي، بلکي د دې خبري اصلي علت دا دی چي دغه ژبه په يو لړ داسي ادبي فضايلو، حکمو او امثالو، موعظو او لارښوونو شامله ده چي خلک دې ته واداره کوي چي هغه زده کړي او له حکمتونو او لارښوونو څخه يې استفاده وکړي.

حتی عرب له اسلام نه دمخه هغه وخت چي په جاهليت او بدويت کښي يې عمر تېراوه او له هر ډول مدنيت او حقارت نه لري پراته وو د خپلي ژبي د عالي ادب په برکت يې د جهان له لويو-لويو پادشاهانو لکه کسرا انوشېروان شو جايزې اخيستي او ورته محترم وو او له عجميانو سره به يې تجارت کاوه او پوره ګټې به يې اخيستې.

همدارنګه د دوی فطري ذکا او تېز ذهنونه د دوی د ژبي له سلاست او ادب سره کومک کاوه او چي په عربو کښي به کوم حکيم او طبيب لکه (حرث بن کلده) پيدا شو د خپلي ژبي د عالي ادب او لوړي سرشاري ذکا په برکت به يې وکړای شو چي د متمدن فرس له حکيم سره مسابقه وکړي او ماتي ورکړي. او که به شاعر پکښي پيدا شو که څه هم د ټيټي کورنۍ به و په خپله قبيله، کور او کلي کښي به محترم و او عزت به يې کېده، مال او څاروي به يې ورکول او په دې توګه به يې تجليلاوه او هر څه د اسلامي تمدن په دوره کښي د عربو حال و دا و چي هر چا به چي په شعر او ادب کښي نوم وويست هغه به د وزارت او اميرۍ درجې

ته رسېده او تقدير به يې کېده او هغه کسان چې له خلفاوو او سلاطينو نه د جايزو په اخيستلو بريالي شوي دي تر شمار لاندي نه راځي. دا و د ژبې د آدابو ځيني هغه مادي تاثيرات چې ذکر شول، او هر څه چې د هغې معنوي تاثيرات دي همدومره بس دي چې د قومونو تيت او پرک افکار سره راغونډوي او يو قوم د وياړ لوړ منزلت ته رسوي. او موږ ډېر هغه دولتونه ليدلي دي چې هيوادونه يې پرديو غصب کړي خو چې خپله ژبه يې ژوندۍ ساتلې وي له لاسه يې شوي دي چې خپل هيوادونه بېرته په لاس راولي، او د دې خبري عامل تر هر څه لومړی ژبه ده او که خپله ژبه بايلي او هېره يې کاندي هرومرو به خپل تاريخ له لاسه ورکړي، خپله لويي به هېره کړي او تر ماشاالله پوري به حيران پاتې شي.

## په سلبي او ايجابي حالت کښي د جمال الدين د اقناع قوت او په دې باره کښي د ده مزيت

جمال الدين له لويو علماوو څخه و او په منطق کښي امام او پېشوا و او له جدل او دليل ويلو سره يې مينه درلوده او د سفسطي پر ټولو اړخونو باندي يې احاطه لرله تر څو چي په معارضه کښي دخيل مقابل طرف له خوا مات نه شي، او لکه چي دمخه مو وويل د قوي حجت او برهان خاوند و او د اقناع دومره قوت ورکړی شوی و چي انسان به خيال کاوه چي د ايجاب او سلب په دواړو حالاتو کښي د اقناع قدرت او توان لري او هره خوا (مثبته او که منفي) چي ونيسي مقابل طرف وچ کلک ودروي. او د دې خبري سبب دا و چي سيد جمال الدين له دې نه علاوه چي د پوره حکمت، قوي ذکا او وسيع ذهن خاوند و او د بشري اخلاقو په باره کښي يې پوره معلومات درلودل او د نړۍ د مختلفو اقاليمو او سيمو له ملتونو سره يې اختلاط پيدا کړی و او د هغو بحثونو په باره کښي د قوي ملکې خاوند و چي ده ته به وړاندي کېدل په اجمالي توګه يې د عربو، ترکو، فارسيانو او اروپايانو پر اخلاقو هم احاطه درلوده او د هغوی په مقصدونو پوه او په طرز تفکر يې خبر و او ډېر کوښښ به يې کاوه چي د قومونو ښه-ښه شيان، ښه-ښه دودونه او رواجونه ځانته معلوم کړي او په خپله ذاکره کښي ځای ورکړي لکه چي د هغوی بدۍ او خطاګاني به يې هم په زړه کښي اچولې. د افرادو په باره کښي يې هم همدغه عادت و، حتی د خپل خادم د حرکاتو مراقبت به يې هم کاوه او هره ورځ به يې د ده اعمال تر کتني لاندي نيول، او

کله چې به يې د هغه حسنات او ښېګڼې بيانولې اورېدونکي به خيال کاوه چې دا يو کامل او پوره انسان دی او چې په بدۍ به يې پيل وکړ نو بيا به يې دومره ټيټ معرفي کړ چې تا به ويل چې تر ده ټيټ او لئيم انسان خدای پيدا کړی نه دی. او د سيد جمال الدين په کنفرانسونو، خبرو او د مخاطب په قانع کولو کښې د استحسان او استهجان په دواړو حالتونو کښې دغه شان شيان ډېر ليدل شوي دي چې د يوه شخص او يو څيز په باره کښې به يې داسي څه ويل چې انسان به حيران ورته پاتې کېده او يو سړی به يې کله دومره لوړ معرفي کړ چې تا به ويل چې تر ده پورته انسان نشته او کله به يې دومره راټيټ کړ چې تا به ويل چې تر ده ښکته انسان پيدا شوی نه دی، حتی ځينو خلکو به داسي ګومان کاوه چې دا د جمال الدين له خاصو مواهبو څخه دی. او کله چې دغه خبره ورته ياده شوه ده وويل چې دا له مواهبو نه ګڼل کيږي ځکه چې هر څه دوه طرفه او هر انسان دوه اړخه لري چې هم قبيح صفات لري او هم ښې مزاياوې. او په اشخاصو باندې حکم کول او لا د هغو په باره کښې څه ويل د زمان او مکان، موقف او د ويونکي د رغبت په اختلاف، اختلاف مومي. يو وخت نبي(ص) امر وکړ چې ابوسفيان د غره په پزه وتړئ تر څو چې د خدای لښکري پرې تېري شي او له پښو يې لاندې کړي، چې په دغه وخت کښې د دغه تحقير او تذليل وړ و او بيا بل وخت په خپل ځای او خپل وخت کښې د قريشو له لويانو څخه و او بيا چې ابو دجانه د قريشو د قتال دپاره د مبارزې ميدان ته ور روان شو او په تبختر او نخره روان و رسول(ص) وويل چې (د ابو داسي تګ دی چې له دغه ځای نه پرته يې خدای نه خوښوي).

همدارنګه کوم وخت چې يوه فقير صحابي له ډوډۍ سره سرکه ورته وړاندي کړه ده وفرمايل: (سرکه ډېر ښه کتغ دی) او چې يوه ورځ يوه بډای صحابي له ډوډۍ سره سرکه ورته وړاندي کړه هغه ته يې وويل چې: (سرکه ډېر بد کتغ دی) نو په يوه څيز باندي حکم کول د وخت او مکان تابع وي او د هغه په اختلاف اختلاف مومي. د سيد جمال الدين له صفاتو نه يو دا و چې د چا په مدح کښي به يې مبالغه نه کوله او نه به يې د چا مذمت او قدح پرله پسې کوله بلکي ده په دغه باره کښي خاص اسلوب درلود چې تر ده پوري مختص و. د مثال په توګه: يوه ورځ د ده په مجلس کښي د مصر د يوه مشهور اخبار والا يادونه وشوه چې له حاضرينو نه څينو د ده بدي ويله او چا ښه ستايه، تر دې پوري چې ټولو ده ته مخ راواړاوه چې دی يې فيصله وکړي، هغه و چې ده همدومره وويل چې: (نوموړی پيشو ته ورته دی) او ټولو قناعت وکړ، هم مستحسن او هم متهجن هم مادح او هم قادح. يوه ورځ له يوه عالم سره د سيد جمال الدين بحث او جدل شروع شو هغه وويل چې: (په امکان کښي تر هغه څه بهتر نشته چې وجود ته راوتلی اوسي) جمال الدين مقابل طرف ونيو او ويې ويل چې: (په امکان کښي تر هغه څه بهتر شته چې موجود شوی وي) مثلاً موږ په خپلو سترګو لري شيان ښه نشو ليدای او دوربينونه او عينکي استعمالوو، نو که زموږ د سترګو کسي قوي او نوراني انعکاسات شديد وای نو دا به تر دې ښه و چې موږ يو او د نظر د ضعف له کبله لري شيان نشو ليدای. نو بيا دغه شيخ وچ ودرېد او ځان يې پړ وباله او د جمال الدين د برهان رد يې ونشو کړای او چې مجلس پای ته ورسېد ده خپلو ملګرو ته وويل چې شيخ سفسطه راواخيسته او په هماغې سفسطې ملامت شو او که ده ويلي وای چې د عينکو او

دوربينونو د استعمال فايده دا ده چي يوازي لري شيان پرې ليدل کيږي او که د نژدې شيانو دپاره استخدام شي نو ممکنه نه ده چي انسان يو توری ولوستی شي او لا څه شي وليدای شي. يعني ده کولای شوای چي په ناحقه هم خپل خصم ملامت او پړ کړي.

## په مخاطب کښي د ده د خبرو تاثير او دا چي څنګه به يې يو ټنبل سړی لويو کارونو ته سماوه او بې زړه خلک به يې جسورول

يوه ورځ د ترکانو يو لوی اديب او د عثماني دولت سفير د جمال الدين کور ته راغی او په خپله بدحالۍ يې ورته وژړل چي معاش يې نه ورته رسيږي او سخت ګيري ورسره کيږي او ادبي آثار يې مصادره کيږي او داسي نور. ده د خپل عادت له مخي هغه تشجيع کړ او ورته ويې ويل: چي د ذلت له وره ننوتل له ذلت نه پرته بله نتيجه نه لري او د شرقيانو دا عادت دی چي د فقر له ويري په فقيرۍ کښي اوسي او د مرګ له ډاره مړه دي. نو بنا پر دې د سلطان ور د استفنا په تازيانه ووهه او د همت ځادر واغونده خپل اواز پورته کړه او د هغو غاصبانو په فرش قدم کېده چي د سلطان د قرب په وجه يې د خلکو مالونه غصب کړي او چړچې پرې کوي او بيا څه شی چي غواړې په لاس به درشي، خو په دې شرط چي خپل دغه کار ته دوام ورکړې ځکه چي په مواظبت او دوام کښي د موفقيت او کاميابۍ راز پټ پروت دی. او بيا دغه سړی د جمال الدين له مجلس نه ووت او يوه ټوټه غيرت او حماست شوی و او د هغه خبرو ډېر تاثير پرې کړی او نوی روح يې پکښي پو کړی و نوموړي سمدستي د همايوني دربار ته لاړ او په داسي تنده لهجه يې يو خط ورته وليکه چي پخوا تر دې يې نه ليکه او چا ته چي د دغه سړي د اخلاقو حقيقت او شخصيت معلوم و باور يې نه راته چي دغه ليک به د دغه سړي اوسي. خو اعليحضرت سلطان د دغه ليک له لهجې نه او دا چي د ده جاسوسانو به د هغو خلکو اطلاع ورکوله چي سيد جمال الدين ته به تله راتله په

دې وپوهېد چي دغه ليک خپله د کاتب له کيسې نه راوتلی نه دی بلکي د سيد جمال الدين له تلقيناتو او سحري افسونونو نه دی نو بيا يې سيد جمال الدين خپل حضور ته راوباله او اوږد مجلس يې ورسره وکړ او په دغه ترڅ کښي يې هغه کسان ياد کړل چي د سيد دوستان دي او د دې پر ځای چي يو څه انتظار وباسي او لوړو منصبونو ته ورسيږي شکايت او بې صبري کوي په دغه ترڅ کښي يې د نوموړي سړي نوم هم واخيست. نو سيد جمال الدين پوه شو چي د سلطان مطلب دا دی چي دی دغه خلك دغسي جرئت ته لمسوي او د ده په لمسه دغسي شديد او سخت ليکونه سلطان ته استوي. په پای کښي سلطان سيد ته وويل چي: ګومان کوم چي نوموړی سړی کله ناکله، تا ته درځي او درسره ګوري سيد ورته وويل چي هو کله-کله راځي. نو بيا سلطان ورته وويل: که دي وليد ډاډ ورکړه چي ما د ده معاش ورزيات کړ او امر مي ورکړی چي پخواني پاتي معاشونه يې هم ورکړي خو دا نصيحت هم ورته وکړه چي بې صبره نه اوسي او هر څه پر خپل وخت کيږي. نو کوم وخت چي د سلطان له حضور نه ووت او د تشريفاتو د رييس خوني ته ننووت ويې ليدل چي نوموړی سړی هم هلته ناست دی او د سلطان د مهربانۍ او التفات زيری يې ورکړ او ورته ويې ويل چي دا کيسه هم راځخه واوره: (وايي چي يو وخت يو سړی د چا کاله ته لاړ او خپله ببوسي او بې وزلي يې ورته وژړله، او دا چي دی له هر څه نااميده شوی او لار وچار ترې ورکه ده، که دی يوه لار ورته وښيي او د ده په لارښوونه خپل مطلب ته ورسيږي. نو بيا دغه سړي ورته وويل چي په فلاني ځای کښي يوه خزانه ده او يو لښده واخله او غشی ووله او په هر ځای چي وښت هغه ځای وکينده او هغه خزانه به ومومې. دغه سړی لاړ او خپله لښده او غشی يې واخيست

او په ډېر زور يې د لېندي مزی راښکو او په شدت يې غشی وويشت  او ښه ډېر لري لاړ او په يوه ځای وموښت نوموړی سړی هغه ځای ته ورغی او ويې کينده خو هيڅ شی يې ونه مونده او بېرته راغی او هغه سړی يې تر ملامتۍ لاندي ونيو او ورته ويې ويل چي تا زه وغولولم. نو تا اې ملګريه! خپل غشی له لزوم نه په ډېر شدت وويشت او که دي خپل غشی لږ څه په ورو ويشتلی وای پر ښه به ښه لګېدلای وای.)

دغه اديب په نرمه او لنډه توګه جواب ورکړ: حضرت سيد! زه له دغو خزانو نه تر هغه څه زيات نه غواړم چي زما غشی پرې لګېدلی اوسي.

## سيد ته د سلطان له خوا د هغه د قصر

## له وينځې سره د ازدواج پېشنهاد او کومې خبرې چې په دغه باره کښې د دوی تر منځ ردې بدلې شوې او د واده د حکمت په باب د ده خبرې او د نر او ښځې د مساوات په باب د ده نظريه

جمال الدين درست عمر په تجرد تېر کړ او تر پايه پورې ښځې ته ورنژدې نشو، او هر وخت به چې ده ته چا د اولاد له ډېروالي، تنگدستۍ او بېوزلۍ نه شکايت وکړ ده به د خپل توان په اندازه مرسته ورسره کوله او ورته ويل به يې چې ووايه: (د دې دپاره چې خپله ملا سپکه کړمه خپل پېټی مې دروند کړ).

يوه ورځ سلطان خپل ايلچي سيد ته واستاوه چې خبر يې کاندي چې سلطان د خپل قصر يوه ښکلې وينځه ده ته ورلېږي چې واده ورسره وکړي، سيد له دغې خبرې نه منع راوړه او دغه تکليف يې په عجيبه توگه رد کړ چې بيان به يې وروسته راشي. نو بيا ده ته وويل شو چې بنا پر دې ته د ابوالعلا مذهب تاييدوې چې وايي: (دا زما د پلار گناه وه چې پر ما يې وکړه، او که نه وي نو ما پر چا تېری نه دی کړی) ده په جواب کښې وويل چې هيڅکله داسې نه ده، زه باور نه کوم چې ابوالعلا به دغسې ويلي اوسي او نه صحيح ده چې د ابوالعلا غوندې حکيم ته د دغسې خبرې نسبت وشي، ځکه چې دغه خبره د حکمت منافي ده او مناسب نه دی چې په دغسې خبره استدلال وشي. ځکه چې دا به څنگه د يوه هوښيار سړي دپاره صحيح شي چې تاهل او ازدواج جنايت او گناه وبولي او که وويل شي چې په ځينو وختونو کښې د نتيجې له مخې

یو معنوي جنايت بلل کيږي چې نااهل فرزند وزېږوي نو بيا به په دې صورت کښې چې حکيم زوی لکه ابوالعلا شو ترې پيدا شي څنګه به صحيح اوسي؟ او که پلار يې واده نه وای کړی دی به څنګه پيدا شوی و، چې دی بيا د جنايت نسبت خپل پلار ته کوي چې نه په عقل برابرېږي او نه په نقل. او څوک دی چې له دې نه منکر شي چې د انساني نوع بقا او د عمران د حکمت کاملېدل يوازې په ازدواج او تناسل سره کېدای شي. او هر څه چې د واده حکمت او د هغه شرط شو په قرآن کښې په واضحه او صرېحه توګه ښودل شوی دی، ځکه چې هلته دا قيد راغلی دی چې څوک چې له بې عدالتۍ نه وېره ولري بايد يوه ښځه وکړي، او دا خبره د دې مجال ورکوي چې که څوک پوهېږي چې يوه ښځه هم ساتلای نشي او د حقوقو رعايت يې نشي کړی بايد يوه هم ونه کاندي، او دا تر هغه وخته پورې عقلي نتيجه ده څو چې انسان د عقل تابع اوسي او په حق او عدالت خوله خوځوي. او هر څه چې زه يم د زوجيت د حکمت په غوښتنو چې له عدالت نه عبارت دی ښه پوه يم او په دې هم پوه يم چې زه د ازدواج له باج نه وتی نشم او د دې دپاره چې د بې عدالتۍ مرتکب نشم دامي غوره کړه چې ښځه ونکړم او مجرد ژوند وکړم تر څو چې د بې عدالتۍ په وجه ظالم نشم. نو بيا د ده خاص طبيب چې اصلاً يهودي و ده ته وويل چې بنا پر دې آيا د بې عدالتۍ له وېرې انسان ته روا ده چې د طبيعت مخالفت وکړي؟ سيد موسکی شو او ورته ويې ويل: (طبيعت تر تا ښه پوهېږي او خپل تدبير په ښه شان کولای شي او هر چا چې هر څه پرېښودل د هغه پرته به هم ژوند وکړی شي) په دغه وخت کښې موږ جمال الدين ته وويل چې د سلطان مالي درکړي منې نو ولې يې د يوې ښکلې ښځې درکړه نه منې؟ ده وويل: (هر څه چې

مال دی چي ما ته يې راکوي زه په خپل اجتهاد د هغه لپاره داسي څه پيدا کولای شم چي د هغه په صرفولو ادا ماوجب وکړم، او هر څه چي له ښکلي ښځي سره واده کول دي زه ځان د هغې سيال نه بولم او نه يې ولي يم چي د هغې د سيال په باره کښي فکر وکړم.)

او بيا يې په دغه باره کښي د سلطان استازي ته وويل: که چيرته سلطان پر دغه کار باندي ما مجبوروي او اصرار کوي نو هرومرو به ما د خصياتو له ډلي وګوري او بيا به په راحت شي او بيا به له ما سره له دغسي زيات احسان کولو لاس واخلي او په ټينګه ورته ووايا ست چي که سلطان ډېر اصرار لري زه به خپله تناسلي آله پرې کړم. نو کوم وخت چي د سلطان استازي له جمال الدين نه دغه جواب واورېده د سلطان پېرزوينه يې په دغه توګه رد کړه هک پک حيران پاتې شو او په تعجب سره بېرته ستون شو. او تر کومه ځايه چي زموږ خيال رسېد سيد ښه وکړه چي دغه خبره يې رد کړه، ځکه چي د سلطان عبدالحميد له خوا د نورو مقصدونو دپاره و نه دا چي مخلصانه اوسي، د هغه غټ قصد دا و چي د سيد پښو ته د عايلې زولنې ورواچوي نه بل څه او وروسته له هغه چي د دغې خبري ګونګسی خاموش شو موږ له سيد نه پوښتنه وکړه چي که تا د سلطان پېشنهاد منلی وای او ښځه دي کړې وای تا به له خپلي ښځي سره د آينده ژوند نقشه څنګه طرح کړې وای؟ او د نر او ښځي د مساوات په باره کښي ستا عقيده څه ده؟ ده وويل: زه به ډېر خوشحال شم که زما د ازدواج په باره کښي ستاسي (فرض) (نفل) او په حقيقت کښي (لغو) شي تر څو چي د نقشې، نقشو له طرح کولو نه خلاص شم.

او راغلو د ښځي او نر د مساوات او د حجاب د ليري کولو او د هغې د حقوقو مسئلې ته، دغه خبري څو واري زما غوږونو ته رسېدلي او

په دغه باره کي مي ډېري مقالې او رسالې لوستي دي، او له تاسي نه يې څه پټ کړم چي ما په دغو ټولو مقالو کښي يو صريح مطلب لوستی نه دی او نه مي د مساوات تحديد نظر ته راغلی دی او نه مي هغه څه په کښي ليدلي دي چي د حجاب د لري کولو غايه وښيي او لا هغه فايده او ګټه څرګنده کړي چي د حجاب په لري کولو مرتبه اوسي او لا د هغه له وروسته راشي. زما په نزد مخ لوڅي څه ګناه نه لري خو چي فجور ته منجر نشي زه ګومان نه کوم چي د ښځي او نر تر منځ د مساوات په باره کښي د شرق د نوو ځوانانو او لا د هغوی د فرنګي مآبانو د ګونګسي مقصد به په اصل خلقت کښي د نر او ښځي تر منځ مساوات اوسي، ځکه چي دغه کار مشکل څه چي محال دی. نو که له همدې لحاظ نه دغه امتناع صحيح اوسي له دې نه پرته بله لار نشته چي ښځه به ښځه او نر به نر اوسي. او که مقصد يې په فطري مواهبو کښي مساوات اوسي، دا هم تر اکتسابه پوري اړه لري، نو که شاعر او شاعره فطرتاً ښه تخيل، عالي خيال او ښه سليقه ولري او په دغه لار کښي تحصيلات وکړي دواړه ښه شاعران کېدای شي او په شاعری کښي به نوم وباسي، او که يوازي د خليل د اوزانو مراعات کوي نو يو وازن به هغه وي او يوه وازنه به دا وي. او هر څه چي نور علوم شول چي په تعلم او زدکړه حاصلېدای شي او د خلکو د فطري قابليت او استعداد په تناسب متفاوت وي لکه طب، فلاحت، صناعت او داسي نور علوم شول نو بيا په دغو علومو کښي ښځي په انهماک او د صناعت دغي معرکې ته د ښځو په ورننوتو کښي نظر شته. ځکه چي انساني ټولني پر دوو ستنو ولاړي دي او لا د ټولنو مکونه عناصر دوه څيزه دي، يوه ښځه او بل نر. نو لومړی به د نر خلقت وڅېړو او مطالعه به يې کړو او د ده د وجود ترکيب به تر څېړني لاندي

ونيسو، په نتيجه کښي به دې خبري ته ورسيږو چې د ده په وجود او غړو او اندامونو کښي هغه څه شته چي په ښځو کښي نشته، چي په دغه باره کښي نه تفصيل او نه علم تشريح ته د مراجعې ضرورت شته او هر څوک پرې پوهېږي همدارنګه په ښځه او د هغې په خلقت کښي هغه څه شته چي په نارينه کښي نشته. او دغو دواړو خلقتونو ته چي موږ ګورو چي کم او زيات لري نظر فطرت ته نه نقصان بلل کيږي او نه کمال. ځکه چي طبيعت په نارينه کښي هم خپله صنع په پوره توګه پای ته رسولې او د ښځي تکوين يې هم پوره کړی دی (فتبارک الله احسن الخالقين).

دغه تباين موږ ته د دې لارښوونه کوي چي د دغو دواړو جنسونو عملونه له دې کبله چي د تکوين بېل-بېل اسباب او آلات لري بايد متفاوت اوسي تر څو چي هغه نتايج صحيح او مطلوب اوسي چي د دغو مختلفو عناصرو له اعمالو بېرون ته راووزي. نو بيا چي موږ د نارينه کسب او کار ته نظر وکړو ګورو چي د ده ټول علمي او عملي کوښښونه د دې دپاره وي چي د ځان او خپل عيال دپاره يوه ګوله قوت په لاس راوړي او خپل ژوند ته ادامه ورکړي (او يوه کورنۍ هله عايله بللای شو چي له سړي، ښځي او اولاد نه متشکله وي). او دا ښکاره خبره ده چي بسيط ترين قوت (روزي) وچه ډوډۍ ده، او تر څو چي يوه مړۍ ډوډۍ سړي ته په لاس ورځي لسګونه کارونه بايد وشي چي يوه مړۍ ډوډۍ ترې جوړه شي، ځکه بايد وڅيرل او اوبه او وتره شي تر څو چي دانه پکښي وکرله او زرغونه شي، او بيا سپاري، جغ، پالي، سرباښي او غوايانو ته اړه لري او دا هر يو بيا نجار او آهنګر او نورو کسبګرو ته ضرورت لري، او بيا ژرنده، اسياوان ... و... غواړي تر څو چي يې اوړه کاندي او بيا يې ښځه لانده او په تناره کښي يې پاخه کاندي، نو که ښځه له نر سره په دغو

کارونو کښې شريکه شي (او دغه کارونه بايد له کور نه بېرون انجام کاندي) نو د کور د مملکت د چارو اداره او تدبير به څوک پر غاړه واخلي؟ څوک به د طفل روزنه وکړي؟ او د ده د زړه په پاکه لوحه به څوک د شجاعت، فضيلت او فعاليت د رسومو خطوط نقش کاندي؟ پادشاهي اخلاق به څوک پادشاهانو ته وښيي؟ هو دغه کارونه د کور له ملکې نه پرته بل څوک نشي کړای، دغه کارونه له دې پرته کېدای نشي تر څو چي ښځه د کور ملکه پاتي شي نه دا چي په يوه ګړي کښې هم ملکه اوسي او هم پادشاه. هيڅوک نشته چي د ښځي له منزلت او قدرته څه راټيټ کړي او لا يې د خلقت او خلق سپکاوی وکاندي او لا يې د خلکو په نظر کښې مبتذله وښيي مګر دغه مغرور بې عقلان چي غولوي يې او غواړي چي هغه د خپل کور له مملکت نه راوباسي. که موږ فرض کړو چي له کور نه د ښځي په وتلو يو څه فايده هم مرتبه ده خو کوم ضررونه چي د دې له وتلو، د اولاد د تربيې له پرېښودلو او د کور له تدبيره د لاس له ښکلو جامعې او ټولني ته عايدېږي په وارو-وارو له دغې ګټې نه زيات دي. هر څه چي د حجاب دفع ده ماهغه څوک ليدلی نه دی چي رفع يې لازمه ګڼي او لا په دغه باره کښې څه وايي او لا څه ليکي چي داسي يوه خبره يې کړې اوسي چي په دغه کار دغه فايده مرتبه ده. هغه څه چي ما ته ښکاري دا دي چي حجاب يوه پرده ده چي که په ناڅاپه توګه او يودم لري کړای شي غالباً ناوړه عواقب ترې پېښيږي او د فجور او بې باکۍ دپاره زمينه برابروي. او لکه چي مخ کښې وويل شو که ښځي يوازي مخونه لوڅ کړي او فجور ته منجر نشي نو بيا هيڅ خبره نشته او نه کوم دليل ته اړه لري. بيا د جمال الدين دپاره وويل شو چي هغه کسان چي د نر او ښځي د مساوات مدعيان دي او غواړي چي

ښځي له نرو سره يوځای د ژوند په معركه كښي برخه واخلي په دې استدلال كوي چي د اسلام په سر كښي د مسلمانانو ښځو دغسي كړي او له كور نه يې بهر كارونه اجرا كړي دي، بي بي عايشه پر اوښ سپره شوه او د لښكرو تشجيع يې كوله، مبارزه يې كوله او ويناوي يې كولې، همدارنګه د نورو اصحابو ښځو په غزاګانو كښي ګډون كاوه او د زخميانو دارو درمل به يې كول. جمال الدين وويل: دوی عجيبي خبري او عجيبي ادعاګاني كوي، د بي بي عايشې پر اوښ سپرېدل او له لښكرو سره د اصحابو د ښځو ګډون او ملګرتيا ټول استثنايي حالات وو چي نور حالات پرې قياسېدای نشي او نه يوه كلي قاعده كېدای شي چي نوري ښځي هم په هر وخت كښي له كوره ووزي او په دغسي معركو كښي ګډون وكړي. هر څه چي د بي بي عايشې سپرلي وه رسول(ص) د هغې پېشګويي كړې او دغه بده سپرلي يې ياده كړې وه: (د حوشب سپي به ورته وغاپي) (حديث) او په دې كښي څه وياړ نشته چي نوري ښځي هم همدغسي وكړي. پاتي شوه دا خبره چي د اصحابو ښځي جنګونو ته وتلي دي. البته دا كار دهغه د چا دپاره ښه دی چي په كور كښي شل شوې مېره، مور، پلار او اطفال ونه لري، ځكه چي جهاد فرض دی خو د چا په غاړه چي د عيال بار وي ترې مستثنا دی او هم د مور او پلار اجازه شرط او د هغوی خدمت له غزا نه بهتر دی لكه چي په حديث كښي راغلي او د امامانو په سيرت كښي اشاره ورته شوې ده. دا خو د نر په باره كښي حكم و نو د ښځو په باره كښي به حكم څه وي؟ هو! كه د ښځو دپاره څه مانع نه وي او مېره او لا يې زوی او لا يې نور خپلوان واداره كاندي چي له لښكرو سره ووزي او په ښه نيت او پاكه لمن د لښكريانو خدمت وكاندي د هغې دپاره فضيلت او نېكي ګڼل كيږي. لنډه

دا چې دغه حالات استثنايي حالات دي او د دې دليل کېداى نشي چې هره ښځه هر وخت له کوره ووزي او له نرو سره سيالي وکړي او د ژوند سختۍ پر غاړه واخلي او ځان تهلکې ته واچوي، او الهي خلقت او پيدايښت دا له دغه راز تکليفونو نه معاف کړې او له شر نه يې ساتلې ده.
او دا څومره سقيمه رايه او له صواب نه لري خبره ده چې ښځه د مبارزې ميدان ته ووزي اونور ووژني او لا دا ووژل شي او شاعر د دې برخه ورکړې او ور وېشلې ده:
(جنګ او جګړه پر موږ فرض شوې ده او پر ښځو دا فرض شوې ده چې اوږدې لمني ولري.) سيد جمال الدين يو پېشاني واز، خوش خويه او ډېر خبرلوڅ انسان و او هره موضوع به چې د بحث لپاره ورته وړاندې شوه په خلاصه ټنډه به يې خبري کولې او انزجار به يې نه ښوده مګر چې د ښځي او نر د مساوات مسئله به منځته راغله، او خلق تنګى شانته به شو، عصبي به شو او نه به يې غوښتل چې بحث اوږد کاندي بلکي کرکه به يې ترې کوله. خو چې يوه شو چې د ده ډېر مريدان اصرار لري چې په دغه باره کښي د ده په رايه خبر شي نو پلتۍ يې ووهلې او ويې ويل: (په دغه موضوع کښي څه شى له تاسي نه پټ پاتي دى چې څرګندېدل يې غواړئ؟) ورته وويل شو چې استاد ويلي و: (چې اجتماعي هيئت دوه ستني لري، او لا دا چې ټولنه د نر او ښځي پر دوو عاملو ولاړه ده) او ظاهراً له دې څخه دا فهميږي چې دغه دوه عامله په ژوند کښي دوه شريکه دي چې که د يوه سويه لوړه لاړه شي بايده ده چې د بل سويه هم لوړه شي، او لا لږ تر لږه يو د بل د لار خنډ او مانع نشي. نارينه په تدريج سره پورته لاړل او له يوه حالت نه يې بل حالت ته ارتقا وکړه تر څو چې د مدنيت، د علومو او فنونو دغي درجې ته ورسېدل او ښځي جامدي او

ټنبلي پاتي شوې او د نارينه وو درجې ته ونشوې رسېدای، نارينه وو بنديزونه پرې ولګول، د دوی طبيعي مواهب يې ووژل چا د دين په استناد او چا د ښځو د نه کفايت په دليل دوی خامدي او جامدي پرېښودې سره له دې چې په تکويني لحاظ او د طبيعي مواهبو له مخي قوتمندي صحتمندي دي او پوهه په ټولو نرانو کښي هم يو شان نه ده تر څو چي له هغو ځخه د ښځو په محروميت حکم وکړای شو آيا نه ګورې چي يو سړی په زرو ارزي او له زرګونو خلکو نه څه ولاړېدای نشي لکه پښتانه وايي: «سل دي ومره او يو دي مه مره» او څنګه چي د نارينه وو ترمنځ دغه توپير شته همدارنګه ممکنه ده چي د ښځو تر منځ هم موجود اوسي. په تېره بيا چي پر ښځو داسي دوره تېره شوې ده چي له نرو سره برابري وې او يوه سويه يې لرله او هر څه چي د انسان په تکويني برخه کښي د توپير مسئله شوه که موږ دقت وکړو د انساني وجود په رييسه اعضاوو کښي لکه دماغ، سر، اراده او تميز شول د نر او ښځي تر منځ څه توپير نشته او نه مغايرت ورسره لري، په دې معنا چي نر دوه سره او ښځه يو سر ولري او لا د ښځي سر د نارينه د سر په نيمايي اوسي او لا نر څلور غوږونه لري او ښځه دوه غوږونه او کوم تفاوت چي موږ د نر او ښځي تر منځ ګورو هغه د روزني او محيطي شرايطو مولود دی چي نارينه په ټول حريت سره ګرځي او ښځه پر دې مقيده ده چي د کور له چاردېوالی نه وتای نشي او بايده ده چي پوړنی او چادري له ځانه راتاو کړي او په مقيده توګه ژوند وکړي او د دې ټول مواهب بايد په مضيقه کښي اوسي.
بيا دوی خبره پرې کړه او پر مجلس سکوت او خاموشي چوپه چوپتيا راغله. لږ څه وروسته سيد جمال الدين سر راپورته کړ او ويې ويل: آيا نور څه ويل غواړي؟ موږ ورته وويل چي نور څه نه غواړو يوازي په غرب

کښي د ښځي په حال د خپل استاد ملتفتول غواړو. په تېره بيا د (انګلوساکسن) په ملت کښي چي هلته ښځه پر خپله روزنه او تربيت وياړي او د ښځو د ادب او حشمت ستاينه کيږي. په دې وخت کښي جمال الدين وويل چي: تاسي په دغه موضوع کښي د سفسطې له پراخي دروازې داخل شوئ او د مقصد لار درڅخه ورکه شوه، بلکي قضيه مو بالعکس کړه (شايد چي تاسي به دغسي نه غوښته) ځکه چي تاسي د ښځي لپاره له نر سره مساوات غواړئ خو په فايده يې نه پوهېږئ او نه ورته ملتفت ياست، او دا دی د دې د خبري بيان: تاسي وويل چي نارينه په تدريج سره مخ پر وړاندي لاړل او له يوه حالت نه بل حالت ته يې ترقي وکړه تر دې چي دغي درجې ته ورسېدل، او دا چي نر او ښځي يو وخت يو برابر وې او برابره سويه يې درلوده، او دا چي د دوی په خلقت کښي داسي تفاوت نشته چي يو له بل نه متفاوت کاندي نو که موږ دا درسره ومنو بايده ده چي موږ د نارينه وو د نورو له مساعدت نه پرته د خپل پېشرفت دپاره قيام وکړ (او تربيه په دغه مورد کښي دخل نلري) نو زه به له تاسي پوښتنه وکړم چي څه مانع و چي ښځو ونشو کړای چي له نرو سره يو ځای وړاندي لاړي شي او په تدريج سره له يوه حال نه بل حال ته او له يوې مرحلې نه بلي مرحلې ته ځانونه ورسوي، په داسي حال کښي چي ستاسي د وينا له مخي چي يو وخت نرو او ښځو برابره سويه درلوده او د يوه خلقت او حيثيت خاوندان وو. او په نرو کښي چي تاسي د کوم قوت ګومان کوئ چي په هغه نر و ښځي مقيدي کړې نو دا قوت خو به په ناڅاپي ډول پر نرو نازل شوی نه وي بلکي طبعاً به په تدريجي توګه دوی ګټلی اوسي. نو بيا له تاسي نه پرته د ښځو د حقوقو غوښتونکي او له نرو سره د هغوی د مساوات هغه طالبان ما وليدل چي د

تاريخ په مجاهيلو کښي سرګردان ګرځي او د رومان په زمانه کښي او لا له هغې نه دمخه او لا وروسته د ښځو په باب پلټني کوي او په ښځو کښي د اشتراکيت دوره بېرته راژوندۍ کوي او دا هم وايي چي د فرزند نسبت مور ته کاوه شي او په اجباري او ضروري توګه مور ته راجع کيږي او زه دغه اشتراکيت قبيح بولم او ښايي چي د ښځي حاميان او هغه څوک چي د هغوی په حقوقو غيرت خوري هغه ښه وبولي او کوښښ وکاندي چي دغه دوره بېرته اعاده کاندي، خو نشي کړای چي خپل دغه کوښښونه او هيلي برالا کاندي او لا له هغه حق نه خجالت باسي چي نه يې پتهولی شي او نه يې روښنايي له منځه وړای شي.

هو! دوی د ښځي د اشتراکيت عصر يادوي او ښايي چي دوی له دې څخه دا نتيجه اخيستل غواړي چي په دغه وخت کښي ښځي يو لوړ مقام درلود (خو غير کريمانه) ځکه چي د اولاد د نسبت ارجاع مور ته کېده او د اولاد او د مور سيطره يې د اولاد د ماما پر غاړه وه (او دا ډېره بده نتيجه ده چي دوی يې اخلي او ډېر بد څيز دی چي وايي يې). موږ ته عقل دا لارښوونه کوي چي انسان په خپلو تحولاتو کښي بايد داسي وي چي مضر پرېږدي او مفيد په لاس راوړي، هغه څه چي مناسب او اصلح اوسي په هغه عمل وکړي او له غير مناسب نه ځان وژغوري، او دا کار څنګه چي په ضناعاتو او اجتماعياتو کښي د تطبيق وړ دی همدارنګه په اخلاقو کښي هم تطبيقېدای شي. انسان ځکه د تېري له دورې نه د اوسپنې دورې ته ورننووت چي دغه يې له هغې ګټوره بلله نو آيا دا معقوله ده چي اوسپنه پرېږدي او بېرته د تېږي دورې ته لاړ شي؟ آيا دا جايزه او معقوله ده چي پر شا لاړ شي او له تېږي نه وسيله جوړه کړي چي په واقع کښي په وارو-وارو يې له اوسپنې څخه اثر کمتر او

محدودتر دی؟ نه، هيڅکله به انسان داسي ونه کړي. نو بنا پر دې دا هم صحيح او جايزه نه ده چي انسان د ښځي په مورد کښي پخواني عصر ته رجوع وکړي، هغه عصر او هغه ذهنيت چي انسان د دې دپاره پرې ايښی دی چي تر هغه يې بهتر موندلی دی او له دغي جملې نه په ښځو کښي د اشتراک مسئله ده چي له زنا او فحشا نه پرته بله معنی نه لري او تل د روحي او جسمي عللو او امراضو سبب ګرځي. هغه کسان تر دې هم خطاوتي دي او له سمي لاري منحرف شوي دي چي وايي نارينه نه د بدويت په زمانه کښي او نه د مدنيت په دوره کښي يوازي په خپل سر دغي درجې ته رسېدلی نه دی بلکي چا چي مساعدت ورسره کړی او دغي درجې ته يې رسولی دی او د طفوليت پر پاکه لوحه يې د فضيلت خطونه او نقشونه کښلي دي مور (ښځه) ده نارينه په خپلو ټولو آثارو کښي د مور د صنع مرهون او مديون دی. چي هر څه کښي له مور نه پند اخلي، د مور شاګرد دی او د مور د تربيې مرهون ګڼل کيږي خواه په صلاح لوی شي او که په بدبختۍ ورسيږي. نو چي مورې پوهېږو چي مور د اولاد په روزنه کښي دغه تاثير لري او پر ده لازم دی چي دغه وظيفه پای ته ورسوي او دغه راز تکليفونه له دې نه پرته بل څوک پر غاړه اخيستی نه شي نو بيا به څنګه صحيح وي چي دغه حق ترې سلب کړی شي او لا دې ته راوبلله شي چي هغه پرېږدي او پر هغو کارونو بوخته شي چي دې ته فايده او ګټه نه رسوي او ټولنه ترې متضرره کيږي او د ټولني سر پښو ته راولي او پر بل مخ يې اړوي. زما په خيال هغه څوک چي د نر او ښځي د مساوات مدعي وي او غواړي چي ښځه پر هغو شيانو بوخته شي چي د هغو دپاره پيدا شوې نه ده او له هغو کارونو نه يې لاس باسي چي د هغو دپاره پيدا شوې ده په واقع کښي غواړي چي

د وجود حکمت او فلسفه ماته کړي، هغه حکمت چې د هغه په اثر وجود، وجود او کون، کون شوی او اجتماعي هيئت ترې جوړ شوی دی چې هغه د (نر او ښځې) له دوو عاملانو نه عبارت دی. دوی غواړي چې له دوو شيانو نه يو څيز جوړ کړي او کومه نتيجه چې دوی په نظر کښې لري هغه دا ده چې په دې جهان کښې بايد له نارينه نه پرته بل څوک نه وي او لا يوازي ښځه اوسي، دا په دې صورت کښې چې د نر او ښځې تر منځ مساوات پيدا او دواړه پر يوه لار روان شي، په دې معنی چې هر يو له دوی څخه طبيب، دوا فروش، مهندس، فلاح، خياط، نجار، حاکم، نماينده او قايد شي، او هر وخت چې انساني ټولنه دغه حد ته ورسېده نو بيا به موږ مور (ښځه) له څه کړو، هغه مور چې مړونه روزي، د فضيلت شيدې ورکوي او نوابغ په غېږ کښې لوبوي، نو که مور(ښځه) پر دغه راز مشاغلو بوخته شي چې يوه ګړۍ هم ترې وزګارېدی نه شي او هيڅ فرصت نشي موندای چې د کور او کهول غم وخوري او لا د خپلو اطفالو او ماشومانو د خوراک څښاک سرشته وکړي، چې په دې صورت کښې د کورنۍ چاري مختليږي، په داسي حال کښې چې په کور کښې د ښځې کار او وجايب او د خپل اولاد روزنه او د خپل مېړه ژوند ته پاملرنه کول په مراتبو تر دې اهميت لري چې نارينه يې بېرون له کور نه وکوي. که څه هم دقيق او عظيم او ګټه يې زياته اوسي. او د ښځو لويه فاضله ښځه هغه ده چې خپل کورني وظايف انجام کاندي او د کور د چارو تدبير او د خپلو ماشومانو روزنې ته پاملرنه وکړي او هره ښځه چې د خپل کور فرايض ادا کاندي او له عهدې يې ووتی شي په علم او عمل کښې له نر نه بهتره او مرجحتره ده. او لکه چې دمخه وويل شو چې (له ښځې نه پرته بل څوک نشته چې د

ټولني دپاره مړونه تهیه کاندي) دا یوه داسي لوړه مرتبه او منزلت دی چي دې ګڼلی دی او نارینه نه دی ورکړی، ځکه چي ښځه په دغه باره کښي تر نر لوړه ده، بلکي دغه مقام او منزلت طبیعت ورکړی او نر یې ترې محروم کړی دی. دغه مرتبه تر هغي لوړه ده چي ښځه یې د نر دپاره خیال کوي او فکر کوي چي نر له دې کبله لوړه مرتبه لري چي مهم کارونه کوي او د صنعت لاس لري او په حقیقت کښي دغه کار د ښځي مرتبه نه راټیټوي بلکي مرتبه او منزلت یې هغه وخت ټیټیږي چي له نر سره یو شي. لنډه دا چي د ښځي قوت د دې په ضعف کښي او د نر فضیلت د ده په قوت کښي دی او زما په عقیده د یوه مزیت او فضیلت بل ته ورکول د فطرت له حکمت نه لري او پر طبیعت لوبي کول دي.

## د مصر له پادشاه عباس حلمي سره

### د جمال الدين ملاقات او د جاسوسانو له خوا د عباسي دولت د مسئلې اختلاق او د سلطان عبدالحميد له خوا دغې مسئلې ته اهميت ورکول، او څه شی چي له دغي قضيې نه پېښ شول

يو وخت عباس حلمي د مصر خديو آستانې ته راغی او د سيد جمال الدين شهرت په مصر کښي لوړي درجې ته رسېدلی او ده اورېدلی و کومه خطابه چي ده هغو مصريانو ته ورکړه چي له خديو سره راغلي وو د ده غظمت يې د خديو په نظر کښي لا زيات کړ او ده خپله دغه خطابه داسي شروع کړه:

«ډېر مو ښه وکړه چي د خپل هغه خليفه د ليدو او زيارت لپاره راغلئ چي اسلامي تيت او پرک مملکتونه يې سره يو کړي او شرقيانو ته يې د غاصبينو او استعماري طامعينو له شر او ضرر نه نجات ورکړی دی.» د ده ټولي خبري دې ته متوجه وې چي خلک يې د خلافت له مقام سره په ارتباط ساتلو واداره کول او د نهضت دپاره يې لمسول او هغو خطرونو ته يې ملتفت کول چي اسلامي مملکتونه ورسره مخامخ وو، او دغه مطالب يې په خپل هغه طلاقت، فصاحت او بلاغت افاده کول چي ده ته خدای ورکړی و. نو يو خديو حلمي ته دغه خبري ورسېدې شوق ورغی چي له سيد جمال الدين سره له نژدې وګوري او خبري ورسره وکړي او د ملاقات غوښتنه يې وکړه، خو چي دغه کار د سلطان تر اجازې پوري موقوف و نو ځکه په دغه باره کښي له سلطان نه اجازه

وغوښتل شوه، هغه و چې سلطان منع راوړه بلکې د خپل استازي په وسیله یې په الحاح سره له جمال الدین نه وغوښتل چې دغه کار ونکړي، او له دغه ملاقات نه ډېر ووېرېده او ویې غوښته چې دغه ملاقات عملي نه شي. جمال الدین د تشریفاتو د رییس په خونه کښې د خلکو په مخ کښې د سلطنت استازي ته په جار سره وویل چې زه د یو بندي مېلمه په حیث د خپل کوربه (جلالتمآب سلطان) په کور کښې بندي یم، خو زه هره ورځ د کاغذخانې په بڼ کښې هواخورۍ ته ځم او هر څوک کولای شي چې هلته له ما سره وګوري. په دغه ترڅ کښې یوه ورځ سید جمال الدین په دغه بڼ کښې د یوې تپې پر سر یوازې ناست و چې ناڅاپه د مصر خدیو ښکاره شو چې یوازې د ده پر لوري راروان دی، عباس حلمي (د مصر خدیو) خپله ګاډۍ او خپل مهماندار لرې پرې ایښی و، چې سره مخامخ شول خدیو سلام پرې واچاوه (السلام علیکم) او سید یې ځواب ورکړ. (علیکم السلام) او پوښتنه یې ترې وکړه چې ته څوک یې؟ خدیو ځواب ورکړ چې: (ستاسو مخلص عباس حلمي) او بیا یې خپله هغه مینه او علاقمندي یاده کړه چې له ده جناب سره یې لرله او ویې ویل چې بېشکه چې تاسې په شرق کښې د خپلې زمانې له لویو حکیمانو څخه یاستئ او شرقیان ستاسې په وجود او ستاسې په امثالو وياړي، او دغه شان دوستانه خبري د دوی تر منځ ردي بدلې شوې او د جمال الدین په نسبت یې دوستانه احساسات څرګند کړل. خبري په دې توګه پای ته ورسېدې چې خدیو پېشنهاد ورته وکړ او خپله علاقه یې څرګندنه کړه چې دی ښه ګڼي که سید د ده په وخت کښې مصر ته تشریف راوړي او په مکرر ډول یې له ده سره د مصریانو د زړونو مینه او علاقمندي یاده کړه. په دغو خبرو کښې نه ضمناً او نه صریحاً پر سیاست

څه خبري وشوې بلکي په کلي ډول دوستانه شخصي صحبت و چي دواړو سره وکړ. خو دغه ملاقات جاسوسانو ته فرصت په لاس ورکړ (شايد دهر نه غوښته چي د اعليحضرت خديو عباس حلمي او جمال الدين افغاني په څېر شخصيتونه پر يوه غونډۍ يوازي سره کښېني او خبري سره وکړي). نو همدا و چي جاسوسان په سلطان راتوی شول او خپلي اطلاعګاني يې ورته وړاندي کړې چي تر ټولو مهمه خبره چي دی يې ولړزاوه دا وه چي (جمال الدين له خديو سره لوړه وکړه چي د ده دپاره (عباسي دولت) تاسيس کاندي او له خديو نه يې د تامين تعهد واخيست چي که په دغه کار کښي بريالی شو دی هېر نه کاندي او هغه څه ورسره ونه کړي لکه چي عباسيانو له ابومسلم خراساني سره وکړل[1] او دا چي سوريه د مصر لازم او ملزوم دی او د عراق ور بلل کيږي او بايده ده چي له مصر سره وتړل شي.) په همدې توګه ډېر تومتونه يې پوري وتړل تر څو چي له دربار نه يو څه بخششونه په لاس راوړي او د روزۍ دپاره نوې وسيله پيدا کاندي. په تېره بيا هغو کسانو چي افترا او تومت يې د روزۍ يوازنۍ لار وه او له دغې لاري نه يې خپل ژوند تاميناوه. که څه هم دغه تومتونه به د يوه مسافر او پردېس سياح په نسبت وو او له وړې خبري نه به

[1] د ابو مسلم خراساني قصد داسي و چي د عباسيانو په لمسون يې په خراسان کښي د امويانو پر ضد قيام وکړ او د عباسيانو دپاره يې بيعت واخيست او قوي لښکر يې برابر کړ او له ډېرو خونړيو جګړو نه وروسته پر دې بريالی شو چي اموي لښکرو ته ماتي ورکړي او په ١٣٢هـ کال کښي يې د اسلامي خلافت واګي په لاس ورکړې او ابوالعباس سفاح د عباسيانو لومړی خليفه د خلافت پر کرسۍ کښېناست. او چي هغه وفات شو د هغه ورور ابوجعفر منصور د خلافت پر کرسۍ پلتۍ ووهلې او لږ څه وروسته يې ابومسلم خراساني په خپله وواژه، ځکه چي ده خيال کاوه چي څنګه چي يې وکولای شو چي خلافت موږ ته راکړي همدارنګه کولای شي چي د خلافت واګي زموږ له لاسه وباسي. (ارشاد)

يې دومره څه جوړ کړل چې سلطان به يې په وېره کښې واچاوه او د هغه وجود به يې د مملکت دپاره خطر باله او د سلطان او د هغه د تخت دپاره به يې آفت معرفي کاوه، نو ځکه به سلطان خپل احتياطي اقدامات کول او په دغه لار کښې به يې ډېر مالونه لګول چې سړی به ورته حيرانېده. او بيا د دربار ډلي-ډلي خلك به د جمال الدين کور ته راتلل او راز-راز خبري به يې ورته کولې او چا به ورته ويل چې له خديو سره د ده تړون له سلطان سره د بيعت کولو منافي دی او هغه ماتوي. عجيبه لا دا ده چې هر وخت به چې په دغه باره کښې څه ويل کېده داسي به برېښول کېده چې دغه اطلاعات صحيح دي او سلطان ته ثابت شوي دي چې ده له خديو سره دغسي تړون کړی دی او په دې باره کښې نور هيڅ شك او شبه پاتې نه ده (وانهاوقعت الواقعة ليس لوقعتها دافعة) او جمال الدين د دغو ټولو خبرو په مقابل کښې نسبت بل هر وخت ته خون سرده او زړه يې پر ځای و او چورت به يې هم نه خراباوه خندل به يې او جواب به يې نه ورکاوه تر څو چې به د سلطان استازيو خپله وظيفه پای ته ورسوله او دومره به يې ورته وويل (له دې نه زيات څه ويل نه غواړې ؟) که به يې وويل چې نه نو بيا به يې د هارون رشيد هغه جمله راوړه چې کله ناکله به يې ويله (سخ د هغه دی چې موږ نه وي پېژندلی ځکه هغه څوك چې موږ پېژندلی او ځان ته موږ نژدې کړی وي له خوبه مو ويستلی او ورځ مو ور اوږده کړې ده) او بيا به يې د سلطان استازيو ته وويل: (تاسي له خوبه وتلي ياستئ او ورځ مو اوږده شوې ده) او بيا به يې دومره ورته وويل چې (که خدای کول زه به د دغو ناحقو تومتونو په باره کښې له سلطان سره وغږېږم). په داسي حال کښې چې د درباريانو له خو راز-راز خبرونه جمال الدين ته رسېدل او د سلطان د غضب عجيب او غريب

**روايتونه به يې ورته راوړل د سلطان ايلچي ورته راغی او هغه يې سلطاني قصر ته وباله. سلطان عبدالحميد څنګه چې د خپلې زمانې له مقتدرترينو او سياستمدارترينو پادشاهانو څخه و(لکه چې د مخه هم وويل شو چې نوموړی ډېر ذکي، ذهين او لوی سياستمدار او داهي و) ډېر نرم خوی او متواضع انسان و او پوره قدرت يې درلود چې خپل مخاطب تر خپل تاثير لاندې راولي او قادر يې کښېنوي، نوموړي ښځکه دا قدرت درلود چې که خپل ټول مواهب يې د مملکت د خير په لار کښې پر کار اچولې وای او بې زړه توب يې له ځانه لرې کړی وای د خپل عصر پر ټولو پادشاهانو به غالب شوی وای او خپل مملکت به يې د لوړې لوړې درجې ته رسولی وای. نو کوم وخت چې جمال الدين له سلطان سره مخامخ شو او سره کښېناستل سلطان له پخوا نه په زياته خلاصه ټنده او بشاشه بڼه د ده هرکلی وکړ او تر خپل څنګ يې کښېناوه او اوږدې خبرې يې ورسره وکړې او د ډېرو چارو په باره کښې ورسره وګړېد. تر دې چې ظاهراً د سلطان خبرې خلاصې شوې او سيد وغوښته چې د تګ اجازه وغواړي سلطان د کښېناستو ست ورته وکړ او بېرته يې کښېناوه او پوښتنه يې ترې وکړه چې (د مصر له خديو سره دې په کاغذخانه کښې ملاقات وکړ؟) سيد ورته وويل چې: (هو! هلته مو سره وليدل) سلطان ورته وويل چې: (خديو ډېره الحاح کوله چې دغه ملاقات صورت ونيسي، خو زه پوه نشوم چې د دغې الحاح او اصرار سبب څه شی و؟ او ستاسې تر منځ څه علاقه شته؟ او زه د دغه ملاقات په نسبت ډېرو اطلاعګانو ډېر په عذاب کړم او راز-راز خبرونه راته راورسېدل او په دغو مخبرينو کښې ځينې هغه کسان هم وو چې ربښتيني دي او زه اعتماد پرې لرم او ټل ما ته صحيح خبرونه راوړي. نو ځکه ما ډېر افسوس وکړ چې ولې دغسې وشو**

او پر تا هم اعتماد لرم او همدغه وجه ده چي نژدې و چي د هغوی په خبرو باور ونکړم ځکه چي پوهېږم چي ته دغسي کار نه کوې.)

جمال الدين ورته وويل چي د اعلاحضرت مولانا سلطان په نظر کښي زما کوم کار ناوړه برېښېدلی دی؟ نو بيا سلطان خپل جېب ته لاس کړ او يو څه پاکټونه يې راوويستل او سيد ته يې ورکړل او ورته ويې ويل چي (دغه ټول کاغذونه دا ښيي چي تاسي دواړو په خصوصي توګه سره ليدلي او د هغو خبرو په باره کښي مو خبري سره کړي دي چي په دغو کاغذونو کښي ليکل شوي دي) سيد جمال الدين وويل چي ما دغه پاکټونه ادباً او احتراماً ترې واخيستل خو له دې کبله چي پوهېدم چي دغه خبري ټولي دروغ دي او د دې لپاره چي د دغو پاکټونو د محتوياتو استخفاف مي کړی اوسي ومي نه لوستل. سلطان په مکرر ډول ورته وويل چي: (مهرباني وکړه ويې لوله او بيا به خبري سره وکړو) ده ورته وويل (حاجت نشته چي ويې لولم) که تاسي پر دې قانع ياست او تصديق کوئ چي ما او خديو يوازي دوه په دوه سره ليدلي او دريم سړی راسره نه و خبره خپله خلاصيږي او حقيقت منځته راوزي. سلطان ورته وويل: (چي هو زه پر دې قانع يم) سيد وويل: آيا له خديو سره له مهماندار نه پرته بل څوک و؟ هغه وويل چي نه، سيد وويل: آيا له هغو خبرو نه چي زما او خديو تر منځ ردي بدلي شوي بل چا څه اورېدلي او بيا يې ستاسو حضور ته ليکلي دي او که نه هغه چا اطلاع درکړې ده چي هلته حاضر نه و؟

په دغه وخت کښي سلطان سر ښکته واچاوه او په فکر کښي لاړ، لږ څه وروسته يې د هغه ليک پلټنه وکړه چي د خديو مهماندار (جسني باشا) ده ته لېږلی و خو چي کاغذ يې پرانيست پکښي ليکلي و: (دوی دواړه له

**خلکو لري په يوه ګوښي ځای کښې سره کښېناستل او پوه نشوم چې څه يې سره وويل). په دغه وخت کښې سيد جمال الدين وويل چې د دغو اراجيفو په بطلان تر دې قوي واضح دليل شته چې مخبر خپله ووايي چې زه له دوی نه لري وم او پوه نشوم چې څه يې سره ويل؟ له دې نه علاوه زه د خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې زما او د عباس حلمي تر منځ دغسې خبري بېخي ونشوې. په دغه وخت کښې اعلاحضرت سلطان وويل: چې ته رښتيني يې او زه باور لرم چې دغه ټول تومتونه، دسيسې د پلاني [1] دي، دی دي د خدای په قار ککړ شي او ډېري ښېراوي يې ورته وکړې. جمال الدين ورته وويل: دا هر يو په خپل باب کښې ښه دی خو نه پوهېږم چې سلطان څله له دغسې دروغو خبرو وېرېږي او مضطرب کوي يې. او زه تعجب کوم چې ستاسې اعلاحضرت سره له دې چې د دغو خبرو په مواردو او مدارکو هم خبر ياست او بيا هم په زړه کښې ځای ورکوي؟ سلطان ورته وويل چې دغو ليکونو او اطلاعګانو ډېر څه په زړه کښې راواچول، او دې ته يې واداره کړم چې اهميت ورکړم خو شکر دی چې اوس زما ټولې شبهې لري شوې بيا يې يوه رقعه راکړه چې دوه بيته پکښې ليکل شوي وو او (د عباسي دولت د تاسيس په باره کښې وو) او د هغو معنی دا ده:**

**(خلافت په عباسيانو کښې ټينګ شو، خو د هغه عباسي دولت موسس سفاح و) (او ته بهترين ميراث خور يې چې دغه خلافت يو وار بيا برقرار**

---

[1] سلطان عبدالحميد به کوښښ کاوه چې د خپلو مقربينو او وزيرانو تر منځ تفرقه واچوي او يو د بل په ضد ولمسوي تر څو چې سره يو نشي او د ده په نسبت هغه څه ونکړي چې د ده له تره سلطان عبدالعزيز سره يې کړی و او که په احتياط څه مرتب وای سلطان عبدالحميد ته به د ده د ډېر احتياط له کبله هيڅ رسېلی نه وای، خو د ده له احتياط سره-سره څه چې مقدر و هغسې وشو.

کړې، پر تا دي زېرى وي اې عباس! اى صفاح!) جمال الدين وويل: (لاحول ولاقوة الابالله) عجيب اټکلونه کوي او زما او خديو له يوازي ليدلو نه څه راباسي او داسي تومتونه راپوري تړي چي د صدق او کذب احتمال لري او سړي ته دا مجال ورکوي چي ووايي ممکنه ده چي دغسي شوي اوسي. خو د دغه شعر په باره کښي بايد ووايم چي ما په درست عمر عربي شعر ويلى نه دى ځکه چي زه د عربي شعر د ويلو سليقه او قدرت نه لرم، نو بنا پر دې بايد جلالتمآب سلطان پر دې باور ولري چي دغه ټول ناحقه تومتونه او له حقيقت نه لري خبري دي چي د غرض د خاوندانوله خوا جوړي شوي او په موږ پوري تړل شوي دي، او پر دې هم بايد باور وکړي چي د مصر خديو د سلطان له ټڼو مخلصانو ځني دى او دوى دواړه له دغو افتراګانو نه ډېر لري دي. سيد وويل: ما د هيڅ خبري په مقابل کښي دومره زغم ښکاره کړى نه دى لکه چي د سلطان د دې رويې په مقابل کښي مي ښکاره کړى دى چي نوموړي دغسي بهتانونو او تومتونو او د خلافت د حيثيت مخالفو اراجيفو ته اهميت ورکاوه او د هغو مرتکبينو ته به يې لکه د بوډيو ښځو ښېرې کولې. ما سلطان ته وويل: که جلالتمآب سلطان اجازه راکړئ يو متل راپه ياد شو چي ورته ويې وايم سلطان وفرمايل: مهرباني وکړئ. نو سيد وويل چي يو وخت يوه سړي وغوښتل چي يو امير په خپل کور کښي وګوري او هغه اجازه ورکړه خو نوموړي وليدل چي د امير د قصر په دروازه کښي يو غټ سړي خور سپى پروت دى چي زمرى هم نشي ترې تېرېداى او چي سترګي يې پر دغه سړي ولګېدې وغورېد او ځان يې حملې ته چمتو کړ، خو دغه سړي هوښياري وکړه او دروازه يې په ځان پسي پوري کړه. په دغه وخت کښي د امير سترګي پر دغه سړي ولګېدې

او هرکلی يې ورته ووايه او په چټکۍ سره يې ورختو ته وروباله. دغه سړي ورته وويل چې په کومه درشم؟ دغه زلنده سپي دي پر درشل لاسونه غوړولي او خوله يې وازه نيولې ده څنګه درشم؟ لا يې خپله وشړه او لا چا ته امر وکړه چې لري يې کړي. امير په جواب کښې ورته وويل چې (زه له دغه سپي نه تر تا ډېر ډارېږم) نو بيا جمال الدين سلطان ته وويل: جلالتمآبه! ګومان کوم چې زموږ حال هم همدغه شان وي. نو بيا موږ له سيد نه پوښتنه وکړه چې جلالتمآب سلطان د ده د متل په مقابل کښې څه وويل: ده وويل: موسکی شانته شو خو خوښ يې نشو، او زما د رخصتېدو وخت هم نژدې شوی و او خدای پاماني مې ورسره وکړه او ترې ولاړ شوم چې سبا بيا ورته راشم.

## د عباسي دولت د تاسيس په بحث کښي د ښاغلي عبدالله نديم ټوکه او هغه چا ته د ده اشاره چي دغه دروغ يې جوړ کړی و

د دغو کيسو په ترڅ کښي يوه ورځ ښاغلي عبدالله نديم په (خلوة) کښي چي جمال الدين (جلوه) بلله ناست و او سيد جمال الدين ته يې وويل: (کاشکي هغه وخت چي سلطان د دغه فساد خلق کوونکی معرفي کاوه تا د هغه دسايس او هغه ليکونه ورته ياد کړي وای چي د خلکو د فريب دپاره يې ليکل او بيا دي دغه بيتونه ورته لوستي وای: (دا يو خلافت دی چي زه هغه او هغه ما غواړي، خو د هغه پر تخت چا پلتی وهلي دي چي تر ما ښکته دی)

(خپل کوښښ بايد په دغه لار کښي پر کار واچوې چي وخت يې رارسېدلی دی ستاسي هغه وعدې څه شوې چي راسره کړي مو وې).

په دغه وخت کښي سيد په قار شو او د دغه شعر ويونکی يې وراټه او ويې ويل: (زه له خدايه پناه غواړم چي منافق اوسم او لا هغه کار وکړم چي نور پرې غندم، او لا دا چي چغلي ګر اوسم. دا څه وشتي دي چي په دې وخت کښي کيږي؟ او د خلافت د لوړ مقام په باره کښي لوبي، ټوکي ټکالي کېدای شي؟ خلاف د خدای ذمه برداري ده، نو بيا د امامت له کار نه د عاجزو خلکو خوبونه چيرته او خلافت چيرته دی؟ او څه شرايط او ايجابات غواړي. خديو چي له خپلو ظروفو او شرايطو سره واخلي او هغه څه چي د ده پر مصر احاطه لري تر سلطان نه په مراتبو عاجزتر دي چي د خلافت چاري وچلولی شي او د مزاياوو رعايت ساتل چي استقلال يې تر ټولو مهم شرط دی ډېر ګران کار دی او د هغه له

توانه لري ښکاري. هو! که چيرته مصر د انګرېز له پنجالو خلاص شي او د عباس لپاره چي د پوره پوهي او ذکا خاوند دی د محمدعلي باشا همت، د ابراهيم زړورتيا او د اسماعيل باشا سخا ميسره شي نو ممکنه ده چي د خلافت هغه مقام ته ورسيږي چي هيله يې کيږي، مګر په اسلامي مملکتو کښي نن ورځ د اميرالمومنين دپاره خاص ولايت چيرته دی چي د عمومي ولايت اختيار ورکړل شي؟ او هغه مومنان کوم او چيرته دي چي د خدای د رسول له خليفه نه راتاو او پرې راټول شي؟ او د خليفه دپاره مطلقه حريت له څه شو چي د شريعت پر لار او د راشدينو خلفاوو پر طريقه لاړ شي؟ او هغه قوت کوم دی چي د هغه په وسيله له خپلو هيوادونو، ښارونو، ملتونو نه دفاع وکړي او ځانونه له مريي توب نه خلاص کړي؟ او داسي نور. دا چيرته؟ او دا چيرته؟ او بيا يې وويل: هر څه چي دغه سړی و (مراد يې ښاغلی ابوالهدی الصيادي دی) بهتر عربي شخصيت و چي د سلطان مصاحبت يې غوره کړی و او پر دې بريالی شوی و چي له خپل قوم نه شر دفع کړي او تر وسه پوري خير ورته ورسوي، په نوموړي سړي کښي هاشمي جوش، ښه خلق، عالي سجايا او لوړ همت موجود و او مناسب نه دی چي طعن پرې ووايه شي او د ده د بهتری او فضيلت بهترين دليل دا دی چي نوموړی له نورو هغو عربو سره مقايسه شي چي د سلطان د خدمت په حلقه کښي داخل شوي او څه يې کړي دي؟ (خدای دي پر ټولو ورحميږي).

**د انګرېزانو په باب د ده رايه د انګرېزانو او عربو په باب د ده تعريف، او د ناپوه شخص د شرعي حجر په باره کښي د ده فلسفه، او د غربيانو له خوا پر شرقيانو باندي د هغه د نن ورځي د تطبيق شکل**

سيد جمال الدين به په لنډه توګه انګليس داسي معرفي کاوه(د انګرېز ذکا کمه، ثبات زيات، طبعه زياته، حرس ډېر، عنود، صبور او متکبر وي) او عربي او لا شرقي به يې داسي معرفي کاوه: ( ډېر ذکي، بې ثباته، قانع بې صبره، ناطاقته او متواضع وي) انګرېز پر خپله خطا باندي هم ثبات ښکاره کوي او شرقيان که څه هم پر حقه اوسي د خپل حق د مطالبې په لار کښي بې ثباتي کوي، نو ځکه انګرېز برى مومي او شرقي زيانمن کيږي او دغه ناکامي يې د تندمزاجۍ او عدم صبر نتيجه ده. او همدغه وجه ده چي په قرآن کښي ځاى پر ځاى په صبر او ثبات توصيه شوې او هغه په ژوند کښي لازم ګڼل شوى دى. لکه چي فرمايي (فَاصْبِرُوْ) (صَابِرُوْ) (وَالّذِينَ صَبَرُوْ) (وَلَوْ اَنّهُمْ صَبَرُوا) (وَبَشّرِ الصّابِرِينَ) او داسي نور. او دغه ټول پر دې صراحت دلالت کوي چي عربان په خصوصي توګه او مسلمانان په عمومي ډول نسبت ټولو هغو اخلاقو ته چي د بشري سعادت ضامن ګڼل کيږي صبر او ثبات ته زياته اړه لري. او بنا پر دې دوى په نژدې وعده خوشحاليږي که څه هم دروغ اوسي او د اوږدې مودې د وعدې په مقابل کښي صبر نشي کړاى که څه هم دغه وعده رښتينې وي، او له همدې کبله په دواړو حالاتو کښي زيانمن کيږي او له ناکامۍ نه پرته بله نتيجه اخيستى نشي. او هر څه چي په خصوصي توګه مصريان او په عمومي ډول شرقيان شول (اعم له دې څخه چي

مقابل طرف يې انګرېزان اوسي او که نور غربيان) د هغو مثال هغو مسرفو او مبذرو (کټه خرڅو) زامنو ته پاتي کيږي چي له خپل پلار نه ډېر څه په ميراث ورته پاتي شوي وي هغه هم په داسي توګه چي يو څه يې معلوم وي او يوه ډېره برخه يې نامعلومه اوسي او په ډېره بېباکۍ او بې پروايۍ يې لګوي او د سبا ورځې غم نه خوري. او د دغسي مورث او ميراث خور په باره کښي د شريعت حکم دا دی چي په سفيه او نادان، مسرف او بېباکه وارث باندي د حجر حکم کوي او د هغه لاس په مال کښي له تصرف نه وباسي او حق نه ورکوي چي په آزاده توګه او خپله خوښه يې ولګوي او تصرف پکښي وکړي. هو! شرقيان په خپل ميراث کښي د مبذرينو، مسرفينو او سفهاوو تر حکم لاندي راغلي دي او پر شرقيانو باندي (د زمانې په تېرېدو) حکم شوی دی چي د دوی حاکم او د حجر واضع غرب اوسي. خو د شرعي حجر تر منځ چي د شرعي حاکم او قاضي له خوا اېښودل شوی وي او د غرب د حجر د حکم تر منځ چي پر شرقيانو باندي يې اېښی دی ډېر فرق شته ځکه چي شرعي حجر د وارث د رفتار په اصلح کېدو او رشد ته په رسېدلو رفع کېدای شي او حق پيدا کولای شي چي په خپل ميراث کښي په خپله خوښه تصرف وکړي او خپل له لاسه ورکړی واک او اختيار بېرته په لاس راوړي، خو د غرب پر حجر باندي دغه شيان تاثير نه کوي او نه يې د رشد دلايل پای ته رسوي، په دغه باره کښي نه قولي عوامل او نه منطقي دلايل څه تاثير لري تر څو چي د حجر حکم مات کړی شي او د دې خبري اصلي سبب دا دی چي غربيان نه غواړي چي د شرقيانو سيرت اصلاح شي او له اسراف او تبذير، افراط او تفريط نه لاس واخلي تر څو چي خپل حقوق بېرته په لاس راوړي بلکي د هغوی نهايي تمنا او توقع دا وي چي شرقيان په خپل دغه

غفلت، ګمراهۍ اسراف او بربادۍ کښې پاتې شي تر څو چې یې د محجوریت دوره اوږده شي او بیا له استعمار نه وروسته د تملک او د مربي کولو دعوې یې وکړي او تر څو چې شرقیان د اسراف او سفاهت په حال کښې پاتې وي تر هغه وخته پورې به پر دغه حجر محکوم وي او له خپلو حقوقو به محروم اوسي. هیڅ کوم غربي دولت د کوم شرقي مملکت دروازه ټکولې نه ده مګر دا چې د خپل ورتګ دپاره یې دغه پوچ دلایل وړاندې کړي نه اوسي مثلاً کله وایي چې د پادشاه د حقوقو د ساتنې دپاره او کله وایي چې د هغې فتنې د خاموشولو دپاره چې د برسراقتدار حکومت پر ضد راپارېدلې اوسي، او لا د حکومتي فرامینو د تنفیذ دپاره، او داسې نور واهي او پوچ دلایل راوړي او تومتونه تړي. او چې بیا دغه دلایل کافي نه اوسي او نه څه پرې مرتب شي نو بیا (د مسیحیانو د حمایت) د (اقلیتونو د حقوقو او لا د اجنبیانو د حقوقو او امتیازاتو د حمایت) پلمه وړاندې کړي او لا د وګړو د حریت او لا هغوی ته د خپلواکۍ د اصولو زدکړه او لا هغوی ته په تدریجي توګه د هغوی د حقوقو د ورکړې په پلمه او داسې نورو پلمو یا شرقي هیوادو کښې په ګوتو وهلو لاس پورې کړي او خپل ناولې مقاصد وړاندې بیایي. او بیا دغه خوبوړي شرقیان په دغو غلطو او له حقیقت نه لیرو وعدو غولیږي او غربي حجر ته ځانونه سپاري او بیا هره ورځ په یوه ډول او بل ډول ځانونه ورته نژدې کوي او اطاعت یې کوي او هغه خپل غمخور بولي او لکه چې د خوني خزنده د شپې په تاریکۍ کښې ځانونه څراغ ته ورغورځوي په همدې توګه دوی هم د غربیانو پر څراغ طواف کوي. د هغوی په خوله هر څه کوي او څه چې ترې غواړي ورکوي یې او خپل ځانونه په دې غولوي چې دا یو داسې موقت حالات دي چې ژر به بدل

شي لكه د دوبي وربځي ژر له منځه ځي. او بيا د خپلي غولوني دپاره داسي استدلال كوي چي غربيان به ډېر ژر پر خپلو وعدو وفا وكړي او دوی به خپلو هيلو ته ورسيږي او وروسته له هغه چي د دوی تعليمي سويه يې لوړه بوتله نو دوی به خپلواكي پرېږدي او خپلي چاري به خپله اجرا كوي خپل ماليات به خپله ټاكي او خپله به يې مصرفوي له خپلو هغو زامنو نه به حاكمان مقرروي چي تر ټولو پاك، هوښيار، نېك كردار او نېك رفتار او پر حق ولاړ اوسي. دا و د شرقيانو تعليل او استدلال او څه شی چي غربيان كوي هغه دا دی. له خپلو هيوادو نه له ځان سره پروګرامونه راوړي او داسي پكښي ليكل شوي وي: شرقيان خوبولي، جاهل، متعصب خلك دي، ځمكي يې سمسوري او حاصل خېزه دي، ډېر معادن لري، معتدله هوا لري او هر څه پكښي شته او موږ د دې وړ يو چي له دغو ټولو مزاياوو ګټه واخلو او استفاده ترې وكړو، او دغه هدف ته د رسېدو دپاره خپله نقشه او پلان داسي طرح كوي.

لومړی: بايد هر هغه وطن خوا وګړی لري كړي كوم چي د خپل وطن او هيواد د حقوقو مطالبه برالا كړای شي او آزاد افكار ولري.

دوهم: هغه ټيټ همتي وګړي بايد ځانته رانژدې كړي كوم چي نه د خپلو حقوقو مطالبه كوي او نه په دغه مورد كښي مناقشې ته تيار وي.

دريم: د شرقيانو ښارونو او هيوادونو ته په داسي توګه ورننوتل چي په هغو كښي تفرقه واچوي او ډله-ډله، څانګي-څانګي يې كاندي، يوې ډلي ته پر بله ډله ترجيح وركړي (كه څه هم په ناچيزو شيانو وي) او په دې ترتيب د دوی تر منځ د كركي احساسات لا قوي كاندي. دا هم د دوی په نقشه كښي وي چي نه يوازي يوه طايفه د بلي طايفې پر ضد راوپاروي او كركه يې تر منځ توليد كاندي، بلكي د يوې كورنۍ د زامنو

تر منځ هم نفاق او شقاق اچوي او يو له بل سره نزاع کوي. دغه ټول حالات د دغو وصيانو(غربيانو) جرئت زياتوي او پر هغوی باندي يې د حکومت دوره اوږدوي او زمينه ورته مساعدوي چي د خلکو لاسونو ته اتکړۍ ور واچوي او پرې يې نږدي چي د هيواد مخلص زامن د وطن د نهضت احساس راويښ کړي او له خپلي غاړي د مرييتوب لعنتي طوق لري او د حجر ځنځير وشلوي. او دغه مطالب (د حجر لري کول او خپله خپلواکي په لاس راوستل) حاصلېدای نشي مګر دا چي موثرترين عوامل په دغه لار کښي پر کار واچول شي مثلاً د خلکو علمي سويه لوړه بوتلای شي، د خپل ضعف موارد وپېژني او د هغو د رفع کولو دپاره خپل وظايف په صحيح توګه پای ته ورسوي، او په دې هم وپوهېږي چي په څه ډول ځانونه مطلب ته ورسوي او له کوم باب نه ورننوزي تر څو چي له قوي (زورور) نه د کمزوري حق واخيستی شي؟ او په دغه باره کښي تر هر څه مهمه خبره د خبري وحدت او د هيلو او هدفونو يووالی دی.

## موږ ورته وويل:

د حجر دپاره چي کوم تمثيل تاسي ووايه او کومه فلسفه چي مو بيان کړه او د هغه حکمت مو څرګند کړ، حقيقت دی چي ډېري ښې خبري او عالي او لوړه رايه وه، خو په هغه توګه د مرضونو او دردونو بيانول چي د مدرسو شاګردان يې بيانوي ګومان نه کوو چي سړی د مقصد ځای ته ورسوي او لا يې غرض حاصل شي په تېره بيا دا چي اکثره شرقيان د جهالت په تورتم کښي پراته دي، خبري ډېري کوي او د کار درک يې نه وي. پر هغه خبره باندي خبرېدل هم ګران دی چي عملي

جنبه ولري او د تطبيق وړ اوسي. يعني داسي خبري هم نه اورېدل کيږي چي عملي او تطبيقي اوسي. هو! دغه ټولي خبري ښې دي خو په عملي صورت سره هدف ته رسېدل ګران دي او بايده ده چي هغه عملي لاري وښودل شي چي مقصد ته د رسېدو امکان زياتوي. دغلته سيد وويل: چي تاسي د دوا پلټنه کوئ او مرض د شرقيانو په وجود کښي پټ پروت او هر چا ته معلوم دی. خو په طبيب باندي يې علاج نه کوئ چي د طبيب له خوا ورته توصيه شوې وي، بلکي ډېر کرته د هغه پر خلاف رفتار کوئ که څه هم پوهېږئ چي د دغي دوا په نه خوړلو کښي يې يقيني مرګ پروت دی، او د ختيځ په مختلفو اقاليمو کښي د شرقيانو حال همدغسي دی. شرقيان ډېر سريع التاثيره دوا لري خو غت زړه غواړي او قرباني ايجابوي او د عربو حکيمو شاعرانو داسي تعريف کړې ده:

(په عزت ژوند وکړه او لا په کرامت مړ شه)

(څنګه چي د چا شرق محفوظ پاتي کېداى نشي مګر دا چي له خپل سر نه تېر اوسي)

دغه راز دوا غربيانو ته په ميراث پاتي شوې او د هغې پر ټولو معناګانو يې عمل کړی دی. او د دغه توارث په برکت يې لويې په برخه شوې او قدرت وربه خرمه شوی دی، او څنګه چي يې موږ د سر په سترګو ګورو پر شرقيانو باندي دوی حکومت کوي او باداري پرې چلوي. خو شرقيانو ته دغه دوا ترخه، بدخونده ښکاري او په آسانۍ يې له ستوني تېرولای نشي نو ځکه يې چپه کوي او يوه خوا بله خوا يې ارتوي او له خپلي غتي برخي نه په لږ څه راضي کيږي او په خپل لاس خپل ځانونه ذليلوي او خواري ګټي. او بيا يې وويل چي: خلک د مرګ

له وېري مړه او د ذلت له وېري په ذلت کښې ژوند تېروي. خو تاسي داسي دوا غواړئ چي څښل او تېرول يې سهل او آسان اوسي او ددې دپاره چې موږ دغه هدف ته ورسېږو بايد يوه نوي کار ته لاس ورته کړو او نوى نسل وروزو او دا کار مو هم بايد د صحيح علم اونوي پوهې له مخي اوسي او هغه څه وپېژنو چي تر هر څه لوړې پر ارواګانو او اجسادو حاکميت لري چي هغه له (دين) څخه عبارت دی. او هغه موږ يووالي ته رابولي او خبره مو يوه کوي: عزم مو قوي کوي او د وطن د ژوندي ساتلو په لار کښې مرګ راته آسانوي. د دغه دين په برکت داسي ټولني منځته راځي او چاري يې داسي باهمته ځوانان په لاس اخلي چي د قدرت د خاوندانو دروازې نه ټکوي او نه ورګرځي، حوادث يې وېروي نه او نه يې وعيدونه او تخويفونه په عزم کښې کوم خلل راولي او نه يې د نورو وعدې او د منصبونو خبري غولوي، نه يې تجارت له خپل هدف نه ګرځوي او نه نور کارونه بلکي د وطن دنجات په لار کښې هر راز ربړونه ګالي او په دغه لار کښې تکليفونه غنيمت ګڼي. موږ ورته وويل: (هو دا خبره رښتيا ده چي که خدای يوه قوم ته داسي مړونه او رجال وربه برخه کړل چي دغسي لوړ او شريف هدفونه ولري او د خودی هغه مقام ته رسېدلي وي چي د کومي طمعي دپاره د قدرت د خاوندانو دروازې نه ټکوي او نه ورځي او نه د چا د منصب په وعدو غوليږي، او که د چا دروازه وټکوي هم، خو پر خپل عهد باندي وفا نه هېروي او نه خپل ميثاق ماتوي بلکي په هر حال د خپل وطن د مصالحو ملاحظه ساتي، خو دومره خبره ده چي دغه راز وګړي کوم او چيرته دي؟)

ده ځواب راکړ او ويې ويل: (وايي چي اړتيا د اختراع مورينه ده رسول الله (ص) وايي چي خپل ترسيري ټينګ وتړه چي له قيدونو نه

خلاصه شي). نو د خپلو ديني خواهشونو زمام ټينګول په واقع کښې همت زېږوي او ضعيف ته هيڅکله اميد او هيله نشي مګر چې مايوسه شي، او تر څو چې له ضيقت موجود نه وي توسع نشي راتلای، او د سهار د روښنايي برترې تر هغه پورې د منلو نه وي څو چې د شپې تروږمۍ ليدل شوې نه وي. او تر کومه ځايه چې زه ګورم داسې راته برېښي چې د شرق د سهر د راختو وخت نژدې شوی او دغه تياره به په رڼا بدلېږي او دغه ضيقت به توسع او پراختيا مومي او دا د خدای قانون دی چې په خپل خلق کښې يې جاري ساتلی دی له هرې تيارې يې رڼايي او په هر ضيقت پسې وسعت او پراختيا راولي لکه چې يو شاعر وايي: (هر وخت چې تياره زياته او تورتم خپور شي هرومرو به ورپسې د رڼايي روښنايي راځي، لکه چې په توره شپه پسې د سهار روښنايي راځي).
هو! د دې دغه ورمه د ډېرو جاهلو قومونو په فشا ر والوته خو له دې کبله چې له ځان سره يې د ژوند، فعاليت، نهضت او نشاط زېرې درلود هغه جاهل قوم يې داسې راويښ او په کار پوه کړ او په دوی کښې يې داسې نوې روحيه پو کړه چې د جهان د فتحې دپاره يې راوپارول او د ډېرو عالي مباديو د خپرولو دپاره يې په کار لاس پورې کړ او نړۍ يې له عدل او انصاف نه ډکه کړه او نړيوال يې له انساني کرامت سره آشنا کړل. همدغه ورمه وه چې په عراق کښې يې هارون او مامون او په شام او اندلس او نور شرق کښې يې دهات، لوی سياستمداران، نامتو علما او پوهان منځته راوستل چې شرق او غرب د حيرت ګوتې ورته په غاښ کړې. بيا-بيا وايم چې هو! وروسته له هغه چې دغه ورمه له دغو هيوادو تېره شوه او د دغو هيوادو خلک د ذلت او خوارۍ په کنده کښې ولوېدل، فعاليت يې په ټنبلۍ او علم يې په جهل بدل شو او د مملکت

ټول شیان یې له منځه لاړل او یوازې یو څه نښې او آثار یې پاتې شول لا بدې او ناچارې ده چې یو وار بیا دغه ورېمه پر دغو هیوادو راوالوزي او د خلکو عقلونه راوپاروي، عزمونه یې قوي کاندي او د خپل بایللي مجد او لویۍ د بېرته ګټلو دپاره یې چمتو کاندي او د خاموشۍ او فراموشۍ له زوایاوو او کونجونو نه داسې مړونه راپاڅوي چې که خدای کول پخوانی نجد او لویي به بېرته وګټي او نړۍ ته به د شرافت او کرامت درس ورکړي او بیا یې خپلې خبرې ته ادامه ورکړه او ویې ویل:

تر کومه ځایه چې زموږ فکر رسیږي په دې پوهېږو چې د شرقیانو د ناروغۍ او ناجوړۍ معدات، مکروبونه او نور وسایل د غربیانو د مطامعو له لارې او د شرقیانو د غفلت له دروازې ورننوتل او دغه عوامل په څو غټو عواملو پورې منحصر دي چې ځینو ته یې د مخه اشاره وشوه لکه د حقیقي احرارو شړل او د مقابلې د توان د خاوندانو رټل او بې همتو ته موقع ورکول او داسې نور شول. همدارنګه لازم دی چې په دې هم وپوهېږو چې په دغه مورد کښې ځینې داسې عجیب او غریب عوامل شته چې په لومړي سر کښې ظاهراً واړه او بې تاثیره بریښي او په واقع کښې ډېر خطرناک او مهلک وي او هغه دا ده چې دغه غربیان شرقیانو ته د هغوی د ژبې د ضعف او بې ارزښتۍ تبلیغ کوي او غواړي چې د هغوی قومي تعلیم ووژني او شرقیان په دې واداره کاندي چې د خپلې ژبې بدرد وواییي او اعتراف وکړي چې د دوی عربي، فارسي، افغاني، اردو او هندي ژبو کښې کومه ګټه نشته او نه داسې عالي ادب لري چې غوره کړای شي او نه یې په تاریخ کښې هغه لویي شته چې یاده کړای شي او د شرقیانو ټول عزت او ټوله لویي په دې کښې ده چې له خپلې ژبې متنفر اوسي او په دې وویاړي چې دی په خپله ژبه ښه نه پوهېږي او

په آسانه پرې ګرېدای نشي. (په اروپايي ژبه) او په اعجمي ژبه ګرېدل د بشريت لوړ مقام ته د رسېدو يوازينی لار ده او بيا يې وويل چي ما په خپلو سترګو ليدلي او په خپلو غوږو مي دغه راز خندوونکي او ژړوونکي خبري اورېدلي دي چي ځيني شرقيان د خطابو پر منبرونو ولاړ او د خپل قوم د ژبي او قوميت له فضايلو انکار کوي او په غربي جملو څوک خوځوي او په اعجمي آواز ترنم کوي او داسي برېښوي چي د نړۍ ټول کمالونه يې زده دي او د هغې په برکت خپل مملکت ته هر راز خدمت انجامولی شي، او د دغه راز ذهنيت له خاوندانو لري نه ده چي له خپل ملك نه لري وشړل شي چي نه يې پردی ملاتړ کړی شي او نه خپلوان ځای ورکوي. زه په دې عقيده يم چي څوک چي ژبه نه لري ټولنه نه لري او هغه ژبه هم څه ارزښت نه لري چي د عالي ادب خاونده نه وي، او د هغه قوم عزت او پت پر ځای پاتي کېدی شي کوم چي تاريخ ونه لري، او هغه قوم هم د تاريخ خاوند کېدای نشي چي داسي مړونه ونه لري چي د خپل قوم نوم ژوندی کړي او د خپل قوم د رجالو د کارنامو آثار ژوندي وساتي او بيا د هغوی پر پله روان شي او د هغوی په څېر رفتار وکړي او دا ټول تر وطني او قومي تعليم پوري اړه لري، تر هغه وطني تعليم پوري چي ابتدا يي وطن، وسط يې وطن او غايه يې وطن اوسي. او دا هم بايده ده چي وطن د شرقيانو دپاره د يوې حسابي قاعدې په څېر وي چي هيڅ تغير او توپير نه پکښي راځي لکه چي دوه په دوو کښي څلور کيږي، او هيڅکله توپير نه پکښي راځي په همدې شان بايد وطن د شرقيانو په عقيده کښي همدغسي يو ثابت حقيقت وي چي نه مذاهب وکولای شي او نه طوايف چي په هغه کښي

ضعف راولي او لا تغير پکښي پېښ کاندي همدا دی وطن او په همدې شان بايد وطني تعليم موجود اوسي.

## کوم محرومیت چې د شرق او شرقیانو په برخه شوی او لا به یې په برخه شي د هغه د رفع کولو په باره کښې د سید رایه او کوم حکمت او تدبیر چې د دغه کار دپاره لازم دی او په دغه باره کښې د مطلب د مشکلاتو ثرګندول

ده وویل چې: دا مه هېروئ چې د خپل محرومیت د لرې کولو دپاره د محرومو او محجورو قومونو نهضت او د خپل لیاقت د اثبات او په صحیح علم سره ترقۍ ته د رسېدو په وسیله خپل نهضت اثباتول لکه چې ګومان کوئ څه داسې آسان کار نه دی ډېره ممکنه ده چې دغه کار به له وخیمو عواقبو سره مصادف شي، په دغه باره کښې دقیق فکر کول او عظیم قوت پیدا کول په کار دی او په پوره حکمت او سیاستمدارۍ او په بلیغ کوښښ باید د خپل محرومیت عوامل ذلیل او تر پښو لاندې کړي. نو بنا پر دې عالم که څه هم تش لاس وي او وسله ونه لري خو بیا هم د خپل علم په برکت هیبتناک او مسلح پهلوان برېښي او خلک وهمیه ترې کوي او جاهل که څه هم مسلح اوسي د خپلې جاهلۍ له کبله تش لاس معلومېږي. د قومونو په باره کښې هم خبره همدغسې ده، په تېره بیا زموږ په دې زمانه کښې چې د استعمار زمانه ده او لا لکه چې تا(محمدباشا المخزومي) ویلي و چې نن داسې وخت راغلی دی چې (مریان آزادوي او احرار اسیروي). زه شرقیانو ته وایم چې ښه په ځیر شئ چې استعماري دولتونو څنګه د خپلو مستعمرانو پولې او بریدونه، له دې نه ساتلي وي چې وسلې او نارې اجزا ورته داخل شي، او څومره له دغه کار نه بد وړي؟ او هغه چا ته ډېره سخته سزا ورکوي چې په دغه کار

توان شي. د دې خبرې حکمت ظاهر دی او هغه دا دی چې دوی وېرېږي چې مبادا دغه وسلې زموږ پر ضد استعمال نشي. او که دوی په خپلو مستعمراتو کښې په خپل عدالت ډاډه وای نو هیڅکله به دغه وېره ورسره نه وای او نه به یې دغومره احتیاطي ترتیبات نیول او نه به یې په خپلو مستعمراتو کښې شدید او سخت قوانین وضع کول. او د یوه قوم او یوه ملت دپاره علم چې د حجر او محرومیت مراندي شکوي تر هغې وسلې کم نه دي چې مستعمران یې خپلو مستعمراتو ته د ننوتو اجازه نه ورکوي بلکې د علم تاثیر او وېره په وارو-وارو له دغسې وسلو نه زیاته ده، ځکه چې استعمارچیان ځانونه د خپلو مستعمراتو وصیان او متولیان بولي او خپل وصایت تر هغه وخته نافذ بولي چې د مستعمراتو اوسېدونکي رشد او بلوغ ته رسېدلی نه وي او د علم په وسیله سنبال شوی نه اوسي، نو له دې کبله غربیان کوښښ کوي چې شرقیان بې علمه، بې تربیې او بې رشده پاتې شي تر څو چې د دوی حکمرانۍ ته صدمه ونه رسیږي او په دغه لار کښې له هیڅ ډول نیرنګ او حیلې څخه ځانونه نه ژغوري او زیار باسي چې غربي تهذیب د تعمیم په نامه دوی جاهل وساتي او راز-راز سفسطې ورسره ولوبوي. او که ناکله د هغه ځای له ټیټو او بې ضمیرو وګړو نه کار اخلي او د هغوی په خوله او لمسون یې ویده کوي او للو-للو ورته وایي نو په صحیح علم سره د شرقیانو ژوندي کېدل د غربیانو د حکومت مرګ دی او عکس یې بالعکس دی. نو بنا پر دې شرقیان باید پوره راویښ شي او په پوره حکمت، هوښیارۍ او بیدارۍ لاس په کار او خپلې غایې ته د رسېدو په تکل کښې شي. هغه هم په داسې لوړو همتونو چې ستوماني نه پېژني او په داسې ټینګو عزمونو چې خلل نه پکښې پېښیږي. راغلو هغو خلکو ته

چي زاړه شوي او سپين ږيري شوي وي او له زدکړي وتلي اوسي بايد د کنفرانسونو له لاري تنوير کړل شي او ملي مجلسونه جوړ شي او هغوی ته لارښووني وشي او د وطن خواهۍ احساسات يې راوپارول شي او د استعمار پر ضد راوپارول شي.

## د هغو ماشومانو د روزنې په باب د ده رايه چې د سبا ورځې مړونه دي

**ده وويل: هر څه چې ماشومان او کوچنيان دي د ماشومانو د روزنې دپاره ميندي وروزي او د کوچنيانو په مخ د حکومتي مدرسو او ښوونځيو دروازې وتړي او دکورنيو مدرسو دروازې ورته پرانيزي[1] ځکه چې که د حکومتي مدرسو پروګرامونه (کړنلارې) د وطنپالنې احساس نه مسموموي د هغوی بې لزومو علومو له ضرر نه په آمن نه وي کوم چې شاګرد په علمي ژوند کښې اړه نه ورته لري او په هغو فنونو هم مشتمل وي کوم چې زدکوونکي ته ډېره فايده نه رسوي خو ښشکه د شاګرد جسم او تنه ضعيفوي او بالاتر يې عقل هم ضعيف کيږي د کتابونو له مطالعې سره مينه لري او يو خيالي او وهمي انسان ترې جوړيږي او له کار او علم نه کرکه کوي، په خپله زدکړه کښې جامد او په هر کار کښې لټ او تنبل وي. او هر څه چې وطنپالنه او لا د وطن مينه ده هغه لومړنی مرض او لومړنی آفت دی چې استعماري حکومتونه ترې وېرېږي نو ځکه کوښښ کوي چې شاګردان او ځوانان له دغې مينې نه محروم وساتي تر څو چې دغه مرض نورو ته سرايت ونه کړي او په غير ملي حکومتونو باندي يې د**

---

[1] سيد په حقيقت کښې د خپلې زمانې حکومتونه ليدل او په دې عقيده و چې حکومتي مدارس مفيد نه وي، په تېره بيا په شرق کښې چې په عمومي توګه د استعماري حکومتونو تر تاثير لاندي و او واک، اختيار يې نه درلوده او په مدرسو کښې په ماشومان فاسدېدل، لکه چې دی خپله د دغې موضوع په شاوخوا پوره رڼايي اچوي او د دغې خبري دلالې ثرګندوي چې که په حکومتي مدارسو کښې شاګردان د وطن خواهۍ حس باى نلې نو داسې پروګرام خو به ضرور تعقيبوي چې په درد يې ونه خوري او نه عملي جنبه ولري.

بلوا موجب نشي. او هر څه چي واړه ماشومان دي د هغوی پاملرنه د مېندو پر غاړه ده او طبعاً کوښښ کوي چي د هغوی روزني ته شه پاملرنه وکړي او صحت يې کامل وساتي تر څو چي جسماً روغ رمټ اوسي او بالاتر د کامل عقل خاوند منځته راشي. او بيا د وطن خواهۍ درس ورکوي او په تدريجي توګه يې د هغو علومو زدکړي ته لمسوي کوم چي د ده دپاره ضروري او لازمي اوسي او کوښښ کوي چي د هغه د زړه قطرې نور د دروغو په زدکړه ګل نشي، او همدارنګه زيار باسي چي له کار او عمل سره يې مينه پيدا شي او د هغه د سن او عمر د تقاضا په مطابق مشغوليت ورته پيدا کاندي. لنډه دا چي په وطني او اهلي مدرسو کښي علم او عمل دواړه روزل کيږي او بايده ده چي دغه مدرسې د خلکو له ګڼو کورو لري اوسي او په داسي پراخو ساحو کښي وي چي له فاسدي هوا لري او صافه هوا ولري او په داسي توګه جوړي شوي وي چي هم د درسي خوني ولري او هم د کار او عمل ميدانونه، او هر وخت چي يوه شاګرد ته يوه علمي مسئله وروښودله شي بايده ده چي د يوه عملي کار په اجرا هم وادار کړل شي. بېل او کلنګ، تېشه او آره، ګلماله او دست کنه او داسي نور وسايل بايد موجود اوسي او په شاګردانو عملي کارونه اجراه کړای شي د ځارويو له روزني سره بايد آشنا کړای شي، دغواوو لوشل بايد ور زده کړی شي، د شيدو له شاربلو سره بلد اود خيدک له جوړولو او داسي نورو کارونو سره آشنا وي تر څو چي له مدرسې نه يو عملي انسان راووزي او خپل ژوند تامين کړای شي او يوازي فطري لټ او ټنبل انسان نه وي چي د خپلي کورنۍ د غاړي بار اوسي او د ټولني شمېر زيات کړي او ګټور نه اوسي. او هر څه چي دين دی هغه په دوو برخو وېشل شوی دی: يوه يې عبادات او بله يې

معاملات دي. او عبادات چي انسان يې يوازي د خپل پروردګار دپار ادا کوي پرته له دې چې د هغو په انجام او ادا کښي له چا سره معارض شي او پاک خدای چي دی نه يوازي د يهودو خدای دی او نه خاص د نصاراوو او نه يوازي د مسلمانانو خدای دی بلکي د ټولو خدای دی او ټول يې له يوه نفس نه پيدا کړي دي.

او هر څه چي معاملات دي هغه په واقع کښي د ټولو تر منځ يو شريعت او يو قانون دی چي د وطن د ټولو قبايلو زامن د خپل وطن د خير دپاره کار کوي. يو بل ته لاس سره ورکوي او په مدرسه کښي لکه ډېر مخلص او صميمي دوستان سره اوسيږي او چي له مدرسې نه وزي لکه د ورونړو په شان وي. زړونه يې يو بل ته له ميني او اخلاص نه ډک وي چي د دغي دوستۍ په روابطو يې لري والی او نژدې والی څه تاثير نه کوي او نه د صباوت او کوچنی والي خاطرې هېروي بلکي د وطن په جسم کښي لکه د يوه بدن غړي داسي وي چي که يو غړی يې په درد شي نور غړي يې هم په درديږي او له ځمکي او آسمان نه د يووالي او وحدت نارې اوري او د يوه وطن مينه په خپلو زړونو کښي روزي او له يوې ژبې نه پرته په بله ژبه نه ګړيږي او نه يې آرزوګاني او هدفونه مختلف وي بلکي په يوه هيله ژوند کوي او يوه هدف ته د رسېدو هڅه کوي.

## د صبر او ثبات په باره کښي د ده خبره

موږ ورته وويل چي استاد د دې بحث په لومړي سر کښي ويلي و چي انګرېز که څه هم په باذله اوسي خو د خپل صبر او استقامت په برکت خپل هدف ته رسيږي او برى مومي. نو که فرض کړو او لا لکه چي استاد فرض کړې ده د ده ثبات چي په خطا اوسي نو بيا دده د بري معنا څه ده؟ اوپ ه ناحقه دده ثبات څه فضيلت لري او ايا دغه ګټه يې له زيان نه پرته بله نتيجه لري؟ ده په جواب کښي وويل: هغه فضايل چي موږ يې تحليل کوو لکه صدق، کرم، شجاعت او داسي نور صفات شول له صبر او ثبات نه پرته حاصلېداى نشي. مثلاً يو سړى تر هغه وخته پوري د صدق په صفت ممتازېداى نشي او نه (صادق) بلل کيږي تر څو چي يې د ژوند په ټولو احوالو کښي صدق ښودلى نه وي او په خپله رښتيا صبر او ثبات کړى نه اوسي، او که نه نو يو کرت او دوه کرته صداقت کول د دې موجب کېداى نشي چي په صدق متصف کړاى شي. په کرم، شجاعت او نورو صفاتو کښي هم خبره همدغسي ده او تر هغه وخته پوري په دغو صفاتو څوک متصف کېداى نشي تر څو چي يې په دغو صفاتو صبر او مداومت کړى نه وي. نو ثبات چي دى په خپل ذات کښي يو فضيلت او د قدر وړ دى او د هغه په برکت انسان خپل هدف ته رسېداى شي. ما يوه کيسه اورېدلې ده چي شېخ جنيد بغدادي ته يې منسوبې او هغه دا ده: وايي چي يوه سړي د غلا عادت درلود او په لومړى غلا يې يو لاس او په بله غلا يې بل لاس او په بله غلا يې يوه پښه او په بله غلا يې بله پښه پرې کړ شوې وه او بيا يې په ژبه غلا کوله تر څو چي د قتل وړ وګرځېد او په

دار کړی شو، نو يوه ورځ جنيد د ده تر څنګ تېرېده او ور وګرځېده او جسد يې مچ کړ نو پيا ده ته وويل شو چي آيا د په دار شوي غله بدن مچوې؟ ده ورته وويل چي د ده د ثبات له کبله دغه کار کوم چي تر پايه پوري له خپل مسلک نه وانه ووښت. دغه کيسه رښتيا وي او که دروغ وي خو په هر حال په يوه حقيقت دلالت کوي چي هغه په خپل ذات کښې د ثبات فضيلت دی. خو اعلی ترين او بهترني ثبات هغه دی چي په ښو کارونو اوسي، په هغو کارونو چي بشر ته ښه برېښي او تمجيد يې کوي، او د بشريت دپاره ګټور اوسي، هغ ګټې چي د بشر د لنډ ژوند دپر دردونه سپک کاندي او د باهمي ورورګلوۍ، معاونت او مساوات په وسيله يې سعادت تامين کاندي، هغه ورورګلوۍ چي نژدې ده چي بشري ټولني بېرته ورته راوګرځي او د الهي خلقت د فلسفې په حکم بېرته سره يو شي (انا خلقنا من طين لازب) (اولم يروا کيف يبدی الخلق ثم بعيده ان ذلک علی الله يسير). او بيا يې وويل چي: که دغه غل چي د غلا په لار کښې مړش و او خپل ټول مهم اندامونه يې له لاس ورکړل مور د طفوليت په وخت کښې تر تربيې او روزني لاندې نيولی وای او د ده حيوانيت مو مهذب کړی وای او صحيح علم مو ورښودلی وای په داسي حال کښې چي د ثبات دغه استعداد هم ورسره و څه شی به ترې جوړه شوی وای او د فضيلت د خاوندانو له جملې نه به چا برابري ورسره کړې وای او لا به پرې پورته شوی وای؟ مثلاً که د جنګ فنون زدکړي او د حربې دپاره روزل شوی وای او دغه ثبات يې هم درلودای آيا د پادشاهانو په نزد به يې د يوه لوی قايد حيثيت نه درلود او سالارۍ نه به نه وای رسېدلی؟

هو! ضرور او هرومرو به له لويو قوماندانانو نه و، ځکه چي ماتي او برى د ثبات او نه ثبات نتيجه ده، هغه چي د څو دقيقو دپاره ثبات کوي برى مومي او چي د بزدلۍ له کبله تېښتي ته اړ کيږي ماتي کوي.
او هر څه چي د شرقي په باب خبره ده چي صبر او استقامت نه لري دا يوه ښکاره خبره ده چي شرقيان سختۍ ته تن نه ورکوي او دا کوم برهان ته اړه نه لري ځکه شرقيان موږ ګورو چي په دوی څه کيږي او څه وايي نه، او دا د دې خبري قوي دليل دی چي دوی د ژوند په معرکه کښي مجادله نه کوي او په تنازع للفنا کښي بوخت دي.

## له هغه څه نه چې موږ ته مدنيت ښکاري د جمال الدين انکار په تنازع للبقا کښې د بقا لفظ په فنا بدلول او په دغه باره کښې د ده مغالطه، د ده په عقيده چې د صحيح علم اثر د جنګونو منع ده، هغه جنګونه چې د انسان د وحشت روښانه دليل دی

جمال الدين به په وارو-وارو (تنازع للفنا) ويله، يوه ورځ پوښتنه ترې وشوه چې مطلب په دې (تنازع للبقا) وي. هغه ورته وويل چې نه او هيڅکله نه بلکې مطلب مې تنازع للفنا ده. ځکه کومه بقا چې فنا نه لري په هغې کښې نه نزاع شته او نه تنازع، او ټول حيوانات، نباتات او جمادات چې موږ ګورو هره ګړۍ د فنا په لور درومي که څه هم د شکل په تبدل او تغير اوسي. او کومه تنازع چې موږ يې د حيوان او ثبات تر منځ ګورو په هغو څېزونو کښې ده چې فنا کيږي او نتيجه يې فنا ده، او ډېر کرته تنازع کوونکی او متنازع فيه د فنا په لور درومي او فنا کيږي نو بنا په دې صحيح دا ده چې (تنازع للفنا) وبلله شي. بيا موږ ورته وويل چې آيا ددغه تغير په باره کښې د متمدن عالم اصطلاح په دې غلطه ده چې بايد د بقا د لفظ پر ځای فنا وويل شي؟

ده وويل چې: له تمدن او متمدن عالم څخه ستاسي مدعا څه ده؟ موږ ورته وويل: په علمي او مادي مکتسباتو نسبتي ترقي، مثلاً د انګرېز ملت، د فرانسې، المان او امريکا او داسي نور دوی ته ورته ملتونه په فردي او اجتماعي توګه متدن دي او متمدن بللی شي. ده وويل: چې د يوه فرد او لا د يوه جمعيت او لا د يو څه شيانو او لا د علمي مکتسباتو تقدير کېدای نشي مګر دا چې د هغه فوايد او نتايج په نظر کښې ونيول شي او

د هغو په ملاحظه نمره ورکړای شي. مثلاً کوم شيان چې تاسي ياد کړل او د دغو متمدنو ملتونو علمي مکتسبات، صنايع او نور شيان مو وښودل موږ به هغه له هغه فوايدو او نتايجو سره مقايسه کړو چې د دوی په دغه مدنيت مرتب شوي دي، دلته موږ ګورو چې د دغه تمدن نتيجه لوړې شانداره ماڼۍ، لوی-لوی ښارونه، زرنګار قصرونه، لويې-لويې فابريکې دي چې په هغو مختلف ډول او په مختلفو کيمياوي رنګونو ټوکران اوبدل کيږي او بازار ته عرضه کيږي، او د دغو په مقابل کښې په هغه حربي مخرب وسايل او وسلې هم راواخلو چې په يوه رنجک سره عالمونه خرابوي او شانداره-شانداره فابريکې له منځه وړې او جهانونه تباه کوي. نو که موږ د دغو ملتونو د تمدن وسايل او آثار دوچنده او څو چنده تباه کړو او په يوه پله کښې يې واچوو او په بله کښې يې جنګونه او د هغو تباهۍ واچوو کومه پله به درنده شي؟ هرومرو به د علمي او مدني مکتسباتو پله سپکه کيږي او د جنګونو او د هغو د تباهۍ پله به درنديږي. نو ارتقا، علم او تمدن چې په دغه توګه وي او نتيجه يې دغه اوسي له خالص جهل او وحشت نه پرته بل څه نه وي بلکي انتهايي وحشت وي او زما په عقيده نننی انسان په وارو-وارو د جاهليت د دورې د انسانانو د جاهلانه جنګونو دپاره انسان يو عذر پيدا کولای شي چې د خپل ژوندانه اړتياوي به يې په ليندو او غشو، تورو او چړو پيدا کولای او کله ناکله به جنګ ته سره اړ کېدل، خو که موږ د هغه عصر جنګي وسايل د دې عصر له جنګي وسايلو سره مقايسه کړو هيڅ نسبت نه سره لري او عمومي تباهۍ ته راولي. هو موږ دغه راز ټولي وسلې په لاس کښې لرو او په کار يې اچوو مګر نه د ضرورت رفع کولو دپاره پلکي يوازي د ځان د لوړولو دپاره. او دا چې انسان ما له حيوان نه ټيټ وباله په دې دليل

چي د خپل علم او عقل نه استفاده نه کوي او د دې خبري غټ دليل هغه جنګونه دي چي بشر يې کوي. تاسي مفترس ترين حيوان او لا زهرناک ترينه خزنده واخلي چي په خپلو منځو کښي څنګه په ګډه سره ژوند کوي او ددوی تر منځ قطعاً هغه څه ليدای نشي کومه چي د انسانانو تر منځ ليدل کيږي. آيا تاسي ليدلي او لا مو اورېدلي دي چي که په ميليونو ښاماران او لا لړمان يو ځای سره خوشي وي دوی به يو دبل په مقابل کښي په جګړه لاس پوري کړي آيا دوی په د انسانانو په څېر يو د بلويني ته تږي اوسي؟ يو د بلويني به تويي کاندي؟ آيا زمريانو يو د بل په مقابل کښي صف تړلی او يوه د بل ويني تويي کړي او غوښي يې خوړلي دي؟ آيا خرو دغه کار کړی دی؟ نه خير او هيڅکله به يې ونکړي بيا وايم چي هيڅکله به يې ونکړي. نو بنا پر دې انسان خپل موجوده مدنيت، علمي مکتسباتو او بې پرمختګه عملي انکشاف او د جنګ په لار کښي د خپلو کوښښونو د ثمراتو په ښندلو، او له هغه څخه له ګټو اخيستلو سره-سره هغه موقف نيولی دی چي نورو حيواناتو نيولی نه دی او له دې کبله تر حيوان او خزنده ټيټ برېښي او داسي برېښي چي انسان ته مدنيت لري او نه علم بلکي په جهالت او وحشت کښي ژوند تېروي. بيا يې وويل: زه په قرآن کښي يوه آيت ته ملتفت شوم او دا انتباه مي ترې واخيسته، چي فساد او خونريزي د انسان په خټه کښي اخښل شوې ده خو د علم په برکت له هغه نه انسان ځان ژغورلی شي مثلاً قرآن وايي: (اذقال ربک للملائکة انی جاهل فی الارض خليفة) (هغه وخت چي ستا پروردګار ملکونه وويل چي زه په ځمکه کښي خپل خليفه ټاکم...) نو ملکي پرېشاني او حيراني شوې او دخ دای دې ارادې ته په چورت لاړي ځکه چي پوهېدی چي دغه خليفه به انسان اوسي او دغه انسان به د ډېرو

ناوړو ګناوو مصدر ورځي او مهمي به يې دا وي چي ويني به تويوو او په ځمکه کښي به فساد جوړوي. نو بيا يې په کامله او داسي آزادۍ خبري او انتقاد شروع کړ چي له آسماني او ملکوتي عالم سره وړ اوسي، هغه ملکوتي عالم چي په هغه کښي هيڅ ډول ريا او نفاق نه ځاييږي، نو يې وويل: (اتجعل فيها من يفسد فيها و يسفك الدما...) (آيا ته په ځمکه کښي داسي څوک خپل خليفه ټاکي چي هغه به په ځمکه کښي فساد کوي او ويني به تويوي....)

ملکو په انسان باندي په همدومره طعن اکتفا وکړه او د انسان نور هغه سيات او بدۍ يې يادي نه کړې چي له انسان نه صادرېږي، ځکه چي د انسان نوري ګناوي او خطاوي د دغو دوو ګناوو (فساد او خونرېزۍ) په نسبت هيڅ دی، نو ځکه په همدغو دواړو يې اکتفا وکړه او همدغه يې د دليل په حيث راوړ او هغه يې د انسان په خلافت د خپل تعجب دليل وباله. په دغه باره کښي لومړنی څېز چي د سړي سترګو او ذهن ته درېږي هغه دا دی چي د ملکو دغه خبره خو د الهی ارادې او مشيت په مقابل کښي د اعتراض په توګه شوې او له خدای سره يو نوع بې ادبي ګڼل کيږي، په داسي حال کښي چي تر ټولو مخلوقاتو بايد باادب تره او د خدای په لويۍ باخبرتره اوسي او له همدې کبله د دوی په باره کښي راغلي دي: (لايعصون الله ما امرهم ويفعلون ما يؤمرن) ملکي د خدای د امر نافرماني نه کوي، او هر څه چي ورته وايي هغه کوي.

او هر وخت چي دغه خبره صحيح اوسي نو حق ته نژدې خبره دا ده چي ملکو غوښتل چي ځانته معلومه کاندي چي په دې صورت کښي چي خدای انسان خپل خليفه مقرر کړی له فساد او خونرېزۍ څخه يې د هغه د ساتني دپاره څه وسايل په کار اچولي دي؟ او په دې

خبره باندي د خدای دا فرموده دلالت کوي: (انی اعلم غیب السماوات والارض) (زه د آسمانونو او ځمکي په پټو شیانو پوهېږم) او پاک خدای په ښه او واضحه توګه ملکي وپوهولې چي تاسي په دې پوه شوئ، چي په ځمکه کښي زما خلیفه (انسان) د فساد او خونرېزۍ پوره استعداد لري خو دې ته ملتفتي شوي نه یاست چي له فساد او وینو تویولو نه د هغو د ژغورلو دپاره ما څه درسره پیدا کړي دي تر څو چي د هغه څیز په برکت د دغو جرایمو له ارتکاب نه بچ پاتي شي او هغه علم دی او داسي یې وفرمایل(وعلم آدم الاسما کلهایم عرضهم علی الملائکه فقال انبئونی باسما مؤالا ان کنتم صادقین. قالو سبحانک لاعلم لنا الاما علمتنا انک انت العلیم الحکیم، قال یا آدم انبئهم باسمائهم فلما انباهم باسمائهم قال الم اقل لکم انی اعلم غیب السماوات ولارض...) یعني او پاک خدای ادم ته د ټولو شیانو نومونه ور زده کړل او بیا یې هغه ملاییکو ته وړاندي کړل او ورته ویې ویل چي د دغو شیانو په نومونو ما خبر کړئ که چیرته تاسي پوهېږئ. دوی په ځواب کښي وویل چي پاکي تا لره ده موږ له هغه علم او پوهي نه پرته بله پوهه نه لرو چي تا راکړې ده، بېشکه ته په پټو شیانو هم پوره علم لري، بیا خدای آدم ته وویل چي د دغو شیانو په نومونو ملکي خبري کړې، نو کله چي آدم دوی پرې خبري کړې نو خدای ورته وویل چي: آیا ما درته ویلي نه و چي زه د آسمانونو او ځمکي په پټو شیانو پوره علم لرم.

نو بنا په دې هغه څوک باید ملامت وګڼل شي چي وایي پاک خدای په دې خبري سره ملکي وپوهولې چي ما آدم (خپل خلیفه) ته هغه څه ور زده کړي دي چي ستاسي زده نه دي او د همدغي زدکړي په برکت له هغه فساد او هغې خونرېزۍ نه وساتل شي چي تاسي پېش بیني

کړې ده او هغه څه به ترې پېښ نشي چې تاسي ترې وېرېدئ او د هغې په اثر دغه کار غټې ورته برېښېدم. او د دغه راز کارونو له ارتکاب ته د انسان د صيانت عامل هغه علم دی چې ده ته ورکړ شوی دی. او په قرآن کښې د صحيح علم تعظيم او ستاينه شوې ده لکه چې وايي: (هل يستوی الذين يعلمون والذين لايعلمون) او لا لکه دا چې فرمايي: (لايعقلها الا العالمون) تاسي ګورئ چې په قرآن کښې هر ځای ټول انسانان مساوي او برابر ګڼل شوی دی مګر په دغو دوو آيتونو کښې چې په لومړي آيت کښې د جاهل او عالم تر منځ مساوات نفي کړی شوی او په دويم کښې افاده شوې ده چې غير عالم عاقل کېدای نشي. نو له دغو تېرو خبرو نه دا فهميږي چې صحيح علم هغه دی چې انسان له فساد او خونرېزی نه وژغوري. او هغه علم چې انسان له دغسي اعمالو نه ژغوري هغه علم نه دی چې آدم زده کړی و او ملکي يې پرې ملامتي کړې چې دی به د هغه په برکت فساد او خونرېزي نه کوي. بلکي د هغه نقيض ښکاري او په دغه نقاضت باندي هغه څه دلالت کښې چې موږ يې په اروپا کښې ګورو او د هغه ځای متمدن عالم چې خپله نسبي ترقي په خپلو علمي مکستباتو پوري مربوط بولي د دغه برهان نقيض دی. او دا هم بايده ده چې انسانان يو وخت د علم هغې درجې ته ورسيږي چې د هغه په برکت يو د بل له وينو تويولو لاس اخلي، او موږ ګورو چې د قاتل او مقتول تر منځ هيڅ نوع نزاع او دښمني او حتی پېژندګلوي هم نه وي خو د نورو په اراده د جنګ ميدانونو ته بېول کيږي. بيا يې وويل: کله چې انسان ګوري چې انساني وګړي د جنګ ميدانونو او صفونو ته په داسي توګه بېولي کيږي چې نه يوازي راضي نه وي بلکي کرکه ترې کوي ځکه چې دوی په دغه کار کښې د خپلو ماشومانو يتيمي او د ځوانانو او سپين ږيرو

مرګ او ډېري بې شرمۍ ګوري نو بيا حيرانيږي چې دا څنګه چل دی؟ کله يې وېروي او کله يې د وطن په نامه روانوي او دغه کار آسان ورته برېښوي. وطن د ځمکې يوه ټوټه ده چې که خلک په انصاف سره وچليږي د ټولو دپارهبس ده او ټول پکښې ځايږي، او دغه زياته ځمکه چې ځيني يې غواړي او جنګونه پرې کوي دا يو حرص دی چې دوی يې کوي او په پای کښې تر ټولو پاتې کېدونکې او د هغې ګټې ته ننوتونکی دی نو مناسبه دا ده چې انسانان د ځمکې په مخ يا ورورګلوۍ، ارامۍ، سوله او دوستۍ ژوند وکړي او په دې وپوهېږي چې دا دنيا له هر چا پاتې کېدونکې ده. تر دې هم حيرانوونکې خبره دا ده چې د جنګونو مخنيوی يوازې د قومونو تر ارادې پورې اړه لري او چې قومونه جنګونو ته غاړه کښې نه دی هيڅوک يې په زور جنګولای نشي مګر سره له دې هم ګورو چې لوی-لوی قومونه د يوه او لا يوه څو تنو د هوسبازۍ قربانيږي او څنګه چې يې خوښه وي هغسې لوبې پرې کوي او که دوی له جنګ کولو منع راوړي او جنګ کولو ته غاړه کښې نږدي آيا د دوی اميران پرته له دې چې له خپلو هوسرانيو تېر شي بل څه کړی شي؟ آيا له دې نه پرته بله چاره لري چې ضعيفانو ته موقع ورکړي چې خپل حق په زور په لاس راولي. هو! که قومونه د جنګ غوښتونکو ديني اجابت ونه کړي او د عدالت په قايمولو د عقل له لاري سره متفق او يو شي جهان به د جنګ او جګړې د پېښېدو له شر او ضرر نه وساتل شي او ټول خلک به په روغه او سوله ژوند وکړي.

البته دلته دومره خبره صحيح ده چې وويل شي: چې بشر اولا بني آدم زدکړه وکړه او د علم يوه مقام ته ورسېدل او لا ستاسي په اصطلاح متمدن شول خو په دې معنی چې دوی صحراوي پرېښودې او

ښارونه يې ودان کړل او پکښي واوسېدل او په واقع کښي صحيح علم هغه دی چي يوه څه فايده پرې مرتبه وي او انسان د شر له ارتکاب نه وژغوري. او بيا يې وويل: د جنګونو د مخنيوي ډېر غټ عامل همدا دی چي انسان د علم حقيقي درجې ته ورسيږي او ټولي طبقې عالمې شي، ځکه که ته د پرتانيې ټولي لښکري واخلي او اسي يې فرض کړي چي دوی په علم کښي (نيوټن) او لا د (ډاروين) درجې ته رسېدلی او لا د فرانسې عسکر ي وکړي (پاستور) ته ورته او د نورو ملتونو افراد نوروعلماوو ته ورته فرض کړی شي نو بيا د دې لپاره به د جنګ صفونه وتړي چي په يوه مېلمستيا کښي د هغه هيواد د سفير څوکۍ په نامناسب حای کښي ايښودل شوې ده، او لا به د دې لپاره د جنګ لام وتړي او د ميليونو بې ګناه خلکوويني به وبهوي چي يوه ټوټه ځمکه په خپل مملکت پوري وتړي او لا يې خپله مستعمره کاندي، زه خو ګمان نه کوم او مه تاسي دغه ګمان کوئ چي دغسي به وکړي.

## (د اسلام د دعوت او د هغه د انتشار په باب د ده) خبره او دا چي دين ته نه ښايي چي د علمي حقايقو پر خلاف اوسي او که ظاهراً دغسي وبرېښي بايد تاويل يې وشي

وروسته له هغه چي جمال الدين د جنګونو د مخنيوي له بحث نه په مخکښي توګه فارغ شو پوښتنه ترې وشوه نو بنا پر دې د خداى د دې آيت معنى څه وه چي وايي: (وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ.....)

(د کفارو دپاره خپل قوت او طاقت ((لکه آسان او داسي نور شول) چمتو کړئ چي د هغه په وسيله د خداى دښمنانووېروئ). او هم د سيف (توري) د آيت چي د قرآن نژدې دريمه برخه يې منسوخه کړې او د جهاد د صريح امر مطلب به څه شي وي؟ ده په جواب کښي وويل: دلته د هغو جنګونو تر منځ چي موږ يې ګورو او د هغو جنګونو تر منځ چي د ديني دعوت په لار کښي کيږي ډېر غټ توپير شتهو په دغو جهادونو کښي هدف دا و چي خلك د حق په لور راوګرځوي او د حق تابع يې کاندي هغه هم په داسي توګه چي دوى ساده او اجتماعي مبادي ومني او د دين په رڼا کښي خپل ژوندانه ته رونق ورکاندي. حضرت محمد(ص) اسلام او قرآن وروسته له هغه راووړ چي حضرت موسى(ع) تورات او حضرت عيسى(ع) انجيل راوړى و. په بني اسراييلو باندي ډېره موده تېره نشوه چي د هغوى علماوو او کاهنانو د تورات په احکامو لوبي شروع کړې او د موسوي دين ډېر اساسات يې رنګك او تر پښو لاندي کړل نو بيا حضرت عيسى راغى تر څو چي هغه څه اصلاح کاندي چي هغوى

مختل کړي وو او نواقص يې اتمام ته ورسوي او همدا و چي انجيل يې راووړ او په تورات او انجيل کښي هغه لارښوونې موجودي وې چي خلک ضرورت ورته لري. خو په عيسوي دين هم ډېره موده تېره نشوه چي ديني اضطرابات پکښي پېښ شول او د (صائبه) (يعقوبيه) او داسي نوري فرقې پکښي پيدا شوې او اکثره خلک د مسيح په روحاني خبرو او خالصه تصوفي ويناوو پوه نشول. په عربو کښي هر تر دې ډېر بد حال و، ټولو د بتانو عبادت کاوه او گمراهي او عوايت داسي عام شوی و چي يوه قبيله، يو کلی او يوه ناحيه ترې خلاصه نه وه او ټول په غلطه او گمراهۍ روان وو. داسي کارونه پکښي کېدل چي د سړي غوني ورته زيږه کيږي، لکه د ژونديو لوڼو خښول او داسي نوري بدبختۍ او بدعملۍ شوي، له هبل نه نيولې تر عزي، لات او مناته پوري د دوی هغه خدايان وو چي شمېر يې له درې سوو نه زيات و. او همدا و چي حضرت محمد(ص) رسول راولېږل شو چي د تورات او انجيل صحيح احکام يې تاييدول، خلک يې د خدای(ج) توحيد ته رابلل او د خير لارښوونه يې کوله روښانه شريعت يې له ځان سره راووړ چي د خلکو د مادي او معنوي سعادت او نېک مرغۍ ضامن او متکفل و د کفر او شرک تقبيح يې کوله او له يوه خدای نه پرته د نورو خدايانو عبادت او بندگي يې باطله بلله هغه هم د قرآن کريم په معجز آسا او واضحو دلايلو لکه د پاک خدای دا قول شو: (قل افاتخذتم من دون الله اوليا لايملکون لا نفسهم نفعاً ولا ضراقل هل يستوی الاعمی والبصير ام هل تستوی الظلمات والنورام جعلوالله شرکا خلقوا کخلقه فنشابه الخلق عليهم، قل الله خالق کل شيئ و هوالواحد القهار....)

(ته ورته ووایه چې تاسې له خدای نه پرته نور داسې کسان په دوستۍ نیولي دي چې نه ځانونو ته نفع رسولی شي او نه له خپلو ځانو څخه ضرر دفع کولای شي، ته ورته ووایه چې آیا ړانده او بینایان سره برابر دي؟ نه داسې نه ده لکه چې تیاره او روښنایي سره برابر نه وي آیا دوی د خدای دپاره داسې شریکان پیدا کړي دي چې د خدای په شان هر څه خلقولای شي او له دې کبله په اشتباه کښې لوېدلي وي؟ ته ورته ووایه چې یوازې هغه خدای د هر څه خالق او پیدا کوونکی دی چې یکه او یګانه او په هر څه غالب دی)

او هر څه چې د سیف آیت دی لکه چې تاسې وویل د قرآن نژدې دریمه برخه یې منسوخه کړې ده، او د قرآن دغه دریمه برخه ټوله لطف، آساني، امر معروف، په حکمت او نېکه موعظه سره د خدای توحید ته بلنه، مبادله، په ښه توګه جدال و او تر دغو ټولو لاندې یو مطلب مضمر دی چې هغه د خدای توحید او د یوه خدای بندګي او پرستش او د بتانو د پرستش پرېښوول او د هدایت قبلول او د ګمراهۍ پرېښوول دي. خو کله چې دغه ټول لطف، مهرباني، تساهل، په حکمت او حسن صورت سره موعظې او غیره بې اثره شول او د هدایت سبب یې نشول په داسې حال کښې چې په هغه کښې د ټولو ګټه وه. او مقابل طرف په خپل ضلالت او خپله ګمراهۍ مصر پاتې شو او په دې کښې د ټولو زیان و، نو ځکه د عربو د مشرکینو په مقابل کښې اسلام یو موقف غوره کړ او هغه دا و چې له دوی څخه په یوه خدای باندې له ایمان راوړلو او د بتانو د عبادت له پرېښودلو پرته بل هیڅ شي نه منل کېږي او هر څه چې اهل کتاب شول (عیسویان او موسویان) اسلام دوی ته اختیار ورکړی و چې یوه له دوو خبرو ومنې په دې توګه چې لا به اسلام

راوړي او لا به جزيه مني. د جزيې په وضع کښي چي د ټولو په دنيوي ګټه ده دا مقصد هم په اعلي درجه په نظر په کښي نيول شوي دي چي د هغې په وسيله د وينو له تويولو جلوګيري وشي او د خلکو نفوس مصئون او محفوظ پاتي شي او هغه هم د ډېر لږ مال په مقابل کښي چي په عامه مصالحو کښي لګيږي او د ټولو د تقويې سبب ګرځي او همدارنګه د جزيې ورکوونکي د اسلامي ټولني له غړو سره مساوي کيږي او حقيقي توګه برابر حيثيت ورسره ګټي، په دې توګه کوم حق چي مسلمان لري هغه ذمي لري او کوم تکليف چي په ذمي ايښوول کيږي عيناً په يوه مسلمان ايښوول کيږي. د خپل دين د شعايرو په انجام کښي به هم آزاد اوسي او هيڅ ډول اجبار به ونلري او نه به اکراه پرې کيمي، پ ټولو عاداتو او عباداتو کښي به آزاد اوسي او هيڅوک حق نه لري چي هغه د خپلو عاداتو او عباداتو په پرېښوولو مجبور کاندي او که اسلام غوره کاندي نو په دې صورت کښي سمدستي د خپلو مسلمانانو ووړو په خير او شر کښي شريکيږي او د هغوی په سلطنت او اقتدار کښي برخه لري او د مسلمانانو په اخروي ښېګڼو کښي هم برخه اخلي او په هغو جنتونو کښي به ګډ سره اوسيږي چي تر ونو لاندي يې ويالې بهيږي. او لکه چي تاسي ګورئ په دغو دواړو حالتونو کښي غرض د وينو د تويېدو مخنيوی او د دغي الهی بنا ساتنه ده، بلکي د يوه خدای د عبادت لپاره لارښوونه او د عدالت تاسيس او په مطلقه معنی سره د حق توزيع ده. او له همدې کبله تاسي ګورئ چي هر ښار او هره سيمه چي د اسلام تر حوزې لاندې راغلې د هغه ځای په سر د سولي او سلامتيا خېمې سيوری کړی او د هغه د عدالت په ساحه کښي په آمن او آمان اوسېدلی دی، د دوی تر منځ حقيقي مساوات روی کار شوی ا متبادل خير د دوی تر منځ وده

کړې ده او د هر غ ربي منصف لکه لارډ اسپسر او کارلايل او داسي نور شول په اعتراف له فيوضاتو او برکاتو مستفيد شوی دی او د اسلام دغه جنګونه يو هم د غرب د تمدن جنګونو ته ورته نه دي او نه له هغو سره مقايسه کېدای شي ځکه چي د دغو جنګونو غايه توسعه جويي، استعمار او بالاخر د نورو مريي کول دی. ځيني هغ کسان چي د اسلام د حقايقو په باره کښي پوره علم نه لر ياو لا برالا انکار او مکابره کوي داسي ګمان کوي چي اسلام د نړۍ په ټولو ښارونو کښي چي خپور شوی دی د توري په زور او د فشار له لاري خپور شوی دی، خو که موږ د انصاف په ستر ګه حقايقو ته وګورو او ښه يې وڅېړو دا به راته ثابته او څرګنده شي چي په مکه کښي د اسلام له ظهور نه مدينې ته تر هجرت پوري او له هغه نه تر دې پوري چي د عربستان ټول ټاپووزمې د اسلام تر سلطې او نفور لاندي راغی له يو څو محدودو غزاګانو نه پرته نور جنګونه شوي نه دي لکه د بدر، احداد، حنين جنګونه شول او په دغو جنګونو کښي د عربو قوي قبيلې تابع او مسلماني شوې او د نور ټاپو فتحه پای ته ورسېده، او يمن له جنګ نه پرته بلکي په بلنه او لارښوونه د اسلام تابعيت ومانه. او که بيا موږ ټولي هغه لښکري واخلو چي لومړي خليفه(ابوبکر رض) او دويم خليفه (عمر رض) سره راټولي کړي وې تر څلوېښتو زرو نفرو زيات نه وو او بيا دغه شمېر لښکري له هغو هيوادو سره مقايسه کړو چي په دغه دوره کښي د اسلام تر حوېز لاندي راغلل لکه شام، فلسطين، حلب، عراقين، مصر، د فارس ممالک او د چين تر دېوالونو پوري ممالک شول نو بيا به هم راته څرګنده شي چي په توره جنګېدل د اسلام د حکيمانه بلني په مقابل کښي هيڅ دي او دغه جنګونه د هغو عادلانه روشونو په مقابل کښي د يادوني نه دي کوم چي د هغو په وسيله اسلام ته د خلکو زړونه

مایل شوي او د اسلام په حوزه کښې داخل شوي دي، له دې نه علاوه که موږ د انصاف په سترګه وګورو هغه خلکو ته چي اسلام لاندي کړي او د اسلام په حوزه کښې راغلي دي ډېره برخه یې د سولي له لاري او لږ څه یې د جنګونو له لاري تابع شوي دي. او هر څه چي له دغه آیت څخه (واعدوالهم) مراد دی دا دی چي په هغه کښې د وینو د تویولو ملسون شوی نه دی لکه چي د دغه آیت له وروستۍ برخي نه څرګندیږي: (ترهبون به عدوالله وعدوکم) یعني داسي قوت پیدا کړي چي په هغه سره د خدای(ج) او دځان دشمن ووېروئ. نو په دغه آمادګۍ امر کول د دښمنانو وېرول دي تر څو چي د وینو تویولو اراده ونه کړي او د جنګونو طالبان د دغي وېري له کبله ځانونه له جنګ وژغوري. نو بنا پر دې خپل قوت زیاتول او هغه هم د جنګونو د مخنیوي په غرض د جنګونو د توقف بهترینه وسیله ده. لکه چي یو الماني قاید (مولیتکي) وایي: (جنګي امداد د جنګ د مخنیوي دپاره دی) او قرآن هم یو زر او درې سوه کاله دمخه په دغه معنی راغلی او دغي معنی ته یې اشاره کړې ده، لکه چي مخکښې اشاره ورته وشوه چي مقصد او غایه د قوت له پیدا کولو څخه د جنګ جویانو وېرول دي تر څو چي د خونریزۍ مخنیوی وشي. نو که قرآن او د هغه تعلیمات او د اسلام د دین ارشادات او د محمدي سیرت مبادي عملي شي او خلک وکولای شي چي هماغه عالي سیرت تر عمل او تطبیق لاندي ونیسي د خلکو سعادت او نېکمرغي به تامین شي او د خیر ټولو انواعو ته به ورسیږي او ډېر شرونه او ضررونه به ترې دفع شي. زه دا وایم او د خدای(ج) په عزت لوړم چي زه په داسي حال کښې چي په کورکورانه ډول د اسلام ملاتړ نه کوم او نه دا خبره د کوم تعصب له مخي کوم دا ایم او بیا وایم چي

قرآن او قرآن پوازنۍ وسيله ده چې د هغه د تعليماتو او مباديو په تعميل سره د بشري سعادت او نېکمرغي تامينېږي. او زه افسوس کوم چې مسلمانان له دغې خزانې نه استفاده نه کوي او هغه يې د هېرې(نسيان) په کونج ايښې او نوري لاري ګودري لټوي. مسلمانان د قرآن له ټولو اوامرو نه مخالفت او د هغه د هدايت په عکس عمل کوي ته به وايې چې قرآن دوی ته امر کړی دی چې په خپلو منځونو کښې سره مخالف اوسۍ، سره يو نشۍ، تيت او پرک ژوند کوۍ چې يو-يو شۍ او قوت يې لاړ شي. او لا ګواکې داسې چې ورته ويلي يې اوسي چې د قرآن په معانيو کښې فکر مه وهۍ تر څو چې په هغه څه ونه پوهېږۍ چې اخيرت نه دمخه د دوی خير تامينوي. زه به څنګه دا خبره نه کوم؟ په داسې حال کښې چې متاسفانه ګورم چې څوک چې د قرآن تفسير کوي تر هر څه د (بسم الله) (ب) ورته مهمه ښکاري او د هغې په شاوخوا کښې خپل بحث ته ادامه ورکوي او لا په (الصراط) کښې د (ص) له مخرج نه وتی نشي چې په نتيجه کښې هر څوک چې دغه تفسير ګوري په دې عقيده راځي چې قرآن نه په دنيوي ګټو شامل دی او نه په اخروي (په داسې حال کښې چې قرآن د دواړو جهانو په ګټو مشتمل دی) په ډېرو هغو کسانو کښې چې د علماوو په جامه کښې ګرځي او ځانونه علما معرفي کوي جهالت او ناداني دا پسې عامه شوې ده چې کله ناکله له خپلې ناپوهۍ وايي چې قرآن له عملي ثابتو حقايقو سره مخالف دی په داسې حال کښې چې قرآن له دغې خبري نه بېزار دی. نن علم ثابته کړې ده چې ځمکه کروي او چارچاپېره له لمر نه ګرځي او لمر په خپل ځای له خپل محور نه چارپېر ګرځي، دا يو حقيقت دی او داسې نور علمي حقايق هم شته چې بايد له قرآن سره موافق اوسي او دا هم لازمه ده

چي قرآن باید له علمي ثابتو حقایقو سره مخالف نه اوسي، په تېره بیا په کلیات کښي. نو که موږ په قرآن کښي داسي څه ونه موندل چي په صراحت سره له علمي حقایقو سره موافقت څرګندوي نو د هغه په اشاراتو به اکتفا وکړو او تاویل به غوره کړو، ځکه چي دا ممکنه نه ده چي ټول علوم او اختراعات صریحاً په قرآن کښي راشي په داسي حال کښي چي د قرآن د نزول په وخت کښي دغه علوم له هر چا نه پټ و او چا ته څرګند نه و او که قرآن په ربل، برق او لا په هغه څه تصریح کړې وای چي د برق د انرژۍ په وسیله اجرا کیږي او د هر چا عقل یې منلی نشي نو ټول خلک به ګمراه شوی وای، او مخ به یې ترې ګرځولی وای او دروغ به یې بللی وای. همدغه وجه ده چي موږ ګورو چي قرآن ټولو هغو شیانو ته اشاره کړې ده چي نن پېښیږي او لا به پېښ شي، البته په دغه باره کښي د خلکو د عقولو او فهمونو د اندازې رعایت شوی او په نظر کښي نیول شوي دي.

## د ممالکو د تدبير او د شورايي حکومت د اصول او د پادشاهانو د وظايفو په باره کښي د قرآن موقف او د نورو علومو او فنونو مقدماتو ته د قرآن اشاره

د ممالکو تدبير، او له استبداد نه د هغو ژغورل، په حکمت او تدبير سره د ملکونو اداره، په شورى او مشوره سره حکومت کول، خلک په اجتماعي چارو کښي برخي اخيستلو ته رابلل د پادشاهانو وظايف به د هغوى غلطۍ او هغه ورانکارۍ چي هيوادونو ته د دوى لښکرو د داخلېدلو له کبله وراوړي او د قوم عزيز کرده وو ذليلول د جنګونو په اعلامولو کښي د پادشاهانو صلاحيت او دا چي بايد په دغه باره کښي د خلکو نظر واخلي، له دهقانانو سره د پادشاهانو ګډون او د جاسوسۍ ګټور اړخونه، د ګاونډيو ملکونو څخه د ځان خبرول او داسي نور ځيني اجتماعي مطالب هغه مواد دي چي د نمل په سوره کښي په لنډه توګه په صراحت سره بيان شوي او هغه دا دي:

يوه ورځ هدهد (او توتک) د سلېمان(ع) له نظره الونيا شو او وېي نه ليد او بيا په قار شو چي څله د ده له اجازې پرته الونيا شوى دى، خو کوم وخت چي راغى حضرت سلېمان ته يې عرض وکړ چي ما يو يقيني خبر درته راوړى دى چي هيڅ دروغ پکښي نشته لکه چي د يو شمېر جاسوسانو په اطلاع ګانو کښي دروغ وي، ما يو مملکت وليد چي د پادشاهۍ واګي يې د يوې ښځي په لاس کښي وي او له هر څه پورو معمور مملکت و او ډېر لوى او غټ تخت يې درلود او تږولو د لمر پرستش کاوه. سلېمان(ع) د هدهد خبره سمدستي ونه منله بلکي وېې

فرمايل چي زه به تحقيق وکړم او وبه ګورم چي ته رښتيا وايې او که دروغ، نو بيا يې يو ليک ورکړ چي هغې ته يې ورسوي او سپارښت يې ورته وکړ چي له لري نه د اوضاعو مراقب اوسي چي د دغه ليک په مقابل کښي څه کوي؟ او کوم وخت چي د سبا ملکې ته د دغه ليک ورسېد سمدستي يې خپل ملي مجلس غونډ کړ او لا د اهل رايو مجلس يې راغونډ کړ او ورته ويې ويل چي: تاسي په دې باره کښي څه واياست ځکه زه تر هغه وخته پوري په مملکتي چارو کښي څه نه کوم تر څو چي مي ستاسي نظر به اخيستی نه وي. او وروسته له هغه د مجلس شاملو کسانو خبري سره واړولې او موضوع يې په دقت وڅېړله او په خپلو حربي معداتو او وسلو يې علم راووست او خپل طاقت يې وسنجاوه نو بيا يې ملکې ته خبر ورکړ چي موږ کولای شو چي سليمان ته د جنګ اعلان ورکړ او مقابله ورسره وکړو ځکه چي له دوی سره پوره قوت شته او له خپل هيواد، تخت او تاج نه دفاع کړای شي. نو که ستا خوښه اوسي موږ د جنګ اعلان ورکو او پوره آمادګي لرو خو سره له دې هم اختيار تا لره دی او هر څه چي ته وايې هغسي به وکړو. هغې په جواب کښي ورته وويل چي معنی او خلاصه يې دا ده:

جنګونه ډېري خسارې او تاوانونه او وخيم عواقب لري او بايده نه ده چي په دې کار کښي عجله وشي بلکي په کار دی چي داسي تدبير ونيول شي چي د هغه مخنيوی وشي او مشکل د مسالمت او مصالحت له لاري حل او د تدبير له لاري ملک له خطر نه بچ وساتل شي او دا موقع ورنکړی شي چي مهاجمي قواوي ملک ته داخلي شي او ورانکاري وکړي ځکه (پادشاهان که په زور چي کوم ښار ته ورننوزي هغه فاسدوي او ورانوي يې او د هغه ښار عزتمند او دق درت او نفوذ

خاوندان ذلیلوي او خواروي یې او دوی هدغسي کوي) او زه به ده ته یو سوغات ورولېږم او وبه ګورو چې زموږ استازی څه جواب راوړي؟ که سوغات یې قبول کړ معلومه ده چې سلېمان یو مادي انسان دی او مادي اغراض لري، نه دا چې د خدای له لوري کومه وظیفه ولري او لا د ایمان په مقتضی دغه کار کوي. همدا و چې سلېلمان (ع) سوغات ونه مانه او بېرته یې ورکړ او ورته ویې ویل چې که په خپله خوښه د ده مبادي ونه مني دا او د دې قوم به په زور او جنګ ونیسي او له خپل ملک نه به یې وشړي او اراده یې وکړه چې هغې ته خپل زور هم وروښیي چې بادونه او بخارونه د ده د ارادې تابع دي او د الوتکو په څېر یې هر چیرته چې وړي او راوړي یې او دا چې مخابرې د سرعت لوی قدرت ورسره شته او کولای شي چې په لږ وخت کښې د خپل قلمرو له هري برخي نه خبر واخلي او له یو ځای نه یې بل ځای ته ورسوي دومره سرعت چې د دې عصر له برق نه تېز او (تلګراف) ته ورته دی. موږ په دغو کیسو کښې دا مومو چې سلېمان په دغو وسایلو سره وکړای شو چې په آسانۍ سره د سبا له ښار نه د قدس ښار ته د بلقیس تخت د سترګو په رپ کښې راورسوي او د قرآن په نص ثابته خبره ده او اسباب یې ښودل شوي نه، ځکه چې دا ممکنه نه وه چې قرآن په صراحت سره د هغو شکل کیفیت او نوعیت بیان کړي وای ځکه چې د هغه و خت (د قرآن د نزول وخت) د خلکو اذهانو نه منله اونه پرې پوهېدای شول. هدارنګه که قرآن د خبرونو د اخیستلو وسایل په شرح او تفصیل سره ښودلی وای تر څو چې موږ تلګراف لیدی نه وای منلی مو نشو او نه پرې پوهېدای شو. همدارنګه علم له دې نه عاجز نه دی چې ځیني داسي نوي شیان کشف کړي چې موږ یې نن محال او مستحیل ګڼو. البته د خاورین بشر د ځاني

فعاليت ساحه تحديد شوې او كولای شي چي په هغه ساحه كښي خپل فعاليت ته دوام وركړي خو د هغه ورځي كوم ناممكنات به ممكنوي. ډېر امكان سلري چي موږ يې تصور نشو كړای د سبا علم يې د علم ميدان ته راوباسي. او د هدهد په كيسه كښي ډېره دقيقه اشاره شته او هغه دا ده ي كوم وخت چي حضرت سلېمان اراده وفرمايله چي د بلقيس تخت راحاضر كړي د خپلو نقليه وسايلو شريعي وسيلې يې راوبللې او موضوع يې په مسابله كښي ورته واچوله. نو بيا د جنياتو يوه عفريت ورته وويل چي سزه يې په دومره ځنډ كښي رارسولی شم چي ته به لا له خپل ځای نه ولاړ شوی نه اوسې، خو حضرت سلېمان(ع) هغه بطينتی وباله او چندان التفات يې ورته ونكړ او په دغه وخت كښي يو بل څوك چي د كتاب علم يې درلود راوړاندي شو او ورته ويې ويل چي زه به يې د ستركو په رپ درته راورسوم نو موږ دغي اشارې او لا له دغه صراحت نه پوهېدای شو چي په چټكۍ سره د شيانو د حمل او نقل وسايط او وسايل زموږ په وهم كښي هم نه ګرځېد او نه پرې پوهېدای شو چي هغه په څه ډول او په څه شان و؟ خو دومره پوهېږو چي په علمي وسايلو بنا يو شی و او دغه علم په كتاب كښي مدون علم و او خاص متخصصين يې لرل او په غير ردوحي طور يې چلول: همدارنګه قرآن د ځمكي كرويت ته هم اشاره كړې ده، ځكه چي دا يو علمي حقيقت دی او قرآن داسي اشاره ورته كړې ده: (والارض بعد ذلك دحاها) (دحی) په عربي كښي بيضوي شكل او لازوالي ته وايي او همدا كروي او لاكروي ته نژدې شكل دی. او همدا اشاره كافي ده چي علمي حقيقت له قرآن سره يو شی او لا به تاويل كوو چي قرآن له يوه علمي حقيقت سره يو شی نه دا چي سره مخالف اوسي. او هر څه چي د لمر ثبات او عدم انتقالي حركت دی او

دا چي له خپل محور نه چاپېر ګرځي قرآن داسي اشاره ورته کړې ده: (والشمس تجرى لمستقرلها) جري او دوران په يوه معنى لکه چي محور او مستقر په يوه معنى دلالت کوي نو که څوک د دغه آيت معنى داسي وکړي چي لمر پر خپل محور ګرحي ملامتى نشي پرې ويل کېداى، نو که علمي حقيقت همدا وي چي لمر يوازي له خپل محور نه تاوېږي خو قرآن اشاره ورته وکړي او مخالف ورسره نه دى. د فلکياتو علما دې ته رسېدلي دي چي لمر او ځمکه يو و او بيا ځمکه ترې جلا شوه او دغه موجوده کره ترې جوړه شوه. نو که دا خبره د يوه علمي حقيقت په حيث ومنله شي نو موږ په قرآن کښي ګورو چي دغه حقيقت ته يې داسي اشاره کړې ده: (کانتارتقا ففتقناهما) يعني ځمکه او آسمانونه سره يو وو او بيا موږ سره جلا کړل. همدارنګه که موږ د مثال په توګه د ثروت علم ته وګورو سرامعلومه به شي چي ډېرو متاخرنيو د ثروت د علم د کليه قواعدو د وضعې ادعا کړې او د هغو افرادو ته يې اشاره کړې ده، او د دغو قواعدو د کلياتو له جملې څخه يو مهم د درند د اخيستلو په وخت کښي د عشر د ادا کولو د وجوب او لزوم مسئله ده، او لا داسي نور ماليات شول، او د دغه کار له فايدو څخه يوه دا ده چي بزګر په آسانۍ سره کولاى شي چي په خپله غاړه لازم پور ادا کاندي. دلته موږ قرآن کريم ګورو چي له دغو علماوو نه پخوا د غي مسئلې ته ملتفت شوى او هغه يې په داسي عباراتو ذکر کړې ده:

(وهوالذى انشا جناب معروشات و غير معروشات، والنخل والزرع مختلفاً اکله و الزيتون والرمان متشابها و غير متشابه، کلو امن ثمره اذا اثمرو آتواحقه يوم حصا ده)

یعني پاک خدای(ج) هغه ذات دی چې ګڼده داره او غیر ګڼده داره ونې یې پيدا کړي دي، د خرما ونې او نور کښت یې پيدا کړی دی چې د مېوو او دانو خوند یې مختلف دی او توپير سره لري، زیتون او انار یې هم پيدا کړي دي چې یو بل ته ورته والی لري او هم یې نه لري. کوم وخت چې یې مېوه پخه شوه ويې خورئ او د حاصل حقوق یې د ټولو په وخت ورکړی. په همدې توګه تاسي په قرآن کښي ګورئ چې د علومو کلياتو ته اشاره شوې او لا په صراحت بيان شوی دی چې موږ یې دلته په تفصيل نشو راوړی او که څوک غواړي چې په تفصيل پرې پوه شي خپله دي تتبع وکړي. یو له هغو مسايیلو چې ټول علما یې مشغول کړي دي د دې عالم د فنا کيفيت چې څنګه او په څه شکل په دغه کار کيږي. او کومې نتيجې ته رسېدلی دی هغه دا ده چې دوی وايي چې د دغې ځمکي فنا او د هغې قيامت تر هغه وخته پوري ممکن نه دی خو چې شمسي نظام مختل شوی نه وي، او هر کله چې دغه نظام مختل شو نو د سختو زلزلو په واسذه دغه جهان وران او ويجاړ شي. او چې موږ قرآن ته ګورو په دغه حقيقت یې داسي تصريح کړې ده (اذا زلزلت الارض زلزالها، و اخرجت الارض اثقالها...) (يا ايهاالناس اتقواربکم ان زلزلة الساعة شئ عظيم) او د شمسي نظام د اختلال په باب د قيامت د علامو د بيانولو په مورد کښي داسي فرمايي: (وترى الارض بارزة...) یعني ته به ځمکه وګورې چې له خپل محور او مدار نه وتلې اوسي او د شمسي نظام تابع به نه وي او هر وخت چې دغسي پېښه وشوه نو بيا به له شکه پرته دغه جهات هم مختلف شي، په دې توګه چې غرب به شرق او جنوب به شمال شي، او په دې توګه به سختي زلزلې پېښي شي او له دې کبله چې ځمکه به له خپل مرکز نه لري شي ضرور او هرومرو به د هغې

اجزامتلاشي او غرونه به يې ذرې-ذرې شي او په دې توګه به د ځمکې کره له منځه لاړه شي او قيامت به قايم شي (خدای ښه پوهېږي.)

# د سني او شيعه له نومونو نه د جمال الدين کرکه او دا چې دغه تفرقه د غرض خاوندانو اچولې ده او کومه موجبه نه لري

د تاريخ په مختلفو ادوارو کښې د پيغمبر(ص) د کورنۍ طرفداران او ملاتړ پيدا شوي او خپله طرفداري يې کړې ده، خو ځيني ګمراه شوي دي لکه (مؤلهه) شول، دا هغه کسان دي چې د علي ابن طالب په الوهيت عقيده لري، او ځيني يې (مفضله) او (غلاة) دی او دا هغه کسان دي چې علي تر نورو اصحابو بهتر ګني او د نبي د کورنۍ په بهترۍ کښې غلو او مبالغه کوي او دغه دواړه ډلي تر دې حکم لاندې راځي چې وايي: (زموږ ((اهل بيت)) په باب دوې طايفې هلاک کيږي يوه هغه چې ډېره مينه راسره لري او غلو کوي او بله بدګويه (دښمنه طايفه)).

هر څه د شيعه ګانو تفضيليه طايفه ده چې د جعفر صادق(رض) د مذهب پيروي کوي او هغه د پيغمبر د کورنۍ ستر عالم و يوازې په دې چې د امام جعفر د مذهب پيروان دی او د نبي د کورنۍ په مينه کښې غلو کوي او امام علي(رض) تر نورو بهتر ګڼي له مسلمانۍ نه وزي نه او نه بايده ده چې موږ يې د اسلام له دايرې نه خارج وګڼو او هغه د تفرقې او جلا يې سبب وبولو او نزاع او بيا دښمني او وروسته جنګونه ورسره وکړو، دا هغه خبري دي چې د غرض خاوندانو د خپل نفوذ د پراختيا دپاره منځته راوستی او د جاهلانو له خوا منل شوی او تقويه شوی دی،

د سنیانو مقتدرینو د عوامو د غولوني دپاره د شیعه ګانو مسئله غټه برېښولې او هغوی یې د شیعه ګانو په خندا په راز-راز پلمو او نومونو راپارولي او د ځان په خوا یې کړی دی، تر څو چي په دې توګه د حان دپاره ډله جوړه کړي او خپل ګوند قوي کاندي، او بیا قوي لښکر برابر کاندي او د شیعه توب او سني توب په دلیل مسلمانان په خپلو منځونو کښې سره ووژني. په داسي حال کښې چي ټول په قرآن ایمان لري او د حضرت محمد(ص) رسالت حق بولي. راغلو د حضرت علي د بهترۍ خبري ته او دا چي د معاویه په مقابل کښې د ده ملاتړ باید وشي نو که موږ دا ومنو چي که دغه خبره په هغه وخت کښې ګټوره وه او لا د هغې شا ته یوه ګټه پرته وه چي د حق احقاق او د باطل او ابطال و نو نن خو دغه ناره څه ګټه نلري او نه په دغه قضیه تمسک کول څه فایده لري، ځکه چي د هغې وخت تېر شو او د هغه وخت خلک هم تېر شوي دي، او په دغو خبرو کښې له خالص ضرر نه پرته بل څه نشته او د اسلامي عالم د وحدت او یووالي رسۍ شلوي نو که د عربو او عجبو سنیان راولاړ شي او د اسلامي نړۍ له شیعه ګانو سره په دې کښې متفق او یو شي چي عل ابن طالب تر ابوبکر بهتر و چي خلیفه شوی وای آیا په دې سره د شیعه ګانو حل ښه کیږي؟

او که ټول شیعه ګان له سنیانو سره یو شي او دا ومني چي ابوبکر په حقه سره خلافت ته رسېدلی دی آیا دا به د دې سبب شي چي سنیان له هغه ذلت او خوارۍ نه ووزي کوم چي نن پکښې لوېدلی دی او خپل موجودیت نشي ساتلی؟ او په دغو خبرو څه اجتماعي ګټه او فایده مرتبه ده؟ آیا دا مناسب نه ده چي مسلمانان راویښ شي او د غفلت پخته له غوړونو نه وباسي او له اجل نه پخوا ونه مري؟ اې قوم! قسم په

خدای دی چي اميرالمؤمنين علي بن ابی طالب(رض) راضي نه و چي عجم او شيعه ګان دي له اهل سنت سره وجنګيږي او لا په دې له هغو ينه جلا شي چي هغوی ابوبکر بهتر ګڼي. همدارنګه ابوبکر هم راضي نه و چي سنيان له ده څخه د دفاع په نامه له شيعه ګانو سره وجنګيږي او له دې کبله له هغوی سره دښمني راواخلي چي هغوی د ابوبکر بهتري نه مني او هغه بهتري چي وخت او زمانه يې تېره شوې او هيڅ پرې مرتب نه دي هغه دښمني چي د قرآن له روحيې نه مخالفه ده، ځکه چي قرآن ټول مسلمانان د يوې محکمې بنا په توګه ګڼي او د يوه جسم حکم ورکوي. او هر څه چي د هغوی د بهتری مسـئله ده که هغه له هغومره اوږدې مودې وروسته هم د بحث او څېړني وړ او مستحقه ده بايده ده وويل شي چي د دغه مشکل د حق په باره کښي وويل شي چي (د راشدينو خلفاوو له جملې نه له ټولو نه د لنډ عمر خاوند تر هغه چا دمخه خلافت وکړ چي تر هغه د اوږد عمر خاوند و) نو که له نبي(ص) نه وروسته خلافت علي ته رسېدلی وای هرومرو به ابوبکر، عمر او عثمان(رض) مړه شوي وای او دا به ورته ميسره شوې نه وای چي د اسلام دپاره يو څه خدمت وکاندي، سره له دې چي د خدمت ډېر توان يې درلود او ډېر خدمتونه يې انجام کړي هم دي، خدای د خپل مخلوق په حکمت ښه پوهيږي او تر ټولو محترم او مکرم هغه دی چي متقي تر وي.

## د سوسيالستۍ په باره کښې د ده رايه او دا چې هغه له دين سره مخالفت نه لري بلکې تاييدوي يې

د سيد جمال الدين په مجلس کښې به د هر مذهب او هر مسلك خبرې کېدې او د هر مذهب پيروان به ورتلله او ورسره غږېده به، او دى هم مجبور و چې له هر چا سره د هغه د عقل او استعداد په اندازه خبرې وکړي او تر ممکنې اندازې پورې يې د معتقداتو رعايت وساتي، او له ماديانو (دهريانو) او متعصبو خداى پرستانو سره به يې ژور بحثونه کول، د هغوى د فلاسفه وو نومونه به يې اخيستل او د هغوى له کتابونو نه به يې د هغوى مذهبونه رانقلول او توضيح کول به يې، د هغه دلايل او براهين به يې راوړل. او دا هغه خبره وه چې ډېر کسان يې په دې وادار کړي و چې جمال الدين متعددو او مختلفو مذهبونو ته منسوب کړي، کله به يې له دين نه وتلى او خارج باله او چا به متعصب ملا ګاڼه، همدغې خبرې د ده د حاسدينو تبر ته لاستى ورکړ چې هغه په الحاد متهم کاندي، همدا و چې هغوى دغه خبرې د ده په باره کښې خپرې کړې او عوامو ته يې ورسولې او دا وېره د خلکو له خوا تاييد شوې، په تېره بيا هغو کسانو چې د ده مجلس ته به ورتلل او د ده خبرې به يې اورېدې او پرې پوهېدل به نه او بيا په يې تحريفولې، او دا هغه کسان وو چې د ده په سيرت کښې دمخه تېر شول. له دې نه علاوه کومې خپرې به چې ده په خپلو جدلي بحثونو کښې کولې يوازې د دهريانو دلايل به يې راوړل او د نورې د ملتونو د مذاهبو حقايق به يې بيانوي، پرته له دې چې عقيده پر ولري او لا ورته مايل اوسي، بلکې په هغو به يې د رد دلايل ويل او په

بطلان به يې براهين تېرول. همدارنګه د قرآن د ځينو احكامو په باره كښې د ده اجتهاد او د ځينو احاديثو تفسير او د پخوانيو له سيرت نه د احكامو استنباط د دغې تومتونو دپاره زمينه لا مساعده كړې ده. د مثال په توګه د تركو يو لوى اديب او نامتو ليكوال چې تل به د سيد جمال الدين مجلس ته ورته (او په جمال الدين باندي هم د خپلي ذكا او پوهي له كبله ګران و) او ډېر حرص يې درلوده چې د سيد له افكارو اقتباس وكړي او تر ټولو شاګردانو نه يې ډېره ګټه ترې يوسي. خو دغه سړى په عين زمان كښې د غربي ملتونو د ادب او تهذيب مرهون او طرفدار هم و او د هغوى نهضتونو او پرمختګونو په تعجب كښې اچولى و، او له دې څخه هم په تعجب كښې و چې دوى څنګه كارونه په خپلو منځونو كښې سره وېشلي او ټول په ګډه سره او په عادلانه توګه په اصلاحي چارو كښې برخه اخلي؟ نو بيا يې جمال الدين ته وويل: اې حضرت سيد: د اروپا د نهضت بهترين څېر سوسياليستي (اشتراكيت) دى او دغه نهضت به د كارګرو هغه حقوق بېرته راژوندى كړي كوم چې ترې اخيستل شوى دى، نو كه د اسلام دين له دغه مذهب او مسلك سره مخالفت او مقاومت راواخلي او ورسره جوړ نشي زما په خيال د اسلام د نظام په ماڼۍ كښې به يو داسي درز پيدا شي چې په آسانه به ونه تړل شي او بايده ده چې د دغه خلل مخه په ډېره حكيمانه توګه ونيول شي. او ستاسي رايه په دغه باره كښې څه ده؟

نو بيا جمال الدين په جواب كښې ورته وويل: هغه څه چې ته يې په غربي اشتراكيت كښې ګورې او كومي ګټې چې په دغه مسلك پوري تړلي درته ښكاري هغه په خپل موجوده شكل، اساسونو او د هغه د مباديو د ايښوونكو له خبطه سره-سره كه په دقت ورته وكتل شي د

اشتراکیت نتایج معکوسوي او له خالص ضرر نه پرته بله ګټه وټه نلري، که څه هم له هغه د ګټې انتظار کېده. غربي اشتراکیت (سوسیالیستي)، په واقع کښې د حکامو او بډایانو د بې عدالتۍ او ناوړو استفادو پر ضد د کارګرانو د انتقام د حس مولود دی، دغه راز ناوړه استفادې د کارګرو د انتقام او حسد احساس راپاروي او د ثروتمندانو او بډایانو پر ضد قیام کوي، هغه بډایان چې د کارګرو د لاس د تپاکو په محصول عیش او نوش کوي او د هغوی د چوپلو په خولو حاصل شوي مالونه ذخیره کوي او بیا یې په مسرفانه توګه د خپلو ساعت تېریو په لار کښې لګوي. هغه په داسي توګه چې خپله مولدین ژړي-ژړي ورته ګوري او دوی بې شرمانه لوبې پرې کوي، لنډه دا چې د کارګرو د کار او عمل په نتیجه او ثمره په بډایانو لوبې او چړچې کولې او دا هم ثابته ده چې هر هغه عمل چې په افراط ولاړ او متکي اوسي د هغه نتیجه هرومرو تفریط وي، غربي بډایانو د کارګرو د حقونو په اتلاف کښې افراط وکړ، فقیران او ناداران یې شا ته واچول او پروا یې پرې رانه وړه نو کارګرو هم د ثروتمندانو پر ضد په نهضت او قیام شروع وکړه او د خپلو حقونو د هغو غاصبینو پر ضد ودرېدل کومو چې د څوکیو او مقاماتو په زور د هغوی حقوق سلب کړي وو، په داسي حال کښې چې کومه دیني قاعده موجوده نه وه چې هغې ته د مراجعې له کبله افراط ته منجره شوې نه وای او نه داسي بله قانوني سلطه موجوده وه چې په زور یې د عمومي خیر او صلاح له کبله د دغه افراط او تفریط مخه نیولې وای. نو ځکه غربي اشتراکیت یوه ګډوډې راوسته چې د ګټې پر ځای یې د زیان او تاوان وېره ډېره په نظر راځي. او هر څه چې اسلامي اشتراکیت (سوسیالیستي) دی هغه په واقع کښې له اسلامي دین سره خلط دی او د مسلمانانو د جاهلیت او بدویت

له وخت نه د دوی په اخلاقو کښي ځای لري. د اسلام له راتګ نه وروسته د لومړۍ پلا دپاهر چا چي په اشتراکيت عمل کړی دی د اصحابو له جملې څخه لوی خلفا دي او چا چي دغه کار د (اشتراکيت) ته ډېر لمسون کړی دی هغه هم لوی-لوی اصحاب دي او دا دی د دې خبري ثبوت:

په دې خبري دليل چي اشتراکيت د مسلمانانو د جاهليت د دورې دود او عادت دی دا دی چي د ثروت خاوندانو او بډايانو به دخ پل کور کلي له بېوزلو سره مرسته کولای او لاس به يې ورکاوه، زه په تفصيل سره په دغه باره کښي خبري کول نه غواړم بلکي په لنډ ډول د هغو کسانو نوم اخلم او کيسه يې راوړم چي زيات شهرت لري، لکه حاتم طايي شو چي په سخا او جود کښي ضرب المثل دی او د قحطۍ په کلونو کښي به يې څومره کومکونه کول، حتی يو کال يې خپل ډېر ګران مال (چي د ده د سپرلۍ آس و) د يوې ښځي د غوښتنې په اثر چي طی د قبيلې له کورز سر نه راغلې وه حلال کړ، ښځې ورته وويل چي حاتم! مور ته وي شوي چي ستا په کور کښي چاغي غوښې شته نو ځکه مي خپله لونه راوستې تر څو چي له دغو غوښو نه يو څو وخوري. ده ورته وويل چي رښتيا دي، او بيا يې خپل ګران آس حلال کړ او اور يې بل کړ (دا د عامي مېلمستيا د بلنې يو اعلان او يوه نښه وه) نو چي نورو به لوګی وليد په دې به پوه شول چي هلته څه خوړه شته او ټول به سره راټولېدل او هغه به يې په ګډه سره خوړله، پرته له دې چي يو پر بل احسان بار کړي او لا منت پې کېدی ځکه چي دغه کار په وار سره د بډايانو له خوا کېده او تر وسه پوري به يې د بېوزلو دپاره خواړه ورکول. حاتم هم د همدغسي ښځي او د هغې د لوښو په باره کښي همدغسي

وکړل او نورو چي لوګی ولید ورته راټول شول، او دا په تواتر ثابته شوې ده چي حاتم په خپله هيڅ له دغي غوښي نه ونه خوړه که څه هم ورته اشتهامن او خورا وږی و. دغلته یو بل عرب هم و چي (طلحة الطلحات) نومېده او هغه داسي و چي هر غریب او بېوزلي انسان چي به ورته راغی نو ورته وبه ویې ویل دا دی آس اونېزه او توره درواخله او په ښکار پسې ووزه، هیله ده چي په دې وسیله د ګدايۍ او سوال له ذلته خلاص شې او که ته کار ونکړې او هغه په کار وانه چوې نو خدای دي خوار کړه او ښه ورځ ونه مومې.) وايي چي دغه سړی (طلحة) ډېر آسان اووسلې لرلې او په دغه توګه يې ډېر کسان چي شمېر يې يو زر تنو ته رسېده مجهز کړي وو او هيڅ ورته پاتي نشو. او کوم کسان چي ده مهجز کړي وو چي زوی به يې پیدا شو نوم به يې طلحه کېښود او ډېره موده تېره نشوه چي په شاوخوا کلیو کښي په سلګونو زامن په دغه نامه پیدا شول نو ځکه ده ته به (طلحة الطلحات) ویل کېده. دا له اسلام نه دمخه د عربو د اشتراکیت يو مثال و او له هغه څخه معلومېږي ثروت دمخه تر دې هم په افرادو کښي موجود و خو د هغه د حسن استعمال او له دې کبله چي نورو ته به يې هم برخه پکښي ورکوله نو ځکه اشتراکیت د دوی په نزد يو مقبول او معقول کار و ځکه چي په هغه سره انانیت او تنهاخوري له منځه ځي او نه بډایان په فقیرانو نخوت فروشي کوي. نه ښه خواړه خوري او نه په ښو لوړو ماڼيو کښي اوسيږي او نا فاخر لباسونه اغوندي چي د هغو فقیرانو او نادارانو رخه پرې راشي چي په واقع اصلي مؤلدين همدوی دي او د همدوی د لاسونو د تناکو حاصليږي هه کارګر چي شپه او ورځ کار کوي او په خوارو او محقرو کوډلو او څپو کښي اوسيږي لوڅ اندامونه ګرځي او په نیمه ګېډه ژوند تېروي ډوډۍ په مړه

**ګټېږه نه ورسيږي او نه دومره جامې لري چې خپل ټول عورت پرې پټ کاندي. خو د نن وورځې ثروتمندان داسې نه دي او د کارګرو د لاس د تڼاکو پ همحصول چرچې کوي او همدغه څيز دی چې د کارګرو د کرکې موجبات يې راغونډ کړي او هغوی د بډايانو پر ضد راپاروي او د اشتراکيت طرفداران يې ګرځوي، د دوی په راپارېدلو کښې د انتقام روحيه موجوده وي او د خپل حق په غوښتنه کښې افراط ته اړوزي او بالمقابل د دوی د حقونو غاصبين هم د دوی د حقونو په ورکړه کښې له تفريط نه کار اخلي د دوی د حقونو غاصبين هم د دوی د حقونو په ورکړه له تفريط نه کار اخلي او حقونو ته يې غاړه نه ږدي او لري نه ده چې له دغه کشمکش جار او جنجال نه يوه خونړۍ جګړه په لوېديز کښې پېښه شي او ختيځ هم مامون ترې پاتې نشي. او هر څه چې اسلامي اشتراکيت دی هغه د دې خبري بهترين ضامن دی چې هغه په ټوله معنی سره د ټولني د خير او بهبود وسيله وګرځي او د خلکو د هوسايني موجبات راغونډ کاندي هغه د قبول وړ وګرځوي او د تطبيق امکان سيې پيدا کاندي ځکه چې زموږ ديني کتاب (قرآن) دغه اشتراکيت سته په ډېرو دلايلو اشاره کړې ده له دغې جملې نه د دغه کتاب د فاتحې سوره ده چې مسلمان يې تر هر څه لومړی لولي چې اغاز يې په (الحمدالله رب العالمين) سره شوی دی او دا خبره دا افاده کوي چې ټول مخلوقات يو پروردګار لري او دغه مسلمان سپه روزنه کښې د خدای(ج) په نزد له نورو مخلوقاتو سره يو او برابر دی. او بيا ګوري او پوهېږي چې د قوت خاوندان او د جنګ مړونه ياد کړي او د هغوی سپه څنګ کښې يې د هغو ضعيفانو د حقونو مدافعه او حمايه کړې ده کوم چې په جهاد کښې يې د اشتراک قدرت نه و موندلی لکه چې فرمايي:**

﴿وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُمْ بِاللّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ دا د قرآن يو آيت دى چي ښکاره او برالا يې په هغو کسانو چي په جهاد کښي ګډون کوي او د مرګ خطر پر ځان اخلي دا واجبه کړې ده چي هغه کسان هم د غزاګانو په نتيجه او غنايمو کښي شريک وګڼي کوم چي له دوى سره په جهاد کښي شامل نه و نو تر هر چا لومړى يې د خداى برخه وټاکله چي هغه هم بندګانو ته راجع ده. دويم يې د رسول الله(ص) او دريم يې د خپلوانو برخي وټاکلې، او په دې کښي هم څه شک نشته چي دغه خپلوان هغه ضعيفان او جاى ماندګان دي چي د مختلفو وجوهو او عللو له کبله په جهاد کښي له ګډون کولو نه پاتي شوي وي، خو دين دوى له دغو غنايمو نه محروم کړي نه دي بلکي د دغو قويانو او پهلوانانو د جنګونو او خطرونو په محصول کښي يې دوى ته هم برخه ورکړې ده.

او دغه ټول چي موږه ګورو دا راته ښيي چي دغه کار د اشتراکيت په حکمت بنا دى، دغه حکم تر اوسه پوري جاري پاتي دى او ټول مسلمانان، مجاهدين دي او که متقاعدين په دغه حکم راضي دي، نو په دغه آيت کښي له خداى او رسول نه وروسته د مجاهدينو خپلوان ياد شوي دي چي د خپلي خپلوۍ د درجې په اساس د مجاهدينو د جهاد په محصول کښي برخه لري. او بيا هغه کسان ياد شوي دي چي په مجاهدينو کښي خپلوان ونلري لکه يتيمان شول، او بيا يې د اشتراکيت حلقې ته پراختيا ورکړه او مساکين يې هم پرې عطف کړل، او بيا يې تر دې هم وسعت ورکړ او مسافران او لارويان يې هم پرې عطف کړل، او بيا يې تر دې هم وسعت ورکړ او مسافران او لارويان يې هم پرې ور زيات

کړل او په دې توګه يې د اشتراکيت لمن په ګټوره توګه پراخه کړه او بيا يې په بل ځاى کښې هغه خلك تهديد کړل چې سره او سپين ذخيره کوي او د خداى او د عمومي مصالحو په لار کښې يې نه لګوي او بيا يې د هغو کسانو ستاينه او لمانځنه وکړه چې نور په ورکړه او امداد سره په ځان غوره کوي که څه هم خپله ورته اړاوسي. په همدې توګه تاسي د قرآن په آيتونو کښې د معقول اشتراکيت قانون ګوري او مطالعه کوي يې نو اوس به موږ وګورو چې آيا په دغه قانون چا عمل کړى دى؟ او د دغه عمل نتايج کوم او څه دي. هو د ورورګلوۍ هغه تړون چې حضرت مصطفى(ص) د مهاجرينو او انصارو تر منځ عقد کړ د ده اشتراکيت د قولي او عملي قبول د تجلى يو روښانه مظهر و. مهاجر مسلمانان دومره وکړى شو چې له خپل دين سره له خپل هيواد، خپل کور او کلي، خپل مسقط الراى نه وتښتي، خپل خپلوان پرېږدي، خپل ملك، جاى او جايداد خوشي کړي او له خپل هجرت نه راضي اوسي او روغ رمټ، صحيح او سالم د هجرت دار ته ورسيږي. او انصاري په خپل هيواد، خپل کور کښې اوله خپلو خپلوانو سره ناست، او خپل هر څه يې په خپل لاس کښې و او په خپله خوښه او په خاطر جمعۍ خپل مهاجر ورور په خپل نقد او جنس کښې شريك کړ او د اشتراکيت د معنى مظهر وګرځېد. حتى که زموږ د دې زمانې يو څوك عين هغه روحيه وګوري چې د دغه پاکو ارواګانو تر منځ موجوده وه نو هرومرو به هلته د اشتراکيت روح او جسد دواړه داسي وګوري چې ورته حيران به شي او په دې به يې باور راشي چې د جسماني خبرو د لري کولو په لار کښې دين هغه تاثير لري چې بل هيڅ څيز برابري او همسري ورسره کړى نشي او که دوى د کامل عقل خاوندان وي بېرته به دين ته راوګرځي او

**اسلامي اشتراکيت ته به غاړه کېدی. او بيا يې وويل: او څنګه چې د اشتراکيت مذهب د نورو مذهبونو په شان دوه اړخونه لري (او د چارو اوسط خير وي) نو لوی شارع وليدل چې که د يوه قوم يوه ډله په عيش او نوش ژوند کوي او بل په فقر او فاقه تېروي او هغه هم په يوه محيط کښې چې د کوښښونو تر منځ يې هم زيات توپير موجود نه اوسي نو د ټولني نظام نشي تامنېدای. نو حضرت محمد(ص) ته چې په مومنانو ډېر مهربان و د وحي له لاري ورته د زکات حکم راغی او هغه د اسلام له پنځه ګونو ارکانو نه يو رکن دی چې بايد له نقدو پيسو، خزانو، تجارتي مالونو او څارويو نه ادا شي. او بيا غنيمتونه هم پرې ور زيات شول چې پنځمه برخه يې بايد ورکړه شي او بيا يې خلک د صدقاتو نه په ډکه نکته، او هغه دا و چې دو چند او څو چنده سود ونه خوړل شي، او په واقع کښې همدغه سود حرام شوی دی تر څو چې د وخت امام او زمامدار ته دا مجال موجود اوسي چې که چېرته عمومي مصلحت مقتضي شو پيسې په داسي ګټه ورکاندي چې په پوروړي باندي يې ورکړه سخته نه اوسي او لړه موده کښې سرمايه او ثروت په خاصو او محدودو لاسونو کښې ټول نشي او ګټه دوچنده او څوچنده ونه ګرځي. او د هغو حيله ګرو سودخورانو له سود سره توپير ولري چې د دين په نامه او په حيله سره سود خوري او ظاهراً ځانونه له سودخورۍ نه بچ بولي، په داسي توګه چې د خپلو سلو افغانيو مال په درې سوه افغانۍ خرڅوي او په دې توګه ځانته حيله جوړوي، او که نه وي نو دا خو هم هغه سود دی چې د بيي په نامه اجرا شوی او په حيله سره منځته راغلی دی او په دې توګه ځانونه غولوي چې دوی خو سودخواره نه دي او نه يې له دين نه**

مخالف کار کړی دی. او دا دي ځيني هغه آيتونه چي په دغه باب په قرآن کښي راغلي دي:

﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىَ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَـئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ 275 يَمْحَقُ اللّهُ الْرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ 276﴾

يعني هغه کسان چي سودخوري له خپلو قبرونو څخه نه راپاڅيږي مګر د هغه چا په څېر چي شيطان په څپېړه وهلی اوسي او سم په لار نشي تلی. دا له دې کبله چي دوی سود، سوداګري بولي او خدای سوداګري حلاله کړې او سود يې حرام کړی دی نو که چا ته د خدای حکم ورسېد او له سود نه يې لاس واخيست نو هغه ته هغه څه دی چي تېر شوي دي او نور نو دی پوه شه او خدای يې او که چا دوباره لاس ورته کړ نو د هغه ځای دوږخ دی چي د تل دپاره به پکښي وي خدای د سود مال بې برکته کوي او د خيرات په مال کښي برکت اچوي، او خدای هر ناسپاس او ګناهګار ښه نه ګڼي. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ الرِّبَا أَضْعَافاً مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ يعني اې مومنانو څوچنده سود مه خورئ او له خدای نه ووېرېږئ ګوندي نجات ومومئ. او هر څه چي آياتونه دي چي د صدقاتو او خيراتونو لمسول کوي زښته ډېر دي لکه د پاک خدای(ج) دا قول: ﴿إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لُّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ يعني که تاسي ښکاره صدقې ورکوئ نو دا ښه کار دی او که په پټه يې فقيرانو ته ورکړئ دا ستاسي دپاره بهتره ده او ستاسي ګناوي به کمي

کاندي، او پاک خدای(ج) ستا په کړو باندي پوره خير دی. بل ځای وايي: (اَنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ....) يعني زکات خاص د فقيرانو، مسکيناانو، او هغو کسانو حق دی چي د صدقاتو په راټولولو مقرر شوي وي، او بل د مؤلفة القلوبو د مريانو د خلاصون دپاره د غازيانو او مسافرانو حق دی چي د خدای له خوا فرض شوی دی. بل ځای فرمايي: (ان الحسنات يذهبن السيات) يعني نېکی بدی له منځه وړئ، او د دې مثالونه په کتاب او حديث کښي ډېر شته دي چي د مال په ورکړه امر او لمسون او د فقيرانو د لاسنيوي او مرستي توصيه کوي. تر څو چي د تمي د خاوندانو د مقاصدو مخه ونيسي او د بداپانو پر ضد د بېوزلو حاسدانو د حسد او رخي مخنيوی وکاندئ. هر څه چي ثروت دی هغه د اندازې له مخي تفاوت لري، له سلو نه زرو او له زرو نه لکونو او ميليونو ته رسيږي خو د کيفيت له مخي تفاوت نه لري، په دې معنی چي که يو څوک په يو قوم کښي اوسيږي چي افراد يې له يو څو افغانيو نه زيات ثروت ونه لري او دی يو سل طلا ولري نو ده ته ممکنه ده چي د بداپانو په څېره ځان ځرګنده کړی او نسبتي عيش او عشرت وکاندي او د خپل قوم سترګي ځانته راواړوي او د هغوی د حسد او رخي مورد وګرځي، دا په هغه صورت کښي چي په خپل قوم کورونه ونه لري او هر څه يې د ځان دپاره وي لکه چي زهير ابن سلمي په يو شعر کښي وايي چي معنی يې دا ده:

(څوک چي زيات څه ولري او د خپل قوم په مقابل کښي بخيل اوسي او يو څه نه ورکوي د خلکو بدي ايسي او بد رد يې وايي) موږ د جاهليت د زمانې او بدائت د عصر خبري وکړي چي هلته هم خلک سره برابر او يو

د بل سيال و. لنډه يې دا ده چې لوی مالدار به هم پخپل مسکن او لباس او خوراک کښې د خپلې قبيلې له وګړو سره يو شان او برابر و نو ځکه د يوه به په بل رخه نه راتله او نه به يې د حسد او انتقام دواعي منځته راتلل. له هغه وروسته بيا اسلام راغی او د اسلام لوی منصب خلافت و او خليفه به د خپل پيغمبر(ص)په پله روان و، په لږ څه به يې قناعت کاوه، له فقيرانو سره به کښيناست او د ژوند په ټولو مظاهرو کښې به يې اشتراک ورسره کاوه. ممکنه ده چې څوک ووايي چې د رسول الله (ص) او د خلفاوو د دورې ساده او بسيط ژوند طبعاً نه حسد اوعدم رخې مقتضي و. په جواب کښې يې بايد ووايو چې د ابوبکر په زمانه کښې د اسلامي فتوحاتو لمن پراخه وه ډېر غنايم لاسته ورغلي وو خو د ابوبکر په وضع کښې کوم تغير راغلی نه و او نه يې د وزيرانو او منصبدارانو د ژوند په مظاهرو کښې څه توپير راغی او نه د عربو د تجارانو د ژوند په شکل او صورت کښې څه تفاوت وليدل شو چې د چا د رخې د نظر د جلب سبب وګرځي او لا د چا په زړه کښې جزيي ترينه غصه او قار راوپاروي. او په دې کښې هم څه شک او شبه نشته چې د عمر بن خطاب په دوره کښې د فتوحاتو لمن ډېره زياته پراخه شوه او ډېر غنايم او ولجې په لاس ورغلی، او دا هم ثابته ده چې بشري نفوس د دغسې عواملو په تمت کښې ډېر لږ پښيمي چې عياشۍ، خودخواهۍ او انانيت ته مايل نشي خو سره له دې هم چون د ده عصر د شارع او د هغه د خليفه عصر ته نژدې و نو ځکه دغو عاملو تاثير پرې ونکړ او د هغو د سيرت پيروي يې وکړه او د هغوی په پلو لاړ. کوم وخت چې ده ته ورسېد چې په مصر کښې د ده والي(عمرو بن العاص) او په شام کښې د ده والي (معاويه بن ابي سفيان) او په عراق او نورو ځايونو کښې د ده واليانو په عياشۍ لاس

پوري کړی دی نو بیا عمر ووېرېده چي مبادا په دوی کښي د کسراګانو خصوصیت او شېوه پیدا نشي او له خپل قدرت او څوکۍ نه سؤاستفاده ونکړي او په دې توګه د حکومت په نسبت د خلکو کرکه پیدا نشي نو حضرت فاروق د هغه د ممخنیوي دپاره په چټکۍ سره خپل والیان تر سخت تهدید او تفتیش لاندي ونیول او هر یوه ته یې بېل-بېل دساتیر صادر کړل او د دې دپاره چي د خپلو والیانو دغه وار بنکر مات کړي په سختو کلماتو او الفاظو یې مخاطب کړل، له هغې جملې نه عمرو بن العاص ته یې داسي کلمات استعمال کړل: (عاص د عاصي ((ګناهګار)) زوی ما مصر ستا او ستا د قوم دپاره د یوې طعمې او مړۍ په توګه درسپارلی نه دی چي په خپله خوښه چړچې پرې وکړي) او لا لکه دا چي ورته لیکلی یې و: (ته په دې پروا نه کړې چي ته او ستا ملګری ژوندی پاتي شي که څه زه او زما ملګري مړه شو.)

(د ابن العاص ثروت او دارایي له کبله راهسي دومره زیاته شوه چي ډېر کورونه او قصرونه لري او د دې خبري معنی څه ده؟)

په همدې توګه یې په شام کښي له خپل والي معاویه بن سفیان سره خبري وکړې او هغه یې تهدید کړ چي د هرقل روش پرېږدئ او د کیا سره و او قیاصره و د لویۍ او بزګرۍ پیروي ونه کاندي. حضرت عمر یوازي په دې خبرو اکتفا ونکړه بلکي خپل اعتمادي مفتیش به یې ورواستاوه او قطعې امر یې ورکړ چي د دوی ګټلي اشتباهي او له ضرورت نه زیات مالونه ترې واخلي او مصادره یې کاندي او هر څه ورسره ووېشي، حتی دغه معتمد د یوه عامل یو جوړ څپلۍ ضبطي او یو جوړ یې ده ته پرېښودې. دا د اشتراکیت یو عملي او برالا درس و چي مسلمانانو ته ورکول کېده او عمر حاکم او محکوم وپوهاوه چي دغه

خودمختاري او سؤاستفاده جایزه نه ده او نه څوک حق لري چې په دغه توګه د خپلې سرمایې معیار لوړ بوزي، او په دې توګه یې د حسد او رخې عوامل او دواعي له منځه یووړل. نو اوس به موږ وګورو چې عمر په دغو مالونو چې له خپلو عمالو یې مصادره کړي وو څه وکړل؟ د کسرى او قیصر د قصرونو ولجې یې څه کړې؟ په دغه خلیفه باندي د پادشاهانو او شاهنشاهانو د لویۍ آثار او نښې ښکاره شوې؟ په استوګنځي، جامه او خوراک کښې یې څه توپیر راغی؟ هیڅ!!!

سره له دې چې د عیاشۍ او تنعم ډول او سینګار ټول وسایل ورته میسر وو خو بیا هم ده هغه ډول محقر لباس غوسته چې نورو فقیرانو به اغوست، د ده پیوندي جامې په تاریخ کښې مشهوري دي چې د ټوکرانو له پیوندو سره یې په کمیسه باندي یوه د چرم ټوټه هم تپلې وه او هر څه چې د ده استوګنځی و دا و چې ټوله ورځ به یې د خلافت چارې په داسې یوه محقره څپرې کښې تېروله چې یوازې سر به یې سیوري ته و او د خپل استراحت وخت به یې په هدیره کښې تېراوه. خوراک یې غالباً وریشینه روټه وه، په داسې حال کښې چې کونډو رنډو، یتیمانو او خوارو غریبو مهاجرینو او اعمارو ته هم غلمینه ډوډۍ او قطع ور رسېده او په غوړو او خرماوو ماړه وو. همدارنګه به یې دغه فقیران د بډایانو په نعمتونو کښې شریکو او خپله به یې شرکت نه ورسره کاوه، له دې چې علاوه دغو بې وزلو ته به یې مالونه او بخششونه ورکول او په بیت المال کښې به یې د دوی معاشونه ټاکل او ورکول به یې، او هغو کسانو چې به یې په اسلام کښې سابقه درلوده او لا به یې پلرونه سابقه دار وو هغو ته به یې د هر چا د حال په تناسب په سوونو زرو جایزې ورکولې. نو د هغه وخت مسلمانانو سره له دې چې کامل حریت یې درلود د صدیق او فاروق په سیرت کښې

يې جزيي ترين هغه څه ونه ليدل چې هغوی راوپاروي او د قار او کرکې موجب يې شي. او لا يې د حکومت مخالف شي او د هغو پر ضد قيام کولو ته هڅه وکاندي، بلکې هغوی په ډېره قربانۍ د هغوی اطاعت کاوه او د هغوی په امر يې ځانونه هر يقربانۍ ته ورکول او په دې توګه يې د اسلام د شوکت تاييد او د اسلامي روښانه شريعت د عدل تعميم کاوه. دا و د خلفاوو موقف او له هغوی سره د قوم حالت او همدغه وجه وه چې په ټولو احکامو او کارونو کښې مطلق عدل تجلی کوله او حکامو دا تعهد کړی و چې قولاً او فعلاً د دغه عدل رعايت وساتي. د فاروق اعظم د خلافت دوره په همدې توګه تېره شوه او بيا د عثمان د خلافت دوره شروع شوه او په دغه دوره کښې د امويانو خودخواهۍ او استفاده آغاز شوه چې د هاشميانو او اکثرو قريشو د کرکې، قار او غضب سبب وګرځېد چې د صديق او فاروق زامن او د هغوی د رايي طرفداران د هغو په سر کښې واقع و. د عثمان(رض) د خلافت په لړه دوره د ملت په روحي حالت کښې يو برالا او محسوس تغير څرګند شو او دغه تغير تر ټولو د حکومتي عمالو او مامورينو او د خليفه د خپلوانو په وضع کښې ډېر ښکاره او برالا وليدل شو. په داسي صورت چې درې تمايزې طبقې په وجود راغلې يوه اميرانو(مامورينو) طبقه بله د اشرافو طبقه او دريمه د بډايانو طبقه وه او د عمالو کارګرانو او د مجاهدينو د زامنو د هغو کسانو د زامنو طبقه له دغو دريو واړو سطبقو څخه جلا شو چې د اسلامي دولت په تاسيس، اسلامي فتوحاتو، اسلامي دعوت په نشر کښې يې غټه برخه درلوده، دغې طبقې له خپلو ټولو کوششونو سره-سره چې د خپل معيشت د تحصيل په لار کښې يې کول ونشو کړی چې خپله سويه د مامورينو او د دولت د رجالو سويې ته ورسوي او لا خپل ټول ضروريات

په آسانه سره لاس ته راولي په داسي حال کښي چي د اميرانو او د هغوی د خپلوانو، سرکردګانو په دربارونو کښي عزت ثروت، عيش او عشرت ورځ په ورځ په زياتېدو و او عياشي لوړه تله. نو د دغو متمايزو طبقاتو د منځته راتګ نتيجه دا شوه چي د کارګرو او نادارو وګړو طبقه منځته راشي او د خپل مظلوميت او محروميت احساس وکړي او د خپلو هغو حقوقو د مطالبې دپاره قيام وکړي چي د قرآن قانون ورکړی و او لا يې د اول او دوهم خليفه ابوبکر او عمر (رض) له رفتار او سيرت نه استفاده کړې وه. دغه خطر ته چي اسلامي دولت او اسلامي ټولنه يې تهديدوله تر ټولو دمخه او جليل القدره صحابي (ابوذر غفاري) ملتفت شو او بيا په شام کښي معاويه ته راغی او د پخوانيو سيرت ته يې د راګرځېدو توصيه ورته وکړه او ورته ويې ويل چي بايد له عياشۍ او اسراف نه لاس واخلي او کوښښ وکړي چي د خلکو د حسد او رخي عوامل او بواعث راونه پاروي په دغه باره کښي يې ډېري موعظې وکړې او هغو زياتو خطرونو ته يې ګوته ونيوه کوم چي د يوې فقيري طبقې له وجود نه منځ ته راځي. هغه فقيره طايفه چي خپله کار کوي او اصلي مؤلدين ګڼل کيږي هغه چي په تنګشه کښي ژوند تېروي او تش لاس اوسيږي او شاوخوا خلک يې چي نه په اسلام کښي سابقه لري او نه د کوم مهم خدمت مصدر ګرځېدلی اوسي په عيش او عشرت ژوند کوي او په آسوده ګېري ژوند تېروي، نه کوم علمي امتياز لري او نه کوم بدني توپير خ محض د دې لپاره چي د حکومت په منصبونو مقرر شوي او له خپلو څوکيو سؤاستفاده کوي او د خلکو د لاسونو د ټناکو په محصول چړچې کوي. معاويه جواب ورکړ چي مفاد يې دا و: (اې اباذره! څه چي ته وايې رښتيا دي خو دا زما په وس کښي نشته چي بېرته د ابوبکر او عمر

سيرت ته راګرځم او څه شی چي په دغه باب زما له لاسه پوره دي هغه دا دي چي زه به د وعظ او ارشاد له لاري خلك دې خبري ته راوبولم او وبه يې لمسوم چي په خپلو مالونو بخل ونكړي او د غريبانو او بې وزلو د لاسنيوي په لار کښي يې صرف كاندي او په دې توګه ممکنه ده چي د خلكو د حسد په اور يو څه سړې اوبه تويي شي او د هغه خطر مخه ونيول شي چي په خيال کښي ګرځي.) بيا ابوذر ورته وويل: ما خپل نصيحت درته وكړ (او دين هم نصيحت دی) خو ته په ياد ولره او خليفه عثمان دي هم په دې خبر اوسي چي ستاسي له دغه رفتار نه به ډېر بد عواقب پيدا شي چي تاسي به يې له علاج نه عاجز اوسئ او بيا د معاويه له مجلس نه په قار ووت او بيا د غريبانو او ربړول شوو خلكو ټوليو ته راغی او د پخوانيو د سيرت او رفتار په شاوخوا کښي يې خبري ورته وکړې او په هغه څه يې هم خبر كړل چي د شام والي ته يې ويلي و او لا يې له هغه نه اورېدلي و او دا وعده يې هم ورکړه چي دی په هر څه کښي له هغوی سره ملګری دی او له زړه ورسره ولاړ دی لنډه دا چي هغوی د خپل حق د غوښتني دپاره لمسول او زړور كول يې د هغو حقوقو د بېرته اخيستلو دپاره به يې لمسول چي په ناحقه سره يوې ډلي ترې غصب كړي وو. د ابي ذر د دغه تحريك په اثر د خلكو په نزد يوه نوع تاثر او هيجان پيدا شو او تر يوه داسي حده پوري راوپارېدل چي معاويه او د هغه ملګري يې په وېره کښي واچول، نو بيا معاويه خپل كيدونه او حيلې او نيرنګونه يې پر كار واچول او يو زر اشرفۍ(طلا) يې په شپه کښي ابوذر ته ورولېږلې او هغه ومنلې او سمدستي يې په فقيرانو او حاجتمندانو ووېشلې. په دوهمه ورځ معاويه خپل استازی ورواستاوه او ورته ويې ويل چي دی غلط شوی و دغه پيسې معاويه د بل چا دپاره بښلي وې (دغه

ټولي خبري تمهيدي وې) نو بايده ده چي ښېرته يې راکړې تر څو چي د معاويه له عتاب نه خلاص شم. (البته د معاويه مطلب دا و چي دی به دغه پيسې ومني او که نه؟ آيا دی پر خپله مبدا باندي صميمانه ولاړ دی او که نه؟ هغه و چي ابوذر ومنلې او د خپلي مبدی په لار کښي يې مخلصانه صرف کړې) نو بيا ابوذر ورته وويل: قسم دی چي له نوموړو اشرفيو يوه اشرفۍ هم راته پاتي شوې نه ده بلکي ټولي مي په محتاجانو وېشلي دي، نو که ښېرته يې غواړئ ما ته مهات راکړئ چي ښېرته يې راټولي کړم. بالاخره د معاويه باور راغی چي رښتيا يې پر خلکو سوېشلي دي نو يې ترې صرف نظر وکړ او خلق يې ترې تنګ نشو، بالاخر يې خليفه ته وليکل چي ابوذر د حکومت د روش پر ضد تبليغات کوي او خلک راپاروي هماغه و چي ورواپې ستاوه خو چي له عثمان سره مخامخ شو له هغه سره يې هم دغه خبري وکړې خو له هغه نه يې هم له هغه څه زيات وانه ورېده چي له معاويه نه يې اورېدلي و او علاوه کړه چي دی نشي کړی د فاروق په څېر د خپلو مامورينو هستي او دارايي مصادره کاندي، اونه دا ممکنه ده چي خلک ښېرته هغه حالت ته وروګرځي چي د ابوبکر او عمر په زمانه کښي وو مګر دا چي خلک صدقو او خيراتونو ته ولمسوو او په دې توګه د غريبانو لاسنيوی وشي. نو بيا ابوذر ورته وويل چي: (ای عثمان آيا ستا د رسول الله فرموده په ياد نه ده چي ويل به يې: ((هر کله چي کورونه د سلع د غره ارتفا ته ورسېدل او هسي او داسي وشول هجرت لازم دی)) او دا دی ستا او ستا د خپلوان معاويه عمارت له هغه غره نه لوړ شوي دي نو زه دي پر خدای سپارم او درڅخه ځم تا او ستا ملاتړ خپلو اعمالو ته پرېږدم او خدای درباندي محيط دی.) عثمان ډېر کوښښ وکړ چي دی له خپلي ارادې واړوي او لاړ نشي مګر ده ورته

وويل چي د پيغمبر پيروي بهتره ده او بيا له مدينې نه وووت. ابوذر په دغه کار سره يوازي خليفه او د هغه مامورينو ته نصيحت ونکړ تر څو چي يوه داسي اشتراکي طبقه منځته رانشي چي راۍ او باعث يې انتقام اوسي بلکی دې ته يې راوبلل چي د قرآن په نص او د هغه چا په رفتار عمل وکړي چي دغه نص يې عملاً تطبيق کړي او عمل يې پرې کړی دی لکه ابوبکر او عمر(رض) شول.

دا وو (د اسلامي دين) د معقول او نافع اشتراکيت مظاهر چي په لنډ ډول بيان شول چي په کومه اندازه انساني جامعې دپاره ګټور وو او څنګه لويو-لويو خليفه ګانو تر تطبيق لاندي ونيول. او هر هغه اشتراکيت چي روحاً او شکلاً د اسلامي هغه اشتراکيت له اساساتو نه مخالف اوسي چي مخکښي اشاره ورته وشوه نتيجه به يې هرومرو لوی-لوی خونړي جنګونه او دويني بهولو او د کورونو ورانول وي او هيڅ يوه ګټه به د خدای مخلوق ته ترې راجع نه اوسي. هو! څوک چي دغه کلمې(اشتراکيت) په خوله اخلي او هغه د خپل شکار دام ګرځوي په واقع کښي په حق خوله خوځوي او د باطل تمه لري. زه بيا-بيا وايم چي اسلامي اشتراکيت حق دی او د حق پيروي بهتره او نيکوتره ده.

## د ده دا خبره چې د اشياوو حقايق ثابت دي، او په همدې باندې د يوه فراد احاطه متعذره ده، او د هغو په اسبابو باندې پوهه په متفاوتو نسبتونو تقسيم شوې ده

دی وايي چې: ټولې پېښې بايد له خپلو اسبابو سره داسې نښتې او يوځای اوسي چې له هغو څخه يې بېلوالی ناممکن وي او د دغو اسبابو په پېژندلو کښې خلک سره مختلف او متفاوت دی، او په اسبابو او مسببانو باندې د دوی د علم او پوهې نسبت هم متفاوت دی لکه چې په دې کښې هم سره توپير لري چې هر علت خپل معلول او هر سبب خپل مسبب او هر حادث خپل محدث ته راجع ګاندي يعني د علت او د معلول سبب او د مسببز حادث او د محدث تر منځ د ارتباط په تشخيص او پوهه کښې خلک متفاوت دي. مثلاً حوادث د جاهل په نظر کښې غالباً تصادفي دي او دا د تعليل آسان ترينه مرجع ده. مثلاً که له يوې تشې فضا نه په يوې غتې ونې تندر ولوېد نو دی وايي چې تصادفاً په فضا کښې تالنده، برېښنا او سخت باران پيدا شو او يو سړی تصادفاً ناچار شو چې دغې ونې ته پناه يوسي او تصادفاً تندر پرې راولوېد دا هغه څوک وايي چې له پېښو او حوادثو سره د سبب د لزوم په معنی نه پوهيږي. او هر څه چې هغه کسان دي چې علم لري (که څه هم پوهه مختلفې درجې لري) هغوی پوهيږي چې د ځمکې کروي شکل، او په هغې کښې د غرونو، رغونو، تالو او زور وجود، او د هغې د شمال او جنوب، شرق او غرب اوضاع او د بادونو د رالوتلو تاثير، په هغې کښې د ګياوو او ونو

موجودیت او داسي نور حالات ټول هغه شیان دي چي د اوربنت سبب ګرحي، او وروسته له هغه چي په هوا کښي وربځي پیدا شي او بادونه یې یوې خوا بلي خوا رواني کاندي او سخت بادونه ورسره راپورته شي نو هغه بیا د ټکو د لوېدو سبب ګرځي، ځکه دغه ټکي چي دي د دوو متضادو بادونو په اثر چي یو له بل سره ومښل شي او تصادم سره وکړي پیدا کیږي په دې توګه چي یوه کهربایي(برقي) شراره او شغله چي برق ورته وایه شي له دغه تصادم څخه پیدا کیږي او کوم اواز چي له دغه تصادم نه پیدا کیږي رعد(تالنده) باله شي او هغه ځمکني مواد چي د برېښنا مخي ته ورغلي اوسي هغه سوځوي او یوه ټوټه یې ګرځوي او بیا یې په شدت سره د ځمکي پر لور ولي او همدغي ته ټکه(صاعقه) وایي. نو چي موږ د باران، برق او رعد ځیني اسباب وپېژندل او وني ته مو د دغه انسان پناه وړل وڅېړل په دې به پوه شو چي په دغه کار کښي سبب له ځان سره مینه ده چي د هر حیوان فطري امر دی، یعني له ځان او له خپلي بقا سره میني دې ته اړ کړ چي وني ته یې پناه یوسي او د باران له شر نه ځان خلاص کاندي. خو مقدره بله وه او داسي پېښه شوه چي پر ده باندي ټکه راولوېده او دا ټول په خپلو اسبابو باندي بنا دي. له خپلي بقا سره مینه او د ځان د ساتني دپاره یو څه او بل څه ته پناه وړل او خپل ژوند ساتل نسبت انسان ته په نورو ګونګو حیواناتو کښي ډېر لیدل کیږي. مثلاً د مار او مږي مثال در واخله: په وارو-وارو لیدل شوي دي کوم وخت چي کومه مږه له کوم مار سره مقابل شوې ده مږي فوراً له ځمکي نه یو ووچکی(اوږد خلی) په خوله کښي تېر وبېر نیولی او له مار سره مخامخ شوې ده، او هر وخت چي مار غوښتي دي چي هغه یوه مږۍ کړي او تېره ي کړي هغه خپلی یې مانع شوی او د هغې له خوړلو یې

صرف نظر کړی دی او په دې توګه مړي ځان ساتلی دی. او انسان په دې فاني جهان کښې د خپلي بقا د اسبابو په پلټنه کښې هغه راز فکر کوي لکه چي يو حيوان يې کوي او د ځان د ساتني دپاره پناه ګناه لټوي. نو کوم وخت چي مو وليد چي د باد، توپان او وربښت په وخت کښې وني ته پناه وړي نو دا کوم تصادفي کار نه دی، بلکي پر يوه علت بنا دي او د قصد او غايې له مخي يې کړی دی چي هغه له خپل ځان سره مينه او د ځان ساتنه ده او هر څه چي آسماني ټکه ده هغه هم تصادفي نه ده او په داسي اسبابو پناه ده چي د کمت په کتابونو کښې مفصل ذکر شوی دی، او له دې نه علاوه په ونو کښې د ټکي د جذبې قوه هم موجوده ده. په همدې توګه د ځمکي په سر هر څه چي کيږي هغه تصادفي نه دي بلکي يو سبب لري که څه هم هغه سبب خفي او زموږ له نظره پټ اوسي. نو بنا پر دې د جاهل دپاره چي په اسبابو علم نه لري تصادفي کارونه او پېښې ډېري دي او د علم او عالم دپاره لږي دي او د الهی قدرت په نزد هيڅ نشته او تصادف قطعاً وجود نه لري. لکه چي قرآن فرمايي: (وجعلنا لکل شيئ سببا) يعني او موږ د هر څه دپاره سبب ټاکلی او خلق کړی دی. خو په دغو اسبابو باندي علم او پوهه د خلکو تر منځ تقسيم شوې ده ځکه چي د عمر ظروف په هغو باندي له استيعاب څخه تنګ دی او که د خدای دا فرموده نه وای(څوک چي د عمر هغې ټيټتې درجې ته ورسېد چي بيا په هيڅ څيز ونه پوهيږي) نو بيا ممکنه وه چي د ډېرو حوادثو او پېښو په اسبابو پوه شوی وای. مګر له دې کبله چي عمر له هيچا سره دومره ياري او ملګرتيا نه کوي چي د علم يوه سلسله تر پايه پوري ورسوي. نو ټول هغه علوم چي موږ ته رارسېدلی دی په داسي توګه چي د پېړيو-پېړيو په تعاقب مږ ته رارسېدلی او په هره پېړۍ کښې ځيني محقق او پوه علما

پیدا شوي او د حقایقو په کشف تر یوه حده بریالي شوي او له هغوی نه وروسته نورو د هغوی لار تعقیب کړې او بیا دغې درجې ته رسېدلي دي چې موږ او تاسي یې ګورو. مثلاً د طب علم (چې د انسان د وجود ملازم دی ځکه چې ضرورت ورته لري) سره له دې چې لوی-لوی کسان یې خادمان او هواخواهان وو او دی خو تر اوسه پوري لا ناقص دی، په دې دلیل چې ډېر مرضونه او ناروغۍ شته چې طبیبان یې له علاج نه عاجز شوی او کومه شفابخشه دوا یې ورته موندلې دنه ده، حتی داسي هم شوي دي چې وروستیو طبیبانو د دغه راز مرضونو له جملې نه یوه ته دوا کشف کړې او بیا یې د طب له کتابونو ن هغه څو سطرونه کم کړي دي چې افاده کول به یې. (دا یو مرض دی چې دوا نلري).

په دې کښې هیڅ شک نشته چې د هر مرض دپاره دوا شته، اعم له دې څخه چې دغه دوا په ګیاوو او معادنو کښې وي او که په خپله طبیعت کښې، خو له دې کبله چې انساني علم خپل کمال ته رسېدلی نه دی نو ځکه هغه د انسان له علم نه پټ پاتي شوی دی. د برېښنا او د هغې د تاثیراتو او مظاهرو په باره کښې خبره هم همدغسي ده چې پخوانیو علماوو د بکریني تېږي په عصر کښې به ډېر بسیط شکل سره هغه کشف کړې وه. له هې څخه به یې هم خپلي وسلې جوړولې او تېرې کولې به یې او هم به یې یوه په پله وهله او اور (شعله په ترې بادېده او اور به یې پرې لګاوه.) اوسني علما وایي چې اصل په ماده کښې حرکت دی او له دغه حرکت نه حرارت تولیدېږي او له هغه څخه نور او رښنایي منځته راځي. او لکه چې دمخه مو وویل دغه اصول پخوانیو صحرایانو ته هم په خپل ساده شکل معلوم و او بکرینه تیږه(سنګ چقمق) (بکره) به یې له بل څه سره موښله او بیا به حرارت او بیا به نور او بیا به اور ترې پیدا

کېده او د اورلګيت کار به يې ترې اخيست. په داسي توګه چي پختې ته ورته څيز به يې په تيره کېښود او دغه بکرينه تيره به يې له هغه سره وجنګوله او بيا به د اور شعله ترې پاد شوه او دغي پختې ته ورته مادې به اور واخيست او بيا به يې هه په خزلو، وښو کېښوده او هغو به هم اور واخيست او ضرورت به رفع شو. هو! دغه عمل په پخوانيو وختو کښي هم روان و خو په ابتدايي او بسيط شکل سره او مدون شوی نه و تر څو چي زياته فايده ترې اخيستل شوې وای. او د دې عصر خلکو که څه هم د برېښنا له توليد څخه ډېري ګټي واخيستې او د هغې په مظاهرو هم پوه شول او د ډېرو کارونو دپاره يې استخدام کړل خو د هغې حقيقت او ګټه او په ماده کښي د هغې د راتېولولو طريقه لا تر اوسه پوري مجهوله او نامعلومه ده او دغه جهل او ناپوهی د دې منافي نه ده چي د اشياوو حقايق ثابت دی او په هغو باندي د يوه فرد احاطه متعذره او ګرانه ده، حتی د حوادثو او پېښو د سلسلې په ځينو اسبابو پوهه د خلکو تر منځ وېشل شوې ده. ده به ويل چي د حرکت او حرارت په بحث کښي د ابوبکر بن بشرون خبره چي تر زرو کلونو دمخه يې کړې وه ما په تعجب کښي اچوي چي څنګه يې دغه مسئله کشف کړې وه؟ دی وايي:

(حرکت د حرارت اصلي مولد دی، او حرارت د اشياوو د نقلولو او حرکت کولو خاصيت لري. په دغه جهان کښي چي کوم رطوبت او پيوست(وچوالی) ليدل کيږي هغه په حقيقت کښي د برودت او حرارت مولود دی. مثلاً برودت وچوالی راولي او څيزونه وچوي او رطوبت يې ترې او حرارت چي دی د اشياوو رطوبت ظاهر وي او پيوست يې غوټه کوي او په اشياوو کښي کلي مرجع هغه حرارت دی چي له حرکت نه پيدا شوی وي او هغه د ژوند اصل او اصلي ژوند (حيات) دی، او هر

کله چي جهان دغه حرارت له لاسه ورکړ نو ژوند متعذر دی او لا به له منځه لاړ شي. او بيا يې يو څه فکر وکړ او ويې ويل:

د انسان په خلقت او د ده په عقل کښي عجيبي قواوي او عجيب اسرارپراته دي چي عقل ورته حيرانيږي. شيخ اکبر څه ښه ويلي دي: (آيا انسان ګمان کوي چي هغه يو وړوکی جسم دی؟ په داسي حال کښي چي د ده په وجود کښي لوی عالم پروت دی.) هو! بېشکه چي انسان د دې جهان له لويو اسرارو ځنې دی او په خپل عقل سره به د طبيعت ډېر پټ او غامض اسرار کشف کړي او خپل تصورات به تصديق او خيالي شيان به اقعيت ته ورسوي او هغه تصورات چي ورته محال برېښېدل اوس به ورته ممکن شي او هغه څه چي يې خيالي بلل حقيقي اوواقعي وبولي. انسان ډېره موده سترګې فضا ته نيولي او د عقل په وزرو په فضا کښي ګرځېده او چي په هوا کښي به يې عقابانو شاهينان او بازان ليدل زړه به يې غوښتل چي دی هم وروالوزي او د آسمان په لويه فضا کښي سير او سياحت وکړي خو بيا به دغه کار محال او ناممکن ورته شکاره شو او بېرته به خپلي ځمکي ته راکوز شو. همدارنګه چي به يې کبان په سيندونو کښي وليدل له ځان سره به يې ويل: (په داسي حال کښي چي له ما سره داسي قواوي شته چي نه له کبانو سره شته او نه له عقابانو، بازانو او مرغانو سره، نو زه ولي فضا ته الوتی نشم او نه په دريابونو کښي غوټې وهلی شم؟.)

خو زما په نزد که چيرته عقل په دغه معرکه او جګړه کښي بری وموند او اوهام يې تر پښو لاندي کړل او توفيق يې ومونده چي د اوهامو ټول قيدونه مات کاندي ډېره موده په تېره نشي چي تر عقابانو به تېز وزرونه پيدا کاندي او په دريابونو کښي به له ماهيانو او کبانو نه مخکښي شي او

**برېښنا به داسي تر خپل تسخير لاندي راولي چي له سيم نه پرته مخابره بری وکړي او له ډېرو لري ځايو سره داسي خبري اتري وکړي لکه چي خوله په خوله سره ګړېږي آيا د يوه داسي مرکب(يوې وسيلې) جوړول به همدغسي ناممکن پاتي شي چي د هغې په ذريعه سپوږمۍ او نورو کرو ته انسان وخېژي؟ موږ ته معلومه نه ده چي انسان به په راتلونکي وخت کښي کومي درجې ته ورسيږي او ضرور به ډېر نوي کشفيات وکاندي، ځکه چي انسان په خپلو کشفياتو کښي مخ پر وړاندي روان دي او د طبيعت اسرار يو د بل د وروسته کشفوي، د طبيعت هغه اسرار چي د انسان او انسان د هغو دپاره پيدا شوی دی.** [1]

---

[1] د سيد جمال الدين دغه ټولي خبري نن ميدان ته راوتلي او هوا او فضا، بحر او بر انسان تسخير کړي او داسي سريع السير الوتکي په لاس کښي لري چي باز او باښه لا څه چي تر اواز هم سريع تري دي. داسي تحت البحري ګاني جوړي شوي دي چي ماهيان او نهنګان هيڅ ورته ايسي. بې سيمه ټيليفون، راديو ټيليفون او تلوېزيوني تليفونونه د مخابرې هغه وسايل دي چي بې سيمه مخابرې پرې کيږي او لکه چي خوله په خوله سره غږيږي. حتی يو د بل د مخ (عکس) ګوري. راکټونه او فضايي بېړۍ هم جوړي شوي اونن سبا نوري کرې انسان تر تسخير لاندي راتلونکي دي چي په دې حساب د سيد پېشګويي ګاني صادقي شوي دي.
(ارشاد)

# په دې باره کښې د ده خبره چې حق کله ناکله له اکثريت سره نه وي

دی وايي چې: پر يوه شي باندې د انسانانو د يوې ټولنې اتفاق او اعتقاد کول کله-کله دا افاده نه کوي چې هغه به ګوندې په حق اوسي، په تېره بيا که د دغه اتفاق او اعتقاد زائد او قايد مطلق مالوف او د ږندو او پټو سترګو تقليد اوسي. مثلاً ديني او مذهبي حقايق او علمي او فني قواعد تل د لږو خلکو له خوا تدوين شوي او منځته راوړل شوي او خ پاره شوي دي او عمومي خلکو په کلکه مخالفت ورسره کړی او تر وسه پورې ورسره جنګېدلي دي. مثلاً کوم وخت چې د ستورو عبادتونه کېدل او يو ستوری(مشتري) به يې د خدايانو خدای باله چا دا جرئت نه درلود چې له هغه څخه منکر او لا پرې کافر شي او د دغه مذهب کاهنانو به د خلکو په اتفاق هغه څوک تر سخت عذر او سختې شکنجې لاندې نيوه چې له هغه څخه به منکرېده او لا به پرې کافرېده، او نن هغه څوک مومن ګڼل کيږي چې په هغه کافر اوسي. له هغه وروسته بيا موسی(ع) راغی او د فرعون له خدايۍ نه منکر او پرې کافر شو او په هغه وخت کښې ټولو خلکو پر خدای باندې ايمان لرل کفر ګاڼه او نن خبره بالعکس ده. او بيا عيسی (ع) راغی او د ده له يو څو حواريينو نه پرته بل چا ايمان نه پرې درلود او نه يې مانه، او سره له دې چې ده په برالا ويل چې: (زه د موسی د دين د تکميل او تعميم لپاره راغلی يم نه چې هغه نقض کړم) خو له دې سره-سره په اروشليم کښې يهود د ده له ډېرو سختو دشمنانو څني وو او د ده پيروان به يې پانسۍ کول او په راز-راز عذابونو

او ربړونو به یې کړول او نن په قدس اون بیت اللحم او په نوره اکثره معموره کښې ګورو چې د مسیح (ع) تعلیمات خلکو ته ډېر محترم دي او د هغه پیروي کوي او له هغه وروسته بیا (محمد((ص)) راغی او د هغه پیروان ډېر لږ او د ګوتو په شمار وو او هغه یو هلك علي ابن ابی طالب او یوه ښځه خدیجة الکبری بنت خویلد او یو سړی ابوبکر و او د ده نور قوم د ده سخت منکر و او د ده د تبلیغ مانع و او کلکه مقابله به یې ورسره کوله، او چا چې به په محمد(ص) ایمان راووړ هغه به یې تر سخت فشار لاندي نیوه او په راز-راز عذابونو به یې ربړاوه او ټوکي مسخرې به یې پرې کولې، او نن ګورو چې په میلیونو وګړي د محمد(ص) د دین پیروان دي او سر پرې ورکوي، او د دې عالم اکثره خلك د موسی، عیسی او محمد د تعلیماتو پابند دي او احترام یې کویز په داسي حال کښي چې په لومړي سر کښي د دریو واړو پیغمبرانو پیروان ډېر وګړي وو.

او که چیرته د دوی تعلیمات محض خبري او د انسانیت او بشریت له روحیې سره موافقي نه وای د هغوی پر ضد له فشارونو، عذابونو، قتلونو، استهزاګانو، فرارولو او داسي نورو ربړونو سره-سره به اکثریت د هغوی پیروي نه وای کړې او نه به یې دغه شهرت او اعتبار موندلی وای، حتی د اعتبار او قدرت دې درجې ته ورسېدل چې ډېر مملکتونه یې فتح کړل او لوی-لوی دولتونه یې تاسیس کړل او د خاصو-خاصو مدنیتونو خاوندان شول چې تر اوسه باقي دي او فنا کیږي نه. نو بنا پر دې موږ باید په دې وپوهېږو او دا په یاد ولرو چې هر هغه څه او ره هغه مفکوره چې په خپل ذات کښي حق اوسي که څه هم د خلکو له عادت نه مخالفه او د عمومي افکارو خلاف او طرفداران یې

هم لړ وي بایده ده چي د حکمت له مخي هغه د خپلو پیروانو د لړوالي او لا د مخالفینو د ډېروالي له کبله سپکه ونه ګڼل شي، بلکي لازم دی چې ه دقت سره وڅېړل شي او تر صحیح کره والي لاندي ونیوله شي. نو که د حق نور ترې وبرېښېد او لیدونکي یې ضعیف او ناتوانه وو د هغې ملاتړ یې نشو کړای بایده ده چي انتظار وباسي تر څو چي یې ملګري او ملاتړ زیات شي. د مسیح د دین ډېر مخالفین موجود وو او بیا هغوی دغه دین ومانه او د هغه د تعلیماتو د تطبیق په لار کښي یې له هیڅ ډول قربانۍ نه ځان نه ژغوره او په دغه لار کښي یې هر راز ربړونه ګالل. ډېر عربان هم وو چي د محمد(ص) په مقابل کښي ودرېدل او سختي مقابلې یې ورسره وکړې مګر بیا همدوی د ده د دین تابع او خاضع شول او د ده د دین په لار کښي یې په هر ډول جنګونو کښي برخه واخیسته او د دعوت د خپرولو په لار کښي یې قربانۍ پر غاړه واخیستې او په دغه لار کښي یې مرګونه او ژوبلي وګاللې. په فرانسه کښي د حریت مدعیانو او هواخواهانو څومره تکالیف وګالل او ویني یې وبهول شوې او نن یې ټول عالم تقدیر او نمانځنه کوي او ژر ده چي نور خلک یې هم اقتدا او اقتفا وکړي. همدارنګه د اشتراکیت (سوسیالیستي) دعوه لکه چي مخکښي وویل شو که څه هم یې طرفداران نن ډېر لږ دي هغه ورځ لري نه ده چي ټوله نړۍ ونیسي او خپل اقتصادي نظام د هغه پر اساس وضع کاندي. مخصوصاً هغه وخت چي صحیح پوهه او علم عام شي او انسان وپوهېږي چي دی او د ده انساني ورور له یوې ختې نه پیدا او له یوې مو راو یوه پلار نه زېږېدلي دي او د هر چا د بهترۍ معیار د هغه خپل شه کارونه دي چي د انساني ټولني د خیر او بهبود دپاره یې اجرا کوي نه په ډېر مال او منال. جاه او جلال ده او نه په دې ده چي ډېري لښکري

**ولري او لا ډېر خلك د ده د مريبتوب كړي په غوږ كښي ولري او لا داسي نور باطل او بې معنی شيان. بيا يې وويل: د مالوف عادت نه مخالفت كول غټ كار دی او لوی جرئت اوغټ همت غواړي. كه چا درته وويل چي يو بشر په آسانۍ سره خپل عادت پرېښود مه يې منه او مه باور پرې كوه، ځكه چي په دغه ميدان كښي ډېر خنډونه شته او دغه تار ډېري غوټي لري او دغه خنډونه هر څوك لري كولای او دغه غوټې هر څوك پرانيستی نشي بلكي نوابغ مړونه او رسېدلي رجال يې خلاصولای شي. هغه به هم د نورو په مرسته وي او لا په خپل حكمت او لوړ همت. د انبياوو(ع) لوی مزيت دا دی چي دوی ځانونه د خپلو قومونو مخالفت ته وراچولي او ددوی له ګمراهيو سره جنګېدلي دي، د دوی دود او دستور، عادتونه او اعتقادونه ور بدلوي او په ډېره برده بارۍ او حوصله خپل كار مخ په وړاندي بيايي. مثلاً موسی(ع) د فرعون پر ضد راپورته شو او بني اسرايل يې له مصر نه وويستل. مسيح(ع) د يهودو په هيكل يرغل ورووړ په داسي حال كښي چي يهوديان د خپل عظمت په اوج كښي وو او د موسی د سلطې ناموس هم د دوی په لاس كښي و. خو سره له دې هم د دوی پخواني يې بې عقلان وشمېرل، د دوی په هيكل ورننوتل، د دوی صناديق يې مات كړل او د هغوی تجارتي شيان يې خراب كړل او ورت ويې ويل چي: (زما دغه خونه د عبادت او بندګۍ خونه وه او تاسو د غلو خونه ترې جوړه كړې ده.) همدارنګه محمد(ص) د عربو بتان مات كړل لات او عزي او منات يې خوار او ذليل كړل او له اعتباره يې وغورځول او د قريشو پاچاهي يې نه منله، او د حق د كلمې د لوړتيا دپاره يې قيام وكړ او په دغه لار كښي يې هر راز ربړ او فشار ته تن كېښود، جنګونه، زخمونه، وهل، ټكول يې پر غاړه**

واخيستل. او له هر هغه عادت، دود او دستور سره يې مخالفت راواخيست چې نامعقول به و، او لومړی به يې په ځان تطبيق او بيا به يې په خپلو خپلوانو تطبيق کړ. لکه د سودخورۍ معامله شوه چې د خپلو خپلوانو (ترونو او ماماګانو) له تجارت نه يې وويسته، په داسي حال کښي چې له دغي لاري نه يې ډېر عوايد درلودل. همدارنګه د بچه خواندګۍ مسئله يې له منحه يووړه، تر ده پخوا داسي وه چې څوک چې به د چا بچه خوانده شو هماغه ته به يې نسبت کاوه لکه چې د رسول الله(ص) هم زيد په زوی ګيرت نيولی و او (زيد بن محمد) به باله کېده، خو چې وحيې ورته راغله چې (پلرونو ت يې نسبت وکړئ) نو بيا به يې د حارث زوی باله. او دا په واقع کښي د يوه مالوف عادت مخالفت و او چې آنحضرت(ص) لومړی په خپل ځان تطبيق کړ نو ځکه نورو هم د ده پيروي وکړه او د هر غيرمعقول مالفو او معتاد شي د ترک کولو بهترين پېشوا و.

## د دريو واړو اديانو په باره کښي د ده رايه او دا چي دغه ټول په مبدا او غايه کښي سره يو دي

انسانان د دغو دريوواړو (موسويت، عيسويت، محمديت) اديانو په مقابل کښي له دوو حالتو نه بېرون نه دي لا به يې په حقانيت عقيده نه لري او لا به عقيده لري چي د دغو دريو واړو اديانو پېشوايان دخدای(ج) استازی دی او دوی ته يې تورات، انجيل او قرآن په وحيه رالېږلی دی، او د دوی له رسالت خخه غرض حق ته د خلکو لارښودنه او هدايت دی چي په تعبدي امورو کښي دوی ته سمه لار وښيي او په معاملاتو کښي حلال او حرام ورته څرکند کاندي او د دغو شريعتونو په وسيله د خلکو د مصالحو ساتنه وشي، لنډه دا چي د دغه عالم له پيدايښت څخه د خدای اراده ورته بيان کاندي او پرې ويې پوهوي. نو بنا پر دې دا ممکنه نه ده چي له هغو څخه د خدای اراده واحده او يوه نه اوسي او همدارنګه پايده ده چي د دريو واړو کتابونو غايه او هدف يو وي او روانه ده چي د هغوی په حقيقت کښي تباين موجود وي او لا يې ځيني له حينو نورو نه مخالف اوسي. نو اوس به د عبادت په باره کښي د تورات عباراتو او هداياتو وګورو مونږ ګورو چي پاک خدای د کوه طور له لوري موسی ته ناري کړې چي : (زه يوازنی خدای يم چي له ما نه پرته بل پروردګار نشته نو ته او بني اسرايل يوازي زما عبادت وکړئ)

او څه چي په تورات کښي راغلی لنډه يې دا ده چي د خدای عبادت او اطاعت او د رسولانو په تبليغاتو باندي عمل کول د انسان د آخرت د سعادت او ثواب سبب ګرځي او په دنيا کښي هم خير ورته

رسوي. انسان له خپل ځان سره د ميني په وجه دانه غواړي چي له مرګ نه وروسته پوپنا او ببخي ورک او له منځه لاړ شي، ځکه چي دغه عقيده روح وژني او انسان ته تکليف ورکوي بلکي هيله لري چي له مرګ نه وروسته دوباره راژوندی شي او ابدي ژوند ولري بيا به انجيل ته مراجعه وکړو او هغه څه به وڅېړو چي مسېح(ع) راوړی دی، نو کوم وخت چي د ده تعليمات مطالعه کوو ګورو چي دی داسي څه وايي چي په مجمله توګه يې معنی دا ده: (اې خدايه! تا ماته داسي قدرت راکړی دی چي هر هغه جسد ته ابدي ژوند ورکړم کوم ته چي تا ورکړی دی او دا ابدي ژوندي د دې لپاره چي تا وپېژني او ته يوازي هغه حقيقي خدای يې چي له تا نه پرته بل خدای نشته) نو بنا پر دې عيسويت هغه ناموس دی چي د موسويت د تکميل دپاهر راغلی دی لکه چي مسېح(ع) وايي: (زه د دې دپاره راغلی يم چي ناموس تکميل او ويې رسوم نه دا چي مات يې کړم) او له دې وروسته چي موږ محمديت ته ګورو قرآن ګورو چي له توحيد نه ډک دی او ځای پر ځای د يوه خدای د بندګۍ او اطاعت توصيه کوي لکه چي فرمايي: (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنّ وَالِانسَ آلاّ لِيَعْبُدُونِ) (وامرت ان اعبدالله ربی نولا اشرک بربی احدا) (والحمدالله رب العلمين) و (اَيّاکَ نَعْبُدُ واَيّاکَ نَسْتَعِينُ) په همدې توګه درې واړه اديان ګورو چي په تعبدي چارو کښي سره يو او متفق دي او هيڅ تفاوت نه سره لري. او بيا به معاملاتو ته نظر واچوو چي کومي يې روا کړي او کومي يې ناروا کړي دي، په هغه ترڅ کښي ګورو چي په کومو شيانو چي موسی(ع) امر او توصيه کړې ده عيسی هم عملي کړي دي نه دا چي څه يې پرې زيات کړي او لا يې څه ترې کم کړي وي، همدارنګه حضرت محمد(ص) د تورات او انجيل مصدق و. موږ مخ کښي وويل چي خلک

د درې واړو اديانو په مقابل کښي دوه ډوله دي يو دا چي په وحي عقيده او په انبياوو او رسولانو باندي به ايمان لري او لا به ترې منکر اوسي نه په انبياوو ايمان لري او نه بې رسالت حق ګڼي. هر څه چي مومن سړی دی هغه درې واړه اديان يو بولي او لکه چي مخ کښي وويل شو درې واړه کابونه هم سره متفق ګڼي او هيڅ نوع تباين نه پکښي ګوري بلککي په مقصد او غايه کښي يې يو بولي. او هر څه چي کافر او منکر دی وايي چي جهان او د هغه پېښي يو هم نوی نه دی او هغه څه چي موم ته نوی شکاري په واقع کښي د شکل او صورت د ښکاره کولو او ليدلو ډول دی، مثلاً په يوه پېړۍ کښي ځيني د بصيرت خاوندان، نوابغ او علما منځ ته راځي او په يوه خاص شکل تعليم ورکوي او د خلکو په نفوسو او اروا ګانو کښي تاثير کوي. مثلاً د خدای د توحيد او تقديس تعليم له موسی نه په پېړيو دمخه مصريانو پېژانده. او تثليث د بت پرستانو تعليم و چي فيثاغورث يوناني حکيم له عيسی نه پنځه سوه کاله دمخه خوله پرې خوځولې وه، او موسی، عيسی او محمد هوښياران پوهان او حکيمان وو چي د خپلو قومونو له منځ نه راوتلي وو او د پخوانيو معتقدات، قواعد او اقوال يې سره راټول کړل او په کتابونو کښي يې سره ترتيب کړل داسي نه ده چي د آسمانونو د خدای له خوا اوسي.

همدغه منکران وايي: که موم ومنو چي د دغو اديانو په کتابونو کښي يو څه ګټور شيان شته نو دا بيا له هغو ضررونو سره نه مقايسه کيږي چي د يوه دين د پيروانو تر منځ او لا د يوه دين د پيروانو او د بل دين د پيروانو تر منځ جدايي او دښمني راولي يو له بل سره مخالفت او عداوت کوي او يو بل ته کوهی کيندي. او که دغه اديان حقيقتاً د خدای له لوري وای دغسي به نه و، بلکي ټول به يې سره يو کړي وو او اختلاف به يې نه

سره درلود له دې نه علاوه دا بيان محال و چې دغه راز خرافاتو پکښې ځای نیولی وای. دا دی د دغو منکرانو دلایل چې زموږ له بحث سره ډېر ارتباط نلري ځکه هغه څه چې منکران ګوري او موږ يې هم ګورو چې د دين خاوندان يو له بل سره اختلاف لري هغه د دين له تعليماتو څخه نه دي او نه يې د کتابونو توصيه ده بلکې هغه د دغو اديانو د مشرانو ساخته او بافته ده هغه ريیسان او مشران چې په دين تجارت کوي او د دين احکام په ناچيزو پيسو پلوري او بد نوم ګټي. څومره ګټور دی چې صالح اوسي او څومره مضر دی چې فاسد شي نو اديان په خپل اصل کښې د ډېرو بشري امراضو ډېره ښه دوا ده خو په دې شرط چې طبيبان (د دين رييسان) يې شه او لايق کسان اوسي او دغه دوا له نورو مضرو موادو سره خلط نکړي او د خلکو د عقلونو د قابليت او استعداد رعايت او ملاحظه وسايت او په ټاکلې اندازه، فهم ته نژدې خبره او معقول بيان يې ورکړی. دی وايي چې يوه ورځ د هند له نوابانو نه يوه نواب په دين باندې څه داسې شبهې درلودې چې نژدې و اسلامي عقيده يې ورخرابه کړې او په منزلو کتابونو يې شکمن کاندي، له هغې جملې نه يوه شبه دا وه: که چيرته قرآن د خدای کلام وي او دا خبره يې هم حق اوسي: (وَدِينِ الْحَقّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدّينِ كُلّه وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ) نو بيا اسلام په دې عصر کښې څله د خپل تقهقر او انحطاط په وروستۍ مرحله کښې دی؟ او د دغه آيت په خلاف ليدل کيږي په دغه باره کښې يې ډېرې خبرې وکړې او ډېر مثالونه يې راوړل او چې خبرې يې خلاصې شوې ما ورته وويل چې په دې پوه شه چې هر دين بايد حق وي او اسلام نوم دی او مسمی يې بايد حق اوسي نو که تا ته يو په نامه عالم څوک راغی چې په حقيقيت کښې جاهل و نو تا ته روا ده له دې کبله

چي د ده نوم له مسما سره سر نخوري د علم له فضيلت نه منكر شې؟ او كه تا ته په ميليونو خلك د اسلام په نامه راشي لكه چي د دې عصر مسلمانان همدغسي دي او په حق روان نه اوسي او نه د اسلام د تعليماتو پيرو وي نو آيا يوازي د اسم او مسما د مخالفت له كبله دا روا ده چي انسان ووايي چي اسلام كوم فضيلت نه لري؟ نه هيڅكله هم روا نه ده او همدغه وجه ده چي پاک خدای(ج) (دين الحق) ياد كړی دی نه دا چي مسلمان يادېږي له دې نه علاوه تاريخ شهادت وركوي چي تر كوم وخت پوري چي مسلمانان په حقه روان وو او د هغه تعليمات يې مخلصانه عملي كول مسلمانانو داسي غلبه ومنده چي ځمكه يې له نور او عدل نه ډكه كړه، نو بيا پر دې غلبه د حق او حقيقت دپاره ده ته يوازي د اسلام د اسلام د نامه لپاره. او كومه پسماني او انحطاط چي د نن ورځي د مسلمانانو ګورې هغه د اسلام د دين له حقيقت نه ناشي نه ده بلكي د دين په حقيقت باندي د مسلمانانو د نه پوهي له كبله ده. نو بنا پر دې پر هغه دين چي په حقه وي او پيروان يې حقيقتاً پيروي كاندي غلبه د هماغه په برخه ده ځكه د دغي غلبې وعده (حق دين) ته وركړل شوې ده لكه چي مو وويل: او له هغه څخه نه يهوديت او نه عيسويت او نه محمديت اخيستی شو چي يوازي په نامه اوسي او له دغو درې واړو نه چي هر يوه په قه عمل وكړ هغه خالص دين دی او د دغه نعمت وړ دی لكه چي خدای(ج) فرمايي: (اَنّا اَنزَلْنَا اَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقّ فَاعْبُد اللّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدّينَ 2 اَلاَ لِلّه الدّينُ الْخَالِصُ....) يعني موږ تا ته په حقه سره كتاب درلېږلی دی نو په اخلاص د خدای(ج) عبادت وكړه او په دين كښي مخلص اوسه، ځكه چي خالص او مخلص دين د خدای(ج) دپاره دی.

## د شرق مسئله او د هغې په باب د سيد رايه د سلطان محمد الفاتح او سلطان سليم

## د فکر ستاينه چې عربي ژبه يې رسمي کړه او د هغې د تصميم دپاره يې کوښښ کاوه

د شرق د مسئلې لنډيز چې د شرقي او غربي تر منځ د اختلاف مورد ګرځېدلی داسي دی چې هر يوه خپلي مدعا ته د دين جامه وراغوستې ده. په دې توګه چې غربي يې د نصرانيت په ګز ګزوي او شرقي يې د اسلام په ګز. او د دواړو دينو پيروان هغې بې خولې او بې ژبي آلې ته پاتي کيږي چې بل يې ښوروي او کار ترې اخلي. نو د نصرانيت پيروانو دين د دنيا وسيله او آله ګرځولی او د هغه په وسيله خپله دنيا سنبالوي او د خپل ژوندانه ضروريات پرې ښه کوي او مسلمانانو دنيا د دين وسيله کړې ده چې که د دين په مباديو په ښه توګه عمل ونه کاندي دين او دنيا يې دواړه يې خرابيږي. په (٨٥٦-٨٥٧هـ) کال کښي د سلطان محمدالفاتح له خوا د قسطنطنيې (دغه محفوظ پای تخت) فتح د مسلمانانو پر ضد د مسيحيانو د پادشاهانو حقد او کينه راوپاروله او له دغه وخت نه يې د عثماني دولت پر ضد په دسيسو او توطيو لاس پوري کړ او د هغه د تذليلونو په لار کښي يې له هيڅ ډول کوښښونو ځانونه نه سپمول، او زيار يې ويسته چې اروپايي مفتوحه سيمي د هغوی له لاسه وباسي او په هره وسيله چې وي ترکان له اروپا نه وشړي. په جنګونو کښي غالباً او ډېر کرته قوت او علم د غلبې باعث ګرځي نو که عثماني دولت د خپل تاسيس له اولي ورځي نه دغه اصل

رعات او د غربي عالم د حرکت او پېشرفت مراقبت کړی وای او د هغوی په قدم د مدنيت او حضارت په لار کښې مخ په وړاندي تللي وای او خپلو مادي فتوحاتو او طاقت ته يې علمي قوت او قدرت هم ورضم کړی وای لکه چي جاپان وکړل نو دغلته به دغه شرقي مسئله منځته نه راتله او نه به دغه تباين ظهور کاوه هغه تباين چي له هغه سره-سره حکومت دوام نه شي کولای، او هغه په علم باندي د جهل حکومت کول دي او لا دا چي جاهل حکومتونه په عالموحکومتونو حکومت وکړي؟ نن ورځ دا ممکنه نه ده چي يو قوم يوازي په توره باندي په بل داسي قوم حکومت وکړي چي د علم په وسيله سنبال او مجهز اوسي او د دين مسئله هم يوه ذريعه ده چي د هغې په وسيله انسان خپل قوت او طاقت فراهم کاندي او بيا خپلي غايې ته رسيمي چي هغه له دې څخه عبارت دی چي په عالم او يوه ملت باندي د جاهل حکومت د حکومت کول دفع کاندي. نو بنا پر دې دغه کينه د دين مولد نه ده او که يو څه دخل په کښي ولري بيا هم يوازنی علت يې نه شي ګڼل کېدای ځکه چي ترکانو ځيني اسلاي دولتونه هم فتح کړل اونصراني ملتونه يې هم خپلي امپراتورۍ ته ورضم کړل او تر يوه وخته وليدل شول چي نصراني ملتونو په خپله خوښه د عثماني دولت اطاعت کاوه او اسلامي ملتونو د زړه په خوښه، نه مانه حتی دغه اسلامي ملتونه هم د عثماني دولت پر ضد راوپارېدل نو بنا پر دې يوازي ديني تمايل د دغي کينې او د شرق د مسئلې د منځته راتګ عامل او فاعل نه دی هغه شرقي مسئله او هغه کينه چي ډېره موده يې دوام وکړ او له ترکيې نه تېره شوه او نوره شرقي نړۍ يې ونيوه، مخصوصاً شرقي نړۍ چي په تفريط او غفلت کښي د ترکانو

حکومت ته ورته وه همدغه کينه وه چي ټوله اسلامي نړۍ د غربي استعمار تر تاثير لاندي راغله او دغه تباهي يې په برخه شوه.
که موږ په نصراني حکومتونو باندي د اسلامي دولتونو د بري عوامل او موجبات وپلټو دا به راته څرګنده شي چي يوازنی علت يې (قوت او علم) و، او په همدې توګه د دولتونو د بري اوماتي دوران بدليږي رابدليږي او حاکمه طبقه چي جاهل شي د عالمي طبقې محکومه ګرځي. مسيحي دولتونه نه يوازي د هغه علم په برکت په اسلامي دولتونو بری مومي کوم چي د اصلي قوت مصدر او منبع ده او مسلمانان د هغه جهل له کبله مغلوبيږي چي د ضعف اصلي منشا ده. کوم وخت چي د ترکانو دپاره فتوحات ميسر شول دوی د جنګ او تمبيې په فنونو داسي شه پوهېدل چي اروپايانو د دوی همسري نه شوه کولای، نو ځکه پرې زورور شول او لاندي يې کړل. د ترکانو او ترکيې لويو سلاطينو د دين لار نيولې وه او د اسلامي مشخيت په منصب او مسئله لوی-لوی علما، فقها او باشخصيته او ديندراه پوهان ناست وو، چي هم په دين او هم په سياست کښي د رايې خاوندان وو، او سلاطينو او نورو دولتي رجالو ته به يې سمي مشورې ورکولې او هغوی هم د دوی مشوره منله او عمل به يې پرې کاوه، دغو علماوو به نه پرېښوول چي زمامداران د حق له لاري منحرف شي نو ځکه په عدالت او انصاف چلېدل او رعيت يې له عدالت نه برخودار و او څوک چي به د دوی تر سلطې لاندي راتلل مامون او مصئون به و، سختۍ به يې لري کولې او هر راز آسانتياوي به يې ورته فراهمولې، د دوی مدرسې او فاکولتې د دوی دين او مساجد، ددوی ژبه او هر څه يې په خپل حال پرېښوول ن ځکه نصراني مستعمراتو دوی ته غاړه کېښوده، ځکه چي دوی په دغه عصر کښي تر نورو هم عادل وو

او هم عالم. نو بيا نصاراوو د عثمانيانو اطاعت ته غاړه کېښوده او په ټوله معنی يې رعيت شول او تر څو چي حاکمه طبقه عالمه او محکومه طبقه جاهله وه نصارا د ترکانو رعيت و او غاړه يې ورته ايښې وه، او چي بيا خبره بالعکس شوه نتيجه هم ضرور بالعسکځ شوه او په کوم علت چي غالب شوي وو په هماغه علت چي بل ته په لاس ورغی مغلوب شول، کومي وسلې چي دوی ته بری ورکړی و په هماغه وسله مغلوب کړی شول او دا د وجود او هستۍ سنت دی او په نورو کښي منحل شوی نه دی هغوی تر هر چا زيات فرصت لټوي او چي قابو يې برابره شي د خپل مجد د اعادې هڅه کوي او غواړي چي د پرديو تر سلطې ووزي. په دغه لار کښي هر راز قربانۍ ته حاضر وي او د خپلو وينو په تويولو د قوم مړه همتونه راژوندي کوي او خپل کسات اخلي. څوک چي د عثماني دولت تاريخ ته ګوري چي څنګه پيدا شو او څنګه يې فتوحات وکړل او ډېر ملتونه يې د ځان تابع کړل تعجب کوي او له ډېر تعجب نه ځان تم کولای نشي. تر دې بيا زيات په دې تعجب کوي چي په خپل کار کښي يې ولي تفريط وکړ او د زمانې د ايجاب په مطابق لاړ نه شول؟ ولي يې په خپلو مفتوحه هيوادو کښي د تمدن او حضارت نښي او علامې په يادګار پرې نښودې او ښه آثار ترې پاتي نه شول؟ دغه دولت د هجرت په اووه او لا د مېلاد د ديارلسمي پېړۍ په اخر کښي په وړوکې آسيا کښي منځته راغی او (سلطان) لومړۍ عثماني ټولي هغه برخي چي د سلجوقيانو په لاس کښي وې ونيوې او د غرب پر خوا روان شول او د روميانو له لاسه يې واخيستې. بيا عثمانيانو خپل انظار او خپل همت او خپل قوت د بالقان د ټاپووزمي پر لور واړاوه، هغه ټاپووزمي چي عجيبه جغرافيايي وضع لري، ځکه چي د اروپا د جنوب شرق په قصا او د آسيا تر څنګه

واقع وه او کوم وخت چي روماني مملکت شرقي او غربي برخي ته وويشل شو نو د بالقان ټاپو له شرقي روما سره وتړل شو او په دغه مملکت کښي (له ترکيې نه پرته) يونان، يوګوسلاويا، بلغاريا، رومانيا او جبل اسود شامل وو او له دغو څخه هر يوه ځانته عنعنات او مطامع لرل او د بېلو-بېلو نسبونو، نژادونو او قبيلوي دودونو او مذهبي اختلافونو خاوندان وو او بېل-بېل سياسي اميال يې لرل او بالقان د تل دپاره د فتنو او اضطرابونو زانګو وه او ګومان کېده چي دغه فتنې به نورو شاوخوا ځايونو ته هم سرايت وکړي ځکه چي دغو وړوکو-وړوکو دولتونو هر يوه غوښتل چي خپله ساحه پراخه کاندي او دغه پراختيا پرته له دې چي د خپل ګاونډي هيواد ساحه کوچنۍ کاندي او لا يې وخوري په بله توګه ممکنه نه وه، او له دې نه علاوه د دغو هيوادو شاوخوا ته پرتو لويو هيوادو لکه روسيه او اطريش شول خپل مطامع درلودل. هغوی غوښتل چي د بالقان د آزادۍ په پلمه هغوی د عثمانيانو له سلط ېنه خلاص کاندي او تر خپل نفوذ لاندي يې راولي بيا سيد جمال الدين وويل چي دا بحث ډېر اوږد دی او اوس به بهر خپل بحث ته ستانه شو چي (عثمانيانو په خپلو مفتوحه سيمو کښي څه آثار په يادګار پرېښودي دي).

سلطان مراد ثاني(دوهم مراد) بلغاريه په ۱۳۸۲م کال کښي فتحه کړه او نژدې څلور پېړۍ د عثمانيانو تر سلطې لاندي پاتي شوه. بلغاريان لکه مجارستانيان او فنلنډيان اصلاً مغول او ډېر قوي خلك دي چي د روسيې د قازان له لاري اروپا ته راغلي او بيا په اوومه مېلادي پېړۍ کښي د بالقان سيمو ته راننوتلي او دوی د خپل نشئت له لومړۍ ورځي نه خپلي خپلواکۍ ته ملتفت شوي او خپل مقام او حيثيت يې ساتلی دی، چي بيزانطي دولت به ترې وېرېده او وروسته بيا پر شا ولاړ او روسانو

ونيول، بيا د هغوی په مقابل کښي هم راپورته شول او په يوولسمه مېلادي پېړۍ کښي يې خپل استقلال بېرته واخيست بيا د شرقي روم د مملکت جز شو او دريم وار يې بېرته خپل استقلال په لاس راووړ او بلغاريان پرله پسې څلور پېړۍ د هيچا تر نفوذ لاندي له عثمانيانو نه پرته پاتي شوي نه وو، خو سوال دا دی چي ترکانو په دغه موده کښي له بلغاريانو سره څه وکړل؟ او کوم اثر يې پکښي پرېښود؟ هيڅ! هو! ددوی د دين، ژبي او سياست لويي-لويي فاکولتې يې ورته پرېښودې او دوی لهنورو ملتونو سره يوځای دتمدن پر لور روان شول او د دوی ترکي حاکمان کرار په غوره ناست وو او په خپلو پلرونو او اسلافو به يې وياړل. څلور پېړۍ وشوې چي بلغاريان د ترکانو تر اثر لاندي وو او ورځ په ورځ د انحطاط پر لور تلل، تر څو چي د برلين د تړون په موجب يو جلا رياست شو او بيا راپورته شول او د تمدن په لار کښي مخ پر وړاندي روان شول او ډېره لار يې ووهله او پيا دې درجې ته ورسېدل چي له هيچا نه حتی له عثماني دولت به هم نه وېرېدل. او هر څه چي يوګوسلاويه وه هغه هم په ۱۳۸۹م کال کښي د دوهم مراد له فتوحانو ځني وه او له څلورو پېړيو زيات د عثمانيانو د حکومت په حوزه کښي پاتي شوه، او څو واري يې کوښښونه وکړل چي د عثمانيانو له سلطې نه ځانونه خلاص کړي خو وسه يې ونشوه تر څ و چي د وروستي ځل دپاره له هغه اوږد انقلاب نه وروسته مستقله شوه چي څوارلس کاله يې دوام وکړ او په ۱۸۷۸م کال کښي يې له باب عالي نه يو نوع استقلال واخيست او د پاريس د معاهدې په وجب يې کامل استقلال په لاس راووړ او د خپل ګاونډي هيواد(بلغاريې) په څنګ کښي يې ځای ونيو. همدارنګه ترکانو يونان هم د نورو بالقاني هيوادو سره لاندي کړ او تر

۱۸۲۹م کال پورې د عثماني دولت تابع و او له اوږدو جګړو نه وروسته چې اووه کاله یې دوام وکړ د اروپایانو په ملاتړ یې خپله خپلواکي واخیسته او په دغو جګړو کښې هغه ټولګې هم ګډون کړی و چې د ابراهیم باشا تر مشرۍ لاندې د لوی محمدعلي باشا په امر (موري) ته د تبلیغاتو دپاره تللی و. او هر څه چې رومانیا وه په دوولسمه پېړۍ کښې د ولاکیا او مولد او یا له دوو امارتو څخه عبارت و او د عثمانیانو اطاعت یې کاوه په دې توګه چې له ۱۳۹۲م نه تر ۱۷۱٦م کال پورې یې جزیه ورکوله او بیا د عثماني حکوت تر سلطې لاندې راغل او بیا دغه سیمې روسانو لاندې کړې او بېرته یې هغه امتیازات ورکړل چې په ۱۷۱٦م کال کښې یې له لاسه ورکړي وو او بیا ۱۸٦٦م کال انقلاب پېښ شو او رومانیانو الماني(برنس شارل دي هوهنزلرن) غوره کړ او ځانته حکومت شو. له هغه وروسته بیا د برلین د کنفرانس په اثر دغه دوه ولایته چې د (الفلاح او البقدان) په نامه یادېږي یو مستقل مملکت شو او د رومانیې د امارت په نامه وبلل شو او په ۱۸۸۱م کال کښې دغه امارت مملکت وګرځول شو او امیر یې د پادشاه په نامه وبلل شو. او هر څه چې جبل اسود دی (هغه له خپل نامه نه یو څه برخه لري) یو وړوکی غرنی ولایت دی چې مساحت یې له ۳٦۳۰ مربع میلیونه نه زیاتیږي او دوه سوه اووه ځلوېښت زره اوسېدونکي لري چې (صقلبې) نژاد ته منسوب دی، د دغه ځای خلک اکثره بزګر او مالدار دي او په ډېره سختۍ ژوند تېروي، دغه وړوکی ولایت له پخوا نه مستقل و او له دغه لوی سلطان سلېمان القانوني نه پرته بل چا فتحه نشو کړی هغه سلطان چې عثماني سلطنت د ده په عصر کښې د خپل عظمت او مجد انتهایي درجې ته رسېدلی و. جبل اسود(لکه چې وویل شول) که څه هم په فقر او غربت شپې ورځې

تېرولې او خلك يې هم ډېر توريالى او جنګيالى و او په ډېر شدت سره به يې له خپل هيواد نه دفاع كوله او په دغه لار كښي يې له هيڅ ډول قربانۍ نه ځانونه نه ژغورل خو سره له دې هم دولت دغه سيمه خپل يو ولايت باله او هغوی به تل سركښي كله تر څو چي عثمانيانو لښكركښي پرې وكړه او هغوی يې د ځان تابع كړل او له ۱۵۲٦م كال نه د برنس نقولا تر وخته پوري په همدې توګه و او تر ۱۸٦۲م كاله پوري د عثماني دولت تابع و او بيا يې دوباره په عصيان او طغيان لاس پوري كړ تر څو چي د برلين كنفرانس جوړ شو او تر پايه پوري يې په دغه سيمه كښي د عثمانيانو حكومت يو نفوذ ته خاتمه وركړه. دا و د بالقان ټاپو وزمې چي عثمانيانو لاندي كړې و او څو پېړۍ د دوی د حكومت په حوزه كښي و نو اوس به ګورو چي دوی په دغه ځای كښي د عمران او ودانۍ څه آثار پرې ايښی دی؟ او څه يادګار او د يادوني وړ څيز ترې پاتي دی؟ او د دې دپاره چي دغه سيمي د دوی د اقتدار په حوزه كښي پاتي شي دوی څه تدبير او مقدماتي احتياطي ترتيبات ونيول؟ نو كه د دغو سوالونو جواب دا وي چي (هيڅ) نو په دې صورت كښي موږ انصاف دې ته اړباسي چي ووايو: عثماني دولت په خپلو فتوحاتو كښي اودا چي دوی په دغه باره كښي څه تفريطونه كړې دی د استعمار په چل شه نه پوهېدل اوويې نشو كړای چي هغه په تعميري شكل تابع وګرځوي بلكي د خپلو مستعمراتو د عمراني او مدني انكشاف او پېشرفت مانع شول او نه يې پرېښوول چي د نورو مترقي ملتونو په څېر مخ پر وړاندي لاړ شي. د بالقان كوم ملتونه چي موږ ياد كړل شمېر يې له اوولسو ميليونو ته زيات دی او دغه هر ملت اومملكت ځانته جامعات، مميزات لكه تاريخ، ژبه، دين، عادات او اخلاق شول لرل او دوی په دغو ټولو مميزاتو كښي له

ترکانو سره نقیض لوېدلی و نو که عثماني دولت احتیاط غوره کړی وای او له فتحي نه وروسته يې په صائب فکر کار کړی وای په دې به پوهېدلی وای چې د دوی د حکومت په حوزه کښې د دغو ممالکو بقا داسې جمعه کوونکی ایجاد ته اړه لري چې هغوی له دی سره یوځای کاندي او په یوه لار يې بوزي. باید دوی کوښښ کړی وای چې لومړی يې خپله ژبه هلته تعمیم کړې وای او که دوی په یوه او لا په دوه پېړیو کښې په دې بریالی شوی وای چې په دغو ځایو کښې خپله ژبه تعمیم کاندي په دغه ځای کښې د دوی د نفور د بقا له دوو قوي عواملو په یوه عامل تحقق موندلی و او داسې ژر به نه ترې بېلېدلیو ځکه چې دوی به په ژبه ترکان وو او لا به يې په دیني دعوت خپل کړی وای لکه چې نن يې استعماري دولتونه کوي او خپل مبلغین او رهبانان او روحانیون یوې خوا بلې خوا لېږي او خپل دین خپروي. نو که دیني دعوت خپور شوی او د مستعمرې خلکو منلی وای نو بیا به له هغوی سره د دوی د یووالي بل باعث هم پیدا شوی او په دین او ژبه کښې به ورسره شریک شوی وای او ارتباط او علاقه به يې ډېره ټینګه او محکمه وای چې ژر به نه ترې بېلېدل. خو عثماني دولت د بالقان په ممالکو کښې دغسې ونه کړل، حتی په دغه باب کوښښ څه چې فکر يې هم ونکړ، نو بنا پر دې د دوی له حوزې نه د دغو ممالکو د ملتونو وتل حتمي او لازمي و. «او دا په خپل خلق کښې د خدای سنت دی». له دې نه وروسته به په اسلامي ممالکو کښې لکه مصر، شام، حلب، بغداد او تونس او نور عربي ممالک شو د عثماني دولت فتوحات تر نظر لاندي ونیسو، موږ ګورو چې ترکانو دغه ممالک په آسانۍ سره او پرته له دې چې له کلک مقاومت سره مخامخ شي ونیول او د دغې خبرې علت هم د دین د مسئلې تاثیر و چې

عربي ممالکو ترکي عثماني حکم ته غاړه کښېښوده، نو که چیرته عثماني دولت د خپلي خپلواکۍ له اولي ورځي نه او د سلطان محمد الفاتح او لا د سلطان سلیم له وخت نه په پوره فکر او تدبر په کار شروع کړې وای او عربي ژبه چي د اسلام د دین ژبه ده د مملکت رسمي ژبه ګرځولې وای او د عربي ژبي د تعمیم په لار کښي یې خپل کوښښونه په کار اچولی وای یو قوي ملاتړ به یې پیدا کړی و او ژر به له ماتي سره نه مخامخ کېدل او نه به عربو د دوی له حکومت نه غاړه غړوله او نه به یې له نفوذ نه وتل، نو دوی بالعکس رفتار وکړ او ویې غوښتل چي په عربو غړوله او نه به یې له نفوذ نه وتل، نو دوی بالعکس رفتار وکړ او ویې غوښتل چي په عربو کښي ترکي ژبه تعمیم کړی او له عربو نه ترکان جوړ کاندي، او دا څومره خام سیاست او سست فکر و؟ ځکه چي د ترکانو مسلمانېدل(پرته له دې چي په عربي ژبه وپوهیږي) د دې موجب شو چي عرب دوی ته په ښه سترګه وګوري او په زړونو کښي ځای ورکړي، او هري خوا چي دوی روان شي هغوی هم ورسره لاړ شي او د نورو اسلامي ملتونو په څېر یې احترام وساتي. نو که دوی عربي ه زده کړې وای او د دواړو ملتونو له منځ نه د قومیت ناره پورته شوې وای او ترکي او عربي ته د انقسام عامل له منځه تللي وای او ټول یو عربي امت شوی وای او بیا د ژبې د یووالي تاثیر او د اسلام د دین عدالت منشي د عربو ښه او عالي اخلاق هم په نظر کښي ونیول شي په نتیجه کښي به بېرته د هارون رشید عصر راژوندی شوی او د اسلامي مملکتو، تیت او پرک ملتونه به بېرته سره یو شوي او د یوه عادل سلطان تر بیرغ لاندي به راغونډ شوي وای او دا هم سخته نه وه چي ټول لکه سلطان فاتح، سلطان سلېمان او سلطان سلیم غوندي شوي وای. خو متاسفانه د عربي

**ژبي د تعميم په باره کښي د سلطان الفاتح او سلطان سليم د نظريې مخالفت يوه داسي ښکاره خطا او غلطي وه چي بله هيڅ غلطي ورسره برابري نشو کړی مګر دا چي عثمانيانو د خپلي امپراتورۍ مرکز قسطنطنيې ته نقل کړ.**

**ځکه د مستعمرې موقعيت که څه هم لوی او مهم وي او ښه هوا ولري مناسب نه دی چي پای تخت وګرځولی شي، دغه خبره ډېر اسباب او دلايل لري چي دا دی (لکه چي وروسته به په تفصيل راشي) چي مستعمره يوې عاريتي او طلبي جامې ته ورته او د استرداد وړ ده، او دا هم ثابته ده چي مملکتونه غالباً د مرکزونو د ضعف له کبله سقوط کوي او اجزا يې متلاشي کيږي. بل دليل يې دا دی چي مستعمره همېشه په دښمنانو محاطه وي او قوت ژر نه شي ورته رسېدی. وګورئ چي کوم اروپايي مملکت د خپل حکومت مرکز د خپل ملك له زړه نه پرته بل کوم ځای غوره کړی دی؟ مثلاً انګرېزانو سره له دې چي د حکومت قلمرو يې ډېر پراخ و يوازي د برتانيې جزيره چي لندن يې په زړه کښي واقع دی خپل پای تخت غوره کړی دی او لندن هغه ځای دی چي انګرېزان د وحشت په وخت کښي پکښي اوسېدل او فرانسويانو د غالبانو د مملکت زړه پاريس خپل پای تخت نيولی دی همدارنګه او نورو دولتونو هم خپل پای تخت د خپل مملکت يوه برخه ګرځولې ده، ځکه ځايونه د مستعمراتو له وتلو سره-سره د دوی په لاس کښي پاتي کيږي او کولی شي چي دغلته خپلي پښې ټينګي کاندي. راشدينو خلفاوو هم هدغسي وکړل او مدينه يې د خپل مملکت پای تخت ګرځولی و[1] چي چارچاپېر**

---

[1] کوم وخت چي حضرت علي(رض) د خپل خلافت مرکز له مدينې نه کوفې ته رانقل کړ د ده د ماتي موجب وګرځېد. (مترجم)

عرب ترې پراته و او بيا امويانو شام خپل پای تخت وټاکه، ځکه چې دغه دولت په شام کښې منځته راغلی و او بيا عباسيانو بغداد خپل پای تخت وټاکه چې منصور جوړ کړی و، ځکه چې دغه دولت هم په همدغه ځای کښې منځته راغلی و دوی دغه کار وکړ سره له دې چې د دوی په قلمرو کښې تر دغو ځايو ښه-ښه ځايونه موجود وو او کولی يې شول چې خپل پای تختونه داسي ځايونو ته نقل کړی چې آب او هوا و له هره حيثه مناسب اوسي. خو دوی خپله اصلي جامه په عاريتي جامه بدله نکړه. هو! دا منم چې د قسطنطنيې فتحه د وياړ وړ وه او د هغه ځای فاتح حق درلوده چې ووياړي، په تېره بيا چې د دغه ځی د فتحي دپاره امويانو هم کوښښونه کړي وو او ډېري لښکري يې د يزيد په مشری چې خالد ابوايوب انصاري هم ورسره و هغې خوا ته استولی دی خو وفق نشول. او بيا عباسيانو همدغه کوښښونه وکړل خو څه په لاس ورنغلل او هارون رشيد او له هغه نه وروسته خليفه ګانو په همدې قناعت وکړ چې د دغه ځای نه جزيه واخلي، او د دې حديث په حکم هم دغه وياړ د عثمانيانو په برخه شو چې وايي (قسطنطنيه به هرومرو فتحه کيږي او دا به هغه څوک او هغه لښکر فتحه کوي چې د ستايني وړ وي، څه ښه امير او څه ښه لښکر وي) خبردار چې د دغه ځای فاتح عادل او لوی سلطان محمد و (خدای دي د ده قبر خوشبويه کړي). او زه په دې کښې شک نلرم چې که قسطنطنيه امويانو او لا عباسيانو فتحه کړی وای هيڅکله به يې د خپل مملکت پای تخت ګرځولی نه و بلکې د نورو دولتونو په څېر به يې مستعمره ګڼله او د هغې په ماليانو او عايداتو به يې خپل مملکت تقويه کاوه او اداره به يې يوه لايق او مدبر حاکم ته سپارله لکه چې د مصر، فارس، اندلس، سند، بخار او نور عجمي هيوادو اداره يې لايقو او

مقتدرو وګړو ته سپارلې وه، او همدا محططاطانه او صواب ته نژدې خبره ده. او هر څه تچې د بالقان ټابو وزمې شو د ترکانو له خوا د هغې فتحه که څه هم ظاهراً يې د ترکانو په قوت او شجاعت دلالت کاوه مګر په حقيقت کښې دغه مسئله د دولت د پاشانۍ او ضعف مصدر وه، ځکه چې په دغه ټوله موده کښې په دغه ځاى کښې اضطراب او فتنې خاموشه نه شوې او دولت له لښکرکښۍ اوتيارسۍ نه ونه ووت اونه يې له خونرېزۍ نه لاس واخيست، او له دې سره-سره په بالقان کښې د دوى د پاتې کېدو ضمانت او ګرنتۍ موجوده نه وه، بلکې هر هوښيار سړى د بالقان خپلواکي حتمي ګڼله. ده به ويل: ما له مرحوم عالي باشا هغه لوى هوښيار صدراعظم نه اورېدلي چې ويل به يې: دغه بالقان به نن وي که سبا ددولت قوت په ضعف بدل کړي او ژر به مور دې ته اړباسي چې هغه خوشي کړو او له ډېرو مادي او معنوي زيانو او تاوانو وروسته به په زور ترې وشړل شو چې جبران به يې ناممکن وي. او زه يوه لار سراغ لرم چې که څوک يې ومني په داسي توګه به د بالقان له شر نه خلاص شو چې له يوې خوا به مو شرافت پر ځاى پاتې شي او له بلي خوا به دومره څه په بدل کښې له بالقانيانو نه واخلو چې خپل نور مملکت پرې آباد او ودان کړى شو او خپل نفوذ په آسيا او افريقا کښې پرې قوي کړو. افسوس دى چې دغه لوى سړى د خپلي دغې عالي مفکورې په تطبيق ځله موفق او بريالى شو؟ هغه مفکوره چې له هر حيث نه د هغوى دپاره ښه او بهتره وه خو هغه څه چې خداى غوښتي وي کيږي او بس. که چيرته عثماني دولت د عالي باشا په راى او لا د نورو پوهو وزيرانو په راى کړې واى او لا يې بغداد د خپل مملکت پاى تخت ګرځولى واى څه به ښه واى او په دغه شوم عاقبت به نه اووښت. ځکه چې په عراق

کښي دجله او فرات، ضمابور او بصره او شط العرب شته او دغو دواړو (فرات او دجله) پرفيضو نهرونو په دواړو غاړه ډېري سمسوري او د کروندې وړ ځمکي پرتې دي چي په څو وارو د مصر له ځمکو زياتي دي او د نباتاتو د زرغونولو طاقت او استعداد يې هم ډېر زيات دی او په لږه پاملرنه کېدای شي چي سمسورتيا يې له مصر نه زياته شي.

بيا يې وويل: خدای دي دغه لوی امی(نالوستی) او نابغه محمدعلي باشا وبښي چي د خپلي زمانې نابغه و، د ده تر چپنې لاندي داسي همتونه پټ پراته وو چي غرونه به يې پټول، په سينه کښي يې دومره قوي زړه درلود چي ډېرو غټو او درندو کارونو ته به يې لاس اچاوه، تر پګړۍ لاندي يې فعال دماغ او رسا عقل درلوده چي په هر څه پوهېده او د هر څه عاقبت به يې سنجولی شو. د نافذ نظر، صائبي رايي او رسا فکر خاوند و. نوموړي په خپل تېز ذهنو مفرطي ذکا، مفرطي دها او ليري نظر سره وکړی شول چي د مصر چاري سمي کړي، او مختلي چاري يې منظمي کاندي، او چي له دغه مهمو چارو فارغ شو او د مصر اوضاع يې د قناعت وړ وګرځوله نو بيا يې (باب عالي) ته عرض وکړ او هيله يې ښکاره کړه چي له مصر نه يې بصرې ته بدل کاندي او پر ده منت کښېږدي. که دغه لوی او عظيم سړی پوهېدی چي بصره تر مصره بهتره ده چي تاسي يې پېژنئ او هر څه چي (موصل) شو هغه خو هغه هيواد دی چي دوه پسرليه لري او په دغه باره کښي چي هر څه وويل شي بيا هم کم دي. او بيا چي د هارون رشيد په وخت کښي له بغداد نه يو مسافر ته وګورو وينو چي د دمشق تر (غوطې) او په حلب کښي د (تويق) د سيند تر مصب پوري به د ونو تر سيوري لاندي روان و او بيا چي به يې له دغه ځای نه شمال ته مخه کړه ليدل به يې چي جيحون او سيحون په آسانه

سره روان دي او د جنوب په خوا كښي به يې ليدل چي (دمياط) (رشيد) او اسكندريې ته نژدې مبارک نيل توييږي، او كاته به يې چي دغه ټول ښارونه، ټول ممالك او دغه ټول سيندونه د مسلمانانو خاص او يوازني ملك و چي هيچا نزا ورسره نه پكښي درلوده، مګر د استعماري مطامعو خاوندانو چي حيله او نيرنګ به يې په كار اچاوه او ګوتي به يې پكښي وهلې. نو كه چيرته تركانو انصاف كړی وای او احتياط يې پر كار اچولی وای، او عدل يې غوره كړی وای او لږ تر لږه يې د هارون رشد او لا د مامون روش غوره كړی وای(دا نه وايم چي د راشدينو خلفاوو په قدم تللی وای) د نړۍ پر مخ به كوم دولت تر دوی غني و ؟ او څوک به ترې قوي معلومېدل ؟ خو متاسفانه زموږ تركانو وروڼو په دنيايي چارو كښي (له جن نه پرته) شه پوهه او تجربه نه درلوده او نه يې په عمراني چارو كښي لاس درلود او په دغو چارو كښي د عمل په ميدان كښي ډېر ښېرت پاتي و. زه سره له دې چي دوی ښه ګڼم او راباندي ګران دی زما د ډېر خفګان سبب ګرځي او متاثر كېږم چي دوی څله عربي ژبه رسمي نكړه او نه يې تركان عربان كړل، او دا د دوی لويه سهوه او خطا ده، تر دې مي لا دا د ډېر تاثر سبب ګرځي چي او له دغي خطا نه د غټي خطا مرتكب شوي وو چي غوښتل يې له عربانو نه تركان جوړ كړي او كوښښ يې كاوه چي عربي له منځه يوسي او پر ځای يې تركي راولي هغه عربي ژبه چي د اسلام د پاک دين ژبه ده او تركي هم هغه ژبه ده چي كه عربي او فارسي كلمات ترې وويستل شي د ځمكي د مخ له فقيرترينو ژبو به وي او د خلكو ابتدايي اړتياوي به هم رفع نشي كړای، او كه دغه ژبه له دريو لغاتو جوړه شوې نه وای هيڅكله به يې هم داسي شعر نه درلودای چي لوستل شوی وای او كه دغه ژبه له نورو رسېدلو ژبو سره په تله كښي

واچله شي ډېره به سپکه ترې راشي، نو دا بيا څنګه ممکنه کېداى شي چي عربان ترکان شي او د عربي ژبي ځاى ترکي ژبه ونيسي. په داسي حال کښي چي ډېر عجميان په چټکۍ سره عربان شول او په منډه-منډه ورته راننوتل. ځکه چي عربي ژبه پخوا له دې چي د اسلام ژبه شي يوه د وياړ او مفاخرو وړ ژبه وه او عرب هم پخوا له دې چي مسلمانان شي عرب وو. دى بيا وايي: چي ما په دغو موضوع ګانو کښي په خصوصي ډول ډېر واري له سلطان عبدالحميد سره خبري وکړې او ده به هم شه غوږ راته نيوه ا زما خبري به يې ښې اورېدې خو د عمل په ميدان کښي به يې نه عملي کولې او د ده له وچولي به مي دا لوستله چي دى په دې عقيده نلري چي د عربي ژبي قبلول به حق او خير وي او نه يې د سلطان فاتح او سلطان سليم مفکوره صواب بلله. او په دې يې هم اعتراف کاوه چي په اروپا کښي د دوى توغل او د بالقان د ټاپووزمي نيول يو خطا کار و.

هو! وخت تېر شوى و او احتياط دا و چي دغه تصورات د عمل ميدان ته وتلې واى هغه هم په هغه وخت کښي چي عثماني دولت د خپل قوت او اقتدار خاوند و او کولاى يې شول چي دغه راز مفکورې عملي کاندي او هر څه چي نن ورځ ده ته دا ثابته ده چي خبره د قوت ده او ناتوان له دې نه پرته چي اطاعت وکړي بل څه نشي کړاى نو سلطان عبدالحميد هغه څه نشول کړاى او نه يې له لاسه پوره و کوم چي سلطان الفاتح او سلطان سلېمان او لا سلطان سليم کړى شو او له لاسه يې پوره و. دى وايي چي نور مي له هغه څه مخه واړوله چي له امکانه بهر وي او ممکن ته مي مخه کړه، هغه ممکن چي په هغه سره د عثماني دولت د پاتي ښارونو (له اروپا نه پرته) وقايه کېدى شوه. نو مي

سلطان عبدالحميد ته وويل: آيا اجازه راکوئ چي يوه داسي لايحه وړاندي کړم چي زما په فکر کښي ګرځي او د هغې تطبيق به د مملکت د چارو د شه والي باعث او په هغې سره به د دښمنانو مطامع قطعه شانته شي. ده په ځواب کښي راته وويل: زه نه غواړم چي په دغه باب څه وليکې، ځکه چي زه ښه نه ګڼم چي په هغه څه نور خلك خبر شي چي زما او ستا تر منځ تېر شوي دي. بلکي هر څه چي غواړي ويې ليکې هغه په خوله راته ووايه او زه به يې په دقت سره واورم. نو بيا ما ورته وويل چي: آيا اعليحضرت سلطان عقيده لري او دا ښه ګڼي چي مصر د وه ولايت په توګه پاتي شي او له آستانې نه لکه (باکير باشا) او لا (محمد باشا اليدکشي) او داسي نور شول واليان ورته ولېږل شي، او د هغه ځای ماليې راټولي کړي او پرته له دې چي هلته يې ولګوي دلته په آستانه کښي يې په مامورينو ووېشي، او که نه دا به ښه وي چي مصر يو جلا خديوي(امارت) شي لکه چي له انګرېزانو نه دمخه و او بيا د خلافت له مقام سره ارتباط ولري او د سلطنت متمم جز وي امير به يې ستاسي په امر او هدايت چلېږي اومصري لښکري به د سلطان له لښکرو سره خپل ورسپارل شوي وظايف اتماموي. په ټوله معنی به ستا رعيت وي او تا ته به خاضع او طابع وي نو بيا سلطان يو څه په فکر لاړ او مخ يې له ما نه د کړکۍ په لور وګرځاوه، (تر دې چي ما ګومان وکړ چي زما دغي خبري خوند ورنکړ او نه غواړي چي په دغه باب خبري وړي او لا بحث اوږد کاندي) کاته مي چي ناڅاپه يې ما ته مخ راواړاوه او راته ويې ويل: (که موږ ووايو چي له مصر نه دي يو امارت جوړ شي له دې بهتره ده چي يو ولايت پاتي شي او بيا به څه وشي) ما ورته وويل اعليحضرتا! عثماني سلطنت چي دی له دېرشو ولاياتو نه مرکب دی او مسات يې يوازي په

آسيا كښي شپږ سوه او يو شپېته زره ميله مربع ته رسيږي (په داسي حال كښي چي د برتانيې او ايرلاند مساحت يو يل او شل زره ميله دی) نو زما په خيال بايده ده چي لومړی له لري او هغه ځای نه شروع وكړي چي د نورو سطح نظر اوسي لكه طرابلس الغرب شو. او چي دي هغه يو امارت وګرځاوه بيا بغداد، بصرې او موصل ته مخه كړي او هم بېل امارت كړي او بيا له بيروت او سوريې، حلب او قدسې نه يو امارت جوړ كړې او بيا د سپين بحر له ټاپوګانو، كريد، ادرنه او سلانيك نه يو امارت جوړ كړې او په هغو باندي تر هر څه لومړی دا شرط كېدې چي تر هر څه لومړی بحري ودانيو ته زياته پاملرنه وكړې او بندرونه يې ودان وساتې، او بيا له حجاز نه بل امارت جوړ كړې او د هاشميانو قوي ترين او نېك شخصيت ته يې په لاس وركړې او بيا يمن هم يو امارت كړې او بايده ده چي امير يې زيدي امام اوسي او هر څه چي اناطول او د هغه ولايات: لكه قونيهانقره، آيدين، اطنه، قسطموني، سواس، د باربكر، بتليس، ارض روم، معمورة العزيز، آن او طربزون شول له ټولو نه درې امارته جوړ كړې چي هر يو يې بحر ته لار ولري، په دې توګه چي يوي يې تور بحر ته لار ولري خواه په سيواس كښي وي او كه په صاموس كښي اوسي دوهم بايد په بروسه كښي وي او دريم په ازمير كښي او د البان له ښارونو نه چي د قوصوه، بانيه، اشقودره مناستر له ولاياتو څخه عبارت دي هم يو امارت جوړ كړې او دا به ټول لس امارتونه بلكي لس مملكتونه شي چي هر يو به يې له يونان نه لوی اوسي او هم به يې موقعيت ترې مهم وي ځمكه يې ترې سمسوره او خلك يې ترې فعال او هوښيار دي، او له عثماني دولت سره د نورو خلكو د نه نښلېدو دليل همدغه خبره ده چي هغوی ته هيڅ ډول آزادي نشته او غتې او وړې ټولي خبري د خلافت

او سلطنت له مرکز نه اجرا کيږي کوم خلك چي دغو ولاياتو ته مقررېږي له دوه حاله خالي نه دي لا به تنبل او بې کفايته وي چي د پيسو له ټولولو او د خرابيو له پراخولو پرته په بل څه نه پوهيږي او لا به فعال، هوښيار سړی وي خودا صلاحيت به نه لري چي په خپل سر کار وکاندي او بايده ده چي په هره خبره کښي له باب عالي[١] نه اجازه واخلي. د مثال په توګه که د بغداد د پله يوه او لا څه زياتي خښتي ونړيمي او بل ترميم طلب شي د بغداد والي مجبور دی چي موضوع باب عالي ته وليکي او د ترميم اجازه او تخصيصيه وغواړي او دغه اجازه په دوه درې مياشتو کښي نه رسيږي او بالاخره د اوبو د طغيان په اثر ټول پل له منځه ځي او هغه کار چي په لږو پيسو او لږ وخت کښي کېده په ډېرو پيسو او ډېر وخت کښي نه شي کېدای او دا د خلافت پر ګټه نه ده. نو بنا پر دې زما رايه دا ده چي دغه سيمي هره يوه يو امارت وګرځوې او د خپلي کورنۍ يو-يو تن يې د امير په توګه ورمقرر کړې او له هر يوه سره يو پوه او آمين وزير مقرر کړه چي له يوې خوا د خپلي کورنۍ غړی له ښځو سره له ناستي او د خصيانو له روزلو نه خلاص کړي او له بلي خوا دوی د مملکت د چارو سره آشنا شي. او بيا په دې کښي هم څه مانع نشته چي دغو امارتونو ته يو نيم داسي وزير او لا کوم بل څوک د امير په توګه ولېږي چي مخلص سړی وي او د عقل او پوهي خاوند وي، او دا هم مانع نه لري چي له خپل دربار نه بېرون کسان لايق ومومي او په دغه کار يې وګماري. له دې وروسته دی وايي چي ما سلطان وليد چي زما خبرو ته يې ښه غوږ ايښی و خو څرګنده شوه چي ښې پرې ونه لګېدې او د خفګان آثار يې په مخ کښي وبرېښېدل او خفه شانته شو، نو بيا ما ورته

[١] باب عالي د عثماني دولت د دربار نوم دی.

وویل چې زما دي په خدای او ستا په دوستۍ قسم وي چې زه دغې خبرې ته یوازې خپل اخلاص واداره کړی یم نه دا چې کوم بل غرض ولرم. زما مقصد دا دی چې ستا سلطنت دوام وومومي او اسلامي شرقي دولتونه یو څه رونق ونیسي او له بدحالۍ نه خلاص شي، هغه شرقي او اسلامي ملکونه چې د هغو د توحید او یووالي دپاره بله هیڅ چاره نشته پرته له دې چې د خلافت تر بیرغ لاندې سره راغونډ شي او تاسي اعلیحضرت یې ګورئ چې د سلطنت اجزا ورځ په ورځ یو له بل نه بېلیږي او سره جلا کیږي، او په دغه وخت کښې دا لازمه ده چې دغه تیت او پرک اجزا سره غونډ او منظم کړی شي، په داسې توګه چې بېرته سره جلا نشي او نه بې نظمي په کښې پېښه شي. او د دغو تیتو پرکو اجزاوو د یوځای کولو او یوځای پېیلو دپاره ما له دې نه ښه مزی بل پیدا نکړ چې ستاسي حضور ته مې وړاندې کړ او دغه بهترین علاج و چې ما درته وښوده. نو کوم وخت چې ما خپلې خبرې پای ته ورسولې سلطان خپل سر وښوراوه او خپل سګرټ یې ولګاوه او راته ویې ویل: نو په دې صورت کښې دې سلطان ته څه پرېښودل او د آل عثمان د تخت دپاره څه پاتې شول؟ نو ما ورته وویل چې: جلالتمآب سلطان ته دا پاتې شول چې دغه ټول پادشاهان په د سلطان تر سلطې لاندې او ستا د ارادې تابع وي او عثماني تخت او تاج سره به د مصر له تخت نه پرته لس نور عرشونه یوځای شي او کوم وخت چې دغو مقاطماتو او امارتونو د خپل نهضت مراحل طی کړل او د مثال په توګه عراق هم مصر ته ورسېد او هماغه نظام او ثروت یې پیامووند نو بیا په دې کښې شک نشته چې د ایران دولت به هم له دغه لوی سلطنت سره د ځان د تړلو په هڅه کښې شي، ځکه چې هغه تر هر چا د ځان د تقویه کولو دپاره اړه او ضرورت

لري او غواړي په دې توګه له هغه شر نه ځان وساتي چې د غربي دولتو له خوا ټول مشرق ته متوجه دی. او بیا به افغان هم ځان په دغه مزي کښي وپېيي، په دې اراده چې ټول اسلامي دولتونه د يوه لوی خلافت تر بیرغ لاندي سره راغونډ شي او د غربيانو له شر نه محفوظ پاتي شي او هر وخت چې دغسي وشول(او که خدای کول وبه شي) آیا د هند یو سل او اتیا میلیونه مسلمانان او د هغوی راجاګان او امیران به همدغسي قرار کښېني؟ او د اسلام د لوی خلافت د خلیفه ملاتړ به ونه کړي؟ او له هغوی څخه به د غربيانو دسایس دفع نه کاندي؟ څو چې له ټول شرق او له خپل هند نه د غربيانو شر دفع کړي او د مستعمراتو استعماري نقشې ورشنډي کاندي او شرق شرقیانو ته ورپاتي شي او دا خدای ته ګرانه، نه ده.

خو سلطان عبدالحمید یو بدګومانه سړی و او په هیڅا به یې اعتماد نه راته او په هر چا به بدګومانه کېده نو یې ما ته وویل چې آیا په دې ورځو کښي له اسماعیل کمال بېګ سره یوځای شوی نه یې او ورسره دي لیدلي کتلي نه دي؟ نو زما ذهن سمدستي هغي خبري ته ورغی چې ما له ځینو کسانو نه (نه له اسماعیل نه)اورېدلي و چې نوموړی د سلطان له خوا د طرابلس الغرب په ولایت مقرر شوی و خو هغه د زیاتو اختیاراتو غوښتنه کړې وه او له دې کبله د دوی تر منځ یو څه خفګان راغلی – نو مي جواب ورکړ جلالتمآبا! باور وکړه چې زما ضمیر اسماعیل بن ابراهیم خلیل الله هم نشي مسخرولی نو بیا به یې اسماعیل کمال څنګه تسخیر کاندي او لا به د هغه تر تاثیر لاندي راشم. او ما دا خبره یوازي د خیرخواهۍ او اخلاص له مخي ستاسي حضور ته وړاندي کړې ده نه د بل غرض لپاره. نو بیا سلطان څه جواب ونه مونده

**او يو ترکی متل يې ووايه چې: (اوس اوبه تر ورخه تېرې شوي دي) او لا (د دې کار وخت تېر شوی دی).**

**نو بيا ما سيدجمال الدين اورېد اسوېلی وويست او ومې ويل چې دا و په دغه باب زما نظر ای د بني مخزوم شېخه! او دا و د سلطان عبدالحميد د عثمانيانو د سلطان او د مسلمانانو د خليفه موقف او شان. څنګه انسان ته افسوس ورنشي چې د مسلمانانو يو لوی سلطان هم د جمود په دغه درجه کښې وي او د چا نصيحت ونه مني، نه د ملك اصلاح ته توجه وکړي او نه يې د ساتني دپاره لاري ګودري ولټوي او که چيرته مصر د اسلامي مملکت په حوزه کښې پاتې شوی وای او له هغه ځای نه د انګرېزانو لاس لنډ شوی وای عثماني دولت به هم په آمن پاتې شوی وای او د ټولو هغو بلاګانو مخه به نيول شوی وای چې شرق ته متوجه وې. قسم په خدای دی هغه څه چې ما د مصر په باب ليکلي وو او د خلکو همتونه مي راپارولي وو که چيرته مړو ته هم لوستل شوي وای هرومرو به يې اروا ګاني ښورېدلي وای او خپلو دښمنانو ته به په هغه بڼه په خوب کښې ورغلي وای چې وېرولي يې وای.**

**سيد جمال الدين له مصر سره دومره علاقه درلوده چې نژدې و لا د عروة الوثقی په هره کرښه کښې د مصر نوم واخلي او د انګرېزانو په مظالمو دلايل راوړي او په دغه باب د انګرېزانو له شر او ضرر نه هم ونه وېرېده او د عثماني دولت د انفکاکا لوی عامل همدا و چې دوی د مصر په باب سستي او غفلت کاوه. شرقيان دي دا هم نه هېروي چې که بل هر شرقي مملکت دغه موقعيت ولري چې مصر يې لري او تر اوسه پوري د چا د مطامعو په منګول کښې لوېدلی نه دی خو دام به ورته کېښودل شي او خدای دي نه کړي په کښې وبه نښلي مګر دا چې خپل عقلونه راويښ**

کاندي او په کار يې واچوي، د عزم خاوندان يې لاس په کار شي او ټول شرقيان خپل فرايض وپېژني، ټول سره يو شي او خبره يې يوه وي د خپل ملك حفاظت وکړي او د هغه حفاظت اسباب ولټوي له خپلي خپلواکۍ سره علاقه ولري او د هغې د ساتني او بقا په اسبابو وپوهېږي او فراهم يې کاندي. ما په خپلو قاطعو دلايلو د شرقيانو غوږونه نه دي کاڼه ړکي او نه مي په روښانو دلايلو د تمي د خاوندانو له مطامعو نه پرده لري کړې ده مګر د دې دپاره چي هغه مسافه لنډه کړم چي د استعمار شوو او نه استعمار شوو خلکو تر منځ پرته ده او لا هغه کسان هغې زمانې نه ورنژدې کړم چي استعمار او د استعمار مظالم يې ليدلي نه دي او له هغو ذلتونو او خواريو سره يې آشنا کړم چي په استعمار شوو ملکونو راغلي دي خو له بدغه مرغه او متاسفانه په شرق کښي د اسلامي مملکتونو د ضعف او سقوط مبدا يوه داسي څيز ته متکي ده چي هيڅوک يې مخه نيوی نشي او لکه چي څوک يو کوږ دېوال سمولی نشي همدارنګه د دغه کار چاره هم ګرانه ده او هغه دا ده چي دغو ملتونو د دين حکمت پرې ايښی دی او حاضر نه دی بېرته هغه ځه ته راوګرځي چي د دوی د يووالي، قوت او قدرت سبب و مثلاً که د ملتونو انحطاط او پرېوتل مرض وي او ټاکلی سير ولري نو بيا حاذق طبيب ته متعذره او ګرانه ده چي د دغه سير مخه ونيسي او لا يې متوقف کاندي بلکي منتها څه شی چي کولای شي هغه دا دی چي مسکني دواوي ورکړي او د درد د احساس قوه يې مخدره کاندي تر څو چي مرض خپل ټاکلی سير ووهي او بيا د ناروغ د نقاهت دوره شروع شي(په دې شرط چي مړ نشي) که څه هم د ده راحت په مرګ کښي وي لکه چي يو شاعر وايي (د ترجمې حاصل) (هغه څوک مړ نه دی چي ومري او آرام شي، بلکي حقيقي مړی هغه

دی چې د ژوند په حال کښې مړ وي) نو بنا پر دې بايد وويل شي چې شرقي اسلامي ملتونه رنځوران دي او په داسي رنځ اخته دي چې هغه ټاکلی سير لري او څو چې يې خپل سير پوره کړی نه وي علاج يې ناممکن دی. بيا يې له ما نه پوښتنه وکړه چې د (عروة الوثقی) ګڼې درسره نشته؟ ما ورته وويل چې نه! بلکي ما پخوا يوه نيمه ګڼه لوستې وه او اوس راسره نشته، او بيا يې له ټولو هغو کسانو نه پوښتنه وکړه چې د ده زيارت او ملاقات ته به راتلل خو له هيچا سره يې ونه مونده مګر دا چې يوه مجموعه (کلکسيون) يې له ابراهيم بېګ او هم يوه يې له ابوالنصر السلاوي افندي سره بيا مونده او يوه يې ما ته ترې راکړه، او وروسته له هغه چې سيد د دغې مجموعې پاڼې واړولې راواړولې ډېر زيات متاثر شو او د تاثر نښې نښانې يې پر مخ ښکاره شوې او بيا يې وويل: هو دا حقه ده او څه شک پکښې نشته چې که په جهان کښې بشري قدرت مستقل وای او هر څ د ده تر تاثير پوري اړه درلودای نو لوړ به راټيټ شوی نه و او نه به قوي ضعيف شوی او نه به د چا د مجد ماڼۍ کړې شوي وای او نه به د قدرت خاوند له خپل اقتدار نه لوېدلی وای خو دا د تقدير کار دی او تقدير د چا تر تدبير لاندې راتلی نشي، او که چيرته د حکيمانو نصيحت تاثير درلودی نو جاهلان به خطاوتي نه وای. بيا يې وويل: مصر د خدای له ټولو ښارونو او ملکونو نه ما ته ګران ملک دی. ما د مصر دپاره د شېخ محمدعبده په څېر د علم ستنه، د حکمت نښانه او د لوړ همت نمونه پرې ايښې ده او ما ته تعجب درېږي چې مصريان ولې دومره جامد او خوبوړي او د دوی د همت خاوندان غلي ناست دي؟ او څنګه په خپل دغه همتناک شېخ نه راټولېږي په داسي حال کښې چې دی (د سعد زغلول) او د هغه د ملګرو په څېر شاګردان هم لري او ښه ملاتړ يې دی

خو تر نن ورځې پورې دوی یوه ډله جوړه نه شوه کړی چې د انګرېز له باطلو سره پنجه ورکړي او له حرمینو نه یې وشړي او حرمین ترې مسئون پاتې شي. جمال الدین د استاد علامه شېخ محمد عبده ذکا او ځیرکتیا ته ډېر حیران و او هر وخت چې به ي یاداوه نو د دوست (صدیق) په نامه به یې یاداوه مثلاً ویل به یې چې ما ته مي (دوست) داسي وویل او لا مي (دوست) ته داسي وویل....او موږ به پوهېدو چې مقصد یې شېخ محمدعبده دی او ښاغلی مصری (عبدالله ندیم) چې د خپل ژوند په وروستیو وختونو کښې سید جمال الدین ته ډېر تلو راتلو او چې له سیدجمال الدین نه به یې د شېخ (عبده) ډېر صفت اورېده رخه به یې راتله او یوه ورځ یې ورته وویل چې یوه ورځ دي هم هېره نه شوه چې د شېخ عبده له نامه سره د (صدیق) کلمه رانه وړې، او داسي برېښي لکه چې ته په خلکو کښې بل دوست ونه لرې، ځکه چې د نورو په باب ملګری، آشنا او داسي نوري کلمې استعمالوي او شېخ عبده تل (صدیق) بولې. نو سید جمال الدین موسکی شو او ویې ویل: چې عبدالله ته هم زما دوست(صدیق) یې خو ستا او د هغه تر منځ ډېر فرق شته، ځکه چې هغه زما په سختۍ کښې دوست و او ته زما په آسانۍ او آسایش کښې دوست یې. نو بیا عبدالله ندیم چوپ پاتې شو او هیڅ یې ونه ویل، سره له دې چې ډېري خبري به یې کولې او هیڅکله به هم نه چوپېده او حتی چې له سید جمال الدین سره یې د برابرۍ دعوا هم درلوده او سیالي به یې ورسره کوله او ویل به یې چې جمال الدین هم زما په څېر فرار شوی او زما په څېر بندي شوی دی او څنګه چې د ده خون توی لاړ زما خون به هم توی لاړ شي او داسي نوري... او جمال الدین به دغه ټولي خبري په موسکا اورېدې او خیال به یې پرې نه راووړ. بیا یې ما ته

وویل چي د بني مخزوم شېخه! ته په دغو پاڼو (عروة الوثقی) کښي داسي مثالونه او قضایاوي ګورې چي تر هغه وخته پوري به په شرق او شرقیانو صادقیږي څو چي دوی په دغه غفلت او په دغه شقاق او نفاق کښي وي او د ذلت او خوارۍ له وېري په ذلت او خوارۍ عمر تېروي. په دې هم پوه شه چي که د ظلم شکل او صورت بدل شي، بدل به شي خو نتیجه یې یوه ده او نه بدلیږي د مظلومو ښارونو او ولایتونو او د هغو د اوسېدونکو نومونه بدلیږي خو د ظالمانو اعمال نشي بدلېدای. او که چیرته د ظالمانو اعمال مبدل(بدلوونکي) ولري نو هغه به د ملت قوت او د دوی د خبري یووالی وي او بس. همدارنګه خبره ده د وطن خواهو صادقو او نهضت غوښتونکو مجاهدینو په باب چي د خپلو وطنونو د خلاصون او اعتلا په لار کښي زیارونه باسي او هغه خاینان چي خپل ملکونه په نورو پلوري چي دوی ټول په نامه سره بېل دي او په صفاتو کښي سره شریک او یو دي. (سنة الله الذی خلوا من قبل ولن تجد لسنة الله تبدیلا) یعني صادق صادق دی که څه هم نومونه یې سره بېل وي او خاین خاین دی که څه هم د خیانت شکل یې بدل شي او تر څو چي یو څوک وطني درد او ملي تعلق ونه لري هغه هیڅکله د هغه وطن د آبادۍ او اعتلا په فکر کښي کېدای نشي، مثلاً تاسي ارمني(نور باشا) ګورئ چي د مصر او مصریانو پر ضد حرکت کوي که څه هم مصریانو هغه ته د نظا هیئت د ریاست عهده وریه غاړه کړې دهز په داسي حال کښي چي دوی او د هغه تر منځ هیڅ یوه داسي رابطه نشته چي هغوی سره یوځای کاندي، نو که نوموړی مصر په ډېرو لږو او ناڅیزو پیسو خرڅ کاندي ګټه به یې کړې وي او په دغه بیمه کښي به یې نه ملي او نه وطني او نه قومي خساره کړې وي. نو بنا پر دې نه به له مصر نه پرته په نورو

ځايونو کښې هم دغسې دخيلان او پردي کسان وګورې چې د (نور باشا) په څېر بلکې تر هغه بدتر حرکت کوي او که (نور باشا) د اهرام وطني ورځپاڼه بندوي هغوی به ډېرې وطني جريدې بندې کړي او مالکان او مديران به يې په جېلونو کښې وراسته کړي وي. نو بنا پر دې د خاينانو يوازې نومونه او د ظالمانو د ظلم شکلونه بدليږي او بس. په دې باب دوه يادونه د هغه عدل تر منځ چې د فاتح د ميني او علم له مخې وي او د هغه عدل تر منځ چې د غرور له مخې وي فرق شته، او په دوهم صورت کښې عدل عارضي او فتحه ذاتي وي. ده وويل: په دې کښې شک نشته چې عدل له ډېرو ښو صفاتو او لوړو فضايلو څخه دی، ځکه چې په هغه سره انساني ټولنه ساتل کيږي او د مملکتونو قوام او بقا او ودانې په همدغه عدل سره وي. نو چې عدل فضيلت دی بايده ده چې د ظلم او له نهضت څخه د هجر تر منځ متوسط هيئت اوسي. نو که موږ د تاريخ پاڼې واړوو او د رومانيانو، آتوريانو او د هغو د معاصرو د مصريانو او تاتاريانو او نورو ملتونو تاريخ ته په ځير شو دا به راته ثابته شي چې پادشاهان په خپلو فتوحاتو کښې يو له دوو حالتونو نه بېرون نه دي: لا به داسې وي چې د غنايمو او ولجو له ټولولو، د وينو له تويولو او د ښارونو له لاندې کولو نه پرته به بله غايه نه لري او لکه د يوه توپاني باد په څېر به راځي او هر څه به له ځانه سره وړي له دغه راز فاتحانو نه هيڅ نه پاتې کيږي او دد وی په تګ سره يې هر څه له منځه ځي. لا به داسې وي چې له ځان سره به حکيمان او پوه وزيران لري او حکمت او درواېت ته به مايل اوسي نو بيا کوښښ کوي چې د خپلې مملکت دارۍ مانۍ د عدل پر بنسټ ودروي. نو بيا دغه راز حکومتونه دوام مومي او د هغه وروستې ټبر ته پاتې کيږيز مګر دا چې دغه قواعد يې ضعف ومومي او د

**عدل مبادي له عمل نه ولوېږي او لا يې اساسات منحرف کاندي چي په دغه صورت کښي نتيجه هم منعکسه کيږي، مملکت په زړښت پيل وکړي او د انقراض او د له منځه تلو عوامل يې راټول شي او له منځه لاړ شي به موثرترين عامل يې د ظلم قوت او د عدل ضعف دی. کوم وخت چي موږ د پادشاهانو کارونو ته ګورو او د هغوی د کارونو ښه څيزونه مو سترګو ته راځي هغه دا وي چي دوی له عدل سره ذاتي مينه ولري او ورته مقصود بالذات اوسي او دا هغه عدل دی چي اثر يې پاتي کيږي او ښه ياديږي. مثلاً (کسرانوشيروان) چي د قصر نقشه يې کړه راتله او په څنګ کښي يې د يوې کونډې کور و او هغه حاضره نه وه چي په ډېرو پيسو يې ورکړي نو ده بيا د عدالت منشې په مخې هغه مجبوره نه کړه چي خپل کور پرې خرڅ کاندي، بلکي د خپل قصر کوږوالی يې ومانه مګر دا يې ونه منله چي له يوې ضعيفي ښځې سره بې عدالتي وکړي، او دا له دې کبله و چي (انوشيروان) له عدل سره ذاتي او فطري مينه درلوده او همدغه وجه وه چي د حضرت عمر(رض) غوندي عادل خليفه د ده په نامه متل ووايه او په مصر کښي يې خپل والي عمرو بن العاص ته وليکل چي (آيا کسری تر موږ عادلتر و) نو تا څله د يوه عاجر يهودي ځمکه په زور ترې اخيستې ده او په خپل جامع کښي دي داخله کړې ده؟ سمدستي د خپل جامع دېوال ونړوه او د هغه ځمکه ورپرېږده او عمرو بن العاص همدغسي وکړل، او دا يوه مشهوره کيسه ده. دا د هغه د عدل مثال دی چي د قدوي او مثال په توګه تر نن ورځې پاتي شوی دی، ځکه چي هغه د زړه له کومي او له عدل سره د ميني له کبله صادر شوی و او هر څه چي هغه عدل شو چي ظاهراً له ځينو پادشاهانو صادر شوی او د دوی پر خاصو اغراضو بنا و هغه د دوی له تګ او فنا**

سره له منځه تللي او فنا شوی دی او څه یادونه یې نشي کېدای او که چیرته یاد شوی هم وي هغه به په تفریط او په احتیاط کښې په ضعف باندې د استدلال په توګه ذکر شوی وي. مثلاً د همدغه کسرى په نیکونو کښې یو کسرى چې پرویز نومېده یوه ورځ د خپل مملکت یوه کلي ته لاړ او یوه ښکلې نجلۍ یې ولیده او خوښه یې شوه او پرې مین شو، نو بیا د دې دپاره چې د هغې نجلۍ زړه ته ورنژدې شي او مینه یې ځانته جلب کړي امر یې وکړ چې دغه کلي ته دې ټولې آسانتیاوې برابرې کړی شي مالیات دې ورمعاف شي، لارې سړکونه دې یې ښه شي او د هر څه غمخورې دې یې وشي، حتی دغه امتیازات یې د دغه کلي نورو ګاونډیو کلیو ته هم ورکړل او دومره ښېګڼې ورسره وشوې چې تر شمار لاندې نه راحي. که هغه مصارف چې د دغې نجلۍ د ارضا دپاره وشول له هغو پیسو سره مقایسه او پرتله کړو چې نوشیروان هغې بوډۍ ته د کور د بیې په مقابل کښې ورکولې او کور یې هم ورنکړ نسبت به یې هغه وي چې د غازکې او میلون تر منځ شته. خو سره له دې هم د پرویز دغه حرکت خو به ضرور د هغه او شاوخوا کلیو په نظر کښې به عدل او کرم و مګر نتیجه پرې مرتبه نه شوه او نه یې څوک داسې یادوي لکه چې د نوشېروان عدل یادېږي، بلکې د غرض په انجامېدو سره له منځه لاړ او له خپل کوونکي سره خاورو ته ننووت، دا ځکه چې دغلته عدالت مقصود بالذات نه و بلکې د یوه ټیټ غرض دپاره منځته راغلی و. خو د کسری نوشېروان دغه وړوکی عمل هم دومره ثمربخشه شو چې حضرت عمر د هغه مثال راوړی او خپل یو لوی قاید د خپل دېواله په ورانولو، مامور کوي او حتی تهدیدوي یې هم. نوشېروان د خپل قصر عیبي بودن قبول کړ مګر دا یې ونه منله چې د یوې کونډې بوډۍ زړه مات کاندي دا هغه

عدل دی چي پاتي کيږي او د بشر دپاره ښه نتايج په ميراث پرېږدي او په يادګار پاتي کيږي. ځيني فرنګي منصف مورخين د رهبانانو، کوچنيانو، سپين ږيرو او ښځو په باب د اسلامي فاتحينو عدل يادو ياو د ابوبکر (رض) او عمر(رض) وصاياوي او د اموي او عباسي خلفاوو سيرتونه او د لښکرو د قوماندانانو روش ترجمه کوي او د هغوی عدل او له بنديانو سره د هغوی نرمي يادوي او وايي چي د دوی دغه عدالت او ښه سلوک د کوم بل غرض دپاره نه و بلکي خاص د دې دپاره و چي دوی له عدل سره ذاتي مينه درلوده او په دې معتقد و چي دا يو واجب دی چي انسانيت يې تقاضا کوي او شريعت واجب کړی دی. نو ځکه د دغه عدالت نوم په جهان کښي خپور شو او خلک پرې وياړي او د مثال په توګه يې يادوي او د پېړيو په تېرېدو له منځه حي او نه يې څوک محوه کولای شي او همدغه وجه ده چي عيناً هغه نتيجه يې ورکړه چي انتظار يې کېده او د هغه له کوونکو سره فنا نشوه. مثلاً عثماني سلاطين واخله او د دوی هغه آسانتياوي هم په نظر کښي ونيسه چي د هيوادونو د نيولو په وخت کښي به يې د هغو له اوسېدونکو سره کولې او دا د هغه غرور او بې پروايي په اثر چي د دوی د قوتمندۍ له کبله د دوی په برخه شوي وې، او دوی به په دغه وخت کښي خپل دغه کار عدل او رحمت او مهرباني ګڼله چي په حقيقت کښي د عرضي عدل له جملې نه وه او کوم رحمت چي د يوه منقول اثر او لا د يوه معقول دليل له مخي نه وي هغه کوم ارزښت نه لري. دا ځکه چي کوم وخت دوی د پرديو وطنونه لاندي کړل نو د هغو اوسېدونکو د دوی سلاطينو او اميرانو ته التجا وکړه او په عاجزۍ يې ترې وغوښتل چي دوی ته اجازه ورکړي چي د ترجمانانو په حيث په دفترونو کښي پر کار بوخت شي او په قضايي چارو

کښي له هغو کسانو سره مرسته وکړي چي د دوی په ژبو نه پوهيږي، نو بيا دوی اجازه ورکړه او دا دوی ته يوه عادلانه مهرباني برېښېده چي د مفتوحه هيوادو له خلکو سره به يې کوله. خو کوم وخت چي د عثمانيانو د قوت دوره تېره شوه او په ضعف او بې چارګۍ اخته شول، دغه مراحم په بله واوښتل او داسي وبرېښېده چي دغه عدل يو عارضي عدل و، چي د يوه امتياز په شکل اجنبيانو او پرديو ته ورکړی شوی و او بيا يې نتيجه هم معکوسه شوه او بيا دغه رحمتاو شفقت د دوی دپاره بلا شوه، او د دوی د ذلت سبب وګرځېده، په دې توګه چي دوی محکوم او ذليل شول او د هغه ځای اصلي اوسېدونکي داسي مقتدر حاکمان شول چي هر څه به يې زړونو غوښتل هغه به يې کول او چا به پوښتنه نه شوه ترې کړای، تر دې چي د عثمانيانو وينه توی تله او چا به يې بازخواست نه کاوه. مثلاً که به کوم يوناني سړی يو ترکی وواژه، د هغه لويه سزا به دا وه چي يوه ورځ په کومه جزيه کښي تېره اندي او بيا به هسکه غاړه ښېرته خپل استوګنځي ته راشي او بيا په ناز او نخره قدم ووهي او په خپل کړي کار وویاړي. دا و، د عثمانيانو د روش يوه نمونه چي پرديو خلکو ته يې د خپل قدرت په وخت کښي د امتياز په توګه ورکړی و او ګومان يې کاوه چي دا يو عدالت او رحمت دی او په واقع کښي داسي نه وه. که چيرته عثمانيانو په دغه وخت کښي د حقيقي عدل اراده کړی وای او خپل غرور او قدرت يې يوه خوا اچولی وای او د ټولو تر منځ يې د مساوات اسباب طرح کړی وای او د اسلامي عدالت له مخي يې خپل او پردي ته په يوه سترګه کتلي وای نتيجه بهٔ يې هغه نه وه چي مخ کښي ورته اشاره وشوه او د دوی دغه وضع د دې باعث شوه چي هغوی د دولت په چارو کښي مداخله وکړي او هغه څه ترې پېښ

شي چي ترې پېښ شول. دغه امتیازات چي په بل هیڅ دولت کښي یې نظیر لیدل شوی نه دی د دغي خبري باعث او د دوی د سقوط موجب شول، او که چیرته دغه امتیازات عثماني دولت له کوم بل دولت نه غوښتی وای او هغه هم په داسي حالت کښي چي هغه دولت قوي او عثماني دولت ضعیف وای ګومان نه کوم چي دغه امتیاز به یې ورکړی وي؟ (لکه چي عثمانیانو نورو پردیو خلکو ته ورکړی و). نن موږ ګورو چي ډېر وړوکی دولت هم د یوه ډېر لوی او قوي دولت افرادو ته جزیي ترین امتیاز نه ورکوي او نه په قضایي چارو کښي د مداخلې حق ورکوي. مثلاً د برتانیې دولت له دغي لویۍ سره او له دغه قدرت سره چي لري یې دا جرئت نشي کړی چي په ډنمارک او لا په بلجیک او لا په سویس کښي یو څه امتیاز ولري او د هغو ملکونو فضایي قوانینو ته مطیع نه اوسي او لا د قضا مجلس ته داسي مترجمین حاضر کاندي چي حکام تر تاثیر لاندي ونیسي لکه چي په اسلامي دولتو کښي وو او د دې خبري اصلي سبب هم هماغه و، چي اشاره ورته وشوه او هغه مرحوم مرحمت و چي د اسلامي سلاطینو له غرور او تکبر څخه یې سرچینه اخیسته، او د دوی دغه روش له عدالت نه بې عدالتۍ ته نژدې و.

## د اسلامي دولتو په باب په لنډه توګه د ده رايه او د هغوی د خطا او صواب په باب د ده قضاوت او هغو اسبابو ته اشاره چي د دغو قومونو د انحطاط او بېرته پاتېدو موجب شوي دي

دی وايي: هيڅ يو دولت منځ ته راتلی نشي او نه د قدرت خاوند کېدای شي څو چي دغه دوه قوته ونه لري: يو د قوميت قوت چي د هغه په برکت پر نورو بری مومي او هلته د قوميت ناره يو د بل مرستي ته رالمسوي. بل د دين قوت چي د خبري د يووالي، اتحاد او اتفاق په باب د قوميت پر ځای درېږي او د دغه قوت په برکت پر نورو بری مومي. مثلاً که موږ له اسلام نه دمخه عرب واخلو داسي ملت يې مومو چي په دوی کښي هم قوت و او هم شجاعت، هم جنګيان وو، او هم توريالي، خو پر دې بريالي نه شول چي يو دولت تاسيس کاندي او نه د داسي حکومت خاوندان شول چي ټول سره يوځای کاندي. ځکه چي د دوی قومي قوت پر قبايلو وېشل شوی و او هري قبيلې يو کوچنی شانته طاقت جوړ کړی و چي په هغو سره به يې قبيله وهله نو بنا پر دې هر يو له خپل قومي قوت نه د يوه ملت په حيث استفاده ونه کړی شوه بلکي خساره يې وکړه، ځکه چي دغه قوت تقسيم شوی و او د دې په عوض چي په هغه سره پر نورو بری ومومي په خپلو منځونو کښي به يې سره وهل او يوه به بل ماتاوه او په عربو کښي قومي قوت هغي وسلې ته ډېر ورته و چي سړی ځان پرې وژني او د افتخار آله اوسي. عربي ملت په همدې وضع او يو د بل وينو ته تږی و او يوې قبيلې د بلي قبيلې خلک وژل او د کورنۍ دښمنۍ په اور سوځېدل، چي اسلام راغی، نو بيا يې يوه داسي

دين ته راوبلل چي د دوی خواهشات يې سره يو كړل، خبره يې يوه كوله او د تعصب له بلني نه يې منع كول او د قومي قوت پر ځای يې د اسلام قواعد ودرول په داسي حال كښي چي د دوی د حريت خواهۍ جذبه يې ژوندۍ پرېښوده او د مساوات او برابرۍ عقيده يې لا پسې ورتقويه او روښانه كړه، د عدل تخم يې په كښي وكاره او هغه تربيه يې وركړه چي له هره حيثه يې د دوی نفوس پاك كول او شعور يې راوېښاوه نو په عرپو د هغوی د خپلي سرشارۍ، ذكا او پوهي په اثر ډېره موده تېره نشوه چي په ډېره خوښي يې دغه بلنه ومنله او د هغې د داعي بلني ته يې لبيك ووايه، او ډله-ډله په اسلام كښي داخل شول اواسلامي تعليماتو ته يې غاړه كېښوده او د اسلام په بركت لا پسې قوي، زړور او توريالي شول، د هغوی هغه قوت چي يو د بل پر ضد به يې استعمالاوه له اسلام نه وروسته يې نوري نړۍ ته متوجه كړ او په يوه اراده او يوه غږ د نورو په مقابل كښي ودرېدل او بيا ټولو ښارون او ملتونو د دوی بلني ته غاړه كېښوده او پادشاهان او امپراتوران يې تابع او خاضع شول، او بيا يې اكثره معموره فتحه او له عدل نه ډكه ړكه، د اسپانيې او فرانسې تر منځ له فاصلو غرونو نه نيولې د چين تر دېوالونو پوري يې له اتيا كلونو نه په لږه موده كښي ونيول او د عدالت او مساوات مظهر يې وګرځولز په همدې توګه د اسلام مجد په لوړتيا او ملك يې په پراختيا كښي پاتي شو او دغه لوړتيا د راشدينو خلفاوو په دوره او بيا د امويانو او ورپسې د عباسيانو په دوره كښي د هارون الرشيد او مامون تر دورې پوري پاتي شوه او دا د اسلامي دولت د لوړتيا انتهايي اوج و او تر يوې لنډې مودې پوري همدغسي متوقفت او ولاړ پاتي شول او بيا يې په تقهقر او انحطاط او پر شا تللو پيل وكړ او دې درجې ته ورسېدل چي له دغې

لويي او لوړتيا نه يوازي يو څو رسوم او يو څو القاب او عناوين پاتي شول چي مصداق او خارجي وجود يې نه درلودل نو اوس به وګورو چي دغه انحطاط بې سببه او بې موجبه وو او که نه؟ نه او هيڅکله نه!

آيا دغه انحطاط د مسلمانانو د شمېر د لږوالي له کبله پېښ شو؟ نه بلکي د اسلامي دولتونو د انحطاط په وخت کښي د مسلمانانو شمېر په څو واري د اسلامي دولت د مجد او اقتدار له وخت نه ډېر و. نو بنا پر دې د دغه انحطاط او سقوط اصلي او موثر سبب او اصلي عامل د هغه څه په باب اعمال او غفلت و چي د دوی د نهضت او ترقۍ عامل و، هغه عوامل چي د اسلامي ملت د عزت، پېشرفت، قدرت او عظمت سبب شوی و دوی له نظره وغورځول او د غفلت په خوب ويده شول، او هغه د دين د حکمت پرېښودل او په هغه باندي له نه عمل کولو نه عبارت دی او دا هغه حکمت او فلسفه وه چي مختلف خواهشونه او هيلي يې سره يو کړي وې او د هغوی د وحدت او اتحاد سبب ګرځېدلی و او قومي تعصب يې په ديني يووالي ور بدل کړی و. هو! کوم وخت چي په خلفاوو کښي جهالت اوناپوهي خپره شوه او د دين په حقيقت باندي د پوهي نه ليري ولوېدل نو بيا د اسلامي ملك اساس ضعيف شو او ستني يې ولړزېدې او د ملك مشرانو او رييسانو بيا قومي تعصب راواخيست او خپل قبيلوي طاقت ته يې لاس واچاوه او قبيلوي امتيازات يې راژوندي کړل او بيا په خپلو کښي سره ونښتل او ديني قدرت يې چي دوی يې سره يو کول له لاسه ورکړ. د خلفاوو د ضعف د زياتوالي يو بل سبب هم دا و چي په نورو قبايلو باندي د قوي کېدو دپاره به يې پردي خلك ځانونو ته رانژدې کول او غټ-غټ منصبونه او غټي-غټي څوکۍ په يې ورکولې، تر دې چي له دغوممالکو نه يو ډېر شمېر کسان غټو منصبونو ته

ورسپدل او د ملك د چارو واکي په لاس ورغلې او هر طرف يې لاسونه اوږده کړل او په چور او چپاو يې لاس پوري کړ او په دولتي بودجه به يې په خپله خودسرانه لوبې کولې نو بيا خلفاوو ديني قدرت هم بايلود او قومي طاقت يې هم له لاسه ورکړ، نو طبيعي نتيجه د دوی انحطاط او ورپسې بيا انقراض او ببخ ختی و لکه چي متاسفانه همدغسي وشول(وماظلمناهم و لکن کانوا انفسهم بظلمون) يعني موږ پر دوی ظلم نه و کړی خو دوی په خپلو ځانونو ظلم کاوه. په همدې ډول ګورئ چي مملکتونه د خپل تاسيس په لومړي سر کښي د هغو د متوليانو د خپلو مخلصو طرفدارانو په طرفدارۍ او مخلصانه خدمت ګذارۍ مخ په وړاندي او ترقۍ روان وي او پرديو خلکو ته مهمي وظيفې نه ورسپارل کيږي او له دې کبله له کوم خطر سره هم نه مخامخ کيږي او د دې په عکس کوم وخت چي بيا د تقهقر او انحطاط دوره شروع شي نو لومړی خيز چي هلته ليدل کيږي هغه دا وي چي په دولتي وظايفو کښي پردي خلك ځای ونيسي او هغوی په خپلو متملقانه اخلاقو او بوټ پاکيو چي له خپلو خپلوانو پوره نه وي ځانونه خلفاوو ته نژدې کوي او په دې توګه لوړي رتبې نيسي تر دې پور يچي هر څه دوی ته په لاس ورځي او د مملکت د چارو واکي په لاس کښي اخلي او د دې خبري ژوندي مثالونه د تاريخ په پاڼو کښي په کثرت موندل کيږي لکه د افشيونو قايد او لا د ديلميانو، آل بوېه او نور قايدين او له کومي وضع سره چي د عربو اسلامي دولتونه ورسره مخامخ شي او هر وخت چي دي وليد چي پردي وګړي په يوه ملك کښي، واك او قدرت خاوندان شوي دي نو د هغه د بد انجام او مصير زيری ورکړه. آيا مکمنه ده چي د انګلستان حکومت په خپل دوست قلمرو کښي يو خارجي سړی (هندی وي او كه

مصری) خپل مشاور او مستشار ونیسي؟ او لا دا چي آیا دا خبره د کوم انګرېز په زړه کښي هم ګرځي؟ نه او هیڅکله هم نه... مګر په عثماني دولت کښي دغه وضع په وضاحت لیدل کیږي او له پردیو خلکو مشوره غوښتل کیږي. (او دا د عثماني دولت د انحطاط دوه ده) مثلاً د عثماني دولت د خارجه وزارت مستشار ارتین باشا(موزوروس باشا) (رومي) دی د کرید د جزیرې حاکم قسطاکي باشا دی او په همدې توګه د عثماني دولت په دوایرو کښي لواغاکي، قسطاکي، آغوب او خانس شته او دغه هر يو قوم لري چي د عثماني دولت محکوم او تابع دی او ډېر کوښښ کوي چي ځانونه د عثماني دولت له حکومت او سلطې نه خلاص کړي، او له دوی سره د غربي دولتونو دسایس هم ملګري دي تر څو چي په دغو ملتونو کښي د نهضت ساه وچلوي او په دې توګه خپله خپلواکي په لاس راوړي او عثماني حکومت او سلطې ته خاتمه ورکړي. نو بیا له دغو هیلو او آرزوګانو سره-سره آیا دا معقوله ده او انتظار يې کېداي شي چي دغه راز وګړي به د دولت په خدمت کښي مخلص او فداکار او راستکار اوسي؟ هغه هم په داسي حال کښي چي د دوی د قومونو او خپلو ملتونو مصالح د عثماني دولت د مصالحو پر ضد او خلاف دي.

## د هند او د هغه د آينده په باب د ده خبره او د غزنوي سلطان محمود له خوا د دغو سيمو د نيولو په باب د ده سيرت او روش ته يو څه اشاره، او د محمدعلي پاشا په وخت کښي د مصر حالت د انګرېزانو له خوا د هغه له نيولو نه وروسته حالت مقابل کول

ده به ويل چي د اسلامي دولتونو د سقوط يو بل عامل هم دا دی چي دوی يو د بل له حال نه ځان نه خبروي او که هر څومره ورت نژدې اوسي باك پرې نه راوړي او د خپل ګاونډي هيواد پېښو ته په عميق نظر نه ګوري مثلاً يو افغان د خپل ايراني ورور په حق خبر نه دی او نه څه اهميت ورکوي او دوی دواړه بيا د هند له پېښو نه خبر نه دي او نه پروا پرې راوړي، (مګر دا چي ډېر لږ کسان ترې خبر اوسي) او هغو خطرونو ته هم متوجه نه دي چي له دغو پېښو نه راولاړېږي او له دغه کبله څه ښه فرصتونه مفت له لاسه ورکوي چي که په خپل وخت کښي يې رعايت وشي او لا شوی وای او لازم ترتيبات يې ورته نيولي وای ډېره ګټه به يې ترې اخيستې وای، مثلاً هغه انقلاب چي په (١٨٦٠م) کال په هند کښي پېښ شو او افغانان او ايران ترې خبر شوی وای او لازم ترتيبات يې نيولي وای انګرېز به د هند په ټوله نيمه قاره باندي قبضه نه کوله، ځکه چي د دغي پېښي خبر ډېر وروسته او هغه وخت افغانستان او ايران ته ورسېد چي انګرېزانو د هغه رڼايي مړه کړې او خاموشه کړې وه. همدارنګه هنديان هم په دغه بې خبرۍ او بې علاقه ګۍ کښي له خپلو نورو مسلمانانو وروڼو نه کم نه دي او نه زيار باسي چي ځان ترې خبر کړي او رابطه ورسره قايمه کړي. مثلاً ترکيان، المقربيان، تونسيان،

مراکشيان او جزايران، دومره پوهيږي چي په دنيا کښي يوه سيمه شته چي هند نوميږي او په ميليونو هندي مسلمانان په کښي اوسيږي. هنديان هم پوهېږي چي په دغه معموره کښي يو اسلامي عثماني دولت شته چي که يو څه اختيار يې ورته راورسيږي او لا يې يو څه قوت ملګری شي زړونه او اندامونه به يې يو څه آرام ومومي، هغه زړونه او اندامونه چي د ظالمو حاکمانو ظلمونو غمجن کړي، د ظلم په مېچنو يې اوړه کړي او لامده کړي يې دي. په همدې توګه نور اسلامي عالم ګورئ له هغو مظالمو بې خبره دي چي په بله برخه کيږي او هر يو دومره غم لري چي بس يې دي او هر يو په خپل غم اخته دی او د بل له غم نه خبر نه دی. زه چي څومره په اسلامي ښارونو او ملکونو کښي ګرځېدلی يم دا راته، ثابته شوې ده چي هيڅوک د هند له جوهري حقيقت نه اطلاع نه لري او بس دومره پوهيږي چي د انګرېزانو په لاس ورغلی دی او په هنديانو سخت حکمونه چلوي. په داسي حال کښي چي هند د اسيا د قارې د هار هغه قيمتي دردانه ده چي له پخوا زمانې نه د فاتحينو هدف او د ملوکو او پاچاهانو منظور نظر و. لوی اسکندر د همدې پر لور لښکرکښي وکړه او د شمال له لاري يې ونيو، د بندر عباس او بلوچستان له لاري اسلامي لښکري د حجاج بن يوسف په امر ورننوتې او د سند، بخارا او کابل له نيولو نه وروسته يې هند هم ونيو. بيا په منځنيو پېړي کښي سلطان محمود غزنوي د هند پر لور لښکرکښي وکړه او په خپل لوړ همت يې فتحه کړ، دا هغه عالي همته سلطان و چي د هند د فتحې په لار کښي يې هري سختۍ ته تن ورکړی و او هر څه يې په خلاصه تندِه منل. وايي چي په دغو دښتو کښي يوه ورځ د دوی په لښکرو اوبه ودرېدې او نژدې و چي ټول هلاک او پوپنا شي. په دغه وخت کښي د

سلطان خادم يوه مشکوله هغه اوبه چي د سلطان دپاره يې پټې ساتلي وې راوړې چي سلطان يې وڅکي او له هلاکته خلاص شي. سلطان دغه اوبه راواخيستې او د لښکريانو په مخ کښې يې پر ځمکه تويې کړې او ويې ويل چي: (که لښکر يې هلاک شي د ده په ژوند هم څه مرتب نه دي. او د خپل لښکر د سلامتيا دپاره خپل مرګ بهتر ګڼي.) د سلطان دغې خبرې لښکري په غيرت راوستې او خپله تنده يې هېره کړه او په يوه تکبير يې مخ په وړاندې منډه کړه تر څون چي اوبوخوړ ته ورسېدل او ځانونه يې خړوب کړل او بيا يې د هنديانو په سنګرونو ورودانګل او ويې نيول. په دې کښې هم څه شک نشته چي هندي لښکري تش لاس نه وې بلکې په توپونو او نورو وسلو مجهزې وې. خو سره له دې اسلامي لښکرو وکړی شول چي هغه ولړزوي او فتحه يې کاندې او سلطان ډېر غنايم په لاس راوړل او په هند کښې خپلې هيلې ته ورسېد. له هغه نه وروسته بيا تېمور لنګ په هند حمله وروړه او په خپلو سپرو او پليو يې پرې ورودانګل او ويې نيو او هلته يې خپل دولت تاسيس کړ او بيا يې اولادې او تېر حکومت پرې کاوه او د وروستي ځل دپاره چا چي په هند يرغل وروړ او هلته د تېموريانو سلطنت موجود و ايراني نادرشاه و چي دهند بې شماره خزانې او جواهر يې په لاس ورغلل. لنډه دا چي باچاهانو او فاتحانو تل د هند پر لور هڅه کړې او غنايم او ولجې يې ترې وړې دي. مګر په سختو خونړيو جګړو او ډېرو ربړونو او زخمونو، او هر څه چي انګرېزان دي هغوی د ټول عالم نژدې دريمه برخه نيولې ده خو کومې ويني يې چي په دغه لار کښې بهولې او لا يې څه مصرف کړی دی د هغو په نسبت داسې دی لکه د څاڅکي نسبت چي بحر ته واخلې او لا يوه افغاني د ميلياردو افغانيو په مقابل کښې ونيسې. بلکې دغه ټول ملکونه يې

د حيلې او فرېب په وسيله نيولې او لاندې کړې دي، لکه لېوان چې د مېږو په ښه او ماران چې د چرمښکيوپه لباس کښي ګرځي، ځانونه د ملك د صادقو خدمت ګارانو په نامه ښيي چې د آمن له قايمولو او د راحت د اسبابو له فراهمولو او د نظم او انتظام له برابرولو پرته بل غرض نه لري، د اميرانو برقراري، د هغوی د فرامينو تاييد د سلطنت د شوکت تثبيت او داسي نور د دوی يوازنی غرض دی چې عملي کول يې غواړي، او داسي نوري په زرګونو حيلې به يې وړاندي کولې او له وخت سره مناسب چلونه به يې سنجول او د ښکار په مطابق به يې دام غوړاوه حتی کوم وخت چې به يې د شرقيانو په ملك کښي د ګوتو وهلو خيال پيدا شو او وبه يې ليدل چې د هغه ملك واګي د يوه هوښيار، بيدا او غمخوار سړي په لاس کښي دي او د دوی د غولوني او فرېب ښکار کيږي نه، بلکي د دوی د کوښښونو نقشه ورشنډوي او پېشرفت نشي کولای نو سمدستي به يې د هغه پر ضد په ناوړو تبليغاتو لاس پوري کړ او اذهان به يې مشوش کړل، لا به يې رعيت ورته راوپاراوه او ورسره چپ به يې کړ او د هغوی بې عقلان به يې له لاسه ونيول او پرې راوبه يې پارول لا به يې د ده د کورنۍ يو نيم غړی د ځان کړ او د هغه په مقابل کښي به يې راپورته کړ او جنګ جګړه به يې جوړه کړه او چې جګړه به توده شوه نو به يې پلمه پيدا کړه او د آمن د قايمولو او د نظم او انتظام د برابرولو په نامه به يې په هغه هيواد کښي مداخله شروع کړه او لا به يې د هغه هيواد له وزيرانو سره لاس يو کړ او د دغسي مخلص، پوه او لايق پادشاه د خلع دپاره به لړ زمينه برابره کړه، نو بيا به يې د هغه پر ځای يو احمق ضعيف امام او لا کوم اشوم ودراوه چې د دوی د نقشې او پلانونو مانع کېدای نه شو بلکي په ډېره آسانتيا به يې کولای شول چې خپل

مرامونه مخ پر وړاندې بوزي او خپلې استثماري نقشې تطبيق کاندي. په لنډه موده اوږده مسافه ووهي او په لږ وخت کښې ډېر کار وکاندي او لا هغه څه کوي چي له هنديانو سره يې وکړل چي په لومړي سر کښې د تاجرانو په عنوان راغلل او تجارتي شرکتونه يې تاسيس کړل او د خپلو حيلو او ماکيرو زهرونه يې هري خوا وپاشل، د هغه ځای د اميرانو او راجاګانو تر منځ يې د شقاق او نفاق اور ولګاوه، هر نواب او هر راجا يې د خپل استقلال د اخيستلو دپاره ولمساوه، چي بايد ځان له تېموري سلطنت نه جلا کړي، نو په دې توګه يې وکولای شول چي هغه ټوټه-ټوټه کړي او واړه-واړه امارتونه ترې جوړ کاندي، او بيا يې يو د بل پر ضد راوپاراوه او په خپلو کښې يې په جنګ جګړو سره ونښلول او په دې ترتيب د هند پراخه خاوره د جنګونو او جګړو ميدان شو او هري خوا د وينو رودونه روان وو او بيا هر نواب او هر راجا پيسو او سړو ته اړ شو تر څو چي له خپل حق او خپل ملك او قلمر نه دفاع وکړی شي او لا په خپل دښمن بری ومومي. په دغه وخت کښې همدغې انګليسي کمپنۍ په خلاصه ټنډه او پراخه سينه وروړاندي شوه او له هر يوه له متنازعينو سره يې د مساعدت او کومك لايه وکړه يو يې په پيسو لاندي کړ او بل يې په زور ونيو. تر هر څه لومړی يې دغه وړوکي-وړوکي پادشاه، نوابان او راجاګان له خپلو وطني عسکرو متنفر کړل او هغ يې ضعيف او بې کفايته، بې زړه او خاين ورته وښوول او د خپلو انګرېزي سپايانو په صفت او تعريف به يې پيل ورته وکړ او خپل منصب داران به يې له هره حيثه په زړه پوري، لايق، صادق او خيرخواه وروښوول او هر راجا او نواب به يې په دې قانع کړ چي د انګرېزي لښکرو او منصبدارانو له مرستي پرته نشي کړی چي پر خپل دښمن باندي بری ومومي. نو بيا به انګرېزانو دغو

سادګانو ته مخه کړه او د هر چا د مملکت د ساتني ضمانت به یې کاوه او په خپل دښمن باندي به یې د غالبېدو وعده ورکوله او د دغه کار د انجام دپاره به یې د ډېرو ورزیده او باتورو منصبدارانو په قیادت منظمي لښکري برابري کړې او د دوی تر نظر لاندي ځای ته به یې ولېږلې او د هندي لښکرو په ګډون به په هغه ځای کښي متمرکزي شوې او مصارف به یې هم نوموړي راجا او نواب ورکول. او بیا به یې په خپله لویه سیاستمدارۍ او قوي پوهه او پستو او نرمو خبرو د دغو امیرانو زړونه تر تاثیر لاندي ونیول او په دې به یې راضي کړل چي د هر یوه پای تخت ته نژدې باید یو کافي شمېر لښکري پرتې وي او تر څو چي یوه حوزه د بلي حوزې له شر او ضرر نه محفوظه وساتي او په دې توګه به یې ځانونه د دوی دوستان ښوول او د هري ترقۍ دپاره به یې داسي نوم کېښوده چي له هغه ځای سره به مناسب و، مثلاً د سني حکومت د فرقې نوم به یې (عمریه) کېښود او د شیعه ګانو د فرقې نوم به (جعفریه) و او د بت پرستانو فرقه به یې (کشتیه) بلله او چي د هندي حاکمانو بودجې به خلاصي شوې او د دغو لښکرو له مصارفو به وتلی نه شول نو انګرېزانو به د خپلو خزانو دروازې پرانیستې او په ډېرو اسانو شرطونو به یې دغو امیرانو ته پورونه ورکول شروع کړل ځینو ته به یې په ډېره لږه ګټه او ځینو ته بې ګټې قرضونه ورکول او مساعدتونه به یې ورسره کول او د ټاکلو قسطونو په اخیستو کښي به یې هم مساهلت او آسانتیا ورسره کوله او تنګوله به یې نه، تر دې چي هر امیر به ګومان کاوه چي دا یو آسماني تایید دی چي ورپه برخه شوی دی او چي یو څه موده او څو کلونه به تېر شول نو په ډېر لطف او مهربانۍ به یې د خپلو پورونو غوښتنه وکړه او هم به یې په ډېره نرمۍ سره د خپلو لښکرو مصارفو ته اشاره وکړه او چي امیر به د پور

له ورکړي عجز او ناتواني وښوده نو به يې په پلارانه نصيحت ورته شروع وکړه او ورته وبه يې ويل چي موږ پوهېږو چي د دغو پورونو ادا کول او د دغو لښکرو د مصارفو له باج نه وتل ګران کار دی او ستاسي له لاسه پوره نه ده نو بهتره دا ده چي يو څه ځمکه موم ته راوسپارئ چي موږ يې په خپل لاس وکرو او د هغې له حاصل نه خپل پورونه هم ادا کړو او د هغه لښکر مايحتاج او مصارف هم تامين کړو کوم چي ستاسي په خدمت بوخت دي او بيا به ځمکه بېرته درکړو او دروبه يې سپارو، ځکه چي موږ ستاسي له خدمت کولو نه پرته بله مدعا نه لرو. نو بيا به يې لاس په داسي سمسورو او حاصل خېزو ځمکو کېښود چي تر هغو پورته به ښې ځمکي نه وې او په دغه وخت کښي چي له يوې خوا به يې له ځمکي حاصل اخيست له بلي خوا به يې هلته محکمي-محکمي جنګي کلاګاني او عسکري چوڼۍ جوړولې او په دغه ترڅ کښي به يې د اميرانو دپاره د عيش او نوش ساعت تېرۍ او اسراف دروازې پرانيستې او په پور به يې پيسې ټنګې ورکولې او په عوض کښي به يې څه نوري ځمکي ترې اخيستې او له خپلو پخوانيو ځمکو سره به يې يوځای کولې او بيا به يې د هند د حاکمانو تر منځ د دښمنۍ اورونه لګول او لمن به يې ورته وهله تر څو چي دوی ته بيا د مداخلې پلمه پيدا شي او خپله لوبه وړاندې بوزي او چي جګړه به ښه توده او سخته شوه نو يو له جګړه مارو به يې دې ته اړ کړ چي له يوې ټوټې ځمکي مقابل طرف ته تېر شي تر څو چي هغه هم په بله خوا کښي د هغه دپاره له يو څه ځمکي نه تېر شي او دوی به په خپلو ټولو دغو کارونو او لوبو کښي په صادقو خادمانو او د دواړو خواوو دپاره به امينان او دوستان بلل کېدل. دوی د قوم تر منځ هم د نفاق اچولو له لوبو څخه فارغ نه وو او تل به يې په خپلو حيلو کوښښ

کاوه چي په دې توګه د ملک د يووالي قوت ضعيف کاندي او يو د بل د کور ورانولو ته ولمسوي. او کوم وخت چي به ټاکلې نقشه پای ته ورسېده او د حاکم او محکوم قوت او طاقت به يې پای ته ورساوه او هيڅا به غوږ ښوروولی نه شو نو بيا به يې همدغو لښکرو ته چي د دغو ملکونو ساتونکي او حاميانې وې امر ورکړ چي خپل لازم ترتيبات ونيسي او تيارسئ اوسي. دوی به ظاهراً د نواب د کورنۍ د يوه غړي د تقويې په نامه خپل قوت پر کار اچاوه او بيا به يې بر سرکار سړی لري کاه او په ځای به يې مغلوب سړی کښېناوه په دې شرط چې د خپل ملک يوه برخه ځمکه دوی ته ورکړي او لا يو څه امتياز ورته قايل شي، نو په دې توګه به يې پلار لري کاوه او زوی به يې پر ځای کښېناوه او لا به يې ورور له تخته راپرې ايسته او بل ورور به يې پر ځای کښېناوه او لا به يې تره لري کاوه او وراره به يې قايم مقام کاوه او په دغو ټولو لوبو کښي ګټه د دوی په لور وه او په هغه کښي يې همدغه لوبه کوله. کوم وخت چي د امير دوست محمد خان او پنجابي (رنجيت سنګ) تر منځ جنګ ونښت انګرېزان د افغانانو له تسلط نه ووېرېدل او د سولي او مصالحې په نامه يې خپله مداخله شروع کړه او په نرمو پستو خبرو او غوړو وعدو يې د افغانانو زړونه مسحور کړل او په دې يې راضي کړل چي د پېښور ښار او د هغه ځای نژدې ځايونه د رنجيت سنګ دپاره پرېږدي په همدې تړه وشوه او افغانانو د پنجاب مملکت پرېښود او خپلي خاوري ته ستانه شول. له دغي سولي نه شل کاله وروسته انګرېزانو په پنجاب حمله وروړه او هغه يې د ځان دپاره ونيو او په پېښور هم مستولي شول. له دې نه وروسته بيا ځينو افغاني اميرانو ته وويل چي (دغه سوله د همدغي فتحي مقدمه وه او کوم حدود يې چي په دغه سوله کښي ټاکلي وو هغه د خپل قلمرو د

حدودو تړاکل و، نو موږ غافل وو) په هند کښي د انګرېزانو له اعمالو څخه يو هم دا و چي لږ مخ کښي يې له (راجا برودا) سره وکړل نوموړی يو لوی امير و او چي انګرېزان پوه شول چي په نوموړي کښي پوهه، بصيرت، حزم او کارداني شته نو هغه يې په يوه باطله دعوی خلع کړ او د ده له کورنۍ نه يې يو وړوکی ماشوم د ده پر ځای ودراوه او بيا يې د هغه دپاره وصيان ودرول او په دې ترتيب دوی ته ميسره شوه چي د هغه ملک په ټولو خزانو خېټه واچوي، د ملک د چارو واګي په خپل لاس کښي ونيسي او د لښکرو قيات هم په خپل لاس کښي واخلي، او دغه امير ته له نامه پرته هيڅ هم نه وي. انګرېزانو دغه ټول کارونه د عدالت او اصلاح تر بيرغ لاندي کول او د امنيت د بقا او نظام د تثبيت په نامه به يې دغه لوبې کولې نه دا چي د تملک او استيلا نوم په خوله واخلي او دوی حق درلود چي د پاچاهانو نومونه ژوندي وساتي او له نور څه نه يې سترګي پټې کړي ځکه چي شرقي اميران دنومونو د بدلولو پرواګير نه دي او نه څه اهميت ورته لري بلکي دوی ته د الفاظو طنطنه او غټ-غټ القاب ډېر اهميت لري او خوند ترې اخلي که چيرته له يوه شرقي امير نه ملک او مال ټول سلب او له خپلو ټولو حقونو مجرد شي او د ده لقب او د لقب لواحق يې پر ځای پاتي شي، دی پرې مست اوسي او پرې وياړي او هغه څه چي يې له لاسه وتلي دي پروا نه پرې کوي دا هغه خاصيت دی چي په شرقي اميرانو کښي انګرېزانو تشخيص کړي او پرې پوهېدلي دی نو ځکه دوی کوښښ کوي چي هغه له چا نه وانه خلي که څه هم معاني يې سلب کړي اوسي او انګرېزان هيڅ ضرورت نه ويني چي دغه القاب له اميرانو نه واخلي او لا يې په داسي شيانو وځوروي، بلکي پوهيمي چي هغوی په دې خوښېږي او هغه يې د سترګو نور دی

او بايده ده چي سترګي يې په همدغه القابو روښانه اوسي. غټ-غټ القاب د يوه شرقي امير دپاره يوه مستحکمه کلا ده چي په کښې بندي کاوه شي او لا يوه ژوره ځا ده چي په کښې اچاوه شي او دى يې هغه جنت بولي چي پلن والى يې له ځمکي او آسمانونو نه لوى او پراخ دى. نو بنا پر دې شرقي اميران پرېږدئ چي د خپلو القابو په نعمت او د نومونو په سعادت کښې خوښ او خوشحاله پراته وي او له لويي نه همدومره برخه بس ده چي د خپلو خادمانو او خاصانو په ډله او ټولۍ کښې ورته (نواب صاحب) (راجا صاحب) (خديو صاحب) (سلطان صاحب) وويل شي. د افسوس او خجالت ځاى دى، دغه القاب په لوى ملک، لوړ مقام، قوي شوکت او لوى هغه سطوت دلالت کوي چي جبابره او کابره سر ورته ټيټوي او اطاعت يې کوي، نو بيا د شرقي اميرانو نفس يې څنګه مني چي له هر ډول شرف اوعزت نه خلاص وي او له معنى نه يې هم همدومره پاتي وي چي په خپلو خدمت کارانو او چپړاسيانو سلطه ولري، او حتى په دغه کښې هم حر او آزاد نه وي او نه خپله اراده ولري بلکي بايده ده چي په هر څه کښې د پرديو بادارانو خيال او رضايت وساتي. په هند کښې د انګليس له مناقبو او د هغوى د عدالت له عجايبو يو مثال هم دا دى چي په (جنبه) د (انبر سر) تر څنګه يو ځاى دى يو مقتدر راجا وا، (جبرت سنګک) نومېده او کوم وخت چي نوموړى راجا مړ شو د سکانو د قانون پر اساس دده زوى (سوجت سنګک) يې پر ځاى کښېناست، بيا د هند انګرېزي حاکم (لار ډنوت بروک) وغوښتل چي د خپل انګرېزي عادت له مخي دغه سيمه هم خپلو مستملکانو ته ورضم کاندي، نو يې له سوجت سنګک نه وغوښتل چي د خپل پلار تخت خپل ورور (قوبال سنګک) ته چي دوينځي زوى و پرېږدي او دا د سکانو په

قانون کښي روا نه وه چي تر څو د اصيلو مېندو زامن موجود وي او د وينځي زوی پر تخت کښېني، نو بنا پر دې قانون سوجت سنګ د انګرېزي حاکم دغه غوښتنه ونه منله او رد يې کړه، نو بيا انګرېزي حاکم وروسته له هغه چي د ده ښځه (ملکه) يې ووهله دی يې په زور له تخت نه راکښې ايست او د پاچا د کور ټولي خزانې، قيمتي جواهر او انتيک شيان يې لوټ کړل او بيا يې د هغه پر ځای نوموړی(قبال سنګ) ودراوه او له يوې نلدې مودې وروسته يې هغه هم عزل کړ او د هغه پر ځای يې د ده ماشو زوی(سيام سنګ) پر تخت کښېناوه تر څو چي امر او نهي برالا د انګرېزانو په لاس ورشي او نوموړي صغير امير ته يې يو داسي وصي ودراوه چي د دوی د لاس ګوډاګی و او د دوی له ارادې ونشي وتلی. دغه مخلوع(سوجت سنګ) داسي ګمان وکړ چي يوازي دغه (نورنبروک لارډ) ظالم دی او له ده سره يې دغه ظلم کړی دی او که خپل عرض په لندن کښي د برتانيې عادل حکومت ته وړاندي کړي؟؟ ضرور به يې بازخواست وکړي او له دغه مظلوميت نه به يې خلاص کاندي، خو څنګه چي په دغه عدوان او تېري کښي ټول سره يو وو او يو راز زړونه او متحد فکرونه يې درلودل نو ځکه راغی، عرض او داد يې وکړ او هيڅ هم په لاس ورنغلل او په دغه موده کښي چي په لندن کښي اوسېده او خپل حق يې غوښته څه چي يې درلودل هغه يې په نس وخوړل او تش لاس پاتي شو، چي يوې ګولې مړی ته حيران و، دغه بدبخته پاچا چي د زرو کلو پاچايي يې درلوده او په خپله د لوړ شان او شوکت خاوند و ما په خپلو سترګو وليد چي شکېدلي جامې يې په تن وې او وږی تږی خوار او زار په لندن کښي ګرځېده او چا يې دادخواهي ونکړه او نه يې څوک په داد ورسېدل. زه د انګرېزانو په يوه پخواني منشور چي په هند کښي

يې خپور کړی مطلع شوم چي م تن يې موږ په (عروة الوثقی) کښي خپور کړی او هغه دا دی:

(که چيرته په دولتي دايرو کښي يوه داسي ټيټه وظيفه پيدا شوه چي اجرا يې د انګرېز له شريف نسب سره وړ نه وه نو بايده ده چي هغه کوم پخواني فارسي قوم ته چي په زردشتي دين پاتي شوی دی وسپارل شي، او که په دوی کښي هم داسي سړی پيدا نه شو چي دغه وظيفه انجام کاندي نو هغه بيا کوم بت پرست ته بايد ورکړی شي، او که نه په زردشتيانو کښي او نه په بت پرستانو کښي دغسي څوک پيدا شول نو له هغه وروسته بيا بايده ده چي مسلمان ته ورکړی شي).

نو بنا پر دې په هند کښي د مسلمانانو برخه بله نه وه مګر دا چي له مجوسيانو او بت پرستانو نه به زياته شوه نو بيا به مسلمانانو ته رسېده او دا له مسلمانانو سره د انګرېزانو د ميني او دوستۍ يوه نمونه او د دوی د دې خبري يو ښکاره دليل دی چي ځانونه د مسلمانانو دوستان او مددګاران بولي او خدای دي زموږ د دغسي دوستانو او مددګارانو شمېر نه ډېروي. د دوی له مناقبو او د عدالت له غرايبو نه يوه هم دا وه چي د (اندومان) جزاير يې د اسلامي علماوو فرارګاه ګرځولې وه او د دين علما به يې هلته فرارول. او هغه ګناه چي دد غي سزا موجب ګرځېده دا وه چي پايد اعتراف وکړي چي دی د قرآن په ځينو ايتونو عقيده لري؟؟ (د دغي خبري تفصيل مخ کښي تېر شوی دی). که موږ وغواړو چي د انګرېزانو مناقب يو-يو راوړو او د دوی د هغو معاملو او رفتار داستانونه دلته ذکر کړو چي له هنديانو سره به يې عموماً او مسلمانانو سره خصوصاً کول خبره به ډېره اوږده شي او کتابونه به ترې جوړ شي چي څوک به يې نه د اورېدو حوصله لري او نه د لوستو، او څه شی چي مو په هند

کښي د دوی له اعمالو نه ذکر کړل له ډېرو نه لږ او له زرو نه یو و. که څوک د هند پراخه او بې سر او سامانه ځمکي ته ورشي، او د خدای هغه نعمتونه او پېرزویني وګوري چي د دغي ځمکي په برخه شوي او لور په لور داسي سمسوره او ودانه ښکاري چي د تېرو له قاتونو نه یې هم داسي وني راپورته شوي دي چي سرې هک پک او حیران ورته پاتي کېږي نو سترګي به یې له حیرانتیا رډې وخېژي او عقل به یې اریان دریان پاتي شي چي د یوې وني سیوری یې د ځمکي څومره ساحه نیولې او ځمکه یې څنګه په شنه شنېلي فرش ده ته به وایې چي شین ورېښمین فرش غوړېدلی او د طبیعت د ښکلا ډېر عالي او ښکاره مظهر دی، او سړي ته دا ګومان پیدا شي چي د دغي سیمي خلک به څومره آسوده، آرام او په راحت کښي وي او ښه ژوند به لري. حتی داسي ګومان به کوي چي د ځمکي پر سره به تر دې خلکو مسعود او نېکمرغه خلک وجود ونه لري، خو کوم وخت چي انسان له دغو سمسورو ځمکو او سرسبزونو نه کلیو او ښارونو ته ورننوزي او خلک وګوري نو په سترګو یې اور بل شي، زړه یې په چاود راشي او خلق یې په تنګ شي چي دا څه حال دی چي په زرګونو خلک لوڅ لپړ، عورتونه یې ښکاري او پښیا بله په سړکونو کښي ګرځي راګرځي او یوه مړۍ ګوله نه مومي چي خپل ژوند پرې وساتي، او چي له دې نه ورتېر شي او په خپلو سترګو هغه ذلتونه او خو خوارۍ وګورئ چي د مغولي سلاطینو او لاده ورسره مخامخ ده او لا د (ټیپو) اولاد او احفاد وګورئ او لاد (اوده) سلاطینو د سلالي فقر او بېچارګۍ ته په ځیر شي او لا د سند د امیرانو د اولادې بدحالۍ او بد روزګارۍ مشاهده کړي او داسي دنورو معزو راجاګانو، نواباناو او امیرانو کورنۍ وګوري او د انصاف په تله یې وتلي نو په دې به

يې باور راشي او يقين به وکړي چې دغه ټولني بلاګاني او مصيبتونه د انګرېز د عادل حکومت د ادارې مولود دی او همدغه عادل حکومت دی چې د هند د سرسبزي او زرخېزي ځمکي اصلي اوسېدونکي يې د هغې له طبيعي ثروتونو او منافعو محروم کړي او دوی عيش او نوش پرې کوي همدغه عادل حکومت دی چې د عزت خاوندان يې پې عزته کړي او د لوړو او فاخرو قصرونو خلک يې دې ته اړ ړکي دي چې په څېرو او مغارو کښي په لوږه او خواری ژوند وکړي او دا دی له هنديانو سره د انګرېز د عادل حکومت د روش او رفتار يوه بله نمونه. کوم وخت چې يو انګرېز له يوه هندي سره خبري کوي د لرګي په اشاره ورسره ګړېږي ځکه چې دوی ته د انسان په سترګه نه ګوري او نه په انساني فضيلت ورته قايل دي. کوم وخت چې انګرېزي حاکمان هنديان رابولي چې نوې ماليه پرې وضع کړي نو يوه لوړه سوپه چې نژدې درې ګزه ارتفاع ولري جوړه کړي اوهلته د انګرېز بادارانو څوکی پرې کښېږدي او هنديان لاندي ټيټ پر ځمکه کښېنوي تر څو چې د دوی امتياز ثابت شي او د هغوی له ذلت نه د خپل عزت خوند واخلي. په داسي حال کښي چې هغوی يې د دې دپاره راغوښتي وي چې پاتي پوټکی يې هم ترې وباسي او پاتې وينه يې هم وزبېښي. نو آيا د نورو پخوانيو فاتحيو قومونو په باب به مو داسي څه اورېدلي وي؟ نه، او هيڅکله هم نه! کوم وخت چې د ايران برهمنيانو هند ونيو د هغه ځای له اصلي اوسېدونکو سره يې هيڅ بدي ونکړه که څه هم هغوی خپل ځانونه آسماني او د خدايانو زامن بلل، خو هغوی يې په حقوقو کښي له ځانو سره شريک کړل او ځان سره يې برابر وګڼل. مسلمانانو هم د هند ځمکه فتحه کړه او له هندوانو سره يې هغه معامله کوله چې له مسلمانانو سره به يې کوله له

مهمو وظيفو څخه يې محروم نه کړل او په هند کښي هيڅ يو مسلمان بادشاه تېر شوی نه دی چي هندي وزيران او حاکمان به يې نه درلودل. مسلمانانو له هندوانو سره د وررګلوۍ رفتار کاوه، مګر دا چي انګرېزانو په پنجاب او مدراس کښي د دوی تر منځ شقاق او نفاق واچاوه. انګرېزانو ګومان کاوه چي مسلمانان به د خپل ديني تعصب له مخي په هندوانو ظلم کوي او په انصاف به نه ورسره چلېږي، مګر موږ تر اوسه پوري ګورو چي د راجاګانو واړه-واړه حکومتونه او د مسلمانانو نوابۍ شته چي له راجاګانو سره مسلمانان وزيران او نور مامورين او له مسلمانو نوابانو سره هندوان وزيران او نور مامورين کار کوي او ښه يې سره ګالي. همدارنګه شيعه ګان سنيانو سره او سنيان له شيعه ګانو سره يوځای اوپه ورورګلوۍ ژوند کوي او ښه يې سره ګالي، خو د انګرېزپه ميليونو تابعينو کښي يو هندی هم نه ښکاري چي يوه شريفه او د اهميت وړ وظيفه ورته سپارل شوې وي. په دنيا کښي ډېر نعمتونه شته چي د انسان د بدبختۍ او خوارۍ سبب ګرځي د هند د خاوري سرسبزي او هغه طبيعي ثروتونه چي خدای په دغه خاوره کښي امانت ايښي دي د دې سبب شول چي انګرېزان دغه ځای ته راشي او د هندي ملت دپاره يوه ځمکنۍ بلا شي. حتی نه يوازي د هنديانو دپاره بلا وه بلکي د هند د ګاونډيو هيوادونو او شاوخوا بحرونو دپاره هم يوه بلا وه. ځکه چي انګرېزانو هر هغه مملکت چي د هند دروازه او په هند کښي د خپل حکومت خطره بلله او د برتانيې د امپراتورۍ دپاره په کار او لازم و چي په هره حيله او خدعه چي وي هغه بايد لاندي کړي او هند له خطر نه خلاص کړي، له عثماني دولت نه يې د قبرس ټاپو په دې پلمه واخيست چي په متوسط بحر کښي خپل مستملکات وساتي او په حقيقت کښي د دغه ټاپو نيول د مصر د

خاوري د نیولو مقدمه وه. هغه مصر چي د سویس کانال چي د هند یوه بله دروازه ده په کښي و او سوډان چي په بحر احمر حاکمیت لري او د هند بله دروازه ده او عدن، بوغاز (باب المندب) او جبل الطارق چي دغه ټول د هند د لارو شبکې دي. بل افغانستان او ایران چي د هند دوه لویي لاري دي هغه افغانستان او ایران چي که خدای کول له همدغو لارو به هند ته ورننوزي او له هند نه به د انګرېز لاس وباسي او برتانیه به له هند اوهند او نور اسلامي هیوادونه به له انګرېزانو نه په آرام پاتي شي په دې توګه چي انګرېزان به د لویي برتانیې په ټاپو کښي په فارغ او بې غمه زړه په آرامه خوب وکړي چي نه به د هند د خطر اونه به د هند د دروازو غم ورسره وي ځکه چي کور، به د کور خاوند ته وسپارل شي او د خپل کاله دروازې به په خپلو تورو او سرتېرو ساتي. انګرېزانو په افغانستان کښي خپلي ټولي حیلې او چلونه په کار واچول خو کامیاب نه شول. تر څو چي یې خپلي شپېته زره لښکري چي په عصري وسلو مجهزي وې د افغانستان پر لور رواني کړې او د ارو بل امر یې ورکړ، خو ځنګه چي افغانان یو جنګ جویه او توریالی قوم دی او د جنګ په میدان کښي له مرګ نه وېره نه لري ټول په یوه تدبیر او یوه تکبیر راولاړ شول او په ډېره مېړانه یې انګرېزان له خپل ملک نه وشړل او د انګرېز د استېلا له بلا نه خلاص شول. هغه هم په دې ډول چي د انګرېزانو سرونه او مالونه پوپنا شول او بیا یې د ملایمت او غوړه مالۍ په حربه لاس پوري کړ (لکه چي د دوی خوی دی چي یو قوم به یې متحد ولید نو هغه قوم ته به یې شا کړه او د هغو هیواد به یې هماغه قوم ته پرېښود او بیا به یې په حیلو لاس پوري کړ) خو ایران د دوی له شر نه محفوظ پاتي نه شو، او څو کرته یې د روسیې له حکومت سره سازش وکړ او ایران به یې په خپلو

کښي سره ووېشه. کوم وخت به چي انګرېزانو د افغانستان د نيولو او ربړولو اراده وکړه نو د ايران له دولت سره به يې نرمي او مجامله راواخيسته او چي د افغانانو د ملاطفت او نرمۍ دوره به راغله له ايران سره به يې په سختۍ شروع وکړه او دواړه د خپل قوم سرنوشت له انجام نه غافل وو. او که دوی پوهېدای (که خدای کول ډېر ژر به پوه شي) چي که کوم مصيبت نن يوه ته رسيږي سبا ضرور بل ته رسېدونکی دی دغسي به يې نه و کړي او يوه به د بل غم او ښادي د ځان بلله. د شرقيانو له عجايبو او غرايبو نه يوه هم دا ده چي څومره چي دوی د فرېب او غولوني وسله کارګره لوېږي هغومره دوی د وهم د لښکر په مقابل کښي مقاومت نه لري او څومره چي د وهيم شيانو تابع دي د حقايقو نه دي. هو! وهم عجيب او غرېب آثار او تاثيرات لري، په تېره بيا په ضعيفو ملتونو باندي چي کله ناکله د ډاروونکو او وېرووونکو څيزونو آيينه او مظهر شي او کله ناکله د خوشحاليو بارانونه اوروي او هغه په ټولو حالاتو کښي د حقيقت پرده او حجاب وي او له حقيقت نه ډېر ليري واقع اوسي خو د انسان په اراده باندي قوي سلطه لري او عزم يې د وهم محکوم اوسي نو بنا پر دې بايد د خير مانع او د شر غوښتونکی وبلل شي. هم ضعيف قوي، نژدې ليري، د آمن ځای، مهلکه ښکاره کوي، وهم سړی کوڼ او ړوند کړي، عقل ترې يوسي او د بصيرت په سترګو يې پرده واچوي او معدوم موجود او موجود معدوم ورته ښيي. وهم په غير موجود او غير مشهود جهان کښي شته او د سړي دماغ داسي مختلوي چي نه پوهېږي څه پرې شوي او څه بلا پرې لګېدلې ده؟

وهم يوه خبيثه روحيه ده چي انساني نفس ته د جهالت تور لباس ورپه غاړه کوي او حقايق يې له سترګو پټوي او کوم وخت چي حقايق

له انسان نه پټ شي اوهام پر سړي حاکم او په اراده یې مسلط شي او د وهم خاوندان د ګمراهۍ بېدیا ته بیایي او داسي لار او ګودر ترې ورک کوي چې نه پوهېږي پر کومه لاړ شي او څه وکاندي، لار او ځا ترې ورکه شي او لکه د ړندو په شان اردلي بردلي پښې ږدي اوځای پر ځای لکه شوکور اس بدري خوري. که چیرته وهم مولود اوسي نو د هغه مور او پلار جبن او بزدلي او بې زړه توب او مریی، پالونکی اور وژونکی یې هم بې زړه توب دی او هغه لوړو مقاماتو او عالي مقاصدو ته د اکثرو انسانانو د نه رسېدو اصلي علت دی. جبن هغه څیز دی چې انساني نفوس له کار او عمل، عمل او اقدام نه منع کوي او نه یې پرېږدي چې د قربانۍ میدان ته وروداننګي او د کامیابۍ ناوي په غېږ کښې ونیسي، هغه د هر خلل، هري ناکامۍ او هري ناتوانۍ علة العلل او اصلي سبب دی. جبن هغه څیز دی چې د مملکتونو د ماڼیو ستني سستوي او د ملتونو روابط شکوي او نظام یې منحل کوي. دا هغه څیز دی چې د پادشاهانو عزمونه یې سست کړي او د لوړو خلکو زړونه یې ضعیف کړی دی چې بیا یې تختونه په بله اوښتي او قصرونه یې د خاورو شوي دي، دا هغه څیز دی چې د خیر دروازې د خلکو په مخ تړي او د لارویو له سترګو د لارو نښې پټوي، خلک ذلت ته په تن ورکولو راضي کوي او د مسکنت او غربت دردونه ورته سپک کوي. د بردګۍ او مریېتوب دروند پېټی ورته سپک برېښوي او انساني نفس په هر اهانت باندي په سیر کولو واداره کوي. په ذلت او خوارۍ، امانت او تحقیر او په هر څه یې راضي کوي او کرامت یې ترې لوټي. جبن انساني نفس ته د عار جامه ورپه غاړه کوي او له سره مرګ نه یې وېروي هغه سور مرګ چې د پاکي روحیې او عالي همت خاوندان یې افتخار بولي، بې زړه خلک د احتیاج ذلت آسان او

په کور کښې د عيش مضيقه نعمت ګڼي، د مرګ ترخه غوړپونه هره ګړۍ څکي خو په هر حال راضي اوسي که څه هم له دوو سترګو نه پرته چي خپل دښمنان پرې ګوري نور هيڅ ونه لري. دا وې د بې زړه خلکو ژوند چي هر څه يې له لاسه ورکړي او چي هيڅ ونه لري په هغه قانع وي او ګمان کوي چي خپل هدف ته رسېدلی او خپلي هيلي يې پوره شوي دي. جبن په انساني نفس کښې يوه نقيضه ده چي له نامليماتو سره د انسان د مقابلې توان وژني، يو داسي روحي مرض دی چي د هستۍ او موجوديت د ساتني تون له سرې نه وړي هغه توان چي پاک خدای د موجوداتو د طبيعي ژوند له ارکانو نه يو رکن پيدا کړی دی. جبن ډېر اسباب لري خو که د ټولو اصلي حقيقت او جوهر ولټول شي وبه ګورو چي د ټولو اسبابو اصلي منشا له مرګ نه وېره ده. په داسي حال کښې چي مرګ د ټولو ژويو مآل او د هر ذی روح مصير دی او هر څه چي په دنيا کښې ژوند کوي هرومرو به يوه ورځ مري او خپله جامه به بدلوي. البته مرګ کوم ټاکلی وخت ا معين ساعت نه لري (په دې معنی چي چا ته معلوم اوسي) او د پيدايښت له اولي ورځي نه د ارذل العمر تر وخته پوري يې هر ساعت او هره ګړۍ احتمال شته او واقع کيږي او ټاکلی وخت او ساعت يې له خدای نه پرته بل چا ته معلوم نه دی. له دغه يقيني څيز (مرګ) نه وېره کله-کله دومره سخته شي چي انساني نفس ته د غه مهلک مرض (جبن) ښې او بيا نېک مصير ته د ګرځېدو د غفلت موجب ګرځي او د انسان دپاره پيدا کړی دی، خو په دې شرط چي خپلي قواوي په هغه لار کښې په کار واچوي چي د هغې دپاره خلق شوی دی. هو! کله-کله انسان خپلي نفسي قواوي هېروي او هغه څهٔ چي د غنا سبب ګڼي چي په حقيقت کښې د حيات او بقا اصلي سبب دی چي هغه

له شجاعت او اقدام څخه عبارت دی. جاهلان ګومان کوي چي په هر قدم کښي مرګ او په هر حرکت کښي خطر شته دی، سره له دې چي يو وار وړاندي ښېرته او شاوخوا وګوري او هغو آثارو ته په ځير شي چي د انسان د ارادې مولود دي او هغه کاميابۍ او لوړ مقامونه په نظر کښي ونيسي چي د عزم او ارادې د خاوندانو په برخه شوی دی نو سمدستي به په دې پوه شي او ورته به څرګنده شي چي دغه ډارووونکي څيزونه اوهام او د بيابان د غولانو آوازونه او شيطاني وسوسې دي چي له ده چاپېري شوي او د خدای له لاري يې ژغورلی او د خير له منابعو يې محروم کړی دی. جبن يو تلک دی چي د زمانې احوال او د شپو ورځو حوادث يې د خلکو د نفوسو د ښکارولو دپاره ږدي او قومونه او ملتونه په کښي نيسي، دا د شيطان دام دی چي انسانان او د خدای بندګان په کښي نيسي او د خدای له سمي لاري يې ژغوري. بزدلي د هر رذالت پای او د هر مذموم خلق منشا ده هيڅ بدبختي په دنيا کښي نشته چي هغه يې مبدا نه وي او هيڅ فساد وجود نه لري چي هغه يې مکروب نه اوسي هيڅ کفر به نه وي چي هغه يې باعث او موجب نه وي او هيڅ شر او ناکامي به نه وي چي هغه برخه پکښي ونه لري دغه مذموم خاصيت ټولني ټوټه-ټوټه کوي او د خلکو تر منځ روابط او علاقې سره پرې کوي، لښکرو ته ماتي ورکوي او لوړ بيرغونه پر ځمکه راپرېباسي او سلاطين د جلال او لويۍ له آسمان نه ځمکي ت راغورځوي کوم خاينان چي په وطني جنګونو کښي خيانت ته مجبوروي هغه هم همدغه جبن او بزدلي ده او بس. د رشوت اخيستلو ټيټ عمل ته څه شی انسان مجبوروي، آيا همدغه جبن نه دی؟ د خوارۍ وېره، د فقر او نادارۍ خوف يې دې ته اړباسي چي بل ته ارتشا لاس وراوږد کاندي. ځکه چي له فقر او لوږي

نه وېره په حقيقت کښې له مرګ نه وېره ده او هغه د جبن اصلي علت دی او له دې نه وروسته، ته کولای شې چې همدغه جبن د دروغو، نفاق او نورو اخلاقي رذايلو علت وګڼې. جبن د هر سالم انساني فطرت د خاوند دپاره عار دی، په تېره بيا د هغو کسانو دپاره چې په خدای او د هغه په رسولانو او د قيامت په ورځ ايمان لري او په دې تمه اوسي چې د خپلو اعمالو نېک اجرا او په زړه پوري ثواب وګټي او په لاس يې راوړي. د اسلامي ملت زامن ته په کار دی چې د خپل دين د اصولو په مقتضی تر بل هر ملته له دغه ټيټ او رذيل عادت نه ليري اوسي، ځکه چې جبن له ډېرو هغو سختو عواملو څخه دی چې انسان د ښو او مهمو کارونو له اجرا کولو نه منع کوي او نه يې پرېږدي چې د خدای رضا وګټي. چا چې قرآن لوستی وي پوهېږي چې له مرګ سره مينه لرل او له مرګ نه،نه ډارېدل د ايمان نښه ده. او پاک خدای په همدې سره خپل باايمانه او مخلص بندګان ازمايي او د هغو کسانو د ذم په باب چې ايمان ونه لري داسي فرمايي: «الم ترالی الذين قبل لهم کفوا ايديکم و اقيمو الصلوة و آتوا الزکوة، فلما کتب عليهم القتار اذا فريق منهم يخشون الناس کخشية الله او اشد خشية، قالو اربنالم کتبت علينا القتال، لولا اخرتنا الی اجل قريب. الخ آيه ۷۷ سورة نسا»....

د حق په لار کښې اقدام کول او د خدای د کلمې د اعلا په لار کښې سر او مال ښندل د مومنانو د ايمان لومړنۍ نښه او علامه ده. الهی کتاب په دې اکتفا کړې نه ده چې لمونځ دي ادا او زکات دي ورکړی شي ځکه دغه صفات يې د مومنانو او منافقانو تر منځ مشترک بللي دي بلکي د مومنانو يوازنۍ مميزه او علامه يې دا بللې ده چې دوی د خدای د کلمې د اعلا او د الهی عدالت د استقرار په لار کښې خپل سرونه

ښندي او پروا نه کوي بلکي دغه خاصه يې د ايمان يوازنی رکن ګڼلی دی چي که هغه نه وي نور صفات يې څه قيمت او ارزښت نه لري. څوک دي دا ګومان ونه کړي چي د اسلامي دين او جبن تر منځ په جمع ممنه وي او لا به ايمان او جبن دواړه په يوه زړه کښي ځای ولري، دا به څنګه ممکنه وي په داسي حال کښي چي د دين هر جز د شجاعت ستاينه کوي او د خپل پيرو په اقدام واداره کوي او تل د قربانۍ توصيه ورته کوي. مومن په دې باور لري چي بې اجله مرګ نه شته او اجل هم د خدای په لاس کښي دی او د خدای تعالی د ارادې تابع دی او د ملي او ديني فرايضو له ادا کولو نه ځان ژغورل په هغه کښي کوم تاخير نه راولي او نه مهم کار ته اقدام کول د سړي عمر لنډوي، مومن هغه څوک دی چي يو له دوه نيکيو انتظار باسي، لا دا چي په پت او عزت ژوند وکړي او لا دا چي د مېړاني په ميدان کښي په شهادت ورسيږي او ځان مقربو ملکو ته ورسوي. که څوک دا ګومان کوي چي د محمدي (ص) د دين په اساس ايمان او جبن دواړه په يوه زړه کښي يو ځای کېدای شي خپل ځان غولوي او خپل عقل تېر باسي او هر وخت چي د اسلامي ملت د زامنو زړونه د جبن له عار نه پاک او اذهان يې د وهم له اشباحو نه صاف شول او ټولو په يوه اراده د خدای په محکمه رسۍ منګولي ولګولې نو بيا به ببرته هغه زمريان شي چي وو او خپل ورکه به با ومومي او موجود به وساتي او بيا به د نړۍ د ملتونو او خدای په نزد د شه مقام خاوندان وي. انګرېزانو څنګه له مکر او حيلې نه ګټه واخيسته ساو شرقيانو د جبن او وه له کبله زيان او تاوان وکړ. د انګرېزانو قوت مجتمع، عدد يې کامل او خبره يې يوه ده او د هر ډول پېشرفت دپاره يې چمتووالی درلوده او هغه هم په داسي وخت کښي چي شرقي

ملتونه تيت او پرک وو، بېل-بېل خواهشونه يې درلودل او هر څوک په خپل اغم اخته و او د غربيانو له صنعت او پېشرفت نه غافل او بې خبره و، شرقيانو هره نادره خبره معجزه او هره بديمه اختراع سحر او کرامت باله، انګرېزانو دغه فرصت غنيمت وګاڼه او مخه يې شرق ته کړه او هري خوا ته يې لاس وغځاوه انګرېزانو اکثره دغه ملتونه په خپلو ځينو عجيبو اروپايي صنعتونو لاندي کړل، په دې ترتيب چي د خپل صنعت يوه نمونه به يې شرقيانو ته وړاندي کړه او د هغوی زړونه به يې له اوهامو سره مخامخ کړل او بيا به يې په خپلو حېلو او مکرونو پيل وکړ او داسي به يې تر واهمې لاندي راوستل چي خپل هرڅه به يې هېر کړل، د دوی زړونه او عقلونه به يې تر تاثير لاندي راوستل او بيا به يې د دوی مالونه، د دوی ځمکي ترې واخيستې او دوی به يې له خپلو هيوادونو وشړل. او انګرېزی قوم په همدې مالونو غنی او بډای و او د مرفه ژوند خاوند وګرځېد. هو! انګرېزان په يوه قوي اداره د هند پر لور روان شول او له فرانسويانو، هالنډيانو او پرتګاليانو سره يې د هند په پراخه خاوره کښي په مسابقه شروع وکړه او په خپله دها، مکر، حيله او ډېره هوښيارتيا يې له دغو ټولو نه د سبقت پنډوسکی يووړ، البته په دغه لار کښي د هنديانو غفلت هم له دوی سره ډېر مساعت وکړ، او لا د دوی پاک زړونه د انګرېزانو په وعدو وغولېدل او له دې کبله په آسانۍ سره يې د انګرېزي قدرت دپاره غاړه کښېښوده او يو يې د بل د وروسته لاندي کړ. لومړنۍ حيله چي يې په دغه لار کښي په کار واچوله او د هنديانو زړونه يې د ځان پر لور رواواړول هغه د دوی دا خبره وه چي موږ غواړو تاسي د دغو ظالمو دولتونو(فرانسې، هالند او پرتګال) له شر نه خلاص کړو ځکه دوی غواړي چي ستاسي ملکونه لاندي کړي او قبضه پرې وکړي، او

موږ (انګرېزان) يوازي ستاسي ازادول او خپلواکي کول غواړو. په همدې توګه همدااوس ګورئ چي انګرېزان په اصلي هند او هند چين او برما باندي چي د ټولو نفوس دوه سوه او اتيا ميليونو ته رسيږي[1] سلطه لري او ټول انګرېزي حکومت بد ګڼي او غواړي چي د دغه ظالم حکوت له سلطې نه ځانونه خلاص کاندي که څه هم د يوه بل ظالم حکومت په مرسته وي، ځکه دوی يقين لري چي تر انګرېزه ظالم حکومت په دنيا کښي نشته، خو سره له دې بدبينۍ او دښمنۍ چي د انګرېز په نسبت يې لري، او سره له دې چي شمېر يې هم ډېر او خاوره يې پراخه ده، او شديداً هيله لري چي ځانونه له انګرېزي سلطې نه خلاص کاندي خو بيا هم د دغه مبقوض او ظالم حکومت چي له پنځو سوو زرو لښکرو نه زيات قسوت په لاس کښي نه لري څوک نه پيدا کيږي چي مقابله ورسره وکړي او مخي ته يې ودريږي او د دغو مستعمراتو د هر يوه ميليون خلکو په مقابل کښي دوه سوه سپايان دي چي حکومت پرې کوي او په ظلم يې مالونه خوري او په مقدراتو يې لوبي کوي، او که چيرته دغه په سوونو ميليونونو انسانان مچان هم وای د دوی بنګ-بنګ به دغه پنځوس زره انګرېزان کاڼه کړي وای او که چيرته پسونه وای نو پخپلو وړو-وړو ښکرو به يې د انګرېزانو خېټي څيرلي وای او له شره به يې خلاص شوي وای سره له دې چي ځيني واړه-واړه مملکتونه شته چي يو قسم استقلال لري او د باقيمانده له زوال نه وېرېږي که چيرته خپل قوت سره راټول او يوځای کاندي له درې سوو زرو نه به زيات سپايان برابر کاندي او دا طاقت به هم د هغو ښارونو له طاقت نه په غير

[1] دا د هغه وخت احصايه ده او که نه وي نو نن خو يوازي د هند نفوس تر څلور سوو ميليونو اوښتي دی.

وي چي خپلواکي يې څو-څو واري له لاس ورکړي او د انګرېزي حکومت د سلطې په حوزه کښي راغلی دی او په پټه او ښکاره د انګرېزد حکومت له دښمنۍ سره همکاري کول غواړي. که چيرته وهم د دغو ملتونو د خلکو پر زړونو مسلط شوی نه وای او جبن او بې زړه توب يې د ارادې دامن ګير شوي نه وای د خپل لاس څيز به ترې نورو نه وای اخيستی او ته به د انګرېز غوندي د کم شمېره او ضعيف قوم تر سلطې لاندي راوستی وای. هغه انګرېزان چي په راز-راز ذلتونو خواريو يې اخته کړی او تل يې ربړوي او که دغو بېچارګانو په ځان باور درلودای او خپل موجوديت ته يې اعتبار ورکړی وای او په هغه طبيعي قوت او قدرت پوه شوی وای چي خدای ورکړی دی هرومرو به د انګرېز په ضعف خبر شوی وای او د هغه له سلطې نه به د ځان د خلاصون په تکل کښي شوی وای او په نره به يې خپل بايلودی حيثيت په لاس راوړی وای. او بيا به د دوی خپلواکي د دوی دپاره او هر څه به يې د ځان دپاره و او په دغه لار کښي ډېر مصرف ته هم اړ نه وو او نه ډېرو وينو تويولو ته اړوواو که هر څومرهويني يې تويي کړي هم وای هغې ته به نه رسېدې چي له انګرېزانو ته داسي پکښي د خلاصون دپاره چارج واشنګتن تويي کړي دي. په اروپا کښي هيوادو کښي ځيني دولتونه شته چي له انګرېز نه په دې ډاريږي چي د شرق ټول او ډېر قوت د انګرېزانو په لاس کښي دی او د امپراتورۍ ساحه يې ډېره اوږده او پلنه ده او کوم قوت او شوکت چي د برتانيې په جزايرو کښي ګوري هغسي يې په دا نورو ليري ملکونو کښي هم ګڼي په داسي حال کښي چي په حقيقت کښي داسي نه ده. ځکه دوی دې ته ملتفت نه دي چي د برتانيې د دولت د جسم ساحه دومره پراخه شوې او له اداري وتلې ده چي که په يوه

كونج كښي يې جزيي ترينه بې نظمي پېښه شي د تن رګونه به يې پرې او وجود به يې متلاشي شي. د دوی عسكري قوت په ټوله نړۍ كښي داسي تيت شوی دی چي په هيڅ ځای كښي ترې وېره نه كيږي، له دې نه علاوه د دوی د مستعمراتو رعيت هم له دوی نه داسي انتقام غوښتونكی او ورته په قار دی چي كه بېرونه څوک حمله پرې راوړي دوی به يې ټول ملاتړ وكاندي او خپله انتقام به له دغه ظالم حكومت نه واخلي. كه دغه دولتونه چي د انګلستان له حكومت نه ډاريږي د خبري حقيقت ته ملتفت شي دقيق فكر ته به اړ نه شي او نه به خپل كار ټال كاندي، خو كه د وهم جال نه وي (خدای دي وهم ووژني).

عثمانيان له ټولو دولتونو څخه په دغه باب ډېر خطاوتي دي او برتانيې ته په هغه سترګه ګوري چي روس ته ګوري، هغه له دې كبله چي دوی فكر كوي چي برتانيه خو پر دوه سوه اتيا ميليونو خلكو حكومت كوي او له دغسي يوه قدرت سره مقابله كول ګران څه چي محال دی. خو كه دوی حقيقت ته ملتفت شي او د انګرېز عسكري طاقت ته وګوري دا به ورته معلومه شي چي دغه په سوونو ميليونو خلك نه ښايي چي د دوی قوت وبلل شي او نه يې د جنګ ميدانونو ته راوستی شي بلكي هغه د دوی د دښمنانو قوت بلل كيږي او فرصت لټوي او موقع ته ګوري چي خپل انتقام ترې واخلي، په تېره بيا هغه اتيا ميليونه مسلمانان چي د انګلستان د حكومت په قلمرو كښي ژوند كوي هغوی خو عثماني دولت خپله قبله، پناه ګاه او خپله ملجا او ماوا ګڼي او دوی به د هندی په قاره كښي لومړني جنګيان وي چي د برتانوي قواوو په مقابل كښي ودريږي او دغه د ذلت جغ له خپلي غاړي لري كړي. كه چيرته عثمانيان په دې پوهېدای چي له مسلمانانو سره د برتانيې استمالت او نرمي له دې كبله

ده چي انګرېزان هغوی د عثماني دولت حليفان (قسميان) او ملاتړ ګڼي او دا يو ډېر عاقلانه سياست دی، دوی به د انګرېزانو په ترخه تحکم او هغو حق تلقيو صبر کړی نه و چي د سلطان په باره کښي يې کړی دی او کوي يې، په تېره بيا د مصر د مسئلې په باره کښي چي د عثمانيانو او د اسلام ډېره مهمه مسئله ده.مهم ترين هغه اسباب چي د انګرېز په چنګالو کښي د مصر د لوېدو موجبات يې فراهم کړل په خپل ذات کښي عجيب شانته وو او هغه دا چي دغه کار خپله د مصريانو له خوا او د همدوی په قوت وشو او په غلطه سره خارجي ګڼل کيږي. هو، مصريان د (عرابي) په وخت کښي په دوو برخو وېشل شوي وو، يوې برخي غوښتل چي خپله پخوانۍ وضع وساتي او خديوي رسم جاري پاتي شي، بلي برخي له يوې خوا (عرابي) ته ميلان درلود او له بلي خوا د پخواني رسم له سلطې نه وېرېدل. نو بنا پر دې دغه دوهمه برخه خلک په خپل کار او اراده کښي تردد او دوشکه وو، او لومړۍ طايفه په خمود او جمود کښي د غفلت په درانده خوب ويده وه، انګرېز له دغې موقع نه استفاده وکړه او په حقيقت کښي له جګړې نه پرته مصر ته داخل شو، او په يوه نوع ترهيب او لږ څه ترغيب او څه وسيله يې مصر ونيو، له (عرابي) نه يې خلک واړول او د ځان په لور يې کړل. سره له دې هم دوی ټول په دې عقيده وو چي انګرېزان بل څه نه غواړي مګر دا چي د (خديوي توفيق باشا) ملاتړ وکړي او د انقلابيانو له شر نه يې وساتي. نو بنا پر دې ګومان چي په انګرېزانو يې درلود په خپل کار کښي يې غفلت او مساهله وکړه او له دې سره دا حجت او دليل هم ملګری شو چي د شريعت د سيادت خاوند اعليحضرت(سلطان) له دغې خبري سره موافق دی او د هغه په رضا دغه کار کوي. په همدې خبره انګرېزان موفق او کامياب شول او په

مصر كښې يې نوكه ونښته خو چې يو څه زمانه تېره شوه نو بيا د دوی غدر او بدنيتي ښكاره شوه او ټول مصريان داسې پرې وپوهېدل چې ګومان نه كوم په ټول مصر كښې به داسې څوك و چې انګرېزانو ته به يې تمايل درلود بلكې هيڅوك نه و چې انګرېزان بد ونه ګڼي او ورته مبغوض نه اوسي او د فنا او زوال غوښتونكی يې نه وي، هر يوه دا توقع درلوده چې موقع په لاس ورشي او د دوی د فنا په لار كښې يو څه خدمت وكړی شي او خپلې غاړې خلاصې كاندي. خو (وهم) چې دی د سړي تر سترګو خوف مجسم كوي او عزم ا اراده يې ضعيفوي او همدغه وجه وه چې مصريانو هغه اسباب او موجبات هېر كړي وو چې د هغو په وسيله انګرېزانو مصر نيولی و. دوی داسې ګومان كاوه چې مصريان ټول سره يو او په يوه عزم او يوه اراده دي خو سره له دې هم انګرېزان په خپل قوت پر دوی باندې غايب شول. لكه چې مصريانو هېره كړې اوسې چې په هغه وخت كښې دوی په څه حالت كښې وو او د دوی تر منځ څه و، د دوی داخلي نفاق او شقاق كومې درجې ته رسېدلی و او په څه وضع اخته وو؟ دې ته هم ملتفت نه وو چې انګرېزان خپله د دوی په مرسته ا معاونت مصر ته داخل شول، او له دې كبله چې د سلطان په فرمان (د دوی په ګومان) د دوی د پادشاه (خديو) دملاتړ دپاره راغلي دي دوی مقاومت ورسره ونه كړ او دا يوعجيب شانته وهم و! هغه كسان چې د انګرېز د بري او په وادي تبل كښې د دوی د راننوتلو سبب شوی دی اوس هم په دې ګومان دي چې انګرېزي لښكري په خپل قوت كولی شي چې د مصر ټول خلك لاندې كړي او د برتانيې حكومت ته غاړه كښېږدي او كه چيرته دغه وهم نه وای انګرېزانو نه شو كړی چې مصر ته ورننوزي او لا يې نوكه پكښې ونښلي او دوی په همدې باطل او بې

اساسه وهم خپل دښمن ته تسليم شول. د انګرېزانو په بدبينۍ، سؤتدبير او دا چي د خلکو سعادت په شقاوت او بدبختۍ بدلوي تر دې پورته بل دليل نه وي چي کوم وخت د مصر زمام د خپل عصر نابغه محمدعلي باشا ته وسپارل شو په لږه موده کښي هغه بدبختۍ له منځه لاړې چي د انګرېزانو په فضل دغلته راغلي وې. کوم وخت چي د مصر د چارو واګي محمدعلي باش ته وسپارلي شوې په لږه موده کښي د تمدن او مدنيت په نوې دوره کښي داخل او يو منظم حکومت جوړ شو چي له ټولو شرقي مملکتو نه د ژوندانه په ټولو ساحو کښي وړاندي لاړ. هو! د همدغه لوی سړي او د ده د خليف ګانو په دوره کښي د مصر ترقي دې درجې ته ورسېده چي د فکر خاوندان حيران ورته پاتي شول او د هر چا د تعجب وړ وګرځېد. له هري خوا يې په خوا يې پر مخ د سعادت او نېکمرغۍ دروازې پرانيستل شوې، په زراعتي چارو کښي يې عجيب او غريب پېشرفت په برخه شو، د تجارت دايره يې پراخه شوه، د علم مدرسې ابادي شوې، د وطن په ګوټ-ګوټ کښي د صحيح علم ډېوې بلي شوې، يوه ګوښه په بلي پور ونښلول شوه او د اوسپنو د پټليو په وسيله سره نژدې کړی شوې، د ټليفون او تلګراف وسايل په کار واچلو شول او د کلي او ښارونو تر منځ ارتباط قايم کړی شو، وطني وروړګلوي قوي کړی شوه او د مشترکو منافعو د ساتني او رعايت روحيه ژوندۍ کړی شوه، مذهبي اختلافات له منځه لاړل او هر چا به يوازي (مصر وطنوال) پېژاند او همدا يې د اتحاد او وصلت حلقه وه. د مصر له خاوري نه د ثروت او شتمنۍ چينې راوخوټېدې او خپل شاوخوا ګاونډيو ملکونو ته يې هم خير او برکت ورسېد، حتی د نيل له لاري يې غربي هيوادو ته د فيض او برکت برخه ورسېده او له هري خوا غريب کارو خلکو دې خوا ته مخه

کړه او د کسب او کار مرجع شوه. او د ډېرو غريبانو د آمالو قبله وګرځېده او د شرقيانو اميدګاه شوه هر شرقي به چې ورته راغی له خپلي کورنۍ نه به يې ښه کورنۍ وموندله او له خپل مسکن نه به د ښه مسن خاوند شو، آمن او آمان شاوخوا خپور او راحت عام شو، او چې د تامل خاوند به دغه سريع مسير او پېشرفت ته وکتل دا توقع به ورته پيدا شوه چې که نن وي او که سبا د مصر مرکز به د شرق د لويو مملکتو د تمدن او تمدنيت زانګو شي. خو لکه چې د زمانې رخه پرې راغلي وي او په خپله ورکړه پښېمانه شوی اوسي په هوښيارۍ وښويېد، ښتن سهل انګاري وکړه، غبي مټور او قوي ضعيف شو، د حکومت تار او پود وروست شو، د دسايسو دروازه پرانيستل شوه، د خلکو د مختلفو طبقاتو تر منځ اختلاف پيدا شو او د سياسي اغراضو د خاوندانو ته پيدا شوه او بيا د خلکو اتصال وشکېد او د وحدت رګونه يې پرې شول، حکومتي سلطه ضعيفه شوه او د اطاعت غړونددی خلکو وغورځاوه او د فتنو د اور لمبې پورته شوې. دا مقدره وه او د دغې وضع بدترينه نتيجه دا شوه چې انګرېزان مصر ته راننوتل تر څو چې د (خديو) ملاتړ وکړي او د (عرابي) انقلاب خاتمه ورکاندي او د هند د لاري د خطر مخه ونيسي. مصر يې لاندي کړ او ښکاره يې کړه چې د امنيت راګرځول او د راحت تثبيت او هر څه خپلي عادي وضع ته راګرځول د دوی فريضه ده نو يې سوځول او ورانول، وژل او فرارول، بندي کول او لوټل شروع کړل. د مصر د نيولو لړه زمانه لا تېره شوې نه وه چې په زرګونو وطني وظيفه داران يې له حکومتي دايرونه نه وشړل او په دوی کي يو داسي هم نه و چې واړه ماشومان، کور کهول ونه لري او د هغو د نفقې باج د ده پر غاړه نه اوسي په داسي حال کي چې د خپل کاله د سرپرست له مياشتني معاش نه پرته

يې د ژوند بل ممر او عايد نه درلود، او نه په کار قادر و چي له هغې لاري خپل قوت برابر کاندي. نو تاسي خپله فکر وکړئ چي د دغسي کورنيو حال به څه وي، آيا په فقر او غربت به اخته نه شي؟ د لوږي شرمښان به يې ونه خوري؟ پرده داري به يې بې پردې نه شي؟ لاس به يې تنګک نه شي؟ آيا هغه چي په ښو او وريښمينو جامو آموخته و لوڅ لپړ به نه شي؟ او د مسرت او خوشحالۍ جامې به ونه غورځوي؟ دغه ټول واقعات د انګرېزانو له خوا د مصر له نيولو او د (عرابي) له حوادثو وروسته به (۱۸۸۲) کال پېښ شول. د دوی د مظلوميت ژګېروی که څه هم له هري خوا اورېدل کېدل او د دوی د بدحالۍ انګازې په عربي، وطني او انګرېزي منصفو اخبارونو کي ليدل کېدې خو چا پروا پرې نه کوله او نه يې خيال پرې راووړ، او ډېر ژر به بېرته پاتي کسان په تللو کسانو پسي لاړ او د هغوی په سرنوشت به اخته شي، او لکه چي په هند کښي د سر په سترګو ليدل کيږي په مصر کښي به هم کوم مصري ته رسمي وظيفه ونه سپارله شي مګر دا چي د انګرېز له شان سره وړ نه وي. همدغسي وشول او د خلکو له سخت عکس العمل سره مخامخ شول چي حکومتي سلطه متزلزله شوه او په داسي استبدادي روش يې شروع وکړه چي بندي خانې له مخورو ډکي شوې، د تعذيب او تخريب ټول اسباب په کار واچول شول، او د ظلم او جبر منګولي په کار ولوېدې تر څو چي پاتي مالونه هم ترې واخلي او له بده يې بدتر کاندي. داسي ورځ راغله چي له آسمانه او ځمکي عذابونه اورېدل او راخوټېدل. حکومتي دايرې وتړل شوې محاکم معطل شول او د ټولو خلکو سترګي په لار شوې چي د دغه کار انجام او عاقبت به څه وي؟ روی مهرفته بې ادارګي خپلي نهايي درجې ته ورسېده اداره او دسپلين له منځه لاړ او

**هيڅ‌وک د چا پروا نه کوله، بلکې په د ملک او ملک به د خپلې علاقې د مامور او مامور به د خپل مدیر پروا نه کوله او نه به یې په خوله پیاز خوړ، دغه بې ادارګي پورته دایرو ته هم ورسېده او یوه عمومي بې ادارګي منځته راغله، تر دې چې د غلو بازار تود شو او لارې او کوڅې به وهل کېدې او امنیت له منځه لاړ ټولو وطني جرایدو شورماشو جوړ کړ، له بلې خوا پوروړو د پور له ورکړې څانونه ژغورل، تجارتي اعتبار سقوط وکړ او داد او معاملې وتړل شوې، ځکه چې چا اطمینان او اعتماد نه درلود، او امنیت قایم نه و، عمومي وضع دې ته ورسېده چې چا یې مثل لیدلی نه و او نه یې اورېدلی و مګر دا چې په کیسو کښې یې لوستی وي. دا ټولې بدبختۍ د محمدعلي باشا له روی کارېدو دمخه وې حکومتي محصولات او مالیې ورځ په ورځ داسې زیاتېدې چې چا یې دورکړې توان نه درلود او سپاهیان به کور په کور ګرځېدل او خلک به یې رېږول او له دې کبله په ټول ملک کښې یوه عمومي تنګسه راغله او په زرګونو تجارت خانې او تجارتي مغازې وتړل شوې او د کارخانو خاوندانو خپلې کارخانې او فابرکې خوشې کړې او لاس یې ترې واخیست، بلکې یو قلم ورک شول او هر څه له منځه لاړل، مګر لږ هغه کسان چې د نورو په مالونو یې خېټې اچولې وې او د چور او چپاو له لارې یې خزانې ټولې کړې وې او ساتلې به یې. د خلکو شخصي حریت سلب و او په وړو-وړو خبرو او چټي-چټي تومتونو به خلک نیول کېدل او بندیانېدل به، عمومي وېره پیدا وه او هیڅ‌چا اطمینان نه درلود تر دې پورې چې هیڅ لاروی نه و چې بېرته-بېرته به یې نه کتل چې مبادا کوم پولیس یې له لمنې ونه نیسي او جېل ته یې بونه زي او لا یو څه ترې ونه شکوي، په پنځو کښې یا د هر مصري به په هر قدم کښې د یوه مصیبت انتظار ایست**

**او په هر حرکت کښي به د يوې بلا په فکر کښي و، له هر څه به وېرېده او د ځان په هيڅ څېز به يې اطمينان نه درلود. آيا په ژوند کښي تر دې لويه بدبختي به وي؟ او لا به کوم ژوندی سړی تر دې د زياتي بدبختۍ په انتظار کښي وي؟ دا هغه ترخه خاطرات دي چي د مصر په اوسېدونکو تېرېدل او تريخي يې ورچول دا يو څه له هغو مظالمو وو چي انسان يې په تصور زړه تنګی کيږي او خيال يې ځوروي. ټول خلک حيران دريان وو چي څه به پرې کيږي او له څه ناوړه عاقبت او انجام سره به مخامخ کيږي او عاقبت به يې څه وي؟ خپل پخواني دور او پخوانی حکومت به يې ياداوه او پر ژړل به يې هغه حالت چي اروپايي استعماري حکومتونو به استبدادي او ظالم حکومتونه ګڼل او بدنامول به يې مصريان په دغسي حال احوال اخته وو چي د مصر د چارو واګي لوی محمدعلي باشا ته وسپارل شوې او د هغه هيواد ټولي بدبختۍ يې په نېکمرغۍ وربدلي کړې. لنډه دا چي محمدعلي باشا په ډېره لږه موده کښي مصر د سعادت او نېکمرغۍ لوړي پوړۍ ته ورساوه، امنيت کامل او عدالت شامل و (په داسي حال کښي چي انګرېزانو د خپل تسلط له اولي ورځي نه مصر د ذلت کندي ته غورځولی و او په ذلت او خوارۍ، ظلم او ستم يې اخته کړی و) او دغه لوی تحول او بدلون له دوو کلونو نه په لږه موده کښي محمدعلي باشا راووست. ای خدايه! دا څومره ډېر فرق دی چي د دغو دوو عملونو تر منح ليدل کيږي؟! د محمدعلي باشا او د ښاغلو او محترمو انګرېزانو د عملونو تر منځ؟؟؟**

**نو بنا پر دې بايد ټول شرقي ملتونه هنديان دي او که مصريان او لا نور هغه کسان چي د انګرېز د استعمار په منګولو کښي پرېوتي دي په دې وپوهيږي چي انګرېزي دولت د نقشې له مخي روان دی او قدم په**

قدم خپله نقشه تعقیبوي، کوم وخت چي یو مملکت د کوم سلطان اولا د کوم امیر په لاس کښي وګوري هغه له خپل تخت نه راپرې باسي او د خپل بري تضمین وکاندي که څه هم دغه بری په مړونو وي او که په الونو، په مکرونو وي او که په حیلو اونیرنګونو، دوی د افرادو پروا نه کوي که څه هم سلاطین اوسي او که امیران، او نه د لښکرو او سپایانو څه پروا کوي، بلکي له څه چي وېرېږي هغه د یوه قوم او ملت عمومي قیام دی چي د انګرېزانو مخي ته درېږي او وېروي یې دا یوازنی هغه وسله ده چي د برتانیې قوت وژني او د حیلو نقشې یې ورشنډوي. همدغه یوازنۍ وسیله ده چي موږ ولیده چي ښارونه او خلک د انګرېز د ظلم له اور نه بچ ساتي، موږ مخ کښي یاده کړه چي د انګرېز شپېته زره منظمي لښکري افغاني خاوري ته ورننوتلې او هري خوا یې منګولي خښي کړې او سنګري او جنګي کلاګاني یې ونیوې خو چي افغانان له هري خوا پرې راتوی شول او د افغاني ملت په نامه یې توغ وتاړه ا راولاړ شول او یرغل یې پرې ورووړ دې ته یې اړ ایستل چي دغې خاوري ته شا کاندیاو پرې یې ږدي. دا ما ته هم وروسته له هغه وه چي نژدې دېرش میلیونه پونډه یې مصرف کړل او خپل نامتو منصبداران او مړونه یې له لاس ورکړل. کوم قدرت او طاقت چي انګرېزان یې د امریکا له مستعمرې نه وایستل؟ که چیرته امریکایان یو شوي نه وای او د امریکایي ملت په نامه راولاړ شوي نه وای او د خپل هیواد د خپلواکۍ په لار کښي قربانۍ او مرګ ته تسلیم شوي نه وای په دې به موفق شوي نه وای چي انګرېزان له خپل ملک نه وشړي او د خپل ملک مقدرات په خپل لاس کښي ونیسي. هو! کوم وخت چي انګرېزان پوه شي چي ملت مقاومت ورسره کوي او له اطاعت نه یې غاړه غړوي نو بیا خپله پخوانۍ

نقشه پرېږدي او په دې نقشه روانيږي چي بايد ځمکه د هغې خاوندانو ته پرېږدي او ترې لاړ شي. انګرېزي پوهان او سياستمداران په دې ښه پوهيږي چي د يوه متفق ملت له منځه وړل او فنا کول ممکن کار نه دی، په تېره بيا هغه ملت چي د خپلي خپلواکۍ د ګټلو او ساتلو په لار کښي ځانونه قربانوي. دغه څيز دی چي موږ پرې پوهېدلي يو او د زمانې حوادث او پېښي ګواهي پرې ورکوي او تاييدوي يې. نو که مصريان سره يو شي او د يوه ملت په توګه راپورته شي هرومرو به خپل استقلال ګټي او په عوض کښي به يې بل هيڅ څيز نه مني خو په دې شرط چي په لومړي سر کښي يو څه سختي په غاړه واخلي او فداکاري ومني او په سختيو صبر وکړي او که داېي وکړل دوی ته د ښې آيندې زېری ورکړئ او که خدا کول خپله خپلواکي به په لاس راوړي (انشاالله ولاحول و لاقوة الابالله). هر څه تچي هند دی په هغه کښي هم د بيدارۍ نښي نښانې راپيدا شوي او نژدې دی چي د دغې قارې خلک د خپل غفلت له خوبه راويښ شي او هندو او مسلمان په ګډه سره د خپل وطن د آزادۍ په لار کښي په فعاليت لاس پوري کړي او خپلو اختلافاتو ته چي نورو پکښي اچولي دي خاتمه ورکړي، ځکه چي انګرېزانو د دې په حکم چي (اختلاف واچوه او حکومت وکړه) مسلمانان او هندوان سره جلا کړي او د دواړو قومونو تر منځ يې د عداوت او دښمنۍ تخمونه کرلي او سره ليري کړي يې دي. په دې توګه چي کله يې يوې او کله يې بلې ډلې ته تمايل ښوولی او په دې ترتيب يې يو په بل وهلی او خپل نفوذ يې ساتلی دی. له هندوانو سره د انګرېزانوتعلق او پر هغوی باندي ددوی اعتماد نسبت مسلمانانو ته زيات و، ځکه په کومه سويه فداکار او مبارز شخصيتونه چي په مسلمانانو کښي وو په هغو کښي نه وو، دا ځکه چي

مسلمانانو د انګرېزانو په مقابل کښې هغه تلفات ورکړي وو چې هندوانو ورکړي نه وو انګرېزانو له مسلمانانو نه په هند کښې حکومت په لاس راوستی و نه له هندوانو نه. نو له دې کبله د مسلمانانو تاثر نسبت هندوانو ته زیات و او د خپل کسات د اخیستو دپاره یې خپلې مجاهدې او کوښښونه جاري ساتل همدغه وجوه وو چې له یوې خوا به انګرېزانو دوی ته ځیني وظایف ورسپارل او هندوانو به دوی ته د اطاعت سر ټیټاوه تر دې چې د سیاست پاڼه واوښته او په هندوانو په قار شول نو بیا یې د هندوانو نوابان او راجاګان برطرف کړل او هر څه یې ترې واخیستل. د دوی مامورین یې تذلیلول او سپکول به یې لنډه دا چې دوی یې تر هر ډول فشار لاندي راوستل او هغه معامله یې ورسره راواخیسته چې له مسلمانانو سره به یې کوله، او په دې ترتیب د هند خلک (مسلمانانو او هندوان) په دې وپوهېدل چې د دوی اصلي دښمنان انګرېزان دي او دوی یو په بل سره وهي نو ځکه د دوی تیت او پرک اجزا سره یو او متنافر زړونه یې سره نژدې شول او افکارو یې په یوه لار سره روانېدل غوښتل او د انګرېزانو له شر نه یې د خلاصون لارې لټولې او ژر ده چې دغه ناره به پورته کړي او غږ به یې سره جګ شي. اوس نژدې شوې ده چې په شرق او شرقي ملتونو دنوي ژوند او نشاط او فعالیت نسیم او وږمه راوالوزي او د غفلت له خوبه یې راویښ کړي او بیا سره یو شي او په یوه اراده او یوه قوت د خپل مشترک دښمن په مقابل کښې قیام وکړي. د افغانانو هغه وخت رارسېدلی دی چې خپلې سترګې وغړوي او په خپل رسا فکر او رشید عقل او کامله پوهه او کامله بیداری خپل برخه استقبلا کړي او خپلو ایراني ورونو ته د اتفاق او یووالي لاس وروغځوي او پېش قدم شي ځکه چې د دوی تر منځ داسي

**ځیز نشته چي په عمومي مصالحو کښي اختلاف سره وکړي، دوی ټول له یوه نژاده دي او یوه تر ټولو شریفه رابطه یې چي د اسلام د دین رابطه ده، سره نښلوي او بایده ده چي دوی وپوهیږي چي که دوی خپلو اختلافونو ته ادامه سره ورکړي یوازي دوی ضرر نه کړي بلکي د دوی فارسي او هندي مسلمانان ورونه یې هم متضرر کیږي. نو بنا پر دې په فارسیانو (ایرانیانو) او پښتنو(افغانانو) لازم دی چي خپله دیني رابطه او نژادي صله هېره نه کړي او په نظر کښي یې ونیسي او مذهبي فرعي اختلاف د اسلامي د کلمې د ټیټولو او د حقیقي صلي د پرې کولو سبب ونه ګرځوي، هو! دا معقوله نه ده اونه یې احتیاط ایجابوي چي یو جزیي اختلاف د کل د اضمحلال سبب وګرځوي. دغه دواړه قومونه او ملتونه ښه پوهیږي چي د دوی تر منځ اختلاف، هغه څه پر دوی راوستل چي هر چا ته معلوم دي او د نورو د لاس اسیران یې کړل. نو په افغانانو دي چي له دغه فرعي اختلاف نه تېر شي او اصلي یووالي ته مخه کړي او خپلو ایراني وروڼو ته د تحالف او معاهدې لاسونه وروغځوي او دغه وحدت د خپلو هیوادونو د تمامیت سبب او له دښمن سره د مقابلې بهترینه وسیله او د خپلو ښارونو او ملکونو د خیر دپاره پرفیضه منبع وګرځوي او د دوی د ګاونډیانو دپاره پناه ګاه شي او بیا د شرق او غرب مسلمانان هغه د خپل روش مثال او نمونه وګرځوي او په دې توګه لوی شرف په لاس راوړي او ښرته پاتي نسلونو ته نه فنا کېدونکي مجد په میراث پرېږدي او د ایرانیانو له همتونو او لوړو افکارو نه هم دا لیري نه ده چي د دغه اسلامي وحدت په تجدید کښي دوی پېش قدم شي او د دیني هیلي د تقویې عاملین وګرځي لکه چي د اسلام په لومړي سر کښي یې د اسلامي علومو د خپروني او د هغه د احکامو د ساتني او د هغه د**

اسرارو ښکاره کولو دپاره یې قیام وکړ او د شرع شریفي په خدمت کښې یې خپل انتهایي کوښښونه صرف کړل او په دغه لار کښې یې ټول وسایل په کار واچول. هو! بخاري، مسلم، نیشاپوري، ترمذي، ابن ماجه، ابوداوود، بغوي، ابوجعفر بلخي او داسي نور د ایران په خاوره کښې زیږېدلي او روزل شوي دي. مشهور طبیب ابوبکر رازي، امام فخرالدین رازي له هغو کسانو څخه دی چي په تهران کښې لوی شوی دی. حجة الاسلام ابوحامد الغزالي، ابو اسحاق لاسفرایني، بیضاوي، خواجه نصیرالدین بن طوسي، ابهري او عضدالملة والدین او داسي نور هغه کسان دي چي د کلام او اصولو له علماوو څخه ګڼل کیږي د فارس له مفاخرو څني دي او ټول مسلمانان پرې ویاړي. مشهور فیلسوف ابوعلي ابن سینا، مقتول شهاب الدین او دوی ته نور پوهان د فارس په خاوره کښې روزل شوي دي. د فارس خلک تر هر چا لومړی د عربي ژبې خدمت او د هغې د اصولو د ضبط او د هغې د فنونو د تاسیس داره راولاړ شوي او کتابونه یې تالیف کړي دي له دغي جملې نه سیبویه، ابوعلي الفارسي، رضي، او د دوی له جملې نه عبدالقاهر جرجاني دی چي د قرآن د اعجاز د بیان دپاره د بلاغات د علومو موسس ګڼل کیږي. د جوهري د صحاح مولف، مجدالدین فېروز آبادي، جارالله زمخشري، سکاکي، ابوالفرج اصفهاني، بدیع الزمان همداني او داسي نور هغه علما چي د قرآن دقایق یې بیان کړي او د دین تایید یې کړی دی ټول د فارس د خاوري دي. لومړی مورخ طبري او اصطخري او لومړی جغرافیادان قزویني هم د فارس دی، شبلي د نهاوند او ابو یزید البسطامي د بسطان او استاد الهروي چي د شیخ اکبر محی الدین العربي حقیقي استاد دی د هرات و او دغه ښاونه د فارس ښارونه ګڼل کیږي. آیا

صدرالشريعة او فخرالاسلام بزدوي، آمدي، ميرغيناني، سرخسي، سعدالتفتازاني، سيدشريف او ابيوردي چې ټول د فارس دي له چا هېرېدای شي.؟! قطب الدين شېرازي، صدرالدين شېرازي او په متاخرينو کښې د حکمت رييس مير باقرداماد امير فندرکسي او داسي نور د فارس له ښارونو نه وو [1] لنډه دا چې کوم فضيلت و چې دوی به په کښې اوږد لاس نه درلود کوم مزيت و چې خدای هغه په اسلام لورولی و او دوی دي هغه ته د رسېدو دپاره پېش قدم شوی نه اوسي. او له همدې کبله حضرت پيغمبر(ص) د دوی په باره کښې داسي فرمايلي دي: (لوکان العلم فی الثريالنا له رجال من فارس) يعني که علم په ثريا کښې هم وي د فارس خلک به يې حاصل کاندي. نو که فارسيان خپلو علمي سوابقو ته وګوري او د اسلام په باره کښې خپل آثار تر نظر لاندي ونيسي هرومرو به راپورته شي او د ديني وحدت دپاره به ستني شي، لکه چې د اسلام د تعميم او توسعې دپاره وقايه شوي وو. نو دوی بنا پر دې چې په دغه لار کښې لويه سابقه لري تر هر چا ددې وړ او مستحق دی چې اسلامي ملتونه بېرته هغې وضع ته راوګرځوي چې په لومړي سر کښې يې درلوده. دوی تر ټولو مسلمانانو د دې وړ دي چې د اسلامي وحدت بنسټ کېدې او دا د دوی له پاکو خټو او قومي عزمونو څخه لري نه ده. زه ګومان کوم چې اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې له افغانانو سره د يووالي غږ پورته کړي او د مخالفينو او دښمنانو سره د مقابلې او مدافعې په غرض لوړه او تړون وکړي او له افغانانو سره د اتحاد له کبله د دښمنانو

---

[1] دا په يقيني ډول د مولف اشتباه ده چې د بلخ او هرات علما يې ايران ته منسوب کړي او دغه ښارونه يې د فارس ښارونه بللي دي لکه چې په دې کښې هم تېروتلی وي چې امام بخاري او ترمذي يې د ايران ګڼلي او د دوی خاوره يې د ايران خاوره بللې ده. (ارشاد)

د تېري په مقابل کښې یوه محکمه کلا او کلک حصار شي. زه ګومان کوم چې دوی به دا هېره کړې نه اوسي چې په هند باندې د انګرېزانو استېلا هغه وخت صورت ونیو چې د ایرانیانو او افغانانو تر منځ اختلاف واقع شو، آیا دا له دوی نه پټه ده چې په هندي کښې د هر اوسېدونکي مسلمان سترګې د پنجاب پر لوري کړې دي او د دوی د راتګ انتظار باسي خو که دوی له خپلو افغاني وروڼو سره یو شي. دوی ته ډېري تجربې حاصلې شوې او د پېښو له مظاهرو یې ډېر داسي څه لیدلي دي چې لوی عبرت په کښې دی او پند ترې اخیستی شي نو آیا له دې نه وروسته دا صحیح ده چې دوی په خپلو اختلافونو او نباعد مستمر پاتې شي سره له دې چې په دې پوهیږي چې وحدت او یووالی د شوکت او قدرت منبع ده؟ ددوی د ورورګلوۍ او توافق وخت دی. دا د تحالف او توافق زمانه ده ځکه ي د دوی په هیوادونو چارچاپېر د شرق او غرب له خوا د دوی دښمنان پراهت دي او هر یو توره په تېکي کښې ښوروي او په غشو لاس وهي او چې فرصت ومومي سمدستي به د دوی د هیوادونو پر لوري ودانګي، نو له دې کبله دوی باید فرصت ضایع نه کړي او پوه شي چې د افغانانو له امارت سره د شاه د سلطنت اتفاق په شرق کښې یو نوی اسلامي قوت ایجادوي او داسي زمینه برابروي چې نور اسلامي ملتونه هم ورسره د انضمام هڅه کوي او بیا به دوی او نورو اسلامي ملتونو کښې نوې ساه چلوي او نوي هیلي یې راژوندۍ کوي او د مومنانو ارواګاني به آرام مومي او دا نعمت به څومره لوی، سطوت به یې زیات او قوت به یې ډېر شي چې که د دغه اسلامي وحدت د تشکیل واسطه د لوی خلافت خاوند او د کبری امامت پېشوا اعلیحضرت سلطان شي او بیا د دوی غصب شوي ملکونه بېرته واخلي او لوټ شوي مالونه بېرته په لاس

راوړي او ډېر مجد ببرته راوګرځوي، او بيا اسلامي ملك ببرته هغه حالت ته راوګرځي چي د غرب د اقصى نقذې او د چين د حواشيو تر منځ په اوږدو پروت و او سور يې د شمال له خوا له قازانه تر سرانديبه پوري چي د استوا تر خط لاندي دی پروت و او بيا هغه سيرت ببرته راوګرځي چي د اسلام لويو پادشاهانو درلود، هغه پادشاهان چي په ډېر شوکت او لياقت يې د معموري کرې اکثره برخي اداره کولې دوی هغه کسان وو چي لښکرو به يې ماتې نه کوله او بيرغ به يې نه ټيټېده او خبره به يې چا نه شوه ورغبرګولای. کوم وخت به چي عباسي خليفه کومه خبره کوله د چين فغفور به سر ورته ټيټاوه، او د اروپا لوی-لوی پادشاهان به رېږدېدل. په منځنيو پېړيو کښي د اسلامي نړۍ د پادشاهانو د شوکت مثال نه ليدل کېده لکه غزنوي سلطان محمد، ملکشاه سلجوقي، صلاح الدين ايوبي او په مشرق کښي لکه تېمور ګورګان او په غرب کښي لکه سلطان محمد الفاتح، سلطان سليم او سلطان سلېمان شول. بحري سيادت هم د مسلمانانو په لاس کښي و او د دوی بېړۍ به په بحر ابيض، بحر احمر او هندي محيط کښي ښکته پورته ګرځېدې راګرځېدې او تر دې نژدې وختونو پوري د بحرونو سيادت له دوی سره و او خبره يې په هر چا بره وه، د دوی مخالفينو د دوی فضيلت ته سر ټيټاوه لکه چي د دوی د قدرت او سلطنت تابع او فرمانبردار وو. مسلمانان چي دي اوس هم هماغه مسلمانان دي دغه اقطار او همدغه امصار پرې ډک دي چي دغه مجد او دغي لويۍ ته د رسېدلو يوازنۍ وسيله همدغه وحدت او يووالی دی چي د پاك خدای(ج) په اذن به اتمام ته ورسيږي او د خدای په فضل به صورت ونيسي، او خدای ته هيڅ ګران نه دی او خدای(ج) په هر څه قادر دی (نعم المولی و نعم النصير).

## د شرقيانو له دې وضع څخه د ده ډېر تعجب چې د خپلو اسلافو په عکس خبرې ډېرې کوي او په عمل کښې لږ دي او په دې باره کښي دوه مثالونه

دی وايي: زه فکر کـوم چــې پــه خبـرو او بـاين کـښي بلاغـت، ايجاز(لنډوالی) او اعجاز د يوه ملت له قدرت او سطوت سره نژدې علاقه او رابطه لري. ډېر کرته ليدل شوي او داسي شـرايط منځتـه راغلـي دي چې لوی جنګونه پېښ او د شر اورونه ولګيږي خو يوې لنـډې خطيبــې او موجز بيان هغه له منځه وړي او آرامي يــې منځتـه راوسـتلې ده. ډېـر لښکريان ليدل شوي چې د خپل منصبدار په يوه خبره يې ځان مرګ تـه ور کړی او په ډېره بې پروايی له خپل ژوند نه تېر شوی دی. د مثـال پـه توګه دا ده د ابوبکر صديق(رض) لومړنی خطبه چې له ده سره لـه بيعـت نه وروسته يې ايراد کړه:

(ای خلکو! ستاسي د چارو واګي ما ته راوسپارلي شوې کـه څـه هم زه له تاسي نه بهتر نه يم. نو که په سمه روان وم ملاتړ مي وکړئ او که کوږ شوم سم مي کړئ، صدق، امانت او کذب خيانت دی، خپله توره به تر هغه پورې په تيکي کښي وساتم څو چې يې حق راوباسـي، او تـر هغـه وخته پورې به په نرمی روان اوسم مګر دا چې له شدت نه پرته کار پر مخ لاړ نه شي، ستاسو ناتوان زما په نزد قـوي دی څـو چــې يــې حــق ورتــه واخلم، او قوي مو زما په نزد ضعيف دی تر څو چې حق ترې واخلم، لـه جهاد نه لاس مه اخلئ ځکه چې هيڅ قوم جهاد نه دی پرې ايښی چې په ذلت مبتلی شوی نه وي. تر څو چې ما د خدای او رسول اطاعت کـاوه

تاسي هم زما اطاعت وکړئ او که د خدای او رسول نافرماني مـي وکـړه نو بیا زما اطاعت پر تاسي نشته).

دا هم د صدیق (رض) له موعظو څخه یوه موعظه ده چي اسـامه بن زید ته یې چي د لښکر قوماندان و کړې ده: (مه خیانت او مـه غـدر او مه تېری کوئ. څوک مثله کوئ مه ((د چا غـوږ او پـزه مـه پـرې کـوئ) ماشومان، بوډاګان او ښځي مه وژنئ. د خرما ونـې مـه وهـئ او مـه یـې سوځوئ او مه مېوه داري ونې پرې کـوئ، د خلکـو پـسونه، غوایـان او اوښان مه حلالوئ، ډېر کرته به په رهبانانو پېښ شئ چي ځانونه به یې لـه دنیایي کارونو نه په خپلو عبادت خانو کښي فارغ کړي اوسي نو له هغوی سره غرض مه لرئ....)

د فصاحت د میدان له پهلوانانو او د بلاغت له مېړنیـو او د ملـت له لویو فقهاوو او نامتو مجتهدانو څخه به څوک وي چي دا طمـع تـرې وشي چي د قضا اصول او د فروعو، مهم حکام په یوه لیک کـښي داسـي جمع کړی شي چي فاروق اعظم (رض) په هغه لنډ لیک کښي سره جمـع کړي وو چي د یمن قاضي ابو موسی اشعري ته یې لېږلی و. د لیک مـتن دا دی:

(اما بعد فضا یوه محکمه فریضه او د پیـروۍ وړ سـنت دی. کـوم وخت چي کومه قضیه درته وړاندي شوه په هغې کښي ښه فکـر وکـړه او بیا حقانه قضاوت وکړه، او خپل حکم عملي کړه، ځکه چي په حق خوله خوځول (چي تطبیق نشي) ګټه نه لري. د خلکو تر منځ په خپل کښي، په خپل مجلس او حکم کښي د مساوات رعایت وکړه، تر څو چـي د قـدرت او نفوذ خاوندان ستا د بې عدالتۍ طمع ونه کړي. او بـې وزلـي خلـک دي له عدل نه مایوس نشي، شاهدان په صدعي او قسم پـه منکـر بانـدي

دی. صلح د مسلمانانو تر منځ روا ده مګر دا چي حرام حلال او يا حـلال حرام کاندي، که پرون دي په يوه قضيه کښي حکم کړی و او نـن خپلـي غلطۍ ته ملتفت شوې خپله قضا دي حق ته د راګرځېـدو مـانع نـه شـي ځکه چي حق پخوانی او حق ته راګرځېدل پـه وارو-وارو تـر دې بهتـر دي چي سړی د تل دپاره په باطل کښي پاتي شـي. ګـوره کـه لـه داسـي موضوع سره مخامخ شوې چي نه د خدای په کتاب کښي او نه د رسـول الله(ص) په سنت کښي وه او ډېر-ډېر فکر وکړه او د هغې مـسئلې امثـال، نظاير مطالعه او په هغو يې لباس کړه. هغه چا ته مناسب مهلت ورکړه چي دخپل حق د ثبوت دپاره پرې شاهدان او اسناد لري، نـو کـه يـې خپـل شاهدان حاضر کړی شول حق بـه يـې ورتـه واخلـې او کـه نـه د ده پـه ملامتۍ به حکم وکړې. ځکه چي دا کار سړی له شک نه وباسـي او خطـا يې لري کوي. ګوره چي د عوی خاوندان متضجر او مضطرب نه کړې او نه له حق نه سترګي پټي کړې، ځکه چي حق حقدار ته ورکول د خدای په نزد ډېر اجرونه لري او د سړي د نېک نامۍ سبب ګرځي....)

او د حضرت فاروق(رض) له موجزو او لنډو اعجازآسا وصاياوو نه چي د لښکرو د قوماندانانو په نامه به يې صادرول يو هـم هغـه وصـيت او نصيحت دی چي په عراق کښي يې د جنګ قوماندان سعد بن مالک بـن وهب ته ويلی و: (په دې مغرور نـشې چـي د رسـول الله(ص) مامـا وبلـل شې، او لا دي د رسول الله ملګری وبولي، په دې پوه شـه چـي خـدای بدي په بدۍ نه محوه کوي، بلکي بدي په نېکۍ لـه منځـه وړي، پـه دې هم پوه شه چي د خدای او هيڅ بنده تر منځ د نـسب او خپلـوۍ رابطـه نـشته، بلکـي يـوازنۍ رابطــه د عبـادت رابطــه ده. خـدای د بنــدګانو پروردګار(روزونکی) او هغوی يې بندګان دي او يوازي د عبادت له لاري

يو په بل بهتري مومي او د طاعت په نامه يادېږي. كوم كار چې حضرت پيغبر(ص) پر ځاى لازم كړى و ته هم هغه پر ځاى لازم كړه او ترك كوه يې مه او د هغه په اجرا صابر اوسه). كوم وخت چي يې عتبه بن غزوان د بصرې پر لور لېږه داسي يې ورته وفرمايل: (اى عتبه! ته مي داسي ځمكي ته مقرر كړې چي ډېره برخه يې د دښمن په لاس كښي ده، له خداى نه هيله لرم چي ته برى پرې ومومې... خو په څه چي دي لاس بر شي په هغه كښي له خدايه ووېرېږه او مغرور كېږه مه چي دغه غرور به دي له نورو سره ورورګلوي درفاسده كړي. ته د حضرت رسول الله(ص) په صحبت مشرف شوى يې او د دغه صحبت له بركته له ذلت نه وروسته معزز او له ضعف نه وروسته قوي شوې، تر دې چي د يوې سيمي مسلط امير او مطاع پاچا شوې، داسي چي خبره دي اورېدل كيږي او امرونه دي منل كيږي، د نعمت قدر وكړه او داسي يې وساته لكه چي ځان له ګناه نه ساتې، په نعمت ونه غولېږې اونه پرې مغرور شې چي كه نه وي نو داسي به دي راپرځوي چي د دوږخ كندي ته به ورولوېږې، ځان او تا ته له دغسي سقوط نه په خداى پناه غواړم. خلك خداى غواړي خو چي دنيا ته ورسيږي هماغه غوره كاندي نو ته خداى غوره كړه او له دنيا نه تېر شه او د ظالمانو له بازګشت نه ووېرېږه).

هو! حضرت فاروق اعظم(رض) ته دا ميسره شوې وه چي څلور داسي كلمې راوړي چي د احكامو په بهترينو نتيجو احتوا ولري او د خلكو د مختلفو طبقو د انتظار په مطابق چي د حكامو او واليانو عدل ته يې لري، اوسي لكه چي مغيره بن شعبه ته چي والي يې مقرر كړى و ويلي وې: (اې مغيره! نېكان بايد درڅخه مامون او بدان درڅخه په وېره كښي وي). د ده د معجز ايجاز له جملې څخه يو هم هغه ليك ګڼل كيږي

چي د يوه مامور په عزل او د بل په مقرري، او د معزول د ګناه په غتېوالي او مقرر مامور ته د کار په ورسپارلو او په چټکۍ سره د معزول مامور په راتګ احتوا درلوده او دغه ټول مطالب يې په يوه کرښه کښې ځای کړي وو. دا دی د هغه ليک متن چي مغيره ته يې استولی و: (اما بعد ما ته ستا په باره کښي غټې خبري رارسېدلي دي. ا ابو موسی مامور درولېږه نو چاري او هر څه چي دي په لاس کښي دي ده ته وروسپاره او ته ژر راشه). په دغو لنډو خبرو کښي ګورئ چي مطلق عدالت موجود دی او د اخلاقو مبدا او منتهی ګڼل کيږي. د فاروق(رض) دا جمله هم د يادانښت وړ ده چي عمرو بن العاص ته يې ويلې وه: (خدای ټول خلک احرار پيدا کړي دي نو تاسي يې ولي مريان کوئ؟) دا هم د ده له خطبو څخه ده: (ای خلکو! ما خپل واليان او حاکمان د دې دپاره درلېږلي نه دي چي تاسي په مخونو ووهي او لا مو مالونه درڅخه واخلي. بلکي خاص د دې دپاره يې درلېږم چي تاسي ته تعليم او لارښوونه وکړي او که له چا سره له دې نه پرته بل څه وشول نو ما ته دي يې راورسوي او زما دي په خدای قسم وي چي دده قصاص او انتقام به ترې اخلم! باخبر چي مسلمانان ونه وهئ چي ذليل يې کړئ او مه يې مداحي کوئ چي مفتون کيږي او مه يې له خپلو حقونو محروموئ چي کافر کيږي او مه يې په باغچو او عيش په ځايونو کښي اوسوئ چي ضايع کيږي) د حضرت عمر(رض) دا عقيده وه چي که مسلمانان په عيش اور احت اموخته شي خپله مېړانه او سخت سري له لاسه ورکوي اوټنبل کيږي او دا د تل دپاره ده چي که يو قوم خبري لري او ښې يې کوي او په الفاظو کښي نه پېچيږي له هغه سره قدرت او قوت ملګری وي او چي د تقهقر او انحطاط دوره يې راشي نو خلک کوښښ کوي چي د خپلو مطالبو د

بيان دپاره ښه مقفي عبارتونه پيدا کړي او دې درجې ته ورسيږي چې ډېر کرته يې سرې د خبرو په مطلب نه پـوهيږي او يـو مـوټی پـوچ او غلـيظ کلمات سره راټول او خپل وخت په الفاظو ضايع کاندي. دی وايي: چي يوه ورځ د بصرې له جامع مسجد نه د جمعې له لمانځه نه وروسـته ووتـم او په زړه کښي مي دا حسرت و چي له يوه خطيب نه داسي يو څه واورم که څه هم يوه کلمه اوسي چي اعراب يې صـحيح وي! پـه دغـه وخـت کښي مي په سيبو په رحم راغی او پوه شـوم چـي د ده کتـاب (البحـر) و چي بصريان او کوفيان يې غرق کړي او بيا ورسره نور عـرب هـم د دغـه بحر په قعر(تل) کښي غرق شوي دي. دا خو د اعراب له حيثه زما حـسرت و او هر څه چي د معنی له حيثه و پرته له دې چـي خـدای تـه وژاړم او شکوه وکړم بله چاره مي نه وه. په جامع مسجدو کښي د خطبـې منبرونـه رسول الله(ص) ودرول، تر څو چي له هغو څخه د مسلمانانو د زدکـړي، ويښولو، د هغو د همتونو د تحريک آواز پورتـه شـي او دوی يـووالي او هغه څه ته راوبولي په کوم کښي چي د هغوی د دنيـا او آخـرت خيـر او سعادت مضمر اوسي د بصرې او کوفې په منبرونو باندي به اميرالمـؤمنين علي ابن ابی طالب(رض) او داسـي نـور هغـه اصـحاب دريـدل چـي د فصاحت او بلاغت او د حسن بيان دريابونـه وو او نـن د عربـو ا عجمـو جاهل ترين وګړي په دغو منبرونو دريږي او خلکو ته وعظونه کوي چـي (لاحول ولا قوة الابالله). د افسوس خبره لا دا ده چي دغه خلک په دغـو منبرونو باندي ځانونه له صالحو سلفو سره مقايسه کوي او د هغوی د کړو وړو مثالونه راوړي او هغوی يادوي مګر خپل روش تـه نـه ګـوري چـي هغوی څنګـه وو او دوی څنګـه دي؟ کاشـکي دغـه لبـاس يـوازي مـع الفاروق وای؟! بلکي قضيه بالکل بالعکس ده.... که موږ ووايو چي سـلفو

خپل عهد نه ماتاوه او وعده خلافي يې نه کوله او بيا وغواړو چې په خپل روش پوه شو بله چاره نشته پرته له دې چې قضيه بالعکس کړو، نو ثابته به شي چې موږ (خلف) دعهد رعايت نه کوو، او په وعدو باندي وفا نکړو. د هغوی ايجاز او زموږ تطويل، د هغوی صبر او استقامت او زموږ بې صبر او جزع، د هغوی شجاعت او اقدام او زموږ بزدلي اوتنبلي، د هغوی عزت نفس او زموږ پستي او داسي نوري د غم او اندېښنې خبري دي چې موږ ته له خپله لاسه پېښي دي، (ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغير وا ما بانفسهم، ذالک بان الله لم يک مغيراً نعمة انعمها على قوم حتى يغيرو اما بانفسهم الا به) د معنى حاصل: (خدايا چا ته په ورکړي نعمت کښي څه تغير نه راولي مګر دا چي دوی په خپل لاس د نعت په اسبابو کښي تغير راولي او داسي روش غوره کاندي چې د خدای د نعمت د زوال موجب وګرځي).

دا د حکيم د کتاب هغه آيتونه دي چي موږ ته د حقي او سمي لاري لارښوونه کوي او په دې کښي له ګمراهانو پرته بل څوک شک او تردد نلري، آيا پاک خدای په خپله وعده او وعيد کښي تخلف کوي؟ په داسي حال کښي چي پاک خدای له ټولو وعده کوونکو رښتينی او د خپل وعيد په انجام کښي تر هر چا قادر دی. آيا پاک خدای خپل پيغمبران په دروغو رالېږلي او لا يې خپل بندګان غولولي او د ګمراهۍ په لار يې روان کړي دی! (نعوذبالله) آيا خپل ښکاره آيتونه يې عبث نازل کړي او لا پيغمبرانو په ده د دروغو افترا کړې ده او لا يې بهتان پرې کړی دی؟ او که نه خپل بندګان يې په داسي رمزونو مخاطب کړي چې نه پرې پوهېدل او په داسي اشارو يې پوهولي دي چې نه شول ورته رسېدای؟ آيا په داسي توګه يې سمي لاري ته رابللي چي عقل يې ورته نه

رسېده؟ (نستغفرالله). آیا پاک خدای قرآن په داسي عربي ژبه نازل کړی نه دی چي هیڅ کوږوالی په کښي نشته او هر څه یې په تفصیل پکښي بیان کړي نه دي؟ (د پا خدای صفات له دې نه پاک او ذات یې له دې نه ډېر لوړ دی چي ظالمان یې وایي) پاک خدای په خپله وعد او وعید کښي صادق او رښتینی دی. رسولان یې په دروغو نه دي رالېږلي او نه یې یو څه بې فایدې پیدا کړی دی. موږ ته یې له سمي لاري پرته بله لار ښوولې نه ده. د ده په آیتونو کښي څه تغیر او تبدیل نه راځي که څه هم آسمانونه او ځمکه پر بله واوړي. د ده د کتاب په احکامو کښي هم څه توپیر نه راځي. هغه کتاب چي نه د مخي او نه له وروسته باطل لار ورته لري. پاک خدای فرمایي: (ولقد کتبنا فی الزبور من بعدالذکران الارض یوتها عبادی الصالحون).

یعني(موږ په زبور کښي لیکلي وو چي د ځمکي میراث زموږ د صالحو بندګانو دی) (والله العزة لرسوله وللمؤمنین) (او دا چي عزت د خدای او د ده د رسول او مومنانو دی) او دا چي فرمایي: (و دین الحق لیظهره علی الدین کله و کفی بالله شهیدا) یعني (پاک خدای د اسلام حق دین نازل کړی دی تر څو چي یې په ټولو ادیانو غالب کړي او په دې باره کښي د خدای شاهدي بس ده) دا هغه وعدې دي چي پاک خدای په خپل هغه کتاب کښي ورکړي دي چي هیڅ تاویل نه مني اونه یې څوک د تاویل اراده کوي. مګر چي ګمراه شوی وي او خبري له خپل اصلي مفهوم نه اړوي او تحریف په کښي کوي دا وې له دې مرحومه امت سره د پاک خدای وعدې او خدای له خپلي وعدې څخه نه اوړي او نه تخلف ترې کوي. خدای د عزت او نصرت وعده ورکړې او د خپلو وعدو د انجام دپاره یې د قیامت تر ورځي لار ورته اواره کړې

ده په داسي توګه چي لوړتيا يې پايو او عزت يې حد او انتها نـه لـري. دا هغه امت او ملت و چي له يوې ګمنامي او له مدنيت نه لـري سـيمي نـه راولاړ شو او د لوړتيا وروستۍ څوکي ته ورسېد، تر دې پوري چي لوړي ژوري، وچي او لمدې يې لاندي کړې او لويو ملتونـو د حيـرت ګـوتي ورته په غاښ کړې ټول خلك ورته حيران شول او د چا سد نـه ورسـېده چي اسباب يې څه وو او په څه دې درجـې تـه ورسـېدل؟ خـو د حـق خاوندانو ته دا پته لګېـدلې وه چـي دغـو خلکـو د خـدای لـوری او د خدای لار نيولې وه او خدای هم له دوی سره مل و، يوه ډله وه چـي د خدای ملاتړ يې وکړ او د الهی کتاب پـه لارښـوونه روانـه شـوه او پـاك خدای په خپل نصرت د دوی امدا وکړ. دغه امت په لومړي سر کښي څه ذخيرې مخبرې نه درلودې او تـش لاس او بـې وسـلې او وسـيلې وو د جنګ او جګړې وسايل ورسره نه وو او نه يې زاد او راحلـه درلـوده خـو سره له دې يې د قوي ايمان په زور د مجهزو ملتونو صفونه مات او ملکونه لاندي کړل، نه د مجوسو برجونو او خندقونو دفع کړای شـول او نـه د روان محکمو کلاګانو او سنګرونو ته يې د لارو صـعوبت او سـختۍ مـانع شوې او نه يې په عزم او همت کښي توپير راغی، نه يې د نورو ثروتونو ته سترګي ونيوې او نه يې د پاچاهانو جلال، شان او شوکت په زړونو کـښي وېره واچوله، نه يې له وسلو ووېرېدل او نه يې له راز-راز صنايعو، نه يې د فنونو او قوانينو پروا وکړه او نه يې له پخوانيو سياستمداريو وډار شـول. هر مملکت ته به چي ورننوتل د څه شي پروا به يې نه کوله او هر څـه بـه سپک ورته برېښېدل، د هيچا په زړه کښي نه ګرځېدل چي دغه لـږه ډلـه (له اسلام نه وروسته عرب) به د لويو-لويو دولتونو د ماڼيو ارکان ولړزوي او د هغوی نومونه به د مجد او لوړتيا له صفحو نه محـوه کـړي، د هيچـا

په خيال کښي هم نه ورتله چي دغه وړوکی ملت به بلکـي دغـه وړوکـې ډله به په دغو لويو-لويو ملتونو برى ومومي او هغه به لاندي کوي، او دا قدرت به مومي چي د هغوی له زړونو نه به د زرګونو کلونو عقايد وباسي او خپل ديني عقايد به د هغوی پر ځای پکښي مـتمکن کـوي پـه داسـي توګه چي د اسلام مرحومه امت له خپل ضعف سره-سره دغي درجې تـه ورسېد چي بل هيڅ امت ورته رسېدلی نه دی. هو! دغه قـوم و چـي پـه څه يې چي له خدای سره عهد کړی و وفا يې وکړه او خپل پوره اجـر او مزد يې واخيست په دنيا کښي يې عزت وموندە او پـه آخـرت کـښي يـې سعادت په برخه شو. د دغه امت شمېر نن تقريباً دوه سوه او اتيا ميليونو ته رسيږي او ځمکه ي له اتلانتيک نه نيـولې تـر جبنـه پـوري ده چـي ښـه خاوره او سمسوره ده او آباد ملکونه لري خو سره له دې ګورو چي ديـار يې منهوب او اموال يې مسلوب دي چي نور پرې مـزې چړچـې کـوي، پردي ملتونه يې يو د بل د وروسته لاندي کوي او ځمکي يې ټوټـه-ټوټـه سره وېشي، مملکت په مملکت يې سره بېلوي او ولايت په ولايت يې سره وېشي او اوس يې نه څوک خبره اوري او نه يې څوک اطاعت کوي تـر دې پوري چي پاتي ملکونه يې هم په وېره کښي دي او هره ورځ يوه بـلا پرې نازلېږي او وېره يې له اميد نه زياتـه ده. دا هغـه امـت و چـي لويـو دولتونو به جزيه ورکوله او خپل ژوند به يې ساته او نن مشران خپله بقا په دې کښي ګوري چي د دغو پرديو دولتونـو لمنـو تـه لاس واچـوي او د هغوی په حمايت خپل ځانونه او خپل مقامونه وسـاتي. هـی افـسوس دا څه مصيبت دی؟! د دې هبوط علت او د دې انحطاط او سـقوط سـبب څه شی دی؟ آيا موږ د خدای په وعدو بدګومانه يو؟ (العياذبالله) آيا مـوږ د خدای له رحمت نه نااميده يو؟ او ګمان کوو چي له مـوږ سـره يـې د

دروغو وعده کړې ده(معاذالله) ؟ آيا له موږ سره د خداى د مرستي په وعدو کښې موکدې کړې يې دي شك لرو(حاشا سبحانه) ؟ نه، دا يو شى هم نشته او نه به وي. نو پر موږ ده چي موږ خپلو نفسونو ته وګورو او خپل ځانونه ملامت کړو چي موږ هغه لار پر ې ايښې ده کومه چي خداى موږ ته ښوولې وه... ځکه چي پاك خداى په خپل بالغه حکمت سره د امتونو د پيشرفت دپاره سمې لارې وضع کړې دي (و لن تجد لسنة الله تبديلا) پاك خداى په خپلو آياتونو کښې موږ ته لارښوونه کړې ده چي هيڅ يو ملت د خپل عزت او قدرت له عرش نه پرېوتى نه دى او نه يې نوم د هستۍ له تختې نه محوه شوى دى مګر دا چي د الهى سنت له لارې منحرف شوى وي او هغه لار يې پرې ايښې وي چي خداى ورښوولې وي. ځکه چي پاك خداى د کوم قوم په عزت، قدرت، رفاهيت، ښه عيش، آمن او راحت کښې تغير نه راولي مګر دا چي دغه قوم په خپلو عقلونو، فکرونو او بصير کښې تغير راولي او د نورو قومونو په باب د خداى له کړو نه عبرت وانخلي او د هغو قومونو په حال احوال کښې تدبر ونه کړي او پند ترې وانخلي کوم چي د خداى له سمې لارې اوښتي او تباه شوي وي، دوى چي د عدل لار پرېښوده او د بصيرت او احتياط او حکمت له چوکاټ نه ووتل نو له دغسې تباهۍ سره مواجه شول.په عمل کښې له استقامت نه، کاره او په خبرو کښې له صدق نه محروم شول او له سينو نه يې راستي او درستي ووتله او له شهواتو نه يې عفت پرېښود او په حق باندې يې غيرت ونه خوړ او د حق ملاتړ يې ونه کړ او د حق د حمايت په لار کښې يې يو د بل مرسته ونه کړه نو له هغه څه سره مخامخ شول چي موږ او تاسې يې په حال احوال خبر يو. حق يې پرېښود او خپل همتونه يې د حق د کلمې د اعتلا په لار کښې په

کار وانه چول او د باطلو خواهشونو پيرو او د فاني خواهشاتو او شهواتو په ډنډ کښي ډوب شو لاو غتې ګناوي يې وکړې نو انجام يې هغه شو چي تاسي يې ګورئ. په همدې توګه پاک خدای د ملتونو بقا او د هغو نما او ارتقا د هغو فضايلو په اکتساب پوري تړلې ده چي مخ کښي مو ورته اشاره وکړه او هلاک او تباهي يې د هغو په انتفا پوري تړلې ده. دا يو ثابت او غير متغير قانون دی چي د ملتونو په تبدل نه بدليږي او نه تغير مومي. لکه چي د خدای قانون د خلق او ايجاد، د ارزاقو په تقدير او د عمرونو په تحديد او ټاکلو کښي تغير نه مومي. نو په موږ ده چي خپلو زړونو ته مراجعه وکړو او خپل مدارک وازمايوو او خپل اخلاق ښه کړو او د خپل روش لار ملاحظه کړو او وګورو چي آيا د هغو کسانو په لار روان يو چي له موږ نه دمخه يې ايمان راوړی دی؟ آيا موږ د صالحو سلفو پيرو يو؟ آيا خدای په راکړي نعمت کښي تغير راوستی او که موږ يې موجبات فراهم کړي دي؟ (نه هيڅکله نه، او خدای تر دې لوړ او پاک دی چي خلک ګکوما پرې کوي) بلکي خدای له مو سره خپله وعده پر ځای کړې ده، خو چي موږ تيت او پراګنده شوو او په خپلو کښي مو په نزاګانو لاس پوري کړ او د هغه د امر عصيان مو وکړ او خپل ډېروالي متعجب او مغرور کړو نو عزت مو په ذلت او غنا مو په فقر او سيادت مو په هبوديت، باداري مو په مريي توب بدل شو. موږ ګورو چي پردي خلک مو ملکونه غصبوي او موږ شړي او زموږ د بې ګناه وګړو وينې بې ګناه تويوي او موږ ورته هيخ نه شو ويلی او نه ځانونه ښوروو. د دې ملت دغه ډېر وګړي اونور شرقيان د خپلو وطنونو او خپلو ځانونو د دفاع په لار کښي له خپل حاجت نه زيات مالونه نه صرفوي او دنيوي ژوند خوښوي. هر ي غواړي چي زر کاله عمر ولري که څه هم خوراک يې

ذلت، پوښاك يې مسكنت او استوګنځى يې رسوايي اوخواري وي. شرقيان عموماً او مسلمانان خصوصاً سره متفرق شوي او خبره يې يوه نه ده(په داسي حال كښي چي ملكونه يې مسلوب او مالونه يې منهوب شوي دي) يو ورور د بل ورور په حال افسوس نه كوي او يو ګاونډى د بل ګاونډي په حال نه ژاړي او نه يې پروا كوي. نه د ديني شعايرو احترام كوو او نه يې له حوزې نه دفاع، نه يې د ارواحو په بزل عزت ساتو او نه يې د مالونو په وركړه تقويه كوو. آيا د ايمان د جماې اغوستونكى دا ګومان كوي چي خداى به له دوى نه په همدې راضي اوسي او چي په خوله كلمې وايي او په عمل كښي د ايمان نښي نشانې ترې نه ليدل كيږي آيا خداى به له دوى راضي اوسي چي په خبرو يې بندګي كوي چي كه خير ورته ورسيږي خاطر جمع اوسي او كه له څه زيان او تاوان سره مخامخ شي نو بيا په شا ګرځي؟ (چي په دې صورت كښي خسر الدنيا و الاخره شي) له خداى نه هدايت غواړو چي سمه لار راوښيي (فهو حسينا و نعمت الوكيل).

## د مستعمراتو او مستعمرينو په باب د ده رايه او دا چې استعمار د هر دولت چې وي که څه هم ډېر لوی او د لوی قدرت خاوند وي مستعمرې يې عاريتي جامي دي چې بهر ته يې بايد خپل خاوند ته ورکړي

ده ويلي دي چې: اروپايانو د خپلو ملکونـو د پراختيـا دپـاره پـه ډول-ډول او راز-راز سياستونو لاس پوري کړی او په دغه لار کـښي لـه هيڅ راز وسيلو او وسلو مخه نه اړوي. د دوی له جملې نـه انګرېـزان پـه سياست کښي له ټولو نه مخ کښي دي او له ټولو نه په زياتو ملکونو اسـتېلا لري او له نورو غربيانو نه د ملکونو د نيولو په چل ښه پوهيږي. ځکه چې په زور سره د نورو د ملکونو نيول او په لـښکرو ورننوتـل او پـه جنـګ او وسله لاس پوري کول آسان کار نه دی او د مکر، نرمۍ، خـدعې، فرېـب له لاري دغه کار په آسانه کېدای شي او انګرېزانو همدغه وسـله اخيـستې او له همدغي لاري يې ډېر موفقيت، بری او کاميابي په برخـه شـوې ده. او که کوم ځای يې په زور او جنګ جګړه هم نيولی اوسي بيا هم دوهمه وسله (مکر او خدعه) اخلي او د اتلس نرمه جامه وراغوندي او خپل دغـه کار ته د استعمار(آبادۍ) نوم ورکوي او وايي چې موږ د دې دپاره دا کار کوو چې دغه وراني ويجاړي ځمکې او ښارونه، آبـادي او ودانـي کـړو. مګر د دوی دغه کلمه (استعمار) که څه هم د لغـت او اشـتقاق لـه مخـې همدغه معنی ورکوي مګـر بـې ځايـه يـې اسـتعمالوي او دا د اسـماوو د اضداد له قبيلې نه دی. نو بايـده ده چـې دغـه کـار تـه د (خـراب) اولاد

**(تخريب) نوم ورکړی شي نه د (استعمار) بايد د (استرقاق او استعباد) نوم پرې کېښودل شي نه د (اعمار، عمران او استعمار) استعماري دولتونه هر ملك ته نه ورننوزي بلکي هغه ملکونه نيسي کوم چي له طبيعي ثروتونو نه غني اوسي، ښه معادن ولري او د سمسورو زراعتي ځمکو خاوند وي، او خلك يې جاهل او غافل اوسي چي د حرکت او مقابلې توان ونه لري. او که چيرته ندرتاً استعماري دولتونه په ځينو ممالکو کښي د کوم پاچا او لا امير له مقاومت سره مخامخ شي خو څنګه چي د استعماري دولتو په اندازه عصري وسلې او جنګي آلات په لاس کښي نه لري نو هغه پاچا اولا امير د هغو په لاس کښي اسير پرېوزي اوله خپل کور کهول سره په ذلت او خوارۍ ليري ځای ته بېول کيږي او مملکت يې د استعماري دولت تر مداخلې لاندي راځي او په پای کښي د هغه ځای عزتمند ذليلان شي او د حريت ځای بردګي ونيسي، خولو ته يې فيضي ورواچولی شي او که څوك د دوی نظام او انتظام ته کاږهٔ وګوري او لا د انتقاد ګوته ورته ونيسي او لا د آزادۍ نوم په خوله واخلي نو تحقيق او استنطاق شروع شي او په راز-راز عذابونو معذب کيږي د ملك په ښېګڼو کښي برخه نلري او راز-راز ماليې او محصولات پرې ايښوول کيږي او بلاوي پرې نازلي شي. دا خو چي په جنګي لوبه کوم ملك ته ورننوزي او که د کوم امير او پاچا د ملاتړ او لا د ملي انقلابيانو د خاموشولو په نامه کوم ملك ته داسي شي نو په دې صورت کښي د اخلاص او صداقت لباس په غاړه کړي او د خلکود عمراني او عرفاني او اقتصادي چارو د ښه کولو د ښې پېښي کوي او داسي بربښوي چي د دوی په چارو کښي ګوتي ونه وهي بلکي دوی پوه شه او ملك يې. دغه وخت ظاهراً ټولي چاري او ځيني تش دودونه محفوظ او امون پرېږدي او له امير نه دساي پوچه قبه(ګبزه)**

جوړوي چي يوازي د آواز انعکاس ترې راځي او نور هيڅ اختيار نه شي کولی، دوی نور هيڅ اختيار نه لري پرته له دې چي د استعماريانو د امـر اطاعت او د هغو د ارادې پيروي وکړ. لنـډه دا چـي د اسـتعمار صـحيح معنی او صريح مفهو په ضعيفو او جاهلو قومونو بانـدي د قـوي او پوهـو ملتونو تسلط موندل دي او دا نتيجه ترې اخيستل کيږي چـي د قـوت او علم د بري او غلبې اصلي عوامل دي چي تل به پـه ضـعيو او بـې علمـه ملتونو حکومت او باداري کوي او دا يو ثابت قانون دی چي هر وخـت يې پيـروي کيـږي. څنګـه چـي د ملتونـو او دولتونـو د حيـات، تکونـو پيدايښت، تعالی او ترقی دپاره يوه موده او دوره وي او بيا دريـږي او پـه انحطاط پيل کوي او دا ټول شـيان اسـباب او عوامـل لـري همدارنګـه استعمار هم بايد د هدغه قانون او کوني نواميسو محکوم او تابع اوسي او په دې معنی چي يوې درجې او معلومي دورې ته رسـيږي او بيـا د هغـو اسبابو په زوال له منځه ځي چي د هغو په وسيله منځته راغلی اوسي او د هغو په ذريعه يې نور ملتونه د خپلي ارادې او تسلط تابع او خاضـع کـړي وي. هو! هر وخت چي د ارتقا او صعود اسباب ضعيف شـي د هبـوط او انحطاط دره شروع شي، او هر وخت چي د سقوط او هبوط عوامـل او اسباب ضعيف شي نو صعود شروع شـي چـي پـه دې اسـاس د حـاکم او محکوم دوران تغير مومي او يو د بل لازم او ملزوم ګڼل کيږي. ضعيف ته د قوي له صدمې نه دهشت او جاهل ته د علم له آثـارو وېـره او خـشيت پيدا کيږي او د دغو دوو قوتونو (علم او قوت) تر منځ حيـران، خـوار او ذليل ولاړ وي او همدغه حال دی د استعماريانو او مـستعمرينو تـر مـنځ. کوم وخت چي د استعمار لومړی دوره پـه جبـر، جـور، اکـراه او فـشار روانه وي او استعمار شوي ملتونه له وېرې خوله نـشي خوځـولی او پـه

ډېره خضوع او خشوع د استعماريانو د امر او ارادې اطاعت کوي نو بيا استعماريان په ډېره بې رحمۍ د دوی معنويات هم مصادره کوي، شخصي حريت، عزت، نفس او هر څۀ يې وژني او له منځه يې وړي او بيا يې د مادياتو د له منځه وړلو دوره شروع کيږي او د خپل ملک له خيراتو يې محروموي او مالونه يې استثماروي. لنډه دا چي له هر خير نه يې محروموي او هر شر پرې نازلوي. او بيا داسي ملاماتوونکي ماليې او محصولات پرې وضع کوي چي وړی يې نشي او ملاوي يې خموي. خو چي د استعمار ظلم او فشار خپلې انتهايي درجې ته ورسيږي په دغه وخت کښي په استعمار ځپلو ملتونو ي د ژوند يو څه آثار راپيدا شي او د (احتلاج) له حالت سره شباهت لري. نو چي وګړي يو له بل سره مخامخ شي يو بل ته ګوري ا د حسرت او ندامت په توګه يو بل ته سر ښوروي او د قهر لاسونه سره موښي او د خپلې بې همتۍ له کبله خپل څټونه ګروي. دا د ملي شعور د بيدارۍ لومړنۍ نښي دي چي په يوه ملت کښي پيدا کيږي. او بيا افکار جولان پيدا کوي او بيا سرسر او پس پس شروع کيږي او يو له بل سره په پټه خواله کوي او ورو-ورو دې درجې ته رسيږي چي آوازونه پورته شي، تازياني رابرسېره او توري له تيکو راوايستل شي او بيا د مظلومانو د مهربان خدای عدالت منځته راشي او جابر قوتونه له منځه ځي. که چيرته روا وای چي يو استعماري دولت دي په نادره توګه له استعمار شوي هيواد سره په عدالت وچليږي او ظلم او تيری دي پرې ونه کړي نو لازم و چي انګريزانو له امريکايانو سره (چي د دوی په قبضه کښي و) دغه روش تعقيب کړی وای. ځکه چي دوی په يوه ژبه ګړيمي، يو دين او يو مذهب لري او په اخلاقو او هر څه کښي سره يو دي او يو په بل باندي د شفقت او ښې رابطې ايجاب کوي. مګر

چيرته او كله كېداى شي؟ ځكه چي استعماري قاعدې استثنا نه لري اونه يې قبلوي، موږ ټولو ته معلومه ده چي انګرېزانو څه ظلمونه نه وو چي پر امريكايانو يې ونه كړل او امريكايانو څه مظلوميتونه نه وو چي د انګرېزانو له لاسه يې ونه ګالل، د راز-راز مالياتو په وضع كولو يې مالونه ترې سلب كړل او هر څه يې ترلاسه كړل او وروستنۍ ماليې او لا وروستنۍ ضربې چي امريكايان يې راوېښ كړل او دې ته يې اړايستل چي د انګرېزانو د ظلم اور په توره او وسله مړ كاندي د ماليې هغه ورقه وه چي (تمغه) يادېده او انګرېزانو چاپ كړې وه او هيڅ يوه سند قانوني اعتبار نه درلود مګر دا چي په دغه پاڼه ليكل شوى وي. هو! دغه كار امريكايان په لومړي سر كښي د يوه ضعيف په توګه مجبور كړل چي خپل شكايت د انګلستان پاى تخت او اشرافو(اعيان) مجلس ته وړاندي كړي. (دا وروسته له هغه و چي په نيويارك كښي يې يو عمومي جمعيت تاسيس كړى و او خبره يې يوه شوې وه) او دا د قوت هغه لومړنۍ طليعه ده چي انګرېزان له هغه نه پرته بل قوت نه مني او نه غاړه ورته ږدي او هغه د ملت د خبري له يووالي او اتفاق څخه عبارت دى. په دغه وخت كښي انګرېزان دې ته اړ شول چي د امريكايانو اعصاب تخدير او د دغي پاڼي له ترويج نه صرف نظر وكاندي. خو په مقابل كښي يې په هغه چايو باندي زيات ګمركي محصول كېښود چي له بېرون نه امريكا ته واردېده او د دغه محصول تاثير د هغه پاڼي له تاثير نه زيات و چي د معاملاتو دپاره يې چاپ كړې وه او په بيه به يې پر خلكو خرڅوله. انګرېزانو وغوښتل چي د قوت له لاري دغه قانون پر امريكايانو ومني او عملي يې كاندي، خو په دغه وخت كښي په امريكايانو كښي د ژوند نوې ساه چليدلې وه او د (اختلاج) او پس-پس دوره يې تېره شوې او د آواز د پورته كېدو او د توري د را

ايستلو دوره يې شروع شوې وه نو د ټولو هغو چايو ورود يې د بحر له لارې بند کړ چې امريکا ته راتلل. په دغه وخت کښې انګريزي استعماري قوت د امريکا د ملت له ملي طاقت سره مخامخ شو او امريکايانو ټولې چارې او د جنګ او جګړې اداره د خپل استقلال او خپلواکۍ لوی پېشوا (جنرل واشنګټن) ته وسپارله. بېشکه چې توره يوازنۍ څېز دی چې حق له ناحقه بېلوي او د هغې په تېغ سره يو ملت خپله ابرو او خپل پت بېرته راګرځوي. که چېرته امريکايانو يو دهر پرله پسې له انګرېزي واليانو نه خپل شکايتونه د انګلستان د وزيرانو مجلس ته لېږلي او په دغه توګه يې د جهان رنګونه خلاص کړي او د دنيا ټول کاغذونه يې په خپلو شکايتونو تور کړي وای او دغسې عملي اقدام يې نه وای کړی آيا د دوی خپلواکۍ ته به يې څه فايده رسولې وای؟ او لا به يې د دوی له سره نه د برتانيې د استعمار با بچ کړې وای؟ نه قسم په هغه خدای چې جنت يې د تورو له سيوري لاندې ښوولی دی! نو بنا پر دې د هر ملت قوت د هغه ملت په وګړو کښې پټ پروت دی چې يوازې اتحاد او اتفاق يې برالا کولای شي او تفرق او اختلاف يې پټوي. نو که کوم ملت غواړي چې خپل مجد او عزت پېرته په لاس راوړي او د ذلت ګردونه له خپلې لمنې نه وڅنډې بله چاره نه لري مګر دا چې د اتحاد او يووالي لار غوره کړي او په دې توګه د پردې استعمار له بلا نجات ومومي او خپلې غايې ته ورسيږي. له مرګ سره مينه ملت ته له دايمي مرګ نه نجات ورکوي او په دغه اراده سره انسان يو له دوو راحتو څخه مومي، لا دا چې په خپل استقلال او حريت په نېکمرغه ژوند کوي او لا به د وطن په لار کښې مري او د شهادت افتخار به ګټي. ما ته راوښيات چې داسې ملت او مملکت به وي چې پاچاهان او اميران يې په سفاهت او اسراف ژوند تېروي او ملت

يې سر تر ايه په جهالت کښې ډوب پروت وي او متفرق او پراګنـده او پـه ځانځنی توګه ژوند کوي او بيا به يې پاچاهان له خپلو تختونو پرېوتی نـه وي او استعمار به مريان کړي نه وي او ملت به يې برباد شوی نـه وي؟؟؟ او داسي يوه قاره او لا يو مملکت هم راوښياست چي خبره يـې يـوه وي او مريتوب ته يې غاړه نه ده ايښې او توري يې لـه تېکـو راايـستلي وي او خپل استقلال ګټلی نه وي او له خپل حريت نه متمتع شوی نه وي؟ کـه څه هم استعماري دولت ډېر لوی او ډېر مقتدر هم اوسـي دې تـه هـيڅ حاجت نشته چي موږ د خپلي دغي خبري د اثبات دپاره ډېر دلايل او ډېر مثالونه راوړو ځکه چي پـه وارو-وارو لیـدل شـوي دي چـي ډېـر واړه ملتونه د همدغي پاکي عقيدې په رڼا کښي په لويو-لويـو دولتونـو غالـب شوي او خپل حريتونه او خپلواکی يـې ګټلـي دي. يونانيـان(د مـوري د ولايت اوسېدونکي) څوک او څومره وو چي د عثماني دولت پـه مقابـل کښي چي تر شپېتو ميليونو نه زيات نفوس يې درلـود او د هغـوی وګـړي دوه ميليونو ته نه رسېدل ودرېدل او خپله خپلواکي يې ترې واخيـستله؟ همدارنګه (صربيان) هم له دوه نيم ميليونو نه زيات نه وو او په خپله ملـي مبارزه کښي کامياب شول، همدارنګه د (جبل اسود) اوسېدونکي څومره وو او څه قوت او څه لښکر يې درلود چي د وګړو شمېر يـې د اسـتالې د ولايت د (بېک اغلو) د کلي وګړو ته نه رسېده او د عثماني دولت د قـوت او لښکرو په مقابل کښي ودرېدل او برى يې ومونده؟! بلغاريـه او رومانيـا هم همدغسي درواخله. نو له دغو ښـکاره دلايلـو او روښـانه مثـالونو نـه وروسته چا ته دا شک پيدا کيږي چي استعماري دولت که څـه هـم ډېـر قوت او شوکت ولري خو مستعمرات يې عاريتي جامې ته پـاتي کيـږي او هرومرو به يې لا ژر او لا وروسته بېره خپل خاوند ته مستردوي او پښې بـه

ترې وباسي او هغه هم په نوموړو لارو او تېرو شوو قوانینو. آیا مصریان چې تر لسو میلیونو[1] زیات او ټول د توریالیو او غازیانو پلرونو او نیکونو زامن او لمسیان دي او د عربي قبایلو او قبطیانو نامتو خلک ګڼل کیږي، د هغو نیکونو چې د دوی آثار د دوی په لویی دلالت کوي په دې کښي شک لري چې که چیرته راپورته شي او په یوه تدبیر او یوه تکبیر رالواړ شي خپله خپلواکي به په لاس رانه وړي؟! هو! موږ یقین لرو چې یوه ورځ به دوی راویښ او راولاړ شي (انشاالله تعالی) او ټول به په یوه اراده د خدای په رسۍ منګولي ښخې کړي او خپل پخوانی مجد او لوړتیا به بېرته په لاس راوړي (والله علی کل شئ قدیر) خدای پر هر څه قادر دی.

---

[1] دا د مصر د (۱۳۱۰-۱۸۹۳ع) کال د احصایې له مخې د نفوسو شمېر دی چې په هغه وخت کښې دغه مقاله لیکل شوې وه.

## په دې باره کښې د ده خبره چې مسلمانان عرب دي او که عجم په خپله گذشته او اسلافو وياړي او تعجب کوي خو د خپل حال او استقبال په باره کښې په سخت غفلت کښې دي او څنگه باید وکړي؟

دی وایي: زمانه شاهدي ورکوي او آثار یې په دې دلالت کوي چې مسلمانانو د خپلو لوړو همتونو او راسخو عزمونو په برکت ډېر مفاخر گټلي او آثار یې په یادگار پرې ایښي دي چې څوک ترې انکار نه لري. خو متاسفانه دغه ټول مفاخر له هغو نیکونو سره یو ځای خښ شول کوم چې د مروت پېشوایان، د رحمت نمونې، د شفقت نښانې، د غیرت ټوټې، د قوت، عدل او انصاف غرونه او د مظلومانو لاس نیوونکي او فریاد رسېدونکي وو. دا و د اسلافو ځیني صفات چې اخلاف او بېرته پاتي نسلونه یې په کتابونو کښې لولي او بیا افتخار پرې کوي او وایي چې مو د هغو توریالیو زامن یو چې د تورو بریښ یې له شرق نه تر غربه لیدل کېده او د قیاصره وو او اکاسره وو سرونه ورته خم شوي وو او ملتونو ورته د اطاعت غاړه ایښې وه. د دوی فتحې هر ځای ته چې رسېدلې له هغه ځای نه یې د ظلم او استبداد خبرې وینځلې او له مهربانۍ او عدل نه یې ډک کړی دی. همدارنگه تر اوسه پورې له عربو او عجمو اورېدل کیږي چې د همدغو نیکو لمسیان او د دغو توریالیو بېرته پاتي کسان یو. هو! موږ پلرونه او نیکونه همدغسې وو چې زمانې پر موږ لورولې وو خو که دوی وپوښتې چې موږ د هغوی په میراث پرې ایښو مفاخرو څه وکړل او هغه ممالک او ښارونه مو څه کړل چې دوی راته پرې ایښي وو نو یا به له حسرت او خجالت نه پرته بل څه ونه لرو او نه به څه ځواب

ورکړې شو. ای لویو او کره او د افتخار وړ نیکونو! تاسي چیرته یاست؟!
ای هغو نیکونو چي په انصاف چليدئ او په عدل ولاړ وئ، او له حکمت
نه پرته مو په بل څه خوله نه ښورېده، او د ملتونو جوړوونکي وئ يو وار
خپل سرونه له قبر نه راپورته کړئ او وګورئ چي له تاسي نه وروسته
ستاسي ښرته پاتي کسانو څه وکړل او له څه بدبختيو سره مخامخ شول؟!
دوی ستاسي سنت پرېښودل، او ستاسي له لاري واوښتل او بيا يې
ستاسي لار ورکه کړه، هر فضيلت يې په رزالت بدل کړ او هر څه يې په
بله واوښتل، د دين حکمت او د سيدالمرسلين(ص) د شرع پيروي يې
پرېښوده، سره ټوټې-ټوټې، فرقې-فرقې او بېل-بېل شول، د دوی
پاچاهان په ناحقه له تختونو نه راپرېوتل شول او د حق خاوندان په
ظلم له خپلو حقونو محروم کړی شول، عزتمن يې بې عزته او روغ رمټ
يې مريضان، نامتو وګړي يې حقير، بډايان فقيراو زمريان يې ګيدړان
شول، او د ضعف او بېچارګۍ دې درجې ته ورسېدل چي له تاسفه زړونه
پرې ويلي کيږي او له غمه لړمونونه ورته سوځي، د غربي ملتونو ښکار
شول چي نه د مقابلې توان لري او نه له خپلو حوزو او سيمو نه دفاع
کولای شي، آيا څوک نشته چي پرې راغبرګ کړي چي غافل تنبيه او ويده
راويښ او ګمراه ته سمه لار وښيي(اناالله وانااليه راجعون). هو! په دې
فاني جهان کښې ځيني پاکي ارواګاني سره له دې چي په خاورينو
جسدونو کښې نغښتې وې داسي شريفې پيدا کيږي چي د خپل ذاتي
استعداد په برکت او د خپلو لوړو همتونو په وسيله کولای شي چي خپل
په خاورو پرېوتي قومونه او ملتونه آسمان ته وخېژوي او آبدي افتخار
ورته وګټلی شي، او همدغه ارواګاني که له خاورو لاندي هم شي خو
که موږ په روحي حس غوږ ورته کښېږدو او ورته په خير شوو نو پوه به شو

چې دوی زموږ په دغه ورځ دردېږي او وير پرې کوي او راتـه وايـي: ای لمسيانو! تاسي زموږ په هغو تورو نازېږئ او پرې وياړئ چې بريښ يـې لـه شرق نه تر غرب پوري رسېدلی و، هو موږ دغه توري تاسـي تـه پـه تېکيـو کښې پرې ايښي وې، آيا تاسي په غاړه کړې او له تېکيو مـو راوايـستې او هغو کسانو ته مو وبرېښولې چې ستاسي ملکونه يې نيولي او تاسي يـې پـه ذلت او غربت اخته کړي ياستئ؟ تاسي په دې وياړئ چـې مـوږ ملکونـه درته فتحه کړل او موږ په دغه لار کښې ډېر تکليفونه او کړاوونه وګالل او ډېر خطرونه مو پر غاړه واخيستل خو خجالت نه باسئ او غمګـين کېـږئ نه، چې هغه له تاسي نه ستاسي دښمنانو ونيول او درڅخه نيسي يـې خـو تاسي په يوه اړخ پراته ياست او ښورېږئ قدر هم نه، په ذلت او خـواری مو اخته کوي او رډې-رډې ورته ګورئ او ورته درېږئ نه، حتـی خولـه هم نه ښوروئ، تاسي زموږ په صبر، استقامت، ثبات، اقدام، زړورتيا او پـه دې وياړئ چې د خدای په رسی مو منګولې لګولې او د هغه د نبي(ص) د سنت پيرو و خو تاسي د دې په عکس رفتار کوئ، نه مو اخـلاق هغـسي دي او نه مو صفات، او دې کار تاسي له افتخار او افتخار يې له تاسـي نـه لرې کړی دی .تاسي د دې وړ ياستئ چې سرونه ښکته وځړوئ او له شرم نه ښکته ګورئ او له خدای او زموږ له هغو ارواګـانو نـه وشـرمېږئ او د افتخار او وياړ نوم په خوله وانخلئ کومې چې ستاسو د کړو وړو له کبلـه به د خدای په نزد، ښزاره او ستاسي له بې ايمانی نه شرمساره وي، تاسـي په دې وياړئ چې موږ د دين په اصـولو منګـولې خـښې کـړې دي او د يقين او باور خاوندان وو او د کتاب او سنت التزام و درلود او عمـل مـو پرې کاوه او زموږ تر منځ د ورورګلوی مزی ټينګ و او له دې کبلـه لکـه ټينګه ولاړه مانۍ وه (هو موږ همدغسي وو) مګر تاسي يوازې ديني عقيده

لرئ خو عمل مو هغسي نه دی، يو له بل سره وروړګلوي نه لـرئ يـو لـه بل نه تښتئ او نه سره زوښېږي ستاسي علما چي پـه واقـع کـښي د دينـي عقايدو حاميان او د خلکو رهنمايان دي په خپلو منځونـو کـښي تواصـل راشه درشه، نژدېکت او يووالی سـره نـه لـري او د خمـود او جمـود پـه خوب ويده پراته دي، ترکي عالم د حجازي عالم له حالـه خبـر نـه دی او هنديان د افغانانو له شئونو اطلاع نه لري حتی د يوه قطر او يوې سـيمي علماوو تر منځ هم کومه رابطه نشته او نه يو په بل خيال راوړي د دوی تر منځ هيڅ صله او دوستي وجود نه لري مګر دا لکه چي د عوامو تر منځ د خاصو غرضونو له مخي څه دوستي او خپلوي موجوده اوسي هر يـو پـه خپلي ګټي پسي ګرځي او اجتماعي ګټي يې هېري کړي دي، لکه چي د خپلي ټولني غړی نه اوسي او ځانګړی غـړی وي. تاسـي پـه دې ويـاړئ چي زموږ صـفات، د فکـر آزادي، عفـت، سـخا، قناعـت، نرمـي، وقـار، تواضع، لوړ همتي، صبر، حلم، شجاعت، ايثار، صدق، وفـا، آمانتـداري، لورېينه او عدم کينه، عفو، مروت، حميت، عدالت، دوسـتي، شـفقت او داسي نور وو، هو! په موږ د خدای احسان هدغسي شوی و، خـو تاسـي اې لمسيانو داسي نه ياست، ستاسي په اکرو باندي سفاهت، بالهـت، بـې عقلي، جبن او بزدلي، د نائـت او پـستي، عـذر او زاري، حقـد او کينـه، حسد او رخه، کبر او ريا، عجب او لجاجـت، غـدر او خيانـت، کـذب او نفاق، بدل او مسکي غالبه شوې او هغه صفات مو پرې ايښي کوم چي مو پلرونو درلودل. آيا تاسي په دغو صفاتو غواړئ چـي کاميـاب شـئ؟ او لا تعجب وکړئ چي ولي زموږ ملکونه نور نيسي او تاسي ترې محرومـوي؟ ايا تاسي هيله لرئ چي له دې سره-سره موږ ته راورسيږئ او زموږ حـای ونيسئ؟ په داسي حال کښي چي تاسي زموږ سيرت پرې ايښی او اخـلاق

مو بدل شوي دي. دا خو ځيني هغه مناجات وو چې زموږ ارواګاني يې زموږ د اجدادو له نداګانو احساسوي، او اوري يې او تر دې به د حق خبره نه وي او دا يو واقعيت دی چې که موږ ورته په حير شو زموږ وجدان به دا ويني او ملامت به مو کاندي او دا خپله يو ښکاره شاهد دی چې موږ د خپلو سلفو مخالفت کړی او د هغوی لا رمو پرې ايښې ده. آيا دا معقوله ده چې که موږ د دوی اخلاق په ميراث وړي وای او د دوی فضايل مو ساتلي وای او د دوی روش مو تعقيب کړی وای او د دوی له لاري کاږه او بې لاري شوي نه وای بيا به چا زموږ ميراث راڅخه اخيستی وای؟ نه او هيڅکله هم نه! بلکې زموږ ميراث به موږ ته پاتې وای او د نور د استبداد په اور به نه کړېدو. لمسيانو د نيکونو د ميراث د حق دعوی يوازې د زمانې په محکمه کښې دايرېدای شي او هغه شاهدي چې د حکم موجب ګرځي يوازې د سلفو په اخلاقو تحلي او د هغو په اخلافو متخلق کېدل او د هغوی پر لار تلل، د هغوی د سننو او روشونو التزام کول او په کړو وړو کښې د هغوی پيروي کول دي چې په دغه صورت کښې ممکنه ده چې مړ خپل هدف ته ورسيږو او په خپله دعوی که په حقه اوسو او که نه وي نو زموږ د ذلت او خوارۍ او بدبختۍ دپاره همدا بس دی چې ګورو يې او ورسره مخامخ يو. وروسته له هغه چې جمال الدين يو څه چوپ پاتې شو داسي يې وويل:

عجبه خبره ده او د سړي حيرانتيا زياتوي چې مسلمانان د خپل شريعت په حکم او د هغه د صريحو نصوصو په موجب په دې مکلف دی چې خپل هيواد د نورو له مداخلې څخه وساتي او پرې نږدي چې څوک د دوی په کورنيو چارو کښې ګوتې ووهي، او په دې کښې دا فرق نشته چې له يوې ختې و ي او که مختلف قوميتونه ولري، بلکې دا د ټول ملت ملي

فرض دی او که یو قوم د خپلي حوزې حمایت ونه کړي ټول ګناه کاریږي، او دا هم د دوی د غاړې فریضه ده چې په دغه لار کښې سر او مال وښندي او هر راز ربړونو ته غړه کښېږدي، هیڅ روغه په دغه لار کښې ونه مني. حتی اسلامي شریعت په دغه لار کښې دومره تاکید کړی دی چې که یو اسلامي ملت د بل له سلطې څخه ځان خلاص نه کړي شي بایده ده چې له هغه ځای نه بل ځای ته هجرت وکړي او د فرصت په انتظار اوسي، څو چې یې وخت راشي او خپل ملك دنورو له سلطې څخه خلاص کاندي. هر مسلمان له هري خوا نه د شریعت د هافت غږ اوري چې ورته وایي پر تا باندې شریعت دا فرض کړې او ایمان دې دا حکم کوي چې د بل حکم ته غاړه مه ږده او خپل سیادت وساته، خو له دې سره-سره د دغه دین اهل په دې ورځو کښې ځیني د ځینو نورو له حال احوال نه ځان نه خبروي او نه هم شریکي ورسره کوي، مثلاً بلوچستانیان په افغانستان کښې د انګریزانو ناخوالي او نادودي ګوري خو ځان پرې نه خبروي او نه یې مقابلې ته ورولاړیږي. همدارنګه افغانان ګوري چې انګریزان په ایران ورننوزي او غږ ورته نه کوي، دا دواړه بیا ګوري چې انګریزان په هند کښې څه ظلمونه او تعدی کوي، د خلکو مالونه لوټي او تېري پرې کوي او دوی ځانونه، نه ښوروي انګریزان د مصر په خاوره کښې ځي راځي، خلك وژني او لوټوي یې او د وینو سېلابونه بهوي او د دغو وینو د مجاریو په غاړه پراته ورونه یې خیال پرې نه راوړي، دغه مصیبتونه او بلاګاني ګوري چې پر مصریانو نازلي شوي دي او څه ورته نه وایي. هو! د مسلمانانو چاري په همدې توګه رواني دي او عاقبت یې هم ډېر وران دی او هر څوك غواړي چې د هغو په

اسبابو ځان پوه کړي خو که ټول اسباب راوړو خبره اوږديږي نو لـه دې کبله به په مجمله توګه اشاره ورته وکړو، نو ده بيا وويل:

په دې کښي څه شک نشته چي عقلي افکار، ديني عقايد او داسي نور معلومات او مدرکات او نفسي وجدانيان که څه هم د اعمالو د صدور باعث دي خو خپله اعمال دغه عقايد او افکار تثبيتوي او قـوت وربـښياو دې درجې ته يې رسوي چي په (ملکه) تعبير ترې کـاوه شـي او خلـق او طبيعت ګرځي او بيا هغه آثار پرې مرتبيږي چـي ورسـره مناسـب اوسـي چي په دې حساب هره مشاهده فکر پيدا کوي او هر فکر يوه داعيه لـري چي خپل اثر بيرون ته راوباسي او هره داعيه د عمل موجـب ګرځـي او بيا له عمل نه فکر ته ورګرځي او دوردي تسلـسل کـوي او تـر څـو چـي ارواګاني په بدنونو کښي وي د عملونو او فکرونو په منځ کښي انفعال نـه قطع کيږي او يو بل ته د ستني او اساس مثال لري پـه دې معنـى چـي د فکر انتها د علم ابتدا او د عمل آغاز د فکر انجام دی. د وروګلـوۍ او د خپلوۍ نور نسبتونه په عقل او ذهن کښي يو صورت لـري چـي کـه نـور ضروريات او احتياجات يې د خپلوانو ملاتړ او عصبيت تـه اړنـه باسـي پـه خپله دغه خپلوي په دغه باره کښي څه تاثير نه لري مګر د دې دپاره چـي يو د بل له مرستي اوحمايت نه برخورداره وي، يو د بل مرسـته کـوي او يو د بل ملاتړ د ځان فريضه بولي، تر څو چي يو بل ته ګټور ثابت شـي او يو د بل له مرستي او حمايت نه اسـتفاده وکـړي او پـه دې توګـه د هغـو ضرورونو مخنيوی وکړي چي دوی ته متوجه وي او دغه ملاتړ، معاونـت او يو د بل مرسته کول ورو-ورو د انسان طبيعي او وجداني غريزه ګرحي او د ورور او نورو خپلوانو د ملاتړ احساس لکه د لوږي او تندي احـساس يو طبيعي امر ګرځي او دومره قوي ښکاري چي ځيني وګړي يـې اصـلاً

يو طبيعي كار ګڼي، مګر حقيقت داسي نه دی ځکه چـي کـه څـوک لـه خپلوۍ نه سترګي پټي کړي او لا يې د ژوندانه ضـروريات او اړتيـاوي او محيطي شرايط ددغه کار ايجاب ونکړي او لا يو څوک له خپلو خپلوانـو پرته نور مرستيالان او ملاتړ پيدا کړي او لا يې د ژوندانـه ضـروريات دغـه کار ته اړباسي نو بيا ګورو چي د دغي نسبي رابطې اثر له منځه تللی او بيا يو ورور د بل ورور د ملاتړ او حمايت خپله وظيفه نه ګڼي او نه پروا پـرې کوي نو معلومه ده چي دغه کار طبيعي نه دی بلکي د ژوندانه د شـرايطو او ايجاباتو مولود دی او بيا دغه ذهني صورت د نـورو ذهنـي صـورتو او روايتونو په څېر په حافظه کښي محفوظ پاتېږي او نـور څـه پـرې مرتـب کېږي نه. او د نسب د رابطې د مثال پر بنا چـي د بـشري وګـړو د بـاهمي روابطو له ډېرو قوي رابطو او علايقو څخه ګڼل کيـږي نـور عقيـدوي او علمي صورتونه دي چي په اجتماع کښي خپل تاثير ښښياو که چيرتـه دغـه ذهني او علمي صورتونه له عمل سره مقارن او ملازم نـشي او د تکـرار او مداوم تمرين په اثـر طبيعـي شـکل پيـدا نکـړي نـو د خپلـو آثـارو منـشا ګرځېدای نشي او نه به څه پرې مرتب شي، بلکي يو علمي صورت به وي چي په ذهن کښي به پروت وي او د نورو محفوظاتو په څېر بـه د التفـات په وخت کښي دايرې ته راځي. په دغو اصولو کښي له تـدبر او حکيمانـه نظر نه وروسته به تا ته هغه سبب څرګند شي چي د مسلمانانو د سـکون او خمود موجب شوی دی، او سره له دې چي په خپل دين ټينګ ولاړ دی د دې خبري په علت به هم وپوهېږئ چي دوی ولي د خپلو ديني ورونو له نصرت او معاونت نه ډډه کوي؟ دا ځکه چي د دوی تر مـنځ لـه يـوې ديني عقيدې نه پرته بل داسي څيز پاتي نه دی چي دوی سره يو او سـره راغونډ کاندي او دغه ديني عقيده هم داسي ده چي عمل ورسـره نـشته،

هغه عمل چي د منفعت جلب او د ضرر دفع او تعارف او تواصل، لورونه او ايثار هغه له لوازمو او آثارو ګڼل کيږي او چي دا نشته نو ګورو چي قضيه بالعکس شوې اونتيجه دا راوتلې ده چي يو بل ته شاګرځوي، يو له بل نه ځان شلوي، يو له بل سره جفا کو ي او هغه څه کوي او هغه څه کوي چي د امت او د هغه د علماوو د حالت د بيان په باب يادونه وشوه. او څنګه چي د مسلمانانو د پوهانو او عالمانو تر منځ دغه جفا او لريوالى شته همدارنګه د مسلمانانو د زمامدارانو او سلاطينو تر منځ هم شته. آيا دا د تعجب وړ خبره نه ده چي عثماني دولت په مراکش او د مراکش دولت په عثماني دربار کښي سفارت نه لر؟ آيا دا عجيبه او غريبه خبره نه ده چي عثماني دولت له افغانانو او په مشرق کښي له نورو طايفو سره صحيح علاقې نه لري؟ دغه تدابر (يو بل ته شا کول) او دغي تقاطع (يو له بل نه پرې کړه) په ټولو مسلمانانو کښي داسي عمومي پيدا کړې دى چي که وويل شي چي د يو قوم له بل قوم او يو ښار له بل ښار سره هيڅ علاقه او رابطه نشته صحيح به وي مګر دا چي د دوى تر منځ يو ضعيف او ناڅيزه احساس شته او هغه دا چي ځيني کسان يې احساسوي چي هغوى هم د دوى په دين دي او د دوى په شان عقيده لري او که تصادفاً د حج په موسم کښي يو له بل سره وګوري يو بل ته د خپل مملکت موقعيت معرفي کړي او يو له بل سره پېژندګلوي وکړي نو دغه ناڅيز احساس د غمجنتيا او د سينې دتنګسيا باعث ګرځي. ملت يوه داسي لوى او عظيم جسم ته ورته دى چي بنيه يې قوي او مزاج يې صحيح اوسي خو چي بيا کله ناکله د ځينو عوارضو معروض وګرځي نو د اجزاوو التهام يې ضعيف کاندي او يو له بل نه منحل او تيت او پرک شي. دغه انحلال او د اسلامي ملت د روابطو ضعف هغه وخت شروع شو کوم وخت چي د

علم مرتبه د خلافت له مرتبې نه جلا شوه، او دا هغه وخت و چې له مامون الرشيد نه وروسته عباسي کورنۍ يوازي د خلافت په نامه راضي او قانع شوه پرته له دې چې ځانونه د علم په جامه آراسته کړي او د دين په اصولو او فروعو ځانونه وپوهوي او په دې ميدان کښي د راشدينو خلفاوو په څېر د اجتهاد مقام ته ځانونه ورسوي. له دغه کبله بيا مذهبونه زيات شول او اسلامي ملت خپل وحدت او يووالی داسي بايلود او سره تيت او پرک شول چې په بل هيڅ يوه دين کښي يې نظير او سابقه نه درلوده او بيا خلافت هم خپل يووالی له لاسه ورکړ او داسي منقسم شو چې په بغداد کښي عباسي خلافت او په مصر کښي فاطمي خلافت او په اندلس کښي اموي خلافت موجود و او په دې سره د ملت خبره متفرقه او همسا يې ټوټه-ټوټه شوه او د خلافت رتبه امارت ته راټيټه شوه او هيبت او شوکت يې له زړونو نه ووت او د ملك او اقتدار طالبانو د ځان د اقتدار د ساتلو او په لاس راوړلو وسايل راټولول او د خلافت د اسلامي ملت د يووالي رعايت يې نه ساته، حتی دغه اختلاف يې ډېر شدت وموند او د چنګېز خان او تېمور لنګ او د دوی د زامنو او لمسيانو په ظهور هر څه له منځه لاړل او د مسلمانانو وژل، ربړول او ذليلول دې درجې ته ورسېدل چې هر څه يې ترې هېر کړل او په کلي ډول اسلامي يووالی له منځه لاړ او د زمامدارانو او علماوو رابطه سره وشکېده او هر څوک د ځان په غم اخته شول او ټول خلك فرقې-فرقې شول داسي چې هره فرقه په يو چا پسي روانه شوه اعم له دې څخه چې دغه څوک د ملك او حکومت غوښتونکې وه او که ځان يې مذهبي پېشوا باله، نو له دې کبله هغه عقايد او لا هغه عقيده د خلکو په زړونو کښي ضعيفه شوه چې خلك يې يووالي ته رابلل او د دوی تر منځ يې رابطه قوي کوله او

بيا دغه مفکوره په عقلونو کښي د ذهني صورتونو په څېر پاتي شوه چې د خيال مخزنونو د معلوماتو په څېر ساتله او له بېروني آثارو څخه يې له تاسف او حسرت نه پرته بل څه نه ليدل کېدل، او هغه به هم هغه وخت و چې په مسلمانانو به کومه بلا نازله شوه او د دوی د پراګندګۍ له کبله به يې علاج او چاره نشوه کړای، او دغه غم او حزن، حسرت او ندامت دې ته پاتي کيږي چې سړی له ورخ تېرو اوبو پسې بېل ورواخلي او لا خپلوان خپل مړي وژاړي. نو په پوهانو او علماوو د هغه وراثت د حق د ادا کولو دپاره چې د شارع په ژبه دغه شرف او کرامت د دوی په برخه شوی دی لازم دی چې د ديني رابطې د احيا او ژوندي کولو دپاره راپورته شي او د هغه اختلاف د له منځه وړلو دپاره متې رابډ وهي کوم چې په ملک کښي راغلی او د هغه اتفاق او يووالي دپاره زمينه مساعده کړې چې دين د هغه دعوت کوي، او بايده ده چې دغه کار په مسجدونو او مدرسو کښي شروع کړي تر څو چې هر مسجد او هره مدرسه د وحدت او يووالي د روح د راژوندي کولو مسرح او نمايشګاه وګرځي او د دين له وګړو څخه هر يو د يو لوی زنځير يوه داسي کړۍ جوړه شي چې که يوه کړۍ يې وښورولہ شي ټول زنځير په شور راشي او آواز ترې پورته شي او بايده ده چې علما، خطيبان، امامان او واعظان د ځمکې په هر ګوټ کښي چې وي يو له بل سره ارتباط ولري او ځای پر ځای مرکزونه وټاکي او د خپل وحدت او يووالي د شئونو د تنظيم دپاره مراجعه ورته وکړي او د عوا مو لاس ونيسي او په هغه لاريې روان کاندي چې قرآن کريم او صحيحو آثارو ورته ښوولې ده او بيا ټول يو مرکز خپل مرکز وګڼي چې هغه د مکې په پاکه خاوره کښي واقع او بيت الله الحرام بلل کيږي، تر څو چې په دې توګه وکولای شي چې د خپل

دين ملاتړ وکړي او له بدو سترګو يې وساتلی شي او د ضرورت په وخت کښې د ملت د ضروریاتو د پورته کولو دپاره قیام وکړی شي او د پردو د ګوتي وهلو مخه ونيوی شي او بيا د علومو د خپرولو او افکارو د تنويرولو او د مضرو بدعتونو د شايع کېدو د مخنيوي دپاره په ښه توګه ودرېدی شي او دغه رابطه هغه وخت قوت او استحکام مومي چي علم يدرجې تعين او د هر چا وظايف وټاکل شي او که څه پېښ شي نو بيا د مختلفو طبقاتو تر منځ د دغه ارتباط او تواصل په اثر د دغسي پېښو مخنيوی پخوا له دې چي په عوامو کښي افشا شي وکړی شي او د بشريت د خاوندانو له نظره پټه نه ده چي دغه کار ملت ته قوت بښي او خبره يې لوړه کيږي او د هري ناوړي پېښي د مخنيوي دپاره زيات قدرت مومي. زه په دې ډېر افسوس کوم چي د مسلمانانو پوهان او هوښياران دغي وسيلې ته چي تر هري وسيلې ښه وسيله ده متوجه نه دی، زه هيله لرم چي د عزت او غيرت خاوندان دغي وسيلې ته ملتفت شي او د مسلمانانو زمامداران او علما د هغوی ملاتړ وکړي او د هغوی د هغه څه تاييد وکړي کوم چي د دوی جمعيت يو کوي او تيتوالی يې راټولوي او دا چي لري ملکو ته داعيان(مبلغين) ولېږلی شي او نژدې خلکو ته لاس وروغځوي او يو د بل په حال احوال خبر شي او د هغه څه د مخنيوي تدارک وکړي چي د دوی دين او لا دنيا ته مضر وي او دوی به يا په دغه ښه عمل سره خپله فريضه ادا کړي او د نېکمرغی غوښتنه به يې کړې اوسي، څکه چي رمق باقي او هيلي مخ په راتلو او مصير خدای ته دی.

## د شرقي تعليم يافته نوو ځوانانو په باب د ده خبره د ښه ويلو او بد ويلو دواړو اړخونو

## له مخې او د ګډور تقليد په باب د ده مثالونه او د ده له خوا د جاپاني شرقي دولت مثال راوړل او له سقوط نه د راپورته کېدو د بهترينو وسايلو بيانول

سيد جمال الدين ته وويل شول: چي په شرق کـښي هغـه نـوي ځوانان چي تعليم يې کړی او تعليم يافتـه او ليکـوال ګڼـل کيـږي او پـه شرق کښي د غربيانو په سياسي اهدافو او مرامونو ښه پـوهيږي او د دغـه راز ځوانانو شمېر هم ښايسته زيات هم دی خو د خپلي جامعې په اصـلاح او ترقۍ او د خپل قوم د اجتماعي وضع په اصلاح کـښي کـوم تـاثير نـه لري سبب يې څه دی؟ ده په ځواب کښي وويل: د شرق د پايمالېدو لوی عامل او په هغه باندي د غربي طماعانو د هجوم لوی باعـث او پـه شـرق کښي د هغوی د بقا او د هغوی د قدم د ثبوت لوی عامل همدغـه تعلـيم يافتګان دي چي يوازي د هغوی د ژبې په زدکړه او د هغوی د تيتو آدابو په تادب او پيروۍ عقيده کوي چي ټول کمال د دوی د ژبې پـه زدکـړه پوري اړه لري او چي د دوی د وړاندي تګ مظاهر وګوري داسـي پـرې فريفته شي چي پرته له دې چي د هغوی د وړاندي تګ او ترقـۍ اصـلي عوامل وپېژني په ظاهر غوليږي او بيا دغسي ګومان کـوي. شـرقي تعلـيم يافته ځوان عقيـده لـري چـي ټـول رذالتونـه او د انحطـاط عوامـل او دواعي او د تقدم موانع خاص د دوی په قومونو کښي دي نو بيـا داسـي موقف نيسي او عجيبه او غريبه شېوه غوره کوي چي هر شرقي عادت تـه

په اهانت ګوري او په هيڅ يوه کار کښي له هغوی سره ګډون نه کوي تـر څو چي کوم يوه پردی پکښي ګډون کړی نه اوسـي او بيـا هـري هغـي خطا ته په تقديس ګوري او تصويبوي يې چـي د يـوه خـارجي لـه خـوا شوی اوسي او د هغه د مطلب دپـاره ټـولي سـختۍ لـه منځـه وړي او د خپل قوم له ضعف او لغزشونو نه يې خبروي لنډه دا چي د اجنبي دپـاره د خپل قام د جسد په نسبت يوه قاطعه او پرې کـوونکې آلـه ګرځـي او د پرديو د استثمار او استعباد وسيله کيږي، پرته له دې چي په دې وپوهيمي چي د دغه کار شر او ضرر به دی هم د ځمکي او په خپل تاريخ کښي بـه د خاينانو په ډله کښي حساب شي او که له دوی څخـه کـوم يـو د خپـل عمل شناعت او بدۍ احساس هم کړی خو بيـا هـم د ټـولني د ګټـو پـه مقابل کښي خپله ناڅيزه او موقته ګټه غوره کوي او د خپلـي ټـولني لـه منافعو سترګي پټوي اعم له دې څخه چي څوک د دغي خطا د پوهي له مخي مرتکب کيږي او که په ناپوهۍ ترې صادريږي خو په هر حال شـرق و شرقيان د خپل تفريط له کبله په دغه ازميښت تر ازمويني لاندي راغلـي او له همدې کبله له تنکسيا څخه د وتلو او له دردونو نه د شفا او د روغتيا موندلو لار نه مومي. بيا يې وويل: له انحطاط او سقوط نه د پورتـه کېـدو په وسايلو کښي د نظر د خاوندانو تر منځ اختلاف ډېر شوی او ډول-ډول مفکورې منځته راغلې او د دغي موضوع په شاوخوا کـښي ډېـر ګمانونـه پيدا شوي دي، نو د باطلو ګمانونو د له منځه وړلو او د شک د خاونـدانو د شک د لري کولو دپاره نن بيا هغه څه وايـم چـي څوکالـه دمخـه مـي ويلي و او هغه دا دی: آيا تا به کوم ملت له ملتونو نه ليدلی وي چي هيڅ شی نه وي نه د چا په ياد وي خو د هغه ملت د وګړو په همت د ګمنـامۍ وريځي خپرې او د هغه د وګړو په غيرت او همت داسي يوه ټولنـه تـرې

جوړه شي چي ښه نظام او قوي ارکان ولري او بنيان يې داسي محکم وي چي ته به وايې چي د شجاعت او مېړاني کلک دېوال ترې راچاپېر شوی او د همت پيره داران چارچاپېر ترې ولاړ دي چي د حوادثو برېښوکې پکښې خاموشه کيږي او هيڅ پرې کړی نشي او د هغې ټولني د مدبرانو د تدبير په لاسونو مشکلات حل کيږي او د عزت ښاخونه وروسته له هغه چي ريښې يې ټينګې شوي اوسي پکښې نمو کوي او د نفوذ او اقتدار لمن يې په لرو او نيژدو سيمو امتداد مومي، شروکت يې نفوذ پيدا کوي او خبره يې لوړيږي، قوت يې کمال مومي او آداب يې په نورو آدابو پورته کيږي، اخلاق او عادات يې دې درجې ته رسيږي چي نور ملتونه فکر کوي چي د نېکمرغۍ او سعادت بله لار نشته مګر دا چي په دغه لار لاړ شي او د هغې ټولني شريعت او قانون ومني، او دغه ټولنه که څه هم وګړي يې لږ اوسي داسي برېښي لکه چي نور عالم بدن او دا روح اوسي. او چي بيا يې ورځ وګرځي او د خپل عزت او وقار وسايل له لاسه ورکړي له دغه مجد او ترقۍ سره-سره ګورو چي په بنيان يې سست او نظم يې تيت او پرک شوی او خواهشونه پراګنده شوي او همسا يې ما ته شوې، ټولنه يې تيته او پرکه او غ وټه يې خلاصه شوې ده، د تعاون او لاسنيوي تار يې شلېدلی او يوه بل ته د اوږې ورکولو ارتباط يې پرې کړی شوی او د وګړو عزم يې له هغه څه نه منصرف شوی دی چي د هستۍ ساتنه يې کوله او هر يو د خپل ځان په غم بوخت او يوازي د ځان په غم اخته دی چي په سترګو کښې يې د خپلو کلي او جزيي حقونو بارقه نه برېښي او په داسي حالت کښې ښکاري چي د خپلو حوايجو له ضرورياتو او د ژوند او د ژوندانه د کمالاتو له اسبابو پټ شوی دی، د ژوندانه هغه کمالات چي د ټولني د وګړو له ګډې

همکارۍ نه پرته ميسر کېداى نشي، او فرد بايد په دې پوه شي چي جامعه او ټولنه دې ته زياته اړه لري چي ملاتړ يې وشي نسبت دې ته چي ټولنه د ده لاس ونيسي، او کوم وخت چي د ټولني وګړي په ځانځانۍ اخته شي دغه وخت چي ملت خپل مجد او خپله لويي له لاسه ورکوي او د زمانې حوادث يې پايمالوي. په دغسي شرايطو کښي کـه کـوم وخـت د کوم يوه وګړي په خيال کښي دا راشي چي خپل ملت تـه خپـل بـايللى شرف او مجد بېرته وګټي هغه هسي يو ذهني هوس او هـذيان ګڼـي او د خپل مزاج د ضعف او لا په بنيه کښي د خلل له کبله داسـي ګمـان کـوي چي که د خپلي ذمه وارۍ بلونکى(داعي) ته لبيک ووايي هغه به د ده پـر زيان تمام شي او تهلکې ته به يې ورواچوي، ا لا دا چي په خپل لاس به د خپل نعمت د زوال اسباب فراهم کړې او په دې ترتيب د ځـان دپـاره د وېري او بې زړه توب(جبن) او نااميدۍ زنځيرونه جوړوي او کار او عمل نه د اقدام کولو خپل لاس تړي او له کوښښ نه يې پښې دربړي او له دې وروسته بيا د هر هغه کار او عمل له اجرا څخه د زيـات عجـز او نـاتواني احساس کوي چي په هغه کښي يې خير او صلا مضمره اوسي او فکـر يـې هغ څه درک کولی نشي چي له دوی نه پخـوا يـې اسـلافو او پخوانيـو کړی و او قريحه يې د هغه خه له فهم نه قاصره وي چي پلرونو يـې ورتـه درېدلی و، هغه پلرونه چي هغه يې په خپلو ګټلو شيانو ګمارلي او په هغـه څه يې چي د هغه لپاره په ميراث پرې ايښی قيم او ساتونکي مقرر کـړي و او دغه مرض بيا دې درجې ته رسيږي چي ملـت هـلات تـه رسـوي او د مرګ په بستر يې پرې باسي چي د هر متجاوز مړۍ ګرځي. هـو! مـا ډېـر ملتونه ليدلي چي هيڅ نه وو او بيا يو څه تـرې جـوړ شـوي، کلـه پورتـه شوي او کله راغورځېدلي دي، کله قوي شـوي او کلـه ضـعيف شـوي،

عزت ته رسېدلي او بيا خوار شوي دي، روغ شوي او بيا مريـضان شـوي دي، مګر آيا د هري ناروغۍ دپاره دارو درمل نشته ؟ هو شته! ما ډېر کرتـه افسوس کړی دی. هو! اوس هم افسوس کوم او وايم چـي درد څـومره سخت دی او دارو نايابه او د علاج په لارو چـارو پـوه کـسان څـومره لـږ دي؟ څنګه ممکنه ده چي دا تيت او پرک خلک او دا ورانه ويجاړه خبره سره راټوله کړی شي؟ په داسي حال کښي چي خبره ورانه ويجاړېږي نـه مګر دا چي هر څوک د ځانځـانۍ پـه رنـځ اختـه وي او اجتمـاعي درد ورسره نه وي او که دغه احساس ورسره وای او خپل شان ته ملتفت وای نو هيڅکله به له خپل ورور نه چي د ده قوي بازو ګڼل کيږي نه جلا کېده خو موږ ګورو چي ده دنورو شئونو ته مخه کړې او ګمان کوي چـي دا د ده خپل شئون دي. هو! ډېر کرته هر هغه څه ته چي د هر زوی په فطـرت کښي شته ملتفت شوی چي د هغه څه ملاحظه وساتي چي د ژونـد د بقـا او ساتني وسيله وي لکه غذايي مواد شول، په داسي حال کښي چـي نـه پوهيږي له کومي لاري يې په لاس راوړي او څنګه يې حاصـل کانـدي؟ هو! دا احساس له هر ژوندي سره شته، خو انسان چي د پوهي او عقل له نعمت څخه برخـه لـري بايـده ده چـي د سـمي لاري نـه د رزق د ګټلـو احساس هم ورسره وي او دا هت ولري چي د ژوند بقا وسايل او لـوازم له داسي لارو په لاس راوړي چي د ده کرامت ته صـدمه ونـه رسـوي او همت يې مړ نشي، او که نه وي نو بيا څنګه کېدای شي چي مړه همتونـه بېرته راژوندي کړی شي؟ او همتونه، نه مري مګر وروسته لـه هغـه چـي يوه اوږده موده په داسي وضع پاتي شـي چـي هغـه د مـروت او انـساني کرامت له اصولو لري اوسي. آيا دا آسانه ده چـي پـه دښـته کـښي روان سړی سمي لاري ته راوګرځولی شي؟ هغه هم په داسي حال کښي چـي

دی معتقد وي چې په دغه لار له سلوك او تګ نه پرته نجات او بری میسر دی، خصوصاً چې د مقصد له پړاو نه تېر شوی هـم وي څنګـه ممکنـه ده چې په درانده خوب ډوب او په خپلو احلامو او رویاګانو خـوښ کـسان چې په غوړونو کښې یې پردې هم وي راویښ کړی شي؟ آیـا داسـې یـو آواز به وي چې د یوه داسې لوی امت د تیتو پرکو وګړو زړونـه وښکـوي او راویښ یې کړي چې یو له بله لرې سره پراته او عادتونه او طبیعتونه یې متباین او آرا او افکار یې سره متنافي دي؟ هغه هم په داسې حـال کـښې چې جهل ی په اوږو سپور وي او نژدې لـرې او سـهل او آسـان سـخت ورته ښکاري. د حق په عزت قسم دی چـې دا ډېـر ګـران کـار دی چـې حاذق طبیب او بصیر حکیم یې په علاج نه پوهیږي ا و حیران ورتـه پـاتې کیږي. ممکنه نه ده چې دوا تعینه شي مګر هغه وخت چې درد تـشخیص او لومړني اسباب یې معلوم او په هغو عوارضو پوه شـي چـې مـریض تـه طاري شوي وي، او که مرض په یوه امت کـښې وي نـو د هغـه عللـو او اسبابو ته رسېدل ممکن نه دي مګر وروسته له هغه چې د هغه ملـت عمـر وپېژندل شي او په هغه څه پوه شي چې څه حالات پـرې راغلـي او څـه اطوار یې تېر کړي دي؟ آیا د کوم طبیب دپاره ممکنه ده چې د یوه معین شخص تداوي کوي او یو نوعه علاج ورته غوره کړي؟ هغه هم پخـوا لـه دې نه چې ځانته معلومه کړ چې له دې نه پخوا په ژوند کښې ده تـه څـه پېښ شوي او له څۀ عوارضو سره مخامخ شوی دی؟ تر څو چـې هغـه د مرض د حقیقت دلیل او شاهد ونیسي، ځکه چې که داسې نه وي نو ډېـر مرضونه شته چې خپل مکربونه او جراثیم د عمر له اطوارو نه په یوه طور کښې زېږوي او بیا د هغو اثر د عمر په یوه حالت کښې ظهور کوي او چې کوم وخت طبیعت د مرض په ماده باندې قوي او پیاوړی اوسي نو بیا یې

هيڅ اثر نه ليدل کيږي او چي يوه ماهر طبيب ته سخته اوسي چي د يوه معين شخص د مرض تشخيص وکړي چي د عمر سن يې محدود او د ژوند عوارض يې محصور دي نو بيا به هغه چا ته څنګه ممکنه او آسانه وي چي غواړي د يوه داسي ملت تداوي وکړي چي موده يې اوږده او د وګړو شمېر يې زيات اوسي. نو له دې کبله په ډېرو پېړيو کښي د داسي مړونو او رجالو شمېر ډېر لږ پيدا کيږي چي غواړي خپل ملتونه احيا او خپل شرف او مجد يې ورته اعاده کاندي (که څه هم د دغه کار مدعيان ډېر دي) او لکه چي د طب د قاصرو مدعيانو د بدني مرضونو په علاج کښي کوښښ مطلوبه نتيجه نه ورکوي بلکي د مرض د زيادت او شدت سبب ګرځي او کله ناکله چي تصادف او اتفاق ورسره مساعدت ونکړي د ده د علاج د مريض د مرګ موجب ګرځي همدارنګه د هغو کسانو حال هم همدغو ناقصو طبيبانو ته ورته دی چي د قوم د اعتلا او شئونو په وسايلو له کاملي خبرتيا او مهارت نه پرته غواړي چي د هغوی اخلاق تعديل او رسېدلی ملت ترې جوړ کاندي همدارنګه پرته له دې چي د هغه قوم د اعتلال او ناروغۍ اصلي علل او عوامل وپېژني او په دې ځانونه وپوهوي چي څه عادات لري او په عقيده او تفکر کښي يې د افرادو تفاوت او اختلاف څومره دی، د ترقۍ علل او موجبات يې څه وو او اوس څه عوامل منځته راغلل چي هغه يې د انحطاط کندي ته ورواچاوه نو که د ملتونو اصلاح طلبان د دغو مباديو په درک او تشخيص کښي خطا وزي او دغه شيان چي موږ ذکر کړل په نظر کښي ونه نيسي دوا درد ګرځي او وجود اوهستي په فنا او نېستۍ بدليږي نو څوک چي له انساني کمال نه يو څه نصيبه ولري او له زړه نه يې د الهي الهام ځای محوه شوی نه وي د دې جرئت نه کوي چي د ملتونو د تربيې او د هغه

څه د اصلاح وظيفه پر غاړه واخلي چي فاسد شوی اوسي، او هغه هم په داسي حال کښي چي د دغه لوی او عظيم امر پـه انجـام کـښي علمـا او عملاً د ځان د قصور او ناتوانی احساس ونکړي. هـو دا کـار هغـه کـسان کاندي چي د باطل افتخار دوسـتان او پـه وظـايفو کـښي د هغـه عـيش طالبان وي چي استحقاق يې ونلري. زموږ په زمانـه کـښي ځينـي کـسان ګمان کوي چي د ملتونو د مرض علاج د ورځپاڼو او جرايدو د دفتـر پـه وسيله کېدای شي او دغه نشريات او جرايد د هغـوی د راپورتـه کولـو او نهضت او د هغوی د افکارو د راويښلو او اخلاقو ښه کولـو ضـامن دي دا ګمان به څنګه صدق پيدا کړي؟ ځکه که موږ فرض کړو چـي د جرايـدو ليکوال د ملت له انجاح او اصلاح نه پرته بل هيڅ غرض او غايه نلـري او په پاک نيت دغه عالي هدف ته رسېدل غواړي نو وروسـته لـه دې چـي ذهول او هېره عامه شوې او په عقلونو دهشت او وېره مستولې شـوې ده او په عين حال کښي د لوستونکو شمېر کم او په زړه پوري ليکوال ناچيز وي، نو اول خو د دغو جرايدو لوستونکي نه پيدا کيږي او که پيـدا شـي نو د فهم سويه يې دومـره ټيټـه وي چـي د نـشريې پـه اصـلي مطلـب نـه پوهيږي او هغه څه ترې اخلي چي د ليکوال مراد نه اوسي. نـو لـه دې کبله د جريدو تاثير مطلوب نه راحي او هغې غذا ته پاتي کيـږي چـي لـه طبعي سره موافقه نه اوسي او بيا يو په دوه مضره ثابته شي. سربېره پر دې کوم وخت چي ملت د هبوط او انحطاط ژوري کندي ته لوېدلی اوسي څوک کولای شي چي هغه د جرايدو په فايدو خبر کاندي تر څو چـي د هغوی فکر دې ته راوګرځوي او دې ته يې راغب کاندي چـي ځانونـه د جرايدو په محتوياتو وپوهوي، په داسي حال کښي چـي وخـت لـږ او د حوادثو سېلابونه زيات دي. هو! په خدای چي همدغـسي ده. او ځينـي

نور بيا ګمان کوي چي د ځمکي په پراخو ګوټونو کښي تيت او پرک امت چي پراګنده او متفاوت خواهشونه لري او د ژوند په لږ څه راضي او له خپلي لوړي درجې راپرېوتی اوسي او له پردیو د شرف التماس لري. هغه پردی چي په واقع کښي د هغه امت د سیادت تابع او د قوانینو يې خاضع و څنګه کېدای شي چي له دغو ټولو علتونو سره-سره له دغو وژژونکو امراضو شفا ومومي؟ مګر دا چي دفعتاً د دغه امت په ګوټ-ګوټ کښي په اروپایي طرز او نوې توګه مدرسې او ښوونځي تاسيس شي ترڅو چي په لږه موده کښي پوهه او عرفان په ټولو وګړو کښي عمومیت پیدا کړي او هر څوک د علم او پوهي له فیض نه برخوردار شي. او هر وخت چي عارف تعمیم وموند نو بیا به د ملت اخلاق کامل او خبه به يې یوه او قوت به يې متمرکز شي، دا څومره لري ګمان دی؟ ځکه چي دا لوی کار او عظیم اقدام د یوه داسي قوي او با اراده سلطان[1] له لاسه پوره څه دي چي خپل ملت په هغه څه واداره کړی شي چي ډېره زانه يې هغه بد ایسېدلی وي او بد ترې وړي، تر څو چي يې خوند وڅکي او مېوه يې وخوري او بیا د ملت رښتیني میل او رغبت د دغه سلطان د سلطې قایمقام او نایب شي او هغه څه چي سلطان د هغوی د خیر دپاره غوښتل تنفیذ کاندي او د خپل میل او رغبت په سایق يې سرته ورسوي او دغه هدف ته رسېدل ډېر ثروت او شته غواړي چي د دغو ډېرو مدرسو د مصارفو تکافو وکاندي په داسي حال کښي چي زموږ د بحث موضوع ضعف او د هغه د دوا در دی نو آیا له ضعف نه د یوې غالبي سلطې او استغنا راوړونکي ثروت هیله کیږي؟ او که یو ملت دغسي سلطه او دغسي

---

[1] د سلطان اطلاق د هغه وخت په اصطلاح پر هغه چا کېده چي څو مملکتونه به يې تر اداري لاندي وو او د امپراتور په معنی استعمالېده.

کافي ثروت ولري نو بيا به ولي له لوېدلو او پرېوتلو ملتونو څخه ګڼل کيږي؟ او که دوی وواېي چي دغه کار په تدريج سره چي استمرار او ثبات ورسره مل وي ممکن دی موږ به ورسره موافقت وکړو او دا امکان به ورسره منو خو په دې شرط چي دغه څه نه وای چي شته اووي به او هغه د زور د خاوندانو طمعي او مطامع دي چي د کمزورو دپاره موقع نه ورکوي چي د قوت نسيم استنشاق او د زور عطر بوی کاندي نو د دغو بطي آلاتو وسايلو دپاره وخت او فرصت چيرته دی؟ سره له دې هم که موږ فرض کړو چي زمانه له موږ سره سازګاره ده او زموږ په امت دومره لورېينه لري او ورسره فرصت ورکوي چي دغه علوم ځينو وګړو ته ورسيږي او څه ناڅه زيادت ومومي نو بيا آيا دا صحيح ده چي حکم وړو چي دغه تدريجي حرکت زموږ امت ته يوه جوهري او مطلوبه فايده رسولی شي او لا دا چي دغه ځيني کسان چي د علم له فضيلت نه برخودار شوي دي دوی کولای شي چي د خپل قام د باقي کسانو لارښوونه وکړي؟ په ډېر تعجب سره وايو چي دا به څنګه وشي؟ په داسي حال کښي چي ملت د دغو علومو له زدکړي او معرفت نه لري پاتي دی او هيڅ نه پوهيږي چي د دغو علومو تخم څنګه وپاشل شو او بيا څنګه زرغون شو او بيا په خپلو ساقو ودرېد او بيا په مېوه راغی، په کومو اوبو خړوب شو او په څه ډول خاوره تغذيه شو؟ په دې هم واقف نه دی چي هغه غايه چي د دغو علومو له مناشيو نه مقصود ده هغه څه ده؟ په دې هم خبر نه دی چي په دغو علومو مرتبي ثمرې او نتيجې څه شی دی؟ نو آيا سره له دې هم دا ګمان مصيب وي چي که په ناڅاپي توګه ځينو وګړو دغه علوم زده کړل او بيا يې د نورو اذهانو نه چي له نورو شيانو ډک اوسي وروشړل د هغوی افکار به سم او اخلاق به يې تعديل او په

سمه لار به يې روان کاندي؟ ښايي لنډه خبره دا ده چـې د دغـو علومـو نقل کوونکی هغه هم دغسي ملت ته چي شان او حـال يـې دا وي او لـه دې سره-سره دا هم په نظر کښي ونيول شي چي د قوم مالوف او عام بـه هم د دوی په اذهـانو مـنعکس شـوی وي او د کـوچني تـوب د وخـت خيالات به يې په نفوسو کښي رسوخ موندلی وي او کـوم ملـت تـه چـې دوی دغه علوم له هغوی نه زده کړي په ډېره درنه سترګه ورته ګـوري او په لويی ورته قايل دي، په خپل قوم کښي هغه پردي متملق ته پاتي کيږي چي طبيعي فساد يې لا ورزياتوي. له دغسي تعليم يافته نوو ځوانانو چي د علومو سرچينه يې اصلاً له خپلو سينو څخه نه وي کـه څـه هـم د خپلـو وطنو په خدمت کښي صادق او رښتيني اوسي څه ساخته ده؟ دوی څـه چي زده کړي او اورېدلي يې وي هغه خلکو ته اوروي او د هغـه نـسبت رعايت نه ساتي چي د دوی او د قوم د مشرب او طبيعت تر منځ شته او نه د قوم د عاداتو او معتقداتو مراعـات کـوي نـو پـه اصـلي وضـع يـې نـه استعمالوي، او له دې کبله چي د قوم له حـال او ماضـي او آينـدې پـه غافل او د قوم له محيطي شرايطو او محلي ايجاباتو نه لري لوېـدلی دی دوی کولای شي چي په آسانی سره خپـل قـوم راويښ کـړي او لا هغـه خپلي ناروغی ته ملتفت او خپلي تداوی ته يې مجبور کانـدي او پـه دې توګه له ماشومانو نه هغه څه غواړي چي له مشرانو نـه يـې هيلـه کېـدای شي او لا په عکس دوی خپلي زدکړي او علمي صورتونو تـه ګـوري او د هغو کسانو استعداد په نظر کښي نه نيسي چـي خپـل علـوم ورتـه عرضـه کوي، نو په دغه صورت کښي تاسي څه فکر کوئ چي دغسي کسان بـه د خپل قوم په زړونو کښي داسي ځای ونيسي چـي د سـتايني وړ وي او لا به خپل قوم د ستايني وړ مقام ته ورسولی شي او که نه؟ فساد او ضعف بـه

يې ورزيات کاندي؟ او دا بل سبب او موتجـب نلـري مګـر دا چـي دوی اصلاً د دغو علومـو خاونـدان نـه دي او نـه د ملتونـو د تربيـې پوهـه او استعداد لري بلکي دوی په حقيقت کښي د علم پنديان او ناقلين دي. نـو دغه نوي ځوانان (مګر دا چي له دوی څخه کوم يـو د الهـی عنايـت پـه برکت خدای موفق کاندي) هغي مهرباني مور ته ورته دي چي کـه کـوم خواږه خوندور کاندي نو له خپلي ژوولي خوندوري مـړی، نـه يـو څـه خپل شيرخواره ماشوم ته چي له شيدو نه پرته نور خواږه خوړلی نشي په خوله کښي ورکوي چي په دغه خوند کښي هغه هم له ځان سره شـريک کاندي خو په نتيجه کښي د هغه د ناروغتيا سبب ګرځي او تلف کوي يې.
نو په دې حساب د دوی منزلت د ملت په نـسبت د هغـې پـرې کـوونکي آلې منزلت لري چي پاتي جمعيت تيتوي او التيام شـوي زخمونـه بېرتـه څيروي، ښايي ډېر کرته دوی د خير اراده ولري (که چيرته لـه مخلـصانو څخه دي) خو په غيرشعوري توګـه سـوری آزادوي چـي دروازې تـرې جوړې شي تر څو چي د پرديو د مداخلې لپاره لار آواره کړي او بيا دغـه پردی د خيرخواهانو په نامه او د مصلحينو او د اصلاح طلبانو پـه عنـوان ورننوزي او خپل ملت فنا او اضمحلال ته وسپاري (څه بد مصير دی دا).
عثمانيانو او صريانو په نوي طرز يو شمېر مدرسې بنا کړې او پرايې نـستلې او يو شمېر ځوانان يې غربي هيواد ته واستول تر څو چي د ضـرورت وړ علوم، معارف، صنايع، آداب او ټول هغه څه چي پـه هغـو کـښي يـې د طبيعت د نظام او د هغه ځای د انساني اجتماع د سير په تقاضا نشئت کړی دی نو آيا مصريانو او عثمانيانو له هغه نه څه ګټه واخيستی شوه (په داسـي حال کښي چي ډېره موده پرې تېره شوه) او آيا اوسنی حال يې تر پخـوا ښه شو؟ آيا خپل ځانونه يې د فقر او فاقي له پنجالو خلاص کړی شو؟ آيـا

په دې سره يې له هغه څه نجات ومونده کوم چي په هغه سره پرديو خپلو کړو وړو ته مجبورول؟ آيا خپلي کلاوي(خپل حصون) يې مخکمي او خپل سرحدونه يې وتړلی شول؟ آيا په دې سره يې هغه څه وموندلی شو چي په هغه سره د دښمنانو غارت، چور او چپاو منع او دفع شي؟ آيا په دې سره په عواقبو باندي د بصيرت او په افکارو کښي د تصرف سهغې درجې ته ورسېدل چي په هغې سره د طمعې د خاوندانو د ناوړي ارادې دغه ونيوی شي؟ آيا په دوی کښي داسي زړونه چي د وطني ژوند روح ورسره ممزوج وي پيدا شول؟ هغه زړونه چي د وطن مصلحت په بل هر مصلحت غوره وګڼي او د هغه دپاره سعي او کوښښ وکاندي او ويې غواړي که څه هم د دنيا د ژوند له محيط نه تجاوز وکړي او په دغه لار کښي ځانونه بايلي؟ او بيا په همدغه توګه او په همدې شکل راتلونکی نسل دغه لار تعقيبوي او خپل ملي مجد ساتي لکه چي په ډېرو وړاندي تللو ملتو کښي ليدل کيږي. هو! ډېر کرته په دوی کښي ځيني داسي وګړي پيدا کيږي چي د حريت، وطنيت، قوميت او دې ته ورته الفاظ له خولې راوباسي او دغه مطالب په راز-راز رنينو کلماتو چي نه يې په غايه پوهيږي او نه يې بدايت ورته معلوم وي ادا کوي او بيا ځانونه د حريت زعما ګڼي او لا بل عنوان ځانته غوره کوي او بيا په همدې حد دريږي. او له دوی څخه ځيني نور د هغه علم په وسيله چي ورته رسېدلی دی د عملي اقدام قصد او اراده کوي او بيا نو د کورونو او استوګنځيو وضع په بله اړوي او خوراکونو، پوښاکونو، فرضونو او د خوراک د لوښو او د کاسې او څمڅۍ هيئت بدلوي او د هغو په تطبيق کښي دومره مبالغه کوي چي له هغې وضع نه بايد ډېر بهتر اوسي چي په اجنبي مملکتو کښي رواج لري او بيا هغه له خپلو مفاخرو کښي او د افتخار او مباهات

نندارتون ته يې وړاندي کوي، او په دې توګه خپل ثروتونه بېرون ته استوي او په عوض کښي يې زينتي شيان واردوي. هغه زينتي شيان چې منظر يې ښه برېښي او اثر يې نه ستايل کيږي. نو له دې کبله د خپل قوم د صنايعو خاوندان وژن ياو په وظيفو کښي کاريګران هلاک کوي، ځکه چي دوی داتوان نه لري چي ټول هغه څه تهيه کاندي چي دغه نوي علوم يې غوښتنه کوي، او لاسونه يې هم له دغي نوي صنعي سره عادت نه لري، او ثروت يې هم کفايت نه کوي چي دغه نوي آلات له لري ملکونو نه راوغواړي، او دا د قوم پوزې پرېکاوی دی چي د قوم مخ بدرنګوي او شان او حيثيت يې راټيټوي، او دا بل څه نه دی مګر دا چي دغه علوم په دوی کښي په خپل اساس ايښوول شوی نه دی او په ناڅاپي توګه له خپل وخت نه پخوا راغلی دی. موږ ته تجربو راښوولې او تېر حوادث ګواهي ورکوي چي د هر ملت مقلدين چي د نورو د افکارو او اطوارو پيرو وي د پردو د تدخل منافذ او کړکۍ ګڼل کيږي، بلکي دوی (د هغه څه له کبله چي د دوی زړونه ترې ډک دي او هغه د هغو کسانو د زړه له کومي تعظيم دی چي تقليد يې کوي او د هغو کسانو تحقير دی چي د دوی په څېر نه وي) د خپل قوم د سر بلا شي او تذليلوي يې او د هر څه تحقير يې کوي او ټول اعمال يې که څه هم ښه اوسي توهينوي او که د ملت په خپلو وګړو کښي يو څه ملي غرور او د همت نښي نښانې پاتي وي نو ټول پرې راټول شي او تر داسي فشار لاندي يې ونيسي تر څو چي د شهامت اثر ترې محوه او د غيرت حرارت يې خاموش کاندي او بيا دغه مقلدين د پرديو غارت ګرو د لښکرو طلايع او مقدمة الجيش ګرځي چي لاري ورته آواروي او دروازې ورته وازوي او بيا يې ځای پر ځای کوي او سلطې او نفوذ ته يې تمکين ښښي. زه د چار له دې ملامتې

څخه نه ډارېږم چې ووايم: كه په افغاني ښارونو كښې لږ څه دغسي كسان واى نو هغه وخت چې انگرېزانو د دغه هيـواد يـو څـه ځمكـې ونيـوې ابدالابد به تر پوتلی نه وای، ځكه چې د علم نتيجه د دوی (د تعليم يافتـه مقلدينو) په نزد د خپلو متبوعينو د مسلك توطيد او استحكام او د هغـوی قوت ته ميلان كول او د هغوی د فنونو د تجليلـو اسـتقبال دی. او بيـا د خلكو د نفوسو په تطمين او د زړونو پـه تـسكين كـښې دومـره مبالغـه او جدي كوښښ كوي څو چې د هغوی له زړونو نه هغه وحشت لري كړي چې د هغه په وسيله خپل حقوق او خپله خپلواكي ساتي، نو له دې كبلـه هر وخت چې اجنبيانو د هر ملت پـه خـاوره كـښې پـښه ايـښې ده دغـه متعلمين او زدكـوونكي بـه ګـوري د دوی مخـې تـه ورځـي او د دوی خدمت ته ځانونه چمتو كړي ښيي، هغه هم وروسته له هغه چـې د دوی په راتګ خوشحالي كوي او ښه راغلی ورتـه وايـي. او بيـا د هغـوی لـه داسي خاصانو او اعتماديانو نه ګرځي لكه چې له همـدوی ځنـي وي او په خپلو هيوادو باندي د پرديو غلبه پر ځانونو او ښرتـه پاتـه كـسانو لـوی بركت شمېري. نو اوس حيله څه او وسيله كومه ده؟ ځكه چې د جرايدو فايده ليري او اثر يې ضـعيف دی، هغـه هـم كـه د جرايـدو د چلوونكـو ضميرونه صحيح اوسي. او نوي علوم او د هغو نقل هم د نوو ځوانانو پـه وسيله مو وليدل چې د ناوړه استعمال له كبله څه بد عواقب لري؟ نو پـه دغسي شرايطو كښې چې وخت تنګ او حال سخت دی څه بايد وكـړی شي؟ چيرته دي هغه جګ آوازونه چـې د غفلـت پـه بـستر ويـده خلـك راويښ كاندي؟ چيرته دی هغه رعد آسا آواز او د تالندي په شان غږ چـې جامد طبيعتونه ولړزوي او خامد افكار وښوروي؟ چيرتـه ده هغـه نفخـه چې دغه سړې ارواګاني ښرته په جسدونو كښې ژوندی او د خپلي صلاح

او فلاح دريځ ځای ته يې محشوري کاندي؟ اقليمونه پراخ او ليري سره پراته دي، د شرقي او غربي، شمالي او جنوبي تر منځ مواصلات نشته او يو بل ته رسېدل ګران دي، سرونه تيټ او پښو ته ځړېدلي او لا پورته آسمان ته حيران-حيران ګوري، سترګي جولان نلري چي وړاندي وروسته، ښي او کيڼ خوا ته وګوري، غوږونه له اورېدو لوېدلي او په زړونو کښي رغبت نشته، خو اوهام او خواهشونه او وسوسې په زړونو او ارادو حکومت کوي او تر نفوذ يې لاندي دی. نو په ملت باندي مشفق او مهربان خلك څه وکړي. وخت لنډ دی او فرص نشته، څه ته لاس واچوي؟ په داسي حال کښي چي خطرونه تر دوی چاپېر دي. په کومه وسيله متوصل شي؟ په داسي حال کښي چي د مصيبتونو استازي د دوی په دروازو کښي ولاړ دي. بحث نه دربانـدي اوږدوم او د بيان لري ميدانونه دې ته بيايم، خو نظر دي هغه سبب ته او هغې وسيلې ته راګرځوم چي په ټولو اسبابو او وسايلو احتوا لري (او د دغه مطلب معنا مخکښي تېره شوې ده) خپل فکر ته جولان ورکړه د هغه ملت د راژوندي کولو په تکل کښي شه چي له نباهت او بيدارۍ نه وروسته خمول او پرامښۍ پرې راغلې اوسي، له قوت نه وروسته ضعيف شوی، له باداری نه وروسته مريي شوی وي، او د لومړي ځل د نهضت او ترقي اسباب يې وپلټه تر څو چي د هغه د خلل مکروبونه او د مرضونو جراثيم درمعلوم شي، نو هلته به پوه شې چي هغ څه چي د هغه خبري د يووالي، د هغه د وګړو همتونو د نهضت او ويښتوب، د هغه د وګړو تر منځ د وحدت او يووالي، د هغه د لوړتيا او سيادت او په ملتونو باندي د هغه د حکومت او نغوذ چلولو عامل يوازي او يوازي هغه دين دی چي اصول يې قايم، قواعد يې محکم، د حکمت به ټولو انواعو شامل، د قوم

په زړونو کښي د الفت اچولو باعث او مينـي او محبـت تـه رابلـونکی، د نفسونو مزکي او د زړونو پاک کوونکی او د حق په برېښولو د عقولو منور کوونکی دی او د بشري اجتاعاتو د مبانيو د هر راز نيازمنديو او اړتيـاوو د پوره کولو ضامن او د هغو د هسـتۍ سـاتندوی دی او خپـل پيـروان او عقيدت مندان د مدنيت ټولو مراتبو ته رسوي. نـو د کـوم ملـت شـريعت چي همدا وي او د دوی د اصلاح او فلاح دپاره راغلی وي او د هـستۍ لوړي مرتبې او منزلت ته يې رسولی هم وي نـو کـه کلـه داسـي خللـی عوارض منځ ته راغلل چي هغه يې له خل مقام او منزلت نـه راپرځـولی وي، د هغې ع لت به هم يوازي همدا و چي دغه ملت به د دغو اصـولو او مباديو له تطبيق نه سترګي پټي کړي او هغه به يـې شـا تـه غورځـولي وي، او لا به يې داسي بدعتونه پکښي راوړي وي چ يهغه ببخـي لـه ديـن څخه نه وي او د دين معتقدين او پيروان هغه د ديـن د ثـابتو اصـولو پـر ځای د دوی او له هغه څه نه مخ اړوي چي دين يې لارښوونه کـړې او د هغه دپاره راغلی او الهی حکمت ته تيار کړی وي، تر دې پوري چـي لـه هغه دين څخه له هغو نومونو نه پرته چي ياداوه شي او له هغـو عبـارتونو نه پرته چي لوستل کيږي نور څه نه پاتيږي، او بيا دغـه نـوي پيـدا کـړل شوي شيان د ملت او د هغه حق تر منځ پرده او حجاب ګرځي کوم چـي کله ناکله يې آواز او ندا اوريدل کيږي. نو د دغه ملت موفـق او کاميـاب علاج په دې کښي دی چي د خپل دين لـه قواعـدو او اصـولو نـه بېرتـه وروګرځي او څنګه چي په لومړي سر کښي و هغسي يې تر تطبيق لانـدي ونيسي او احکام يې عملي کاندي، او عوام به پرله پس موعظـو د زړونـو پاکۍ او د اخلاقو تهذيب نه راوبولي او په زړونو کښي يې د غيرت اور پـه لمبو راولي او دې ته يې دعوت کاندي چي ټول پـه يـوه خولـه او يـوه

خبره شي او خپل ځانونه د قوم د شرف د ګټلو پـه لار کـښې قربـانۍ تـه چمتو کاندي او د خپلو زړونو نه د يـاس او نااميـدۍ لار پـرې نـه بږدي، ځکه چې د دين ريښې له ډېرو زمانو راپه دې خـوا د ميـراث پـه توګـه د خلکو په نفسونو کښې زغلېدلې او په زړونو کښې يې ځای نيـولی دی، او د زړونو په ګوټونو کښې د دين په نسبت د ميني يو پټ نـور ځـای نيـولی دی چې د ملت د ژوندي کولو طالبان کولی شي په يوه پوکې سره هغـه نور په شغلو راولي او په لږ وخـت کـښې يـې افـسون ټولـو اروګـانو تـه ورننوزي نو که د خپلو شئونو د اصلاح دپاره ودرېدل او د خپلې کاميابۍ په لار روان شول او د خپل حـق ديـن اصـول يـې خپـل نـصب العـين وګرځول نو هيڅوک او هيڅ شـی بـه د دوی د لاري مـانع نـشي چـې ځانونه د انساني کمال پای ته ورسوي، او که څوک د يوه دغسې ملت په شان او حال يې دا وي چې موږ بيان کړ له دې نه پرته په بله توګـه او بلـه لار اصلاح غواړي خپل ملت په غلطـه لار روانـوي او تربيـه او د وجـود نظام بالعکس کيږي او بدبختۍ يې لا پسې زياتوي. که څوک زمـا پـه دې خبره تعجب کوي چې د دين حقه اصول چې د بدعت له محدثاتو پـاک وي ملتونو ته د يووالي قوت ښيي او پراګندګي يې راټولوي او د فضيلت شرف ته د ژوند په لذت او خوند ترجيح ورکوي او د فضايلو پـه اکتـساب او د معارف د دايرې په پراخولو يې باعثوي او د مدنيت وروستۍ غايې ته رسوي نو زما تعجب د دوی تر تعجب زيات دی، او که نه وي نـو د عربـي ملت تاريخ خو مو په مخ کښې پروت دی او بد ورته وګورئ چـې د ديـن له بعثت نه دمخه په څه حالت کښې و او په څه بده ورځ او بـدروزګارۍ اخته و؟ ټيټ او پست کارونه به يې کول، منکرات پکـښې رواج او د بـې شپانه رمې په څېر به يې ژوند کاوه خو کوم وتخ چې د اسلام د دين لمـر

پرې راوخوت او پلوشې یې شاوخوا خپرې شوې نو بیا یې دوی سره یو کړل، قوي یې کړل، مهذب یې کړل، عقلونه یې منور ا و ورصیقل کړل، اخلاق یې ورسم کړل، احکام یې ورټینګ کړل، د جهان سیادت یې په لاس کښې واخیست او څوک یې چې د حکوت او نفوذ تر ادارې لاندې راغلل له هغوی سره په عدل او انصاف وچلېدل او انصاف یې د دولت د تشکیل لومړی اساس و. دا هم وروسته له هغه د فرزندانو او زامنو عقلونه یې د مدنیت له لوازمو او د هغه له مقتضیاتو په غفلت کښې وو، خپل شریعت راویښ کړل او د خپل دین ایاتو د ډول-ډول فنونو زده کړي او په هغو کښې تمحر ته یې راوپارول او بیا یې خپلو هیوادو او ښارونو ته د بقراط او جالینوس طب، د اقلیدس هندسه، د بطلیموس هیئت او د افلاطون او ارسطو حکمت راووړ چې له دین نه پخوا له دغه یوه سره هم آشنا نه و. ممکنه ده څوک ووایي چې دغه دی د جاپان دولت چې د دین له وساطت نه پرته د غربیانو د تقلید په برکت د ترقۍ پړاو ته رسېدلی او په خپلو پښو درېدلی دی، جواب دا دی چې هو! د جاپان دولت چې یو شرقي ملت دی د چین له ملت نه په هیڅ شي کښې هیڅ توپیر نه لري، نه په مذهب او اقلیم کښې، نه په عوایدو او اخلاقو کښې، خو دغه دولت عزت وموند، نمو یې وکړه او مترقي شو. او د دې عامل او فاعل له دې نه پرته بل څه نه دی چې دوی په ښه (احسن) منګولي ولګولې او په مدنیت کښې د وړاندي تللو ملتونو په تقلید کښې یې ښه پروګرامونه تعقیب کړل او د هغوی سمي لارې یې غوره کړې. د بتانو پرستش یې پرېښود او د دنیوي علم په زدکړه پسې روان شول او د ډېرو لویو ملتونو تقلید ته یې په ښه توګه غاړه کېښوده او خپلو ښارونو ته یې د سالم مدنیت د قواعدو د راننوتو لار پرانیسته چې د ټولو له طبیعت سره موافق اوسي،

او هغه چي د غربيانو مالوف و او په شرق کښي د شرقيانو له طبـايعو سـره سازګار او برابر نه و پرېښوده او په تدريج سره په دغـه لار روان شـول او د ارتقا قواعد يې د خپل قام دپاره زينه وګرځول او نوو زېږېدلو ته يـې (نـر وي که ښځه) خاصه پاملرنه معطوفه کړه تر څو چي له هغه نـه يـو واقعـي جاپانی مخلوق جوړ شي چي لومړی د خپل قوم دپاره او بيـا د انـسانيت دپاره مفيد او ګټور غړی ثابت شي، نو په دې توګه يې پـه خپـل مطلـوب لاس ومونده او په لږه موده کښي يې خپله ورکه پيدا کړه. هر څه چي دا خبره ده چي د دغه شرقي ملت ارتقا د دين له وساطت نه پرته اتمـام تـه ورسېده جواب دا دی: چي جاپانيانو له خپلي بت پرستۍ نه له دې کبلـه چي هغه د دوی دين و ګټه وانخيسته، دا ځکه د بت پرستۍ دين که څـه هم له يو څه آدابو او اخلاقو بې برخي نه دی خو سره له دې هم د هغـه په اصولو او مباديو کښي داسي څه نشته چي د نيوي چـارو او د مـدنيت مطالبو ته ګټور ثابت شي چي انسان اړه ورته لري، دين که څه هم د هغـه په اصولو کښي هر هغه څه وي چي انسان سعادت ته رسوي او قواعد يې نهضت راولي او انسان د مجد او لوړي څوکي ته پورته کوي خو چي له عمل نه مجرد او يوازي عقيده اوسي نو څه اثر نـه پرېـردي او نـه خپلـو عقيدت مندو ته ګټه رسوي، بلکي په دغو اصولو باندي د نه عمل کولو له کبله خپل پيروان د عزت لـه جګـي څـوکي نـه د ذات ټيټـي کنـدي تـه راپرځوي. او هغه دين چي په اصولو کښي يې هغه څه وي چـي دنيـايي چارو ته هم ګټه رسوي نو خامخا او هرومرو په اصولو کښي به يې دا هـم وي چي خپل پيروان د فضايلو اکتساب ته ولمسوي او پـه خپلـو ځـانونو کښي کريمه اخلاق او حميده صفات زيات پيدا کړي او د ګټورو علومو او فنونو زدکړه خپله فريضه وګڼي. هو! په قرآن کريم کښي راغلي دي چـي

خلك د علم زدكړي ته لمسوئ او د علـم بهتـري او برتـري ثـابتوئ او دا منع كوئ چي غيرعالم عاقل اوسـي لكـه چـي فرمـايي: (ومـا بعقلهـا الا العالمون) يعني له عالمانو پرته بـل څـوك پـرې نـه پـوهېږي. او دا هـم ثابتوئ چي عالم او جاهل برابر نه دي لكه چي وايي: (هل يستوى الذين بعلمون والذين لايعلمون) يعني آيا هغه كـسان چـي عالمـان دي او هغـه كسان چي عالمان نه دي او نه پـوهيږي سـره برابـر دي؟ مـصطفى (ص) فرمايلي دي: (اطلبوا العلم من المهد الى اللحد) يعنـي لـه زانګـو نـه تـر لحده پوري د علم په طلب كښي اوسئ. او داسي نور چي مثالونه يې ډېر دي. او د هغو عواملو له جملې څخه چي د جاپـان پـه ترقـۍ كـښي يـې رول درلودى او په دغه لار كښي يې مساعدت ورسره وكړ او موانع يې له لاري لري كړل په شرق اقصا كښي د جاپان د مجمتعو ټاپوګانو موقعيت و چي د غربي طمع كوونكو لـه نظـره لـري پراتـه او د د هـر مـسالمت او سازګارۍ ورسره مل وه له دغه سبب سره يو بل سبب چي تر ټولو اسـبابو لوى سبب او يو بل عامل چي له نورو ټولو عواملو قوي عامل و مل شـو او هغه د امپراتور (ميكادو) مخلصانه ميل و چي خپل حكومت د اساسـي قانون په ارزښتونو مقيد كـړي او د زړه لـه كـومي شـورى ومنـي او پـه اخلاص سره مشروطه نظام ته تن كېدي، او په دې اخلاص  د دغـه نظـام حامي اوسي تر دې پوري چي له خپلي كورنۍ نه يې يو غړى د رعيت له پوهانو نه يې څو هيئتونه اروپا ته ولېږل تر څو چي د پارلمـاني حكومـت قواعد مطالعه كړي او خپل نظريات او مطالعات تر تطبيق لاندي ونيـسي. حتى د فرانسې امپراتور هغه وخت چي د ميكادو د تره زوى له ده سـره د ډوډۍ پر مېز ناست و ونـشو زغملـى او ورتـه ويـې ويـل: (زه ستاسـي د امپراتور روش ته په تعجب كښي يم چي كوښښ كوي په خپل ملك كښي

پارلماني نظام راولي او د ملت نمايندګانو ته د حکومت پـه چـارو کـښې برخه ورکړي. په داسي حال کښې چي موږ په اروپا کښې که راتـه ممکنـه شي غواړو له نيابي حکومت او پارلماني نظام نه ځانونه خلاص کـړو او د نمايندګانو له تحکم نه ووزو) جاپاني شـهزاده ورتـه وويـل: (اعليحـضرت ميکادو-چي معني يې عادل دی- له څلورو شيانو سره مينه لري او څلـور شيان پرې ګران دي: لومړی له خپلي خاوري او خپل هيـواد او بيـا لـه خپل ملت سره مينه لري او دريم يې عـدالت خـوښ دی څلـورم خپلـه ارامي غواړي، او دغه څلور شيان چي زموږ امپراتور ته تحـسوب دي پـه بل هيڅ ډول نه ميسريږي مګر دا چي د پارلماني حکومت او دستوري او قانوني نظام په وسيله او په دې چي ملت د خپـل ځـان پـه نهـضت او د خپل ملک په صيانت او ساتنه کښې برخه ولري.) هو! پـه شـرق او شـرقي هيوادونو کښې د شـقاوت او بـدبختۍ مـصدر او منـشااو د مـصيبتونو او بلاګانو منبع هغه اجنبـي امتيـازات دي چـي (د کاپيتولاسـيون) پـه نامـه يادېږي، دغه امتيازات لکه چي مخکښې مو وويل په لري ختيځ (چـين او جاپان) کښې او په نږدې شرق(په عثماني هيوادو او فـارس) کـښې څنګـه شروع شول او څنګه په لومړي سر کښې د مهربانۍ په شکل راغلل او بيـا د دغو هيوادو د سر بلا شول؟

جاپان دې پوهېده چي له جهل سره قوت او له علم سـره ضـعف نه وي، نو خپل قهر يې پټ وساته او د غربيانو جـور او سـتم او د هغـوی امتيازات يې وزغمل او صحيح تقليد ته يې لاس واچاوه او اروپا ته يـې د خپلو شاګردانو لېږلو ته دوام ورکړ او د علومو او فنونو پـه ټولـو شـقوقو کښې يې لکه مالي، سياسي، اقتصادي، علمي، زراعتي، طبي او هندسـي مسايل شول په سوونو کرته خپل شاګردان واسـتول. نـو پـه دغـه جاپـان

باندي د پېړۍ څلورمه برخه تېره نه شوه چي خپلي محكمې يې تنظيم كړې او په خپلو ځوانانو كښي يې صحيح علم تعميم كړ او بيا دغه منوره طبقه په دې وپوهېده او ملتفته شوه چي څه شی پر دوی واجب دی چي ويې كړي او د قوم نورو طبقاتو ته يې په وطني مدرسو كښي ور زده كړي؟ نو بيا دوی ته په دغه كوښښ سره يو اجتماعي، قومي او مدني صحيح هيئت برابر شو چي غربي پرنګسانو ته يې مجال پرې نښود چي دا دعوی او لا پر دوی باندي افترا وكاندي چي دوی (شرقيان) د اداري په چارو ښه نه پوهيږي او لا له عمومي حقونو او بشري مطلق عدالت سره آشنايي نلري، بلكي بالعكس ورته ښكاره او ثابته شوه چي د دغو قونسيلي محكمو چي د دغو امتيازاتو په اثر منځته راغلي دي په وړاندي د اروپايي مجرمانو محاكمه كول په مراتبو د جاپاني عادلو محكمو له عدالت نه لري دي، ځكه چي جاپاني قاضيان ډېر پاك او بې الايشه او د رښتيني وجدان خاوندان وو او د هيڅ نوعي نفوذ تر تاثير لاندي نه راتلل، د دغو قونسلانو او قونسلي محكمو بالعكس نه بډو تاثير پرې كاوه او نه د چا جاه او جلال او نه د چا مال او منال تاثير پرې اچولی شو. نو له دې كبله د اروپايي هيوادو سفيرانو (د هغو د هيوادو د ټولو تبعه وو په خواهش) اتفاق سره وكړ چي له ميكادو څخه وغواړي او دا غوښتنه يې ومني چي دغه امتيازات (كاپيتو لاسيون) لغوه كړي او د دوی قضاياوي او د مجرمانو محاكمه يې په جاپاني محكمو كښي وشي ميكادو د دغو سفيرانو دغه پېشنهاد رد كړ او ورسره يې ونه منله چي په جاپاني محكمو كښي د پرديو قضاياوي حل او فصل شي، په دې دليل چي د دوی قاضيان يوازي دومره وخت لري چي د جاپانيانو قضاياوي حل اوف صل كاندي او خپل وخت د پرديو د قضاياوو او شئونو دپاره ضايع كولای نشي، او

شفاهاً يې اشاره ورته وکړه چې دوی بايد خپل دغه امتيازات خوندي وساتي. خو مربوطو دولتو پافشاري وکړه او څو واري يې پېشنهادونه وکړل او رد شول تر څو چې بالاخره د جاپان دولت د دې دپاره چې خارجيان او پردي خلک يې هم له شامل عدل نه برخوردار شي د دغو امتيازاتو د الغا امر صادر کړ. په دغه وخت کښې يو شمېر خارجي متخصصين د ټاکلي مودې دپاره په ټاکلي معاش د جاپان په ځينو ادارو کښې په خدمت بوخت وو او چې جاپاني کوم شاګرد به په اروپا کښې په خپل شق کښې خپل تحصيلات پای ته ورسول او خپل هيواد ته به راستون شو دستي به د خپل دولت له خوا په خپل شق کښې له دغو خارجي متخصصينو سره ملګری کړی شو او دغه جاپانی شاګرد به د هغې ځانګي کارونه په ډېر دقت او حسن صورت انجامول او په لږه موده کښې به يې داس خپل لياقت ورڅرګند کړ چې د ده فرنګی رييس به خجالت ايسته او بيا دغه خارجي اجير رييسان له ځانه وشرمېدل او د جاپان له دولت نه يې وغوښتل چې د ټاکلي مودې له تېرېدو نه دمخه دوی له خدمت نه معاف کاندي او له خپلو معاشونو نه تېر شي. دوی په دې اعتراف وکړ چې د کوم کار دپاره چې دوی استخدام شوي جاپاني ځوانان د هغه په انجام کښې تر دوی بهتر او لايقتر دي او په ښه توګه هغه انجاملای شي په دې ترتيب د جاپان دپاره د نافع تقليد له کبله فوز او کاميابي په برخه شوه او هغه مفيد علوم، فنون او صنايع يې چې اړه يې ورته درلوده په خپل هيواد کښې ترويج کړل او بيا د لويو او وړاندي تللو هيوادو په صف کښې ودرېد، داسي شرقي دولت ترې جوړ شو چې له شجاعت، علم او اتحاد څخه يې وېره کېده. (خلک د هغه څه زامن دي چې ښه يې ګڼي او خدای په خپل خلق کښې د شئونو خاوند دی).

**په دې باره کښي د ده خبره چي په دې عصر کښي تر هر څه ضعيف ترين څيز د ضعيف حق دی چي زور ونلري او قوي ترين شی د قوي باطل دی چي په خپل زور خپل باطل حق ګرځوي**

ده به ويل: په کايناتو کښي ټول موجودات يوه عظيم ناموس تهخاضع او تابع دي چي هغه (زور دی) موږ د قوت آثار په حيوان، نبات، جماد او افلاکو کښي ګورو او له دغو څخه عربو اضطراري حرکات او وظايف لري چي که په خوښه وي او که په ناخوښه، په هغو انيان کوي، او په همدغه قوت چي په (جاذبيه) تعبير ترې کيږي د دې لوی او پراخ جهان نظام محفوظ پاتي دی، او هغ څه چي موږ ګورو چي شپې او ورځې په منظمه توګه يوه بل پسي ځي راځي او هغه څه چي د ځمکي پر سر چي د ثقل او کثافت له مخي مختلف مواد شته او بيا کثيف په لطيف او لطيف په کثيف بدليږي، دا ټول او داسي نور هغه شيان چي د يوه دايمي نظام په توګه خپل حرکت ته دوام ورکوي او د زور او قوت مولود ګڼل کيږي، هغه قوت چي له مادې نه پرته يې تصور نشي کېدای او نه د مادې تصور له هغه نه جلا ممکن دی، او همدغه قوت دی چي د هغه نظام ساتنه کوي کوم چي زموږ په مخ کښي او زموږ په شاوخوا کښي پروت دی او زموږ پر سر سيوری کوي او لا په فضا کښي ګرځي راګرځي. له دې وروسته که موږ (ګيا) راواخلو نو په هغې کښي به د قوت اثر په ډېر وضاحت وګورو، ځکه که ته د ځمکي په يوه برخه کښي ډېر نيالګي کښېنوې چي د هغې ځمکي غذايي مواد د ټولو دپاره کافي نه اوسي نو وبه ګورې چي دغه ژوندي نامي نباتات په خپلو کښي سره په تنازع اخته

کيږي، او بياډېره موده نه تېرېږي چې ځيني يې زياته نمو کوي او حينـي نور مضمحل کيږي او بيا وچ کلک شي او په دې کښې شـک نـشته چـې دغه نامي نباتات يوازي په خوراکي موادو سره تنازع کوي، خو هغه چې قوي وي غذايي مواد ترې جذبوي او هغـه بـل چـې ضـعيف وي تـرې محروميږي او لا پسي ضعيفيږي څو چې محکوم په زوال او له قـوي نـه پخوا فنا شي. څوک چې د نباتاتو د اعضاوو په باره کښې تامـل وکـړي د هغو په منځ کښې ګوري چې په هغو کښې ځيني د دفاع او ځيني د غـذا د جذب دپاره وي، هغه چې د دفاع دپاره وي د اغزو پـه غاښـونو مجهـز وي او په هغو سره د متجاوزينو تجاوز دفع کوي. او هر څهٔ چې حيـواني عالم مخصوصاً انسان دی نو له نورو ټولو شيانو نه په هغه کښې د قوت اثـر په ډېر زيا وضاحت ليدل کيږي، ځکه که ته د انسان هر غړی بېل-بېـل او حتی د هغه د وينو له کرواتو نه يوه کره راواخلي او تر مطالعې لاندي يې ونيسې وبه ګورې چې دغه اعضاوو او دغه کرې په دايمي توګه په تنـازع کښې وي او د غذا د جذب په ميدان کښې يو پر بل باندي سـبقت کـوي او بيا قوي پر ضعيف باندي غلبه مومي. نو بنا پر دې، قوت د ژونـد او بقـا او ضعف د خفا او فنا مظهر دی، نو هر چيرته او هر وخت چـې پـه دغـو مواليدو کښې قوت پيدا شي له هغه سره جوخت او د هغه په څنګ کښې د غير دپاره د ضعف او اضمحلال نـښې نـښانې ظـاهريږي. او دغـه قـوت ظهور نه کوي او نه څوک پرې پوهېدای شي مګر دا چې غير، ضعيف او مسخر کاندي، او هغه څه چې يو وخت په يوه طبقه کښې زور برېـښي لـه دې نه په قويتر کښې ضعف ګڼل کيږي او په دې حساب زور او کمـزوري نسبي امور دي، نو په ځينو هغو نباتاتو چې په يـوه ځـای ي کـرل شـوي وي د ضعف اثر نه ليدل کيږي مګر هغه وخت چې پـه هغـه ځـای ي تـر

هغو قوي تر نباتات موجود اوسي او د دغو قوي نباتـاتو وجـود د ضـعيفو نبتاتاو د زمول توب، مړاوي توب او وچوالي سبب ګڼـل کيـږي او دغـه قوي نباتات د دې پروا نه کوي چــي د خپـل ګاونـډي نبـات طـراوت او تازګي او بالاخر د هغه مستي د دوی له بقا نه قربان شـوه، او پــه همـدې توګه په ټولو ژونديو طبقاتو کښي قوت ګـورو چــي د تبجيـل او اعجـاب مظهر ګڼل کيږي او قوي د ضعيف له خوړلو پروا نه کوي. نو که تـه کـوم باغ او لا باغچې ته ورننوزې او هلته تازه ګلان وګورې او د هغو په څنګ کښي نور مړاوي او رژېدلي ګلان او داسي نوري وچي او مړاوي ګياوي پرتې وي نو ستا نظـر يـوازي تـازه غوړېـدلي ګـلان ځانتـه جلبـوي او د رژېدلو ګلانو مړاوو پاڼو او نورو ژړو وچو ګياوو ته هيڅ ملتف کيږي نـه، دا د دې دپاره چي هغو خپل نضارت ، طراوت او تازګي د قـوي د غلبــې په نسبت له لاسه ورکړې او قوي له ضعيف نه د حيات او بقا اسباب غصب کړي دي او عيناً دغه روش او دغه عمل په جمـاد او حيـوان کـښي هـم ليدل کيږي. ته د هغو ملتونو په باره کښي تامل وکړه چــي د نـورو قـوي ملتونو له خوا هضم شوي او لا ي هضم د (زورورو) ملتونو له خوا متنازع فيه وي او لا د هضم، خوړلو او تېرولو دپاره آماده شوي او نـورو لانـدي کړي اوسي، خپل هيڅ واک او اختيار نلري او قدم پر قدم د محـوي او فنا پر لور مخ پر وړاندي درومي، اعم له دې څخـه چــي پــه زور نيـولي شوي وي او لا په نورو دسيسو چي کښي ورته اشاره وشـوه. د دغـو ملتـو حال هغه کوربه ته ورته دی چي يو مېلمه په خلاصه تنده او پراخـه سـينه په خپل کاله کښي ومني او هرکلی يې وکړي خو بيا په لـږه مـوده کـښي دغه مېلمه لومړی د کور د بنا په شاوخوا کښي په مداخله پيل کوي او بيـا د کور په اثاثيه او بيا د هغه په مصرف، بيا په خوی، عادت، ژبه او اخلاقـو

كښي يې مداخلې كوي تر څو چي بالاخره يې هغه كار ته مجبوروي چي د هغه خوښ نه وي او په زور هغه څه پرې كوي چي اراده يې نلـري، او په هغه څه يې مجبوري چي نه يې له طبيعت سره برابـر وي او نـه يـې د ژوند له ايجاباتو سره، لنډه دا چي عربي ترې جوړ او حريـت يـې سـلب كاندي، او دا په واقع كښي د هر حر او اصيل انسان دپاره په ونيـو لړلـې مرګ او د هر ژوندي او باهمته نفس دپاره فنا ګڼل كيږي. نو چي ته دغـه ضعيف ملتونه له قوي ملتونو سره پـه داسـي حـال كـښي وګـورې چـي ساعت په ساعت د فنا او ضمحلال پر لور درومي او وروستۍ سلګۍ وهي او په دوی كښي د لويو نيكه ګانو هيڅ اثر نه ليدل كيږي او لـه عـزت نـه وروسته ذليل شوي، له غنا نه وروسته فقيران شوي اوسي نو ډېر كرته بـه ته د دوی په دغه خواره زاره وضع افسوس كوې او پرې غمګـين كېـږې په ځكه چي تا دغه باغ تر او تازه، ښـكلی او بـامزه ليـدلی و او اوس وچ شوی او پاڼې او ګلان يې رژېـدلي دي. ای كاشـكي زمـوږ هغـه شـرقي ملتونه چي په دغسي بلا كـښي مبـتلا كيـږي او لا مبـتلا شـوي د حيـوان مرتبې نه ځانونه د نباتاتو مرتبې ته راكـوز او ځانونـه د اغزيـو پـه غاښـونو مجهز كاندي او بيا په هغو سره متجاوزين دفع كانـدي او خپلـه هـستي د طمعه كوونكو له طمعې نه وساتي. د هند په تصرف او اسـتملاك كـښي د انګليس دليل دا و چي هند غني او د طبيعي ثروت او شمتنۍ خاوند دی او په آسيا كښي نظير نلري نو بنا پر دې او د دې اسبابو په موجـب د هنـد امتلاك او استملاك د برتانيې دپاره لازم او حتمي وګرځېد ځكه چـي د برتانيې امپراتوري د هند مالونو او شـتو تـه اړه ده. دا هغـه حـق و چـي انګرېزانو په هند كښي غوښته او ادعا يې كوله!! آيا دې خبري ته ضـرورت شته چي وويل شي چي دا (قبـيح تـرين او باطـل دی) او دا چـي هـيڅ

طمع كوونكى مبطل به په خپله باطله دعوى كښي تر دې بد او رسـوا نـه وي چي په دغسي پلمو د نورو مشروع حقوق تر پښو لاندي كړي څه شی و چي دغه باطل يې د انګليس دپاره حق وګرځاوه؟ آيا له زور او قوت نه پرته بل څه و؟ او څـه شـی و چـي د هنـديانو صـريح حـق او د دوی دا صحيح دليل: چي که زموږ د هيواد شته او مالونـه د انګلـيس دپـاره لازم وي نو زموږ دپاره خو لازمتر دي، باطل وګرځاوه؟ آيا له ضعف نه پرته بل څه و؟ او که هنديان ضعيف او انګريزان قوي نـه وای او بهتـره بـه دا وه چي دري سوه ميليونو هنديانو د لويي برتانيې ټاپو نيولی او استعمار کړی وای، ځکه چي د هغوی شمېر لـه څلويـښتو ميليونـو نـه زيـات دی، پـه مراکش کښي هم همدغسي خبره ده چـي هـسپانيې پـه دې دليـل چـي ورته نژدې دی ونيو او هر څه يې ترې يوړل او ويل به يې چي دغه ملك د هسپانيې دپاره لازم دی، پـه داسـي حـال كـښي چـي حـق دا و چـي مراكشيانو په عين همدغه دليل هسپانيه نيولې وای او په خپل دليـل يـې دا دليل هم ورزيات كړی وای چي موږ ته دغه ملك له موسی بـن نـصير او طارق نه په ميراث پاتي دی او د باهمتو عربو آثار دلته ډېر شته او زموږ په استحقاق شاهدي وركوي. او ژر ده چـي پـاك خـدای پـر مـسلمانانو ورحميږي او دوی د خدای د کتاب احکامو ته په رجوع کولو سره هغـه څه چي يې له لاسه ورکړي بېرته په لاس راوړي او د حق خاوندان بېرتـه د ملك، عزت، مجد او قدرت خاوندان شي چي ده خپله فرمايلي او وينا يې حق ده: (وكان حقاً علينا نصر المؤمنين) يعني او په موږ دی د مومنـانو نصرت.

**په عامه توګه د اسلام او مسلمانانو او د هغو اسبابو په باره کښي د ده نظر چي د دوی د انحطاط موجب شوی دی، سره له دې چي د دوی په دين کښي د نهضت دواعي او د ترقۍ ټول اسباب په وفرت شته، د هغو ملتو په عکس چي د دوی په دين کښي هيڅ يو داسي څيز نشته چي دوی هغه څه ته ولمسوي چي پکښي شته، او نه هغه څه پکښي شته چي حربي امادګي ونيسي او لا يې هغه نهضت ته ولمسوي چي پکښي مشهور دی او په دغه باره کښي د ده فلسفه**

هو! جمال الدين په دقيقو معانيو او د هغو په تحديد او په بهترين صورت د هغو په ابراز باندي ښه تسلط درلود او د مشکلاتو او معضلاتو پــه حل کښي د ښه قوت خاوند و او هر چا ته چي به په هره موضــوع کــښي مشکل پيدا شو او ده ته به يې وړاندي کړ ده به په لنډه او بليغه وينــا هغــه مشکل حل کاوه او د غموض پرده به يې ترې لري کوله نــو بيــا بــه پــټ، ښکاره او مشکل به حل کېده، له دې جملې څخه يوه ورځ جمال الدين په بېلو-بېلو ساعتو کښي له يو شمېر د فضل لــه خاونــدانو ســره مقابــل او مخامخ شو داسي برېښېده لکــه چــي دوی ســره وعــده دار وي او لا يــې اتفاق سره کړی وي چي له سيد نه د يو مشکل پــه بــاره کــښي توضــېحات وغواړي او پوښتنه ترې وکړي، او هغه دا و چي نصاری او مسلمانان دوه ملتونه دي چي د خپلو ديانتو د اصولو پر خلاف لومړي ملــت(نــصاری) د دوهم ملت (مسلمانان) پر عکس د حربې وسايلو په تهيه او د غلبې مونــدلو په تکل دی او هر راز آمادګي نيسي، تر دې پوري چي د دغو دواړو ملتــو د پيروانو په باره کښي نظر کوونکی حکم کوي چي له دوی څخه هر يوه

د بل پر کتاب عمل کړی دی. په دې معنی چې نصاراوو په هغه څه عمل کړی دی چې په قرآن کښې دي او مسلمانانو په هغه څه عمل کړی چې په انجیل کښې دي. د سید جواب د وروستني پوښتونکي د پوښتني په برابر چې عین هغه پوښتنه یې کړې وه چې تر ده پخوانیو واردینو کړې وه دا و: چې آیا تاسي یو له بل سره وعده دار وئ او اتفاق مو سره کړی و چې دغسي پوښتنه له ما وکړئ؟ هغوی وویل: چې نه! نو سید د دوی د پوښتنو له توارد څخه په تعجب کښې شو او ویې ویل:

کوم شي چې تاسي درسولي وئ زه یې هم درولی وم او دغه مشکل زه هم له تاسي نه پخوا حیران کړی او د هغه حل ته یې رابللی وم او زه اوس ستاسي پاملرنه هغې مقالې ته راګرځوم چې یوولس کاله دمخه مي لیکلې وه او مقدمه یې دا وه:

پاک خدای انسان یو (صناعي) عالم پیدا کړی او د ځان د پاره یې د کار لار ورته آواره کړې او د ابداع او اختراع قدرت یې ورکړی او د ده روزي یې د ده د لاس په عمل مقدره کړې ده. بلکې دغه کار او عمل یې د ده د هستۍ رکن او د ده د پایښت ستن ګرځولې ده. نو انسان په هر حالت کښې چې وي، په تنګسیا کښې وي او که په پراختیا کښې، په سختۍ اخته وي که په آسانۍ، په بدویت کښې وي او که په مدنیت کښې په دا ټولو حالاتو کښې دی د خپ لاس عمل ته اړی دی، هغه څه چې دی اغوندي او په هغه سره ځان له یخنۍ او ګرمۍ نه ساتي د ده د لاس د عمل نتیجه ده د اغوستو د اولي موادو له ټولېدو نه نیولې تر اوبدلو او ګنډلو پورې د انسان د عمل اثر دی، د ده د استوګنې ځایونه، کوټې او ماڼۍ داسي نورې سرپناوې د ده د تقدیر او تدبیر، عمل او تفکیر مظاهر دي، او ټول هغه څۀ چې په هغو کښې د رفاهیت او نعیم د دواعیو تفنن

کيږي خاص د ده دعمل صور او د ده د افکار د جولان اثر ګڼل کيږي، او که څوک د زمانې په يوه ساعت کښې لاس له کاره وباسي او ځان طبيعت ته وسپاري چې د ده د ژوند وسايل ورته فراهم کاندي هرومرو به هغه بخل پرې وکړي او هيڅ يو شی به ورنکړي بلکې د عدم او نيستۍ کندې ته به يې ورواچوي. او دی په خپله صنع او ابداع کښې يوه داسې استاد ته چې اعتماد پرې لري او داسي هادي ته چې لارښوونه يې کوي احتياج لري، او څنګه چې د معيشت د لوازمو د ډيرښت او د ژوند د ضرورياتو د تامين دپاره کار کوي همدارنګه کار کوي چې څه زمده کړي او زده کوي يې چې څنګه کار وکړي او قدرت پيدا کړي چې په ښه توګه خپل کار سرته ورسوي(نو کار هم د ده له صنعي څنی دی) نو دی د ژوندانه په ټولو شئونو کښې (صناعي عالم دی) لکه ګواکي چې له طبيعت او د هغه له آثارو بېخي منفصل او جلا وي او طبيعت ته دومره اړه لري لکه چې کارګر يې د کار آلاتو او اسبابو ته لري. انسان همدغه انسان دی چې تا وپېژاند چې په خوراک، څښاک، لباس او مسکن کښې خپل عمل ته ضرورت لري. دی همدلته پرېږده او د ده نفسي حالات، لکه ادراک، تعقل، اخلاق، ملکات او روحي انتفعالات شول په نظر کښې ونيسه، په دغه ساحه کښې به هم دی يو صناعي عالم ومومې، د ده شجاعت او جبن، وارخطايي او صبر، سخا او بخل، شهامت او خساست، نرمي او قساوت، عفت او بې عفتي، او نور هغه شيان چې فضايل او رذايل ګڼل کيږي دا ټول د لومړنۍ تربيې او د هغه محيط مولود دي دی پکښې لوی شوی او نشئت يې پکښې موندلی دی. نو د ده د افکارو هدف او د تعقل نهج او د ميل مذهب او د رغبنون نظرګاه او په الهي اسرارو باندې د پوهېدو اشتياق او په طبيعي خواصو کښې بحث ته د ده

ميلان او په هر څه کښي د حقيقت د کشفولو څېړنه او نور هر څه چي پـه فکري حرکاتو پوري ارتباط لري دا ټول هغـه شـيان دي چـي پلرونـو او مېندو، خپلوانو او کور او کلي ده ته امانت سپارلي دي، او مزاج، دماغ، د بدن ترکيب او نور طبيعي شيان په نفسي اعراضو او روحي صفاتو کـښي هيڅ تاثير نلري مګر دا چي د استعداد او قابليت له مخي توپير سره ولـري او که څه هم ولري خو تربيه او هغه څه چي د ده په نفس کښي د کور او کلي د معاشرت او د استادانو د تعليم له کبله انطباع مومي دغه اثر داسـي له منځه وړي لکه چي طبيعت هيڅ شی د ده دماغ ته سپارلی نه وي. هو! دا منم چي افکار تجدد مومي او نوي کيږي او معلومـات يـو لـه بـل نـه زېږي، صفات لوړېږي او همتونه لوړتيا مومي او بيا ګمان کيږي چي دا د طبيعت له تصرفاتو څخه دي نه د اکتساب له آثارو څخهو خو حقه خبـره دا ده چي دا د هغې وني مېوه ده چي ايښوول شوې او د هغه څه نتجـه ده چي کسب شوی دی. نو انسان په خپل عقل او په روحي صفاتو کـښي هم يو صناعي عالم دی لکه چي دمخه وويـل شـو. دا هغـه حقيقـت دی چي هوښياران او د پوهي خاوندان شک نه پکښي لري، خو آيـا لـه دې سره-سره دې ته دي هم فکر کړی دی چي بدني اعمال خاص له ملکـاتو او روحي عزمونو او ارادو نه صادرېږي او روح په بـدن بانـدي حکومـت کوي، ګمان کوم چي دا خبره ثبوت ته ضرورت نلري، ځکه چي دا خبره له اذهانو نه پټه نه ده، نو پخوا له دې چي په موضوع کـښي داخـل شـو بايده ده چي د دين په باره کښي يو حقه خبره وکړم. ديـن چـي دی يـوه الهی وضع ده او هغه معلم او هغه ته رابلونکی هم بشر دی چي عقول يې له (مبشرينو او منذرينو) زېری ورکوونکـو او ډاروونکـو زده کـوي او لـه دوی څخه په تبليغ، تعليم او تلقين سره رانقليږي. او دين د ټولـو ملتونـو

په نزد او عقيده لومړنى ځيز دى چي په زړونو کښي ځاى نيسي او پکښي راسخ کيږي او په عقايدو سره يې انساني نفوس رنګ اخلي چي په حقيقت کښي د روح سلطان هدغه دين دى او تل د هغه څه لارښوونه کوي چي په هغه سره د بدن تدبير کيږي، ګواکي انسان په خپل لومړي نشئت کښي صيقل شوې لوحه او تخته ده او تر هر څه لومړى چي په هغې کښي نقش مومي هغه دين دى، او بيا د دين په بلنه او لارښوونه يې نورو کارونو ته لمسوي، او هغه څه چي له دين نه پرته پره ځينو نفوسو طاري کيږي هغه شاذ او نادر دى بلکي که يو څوک له خپل دين نه ووزي هم د هغه له اثراتو بېخي وتى نشي او لکه چي د زخم پرهار پاتي کيږي همدارنګه د دين ځيني آثار هم په سړي کښي پاتي کيږي. له دينه وروسته اوس زموږ بحث موضوع (مسېحي ملت) او (اسلامي ملت) دى، او دا اوږد بحثدى، خو زه به يې په داسي مجمله توګه بيان کړم چي تا يې له تفصيل ځني خبر کاندي. مسېحي ديانت په مسالمت او په هر څه کښي په آسانتيا بنا دى ، قصاص او کسات اخيستل له منځه وړې دنيا او د دنيا نوري ګټي شا ته غورځوي او د جاه او جلال احساس وژني او خپلو پيروانو ته وعظ او لارښوونه کوي چي د هر حکومت تابع او خاضع اوسي، او د سلاطينو مالونه سلطانانو ته پرېږدي، او له خپلو شخصي او قومي شخړو ا منازعاتو ګشه شي، حتى ديني منازعات هم پرېږدي، دا د انجيل له وصاياوو څخه دى چي که چا په يوه مخ ووهلې بل مخ ورواړوه. دا هم د انجيل له اخبارو څخه دى چي وايي، (د پادشاهانو ولايت او حکومت په اجسادو باندي ((چي فاني دى)) دى او حقيقي او دايمي ولايت په ارواګانو باندي يوازي تر خداى پوري مختص دى). نو څوک چي د دغه دين په مباديو واقف وي او زموږ دا خبره هم په نظر

کښې ونيسي چې (دين په افکارو باندې قوي سلطه لري) او دا ملاحظه هم وساتي چې (هر خيال او فکر په اراده باندې يو اثر لري چې بدن د هغه په حکم حرکت کوي) نو بيا به د دغه مسالمت آمېزه دين د پيروانو او اطوارو ته په ډېر تعجب ګاتې شي، ځکه چې دوی د دغه ژوند په زينت او د هغه د عيش په رفاهيت، مفاخره او مباهات، وياړ او افتخار کښې مسابقه کوي او يو له بل نه ځان وړاندې کوي. او د هغه د لذتونو په فتحه کولو او د لري-لري ملکونو په نيولو کښې چټکي کښې، او هره ورځ د جنګي فنونو نو يفن اختراف کوي او وژونکي، ورانوونکي او هلاک کوونکي حربي آلات جوړوي او يو پر بل يې استعمالوي او د هغو په وسيله پر نورو باندې حمله کوي او د جنګ په ميدانون کښې د لښکرو په ترتيب او د سوق په تدبير کښې ډېره مبالغه کوي او خپل عقول او افکار د عسکري نظام په احکام او استحکام کښې صرفوي، تر دې پورې چې نن عسکري فن تر ټولو فنونو پراخ او سخت ګرځېدلي دي، په داسي حال کښې چې دد وی د دين اصلو دوی له دې نه منع کوي چې دغه کار ته اعتنا او پاملرنه وکړي، حتى دوی د خپلو مالونو له ساتني نه منع کوي، دا خو لا پرېږده چې دوی د بل چا مال ته طمعه وکړي او نور خلک ووژني او بيا د هغوی مالونه ترې واخلي؟! او د اسلامي ديانت اساس د غلبې او شوکت، فتح او عزت په طلب ايښوول شوی او مسلمانانو ته امر شوی دی چې هر هغه قانون شا ته وغورځوي چې د دوی د شريعت پر خلاف اوسي ا و هيڅ يوه حکومت ته غاړه کښېنږدي چې د دوی د شريعت احکام نه تنفيذوي. نو د دغه ديانت په اصولو کښې د نظر او مطالعې خاوند او چا چې د دغه شريعت د منزل کتاب يو سورة لوستی وي له شکه وتلې حکم کوي چې د دغه دين معتقدين او پيروان بايد په جهان

کښي لومړی حربي ملت وي او د حربي آلاتو پـه اختـراع او د عـسکري علومو په اتفاق او کره والي او د دغو علومو پـه تبحـر کـښي تـر هـر چـا وړاندي وای او له دې سره-سر بايده ي چي په طبيعياتو، کيميا، هندسـه او داسي نورو ضروري علومو کښي يې لـوی لاس درلـودای. او څـوک چي په دې آيت کښي: (واعدو الهم ا استطعتم من قوة) تامل وکړي يقين به يې راشي چا چي د دغه دين رنګ اخيستی اوسي په دې رنګ بـه هـم رنګين شوی وي چي له غلبې سره به مينه لري، په هغې پسي به ګرځي او هر هغه څه ته په لاس اچوي چي دغه مطلب ته يې د رسـېدو لار آواروي او په دغه لار کښي به د بشري توان په اندازه خپل کوښښ جـاري سـاتي.
دا خو لا څه کوې چي د نورو له تقلب نـه ځـان وسـاتي؟! څـوک چـي وګوري چي اسلامي شريعت شرط ايښوول (مراهنـه) پـه هـر څـهٔ کـښي حرام کړي مګر په آس دوانۍ او نښه ويشتو کښي، دا به ورته څرګنده شي چي د اسلام شارع د عسکري فنون زدکړي ته څومره رغبت لري؟ خو له دغو ټولو سره-سره به هک پک حيران شي چي ګوري د دغه دين پيروان په دې وختو کښي د قوت پروا نه کوي او د قوت د لوازمـو پـه طلـب او غوښتنه کښي سستي کوي او د جنګ په فنونو ا د هغو د آلاتو په اختـراع کښي د تفوق خيال نه ساتي. تر دې پور يچي نورو ملتونو په هغه څه کښي په دوی تفوق ومونده چي کړی يې د دوی لـه واجبـاتو نـه و او دې تـه مجبور شول چي په هغه څه کـښي د هغـوی تقليـد وکانـدي چـي دوی احتياج ورته لري چي هغـه دغـه عـسکري فنـون او حربـي آلات دي او اکثره يې د خپلو مخالفينو تر سلطې لاندي راغلل او د هغوی اطاعت يې ومانه او د هغوی احکامو ته يې غاړه کېښوده او څوک چـي دغـه دواړه ديانتونه سره وتلي او موازنه يې کانـدي حيـران بـه شـي چـي د لـومړي

دیانت زامنو څه راز-راز حربي لوازم اختـراع کـړل او د دوهـم دیانـت زامن ترې خبر قدر ته هم نه دي؟ هغوی چې د مسالمت آمېـزه او صـلح خوا دیانت پیروان دي د همدغه دیانت د زامنـو پـه مـساعدت یـې ټـول حربي فنون زده او حربي آلات يې اختراع کـړل او د جنـګ او غلبـې د دين خاوندان محروم ترې پاتي شول؟ څنګه به حکیم حیران نشي که څه هم حاذق اوسي؟ څنګـه چـې خبیـر او بـصیر اناسـن د دغـه حقیقـت د معلومولو دپاره توقف ونکړي؟ آیا تېري پېړۍ او تېري زمانې کافي نه وې چې د دغو دواړو دینونو د پیروانو په زړون کـښي خپـل دیانتونـه رامـخ کاندي؟ آیا د دواړو دینو پیرانو خپـل ادیـان لـه پخـوا پېړیـو نـه شـا تـه غورځولي وو؟ آیا نصاراوو په خپل دین کښي یوازي د موسـی د شـریعت او د یوشع بن نون د سیرت پیروي غوره کړې ده؟ آیـا د خـدای سـنت د دواړو ملتونو په باره کښي بدل شوی؟ آیا په دواړو ملتو کـښي د طبیعـت مجری ګرځېدلی؟ آیا بدنونه په ارواګانو غالب شوی او لا افکار د دین لـه تسلط نه وتلي دي او لا انساني نفـوس د دیـن پـه نقـشه بانـدي د انتقـاش استعداد له لاسه ورکړی دی؟ په داسي حال کښي چـې دیـن پـر نفوسـو باندي اعلی حاکم او په هغو قوي موثر دی آیـا علـل لـه خپلـو معلولاتـو تخلف کوي؟ آیا د اسبابو او مسبباتو تر منځ نسبت قطع کیږي؟ څه شی به وي چي د دغو پټو شیانو کشف او ددغـو معمـی ګـانو حـل تـه د عقولـو لارښوونه وکړي؟

آیا دا اوس ددواړو ملتونو نژادي توپیر تـه منـسوب کـړی شـي؟ حال دا چي د دواړو ملتونو ډېر قومونه یوه اصل ته رسیږي او په نسب او نژاد کښي سره نژدې دي. آیـا دا د دواړو ملتونـو د هیـوادو او اقلیمونـو اختلاف او تفاوت ته منسوب شي؟ حال دا چي د دغو دواړو قبیلو اکثـره

اقليمونه د ښارونو په طبيعت کښې سره ورته او سره ګاونډي دي. آيا هغه وخت چې مسلمانان د خپل دين په ځواني کښې وو له دوی څخه داسې کارونه ونشول چې سترګې يې وبرېښولې او زړونه او عقلونه يې هک پک حيران کړل؟ آيا له دوی څخه د فارس، عربو او ترکانو په څېر نور نشته چې ملکونه يې لاندې کړل او د سيادت او بادارۍ په کرسۍ کښېناستل؟ هو! مسلمانانو په صليبي جنګونو کښې او رين (ناري) آلات چې توپونو ته ورته وو درلودل چې مسيحيان يې وويرول او وارخطا يې کړل. ملکام سرکم انګليسي مورخ ليکلي دي چې غزنوي سلطان محمود له هندي بت پرستانو سره په توپونو جنګېده چې په څلورمه هجري پېړۍ کښې د هنديانو د ماتې له مهمو اسبابو ګڼل کيږي. نو دا د دهر کومه مرسته وه چې د مسيحيانو لاس يې ونيو او هغه څه ته يې وړاندې بوتلل چې د دوی د دين په اصولو او قواعدو کښې نه و، او بيا دا د د دهر کومه صدمه وه چې مسلمانان يې پر سينه ووهل او د هغو وسايلو له تدارک نه يې شا ته وتنبول چې د هغو تدارک د دوی د دين لومړۍ فريضه وه؟ دا د حيرانتيا مقام او د تعجب ځای دی؟ هرومرو به دلته يو سبب موجود وي، هو! سبب شته او تفصيل يې اوږد دی خو موږ به يې په مجمله توګه وړاندې کړو.

په اروپايي هيوادو کښې د مسيحي دين د سيوري امتداد او اوږدوال ياو د هغه د دعوت عموميت خاص په روماني نسل کښې رواج وموند او دوی ته له خپلو پخوانيو اديانو علومو، او شرايعو نه ځينې عقايد، آداب، ملکات او عادات په ميراث پاتې شوي وو او مسيحي دين دوی ته په مسالمت آمېزه توګه راغی چې د دوی له عوايدو او د عقولو له مذاهبو سره يې کار نه درلود او د اقناع له لارې ورداخل شو نه د

قمچيني او برچې په زور، او هغه څه يې چې ترې سـلب نکـړل چـې لـه خپلو پخوانيو نه په ميراث ورته رسېدلي وو. له دې سره-سره د انجيل لـه هغو صحيفو سره چې خلک يې صلح او سلم ته رابلل عام خلک آشـنا نـه وو بلکې يوازې له روحاني رييسانو سره پټ پراته وو، له هغـه نـه وروسـته کوم وخت چې روماني عالمانو د قانون ګذارۍ منصب پر غاړه واخيست او د صليب جنګ ي قانوني وګاڼه او د دين پـه نامـه يـې خلـک هغـه تـه راوبلل نو د دغه دعوت آثار له ديني عقايدو سره ګډ شـول او يـو پـه بـل کښې سره ننوتل، او د دې په اثر په اروپا کښې د مسيحيانو عقايد مضطرب شول او بېلې-بېلې ډلې ترې جوړې شوې او د بېلو-بېلـو مـذهبو پـر لار روان شول او په دين کښې له سلطې سره په تنازع کښې شول او بيا هغـه څه چې د دوی اجدادو او نيکه ګانو د دوی د وجود پـه ريـښو کـښې پـه آمانت ايښی و د برق په څېـر وپړکېـدل او لمبـه شـوه او د ډېـرو فنونـو زدکړې ته يې لاس وروا چاوه او د دوی دپاره د فکر مجال پـراخ شـو، او ډېر څه چې دوی ته يې فايده ورسوله هغه پـه صـليبي جنګونـو کـښې د شرق پر لور د دوی لښکرکښې وه او له دغه وخت نه په عـسکري فـن او د دفاع او جنګي آلاتو په اختراع کښې د دوی تفوق شروع شو او په نـورو فنونو کښې هم د تفوق خاوندان شول. هر څه چې مـسلمانان دي، دوی که څه هم د خپل دين په لومړي سر کښې له هر جنګي کمال نه برخه پـه لاس راوړه او په هر عسکري افتخار کښې يې غشي په نښه ولګېده، بلکې د نېزه بازۍ په فن او د آسانو د سپرلۍ په جنګ او د تن په تـن د جنـګ پـه علومو کښې تر ټولو ملتونو وړاندې لاړل خو بيا په دوی کښې د ديـن پـه نامه ځيني کسان پيدا شول او په دوی کښې يې راز-راز بدعتونه رواج او د دين له اصولو سره يې ګډ کړل چـې د دوی لـه ديـن څخـه نـه وو او

داسي ي د دوی په زړونو او دماغونو کښي ځای ونيو چې دوی يې له کار او عمل نه وايستل، دا هغه څه وو چي په دريمه او څلورمه پېړۍ کښي زنديقانو او له هغه وروسته سوفسطايانو په دين کښي ورننويستل، هغه سوفسطايان چي د وجود له مشاهرو منکر وو او هر څه يې خيالي شيان ګڼل او ويل به يې چي دغه ټول شيان اوهام او خيالات دي چي په نظر برېښي او ثابت حقيقت نلري، او له دېنه برسېره د احاديثو دروغجنو ناقلينو په خپلو کتابونو کښي جعلي احاديث داخل کړل او د شرعي خاوند ته يې منسوبول چي هغه ټول د غيرت د روح وژونکي زهر وو. که څه هم د حق د خاوندانو د تحقيق په اثر صحيح له باطل نه جلا کړی شول خو تاثير يې له عوامو پورته نشو، مخصوصاً وروسته له هغه چي د تحصيل په طرز کښي ضعف او نقصان راغی او د دين د حقه اصولو په ارشاد کښي قصور پېښ شو، هغه ثابت مباني او اصول چي نبي(ص) او د هغه يارانو هغو ته خلک رابلل او پرې معتقد کول به يې. د دين تعليم په سمه طريقه نه کېده او ديني درس له واهياتو ډک و، مګر دا چي ځيني خاص او ډېر لږ علماوو چي دغه نقصان ته ملتفت شوي او په سمه طريقه به يې درس ورکاوه، او دغه راز علما که له يوې خوا لږ وو له بلي خوا به له محيطي مشکلاتو سره مخامخ شول او موانع به يې مخي ته ودرېدل. شايد همدا يې د توقف علت بلکي د بېرته پاتېدو موجب وي، او همدغه شی دی چي موږ يې نن سخت ستومانه کړي يو او له خدای نه هيله لرو سلامت مو ترې وساتي. خو باخبر! چي دغه عوارض چي د دين پر مخ يې پرده اچولې او د مسلمانانو زړونه يې د هغه له رعايت نه ګرځولي (که څه هم دغه پرده پنډه او پرېړه ده) مګر د دغو عوارضو او صحيحو عقيدو تر منځ دايمي تدافع او تغالب موجود دی، او د حق او باطل تر منځ

منازعه هغې مدافعې ته ورته ده چي د مـرض او مـزاج د قـوت تـر مـنځ همېشه روانه وي، او له دې کبله چي حق دين لومړنی رنګ دی چـي د مسلمانانو د زړونو لوحه يې رنګ کړې او د هغه د برق رڼا د دغـو عارضـي وربځو لاندي د دوی په زړونو رڼا اچوي يوه ورځ به راشي چي روښنايي يې راپورته شي او د غفلت وربځـي وځيـري. او تـر څـو چـي قـرآن پـه مسلمانانو کښي لوستل کيږي (هغه قـرآن چـي د دوی منـزل کتـاب او د دوی حق امام او پېشوا دی او تل دوی ته د خپلي حوزې په ساتنه او لـه خپل هيواد نه په دفاع کولو او په تجاوز کوونکو باندي د غلبې موندلو او په دفاعي ترتيباتو نيولو امر کوي) موږ څه شک او تردد نلرو چي دوی بـه بېرته هغه څه ته راوګرځي چي د نشئت په لومړي سر کښي و او هغـه څـه چي ترې سلب شوي بېرته په لاس راوړي او بيا به له نورو نـه پـه جنګـي فنونو کښي وړاندي شي او خپل حقوق به وساتي او ځانونه به له ذلت او خوارۍ نه وباسي او د ملت د ضياع مخه به ونيسي. (او ټول امور خدای ته راجع کيږي).

## د جبريه او معتزله مذهبونو يادونه او د قضا او قدر په باره كښې د ده رايه او په دغه باره كښې د ده افاضه

په تېرو بحثونو كښې چې مـوږ د سـيد جمـال الـدين سـيرت او صفات بيانول دا خبره معناً تېره شوې ده چې (خلكو د ده پـه بـاره كـښې مختلف نظريات درلودل او د ده په پېژندګلوۍ كښې لرې سره لوېدلي او د ده د معرفت صورتونه د ده د حال د پېژندلو د هيله منـدو پـه مخيلاتـو كښې متباين وو) تر دې پورې چې ګواكې دا يو كلي حقيقت دی چې په هر ذهن كښې له هغه ذهن سره په مناسـب ډول متجلـی شـوی او لا يـو روحي قوت دی چې د هر چا په نظر كـښې پـه يـوه شـكل برېـښېدلی او حقيقت يې پېژندلی نه دی، په داسې حال كښې چې دغه شخص چـې د صاف جوهر او پاك طينت خاوند و د واهمينـو وهـم او د اټكـل چيـانو اټكل ورته رسېدلی نه و او نه يې په هغه توګه پېژندلی و چې و. هـو! د ده حاسدانو د هغه څه له كبله چې د فلاسفه وو كتابونو د ده فكر ته سـپارلی او د هغو بحثونو له كبله چې ده بـه پـه خپلـو جـدلي منـاظراتو كـښې د هغوی د عقايدو د بيانولو په باره كښې كول وكولی شو چې په ده ځينـې تهمتونه او تورونه ولګوي په داسې حال كښې چې د ده مطلب به له دغو بحثونو نه د هغوی د مذاهبو او بدعتونو ښكاره كول وو پرته له دې چـې په هغو عقيده ولري او لا ورته مايل اوسي، بلكې د هغو ترديد به يې كـاوه او په بطلان به يې دلايل اقامه كول، او دا خبره د سيد جمال الدين هغـه وينا تاييدوي چې په (آستانه) كښې يې يوه چا ته چې د علمـاوو پـه لبـاس ملبس وو او د ګېلې په څېر بګړۍ يې پر سر او د خاكش په څېر چپن يـې اغوستې وه وويل: (ای سړيه! د خپلو ناوړو معقولاتو او په منقولاتو باندې

د خپلي ناپوهی له کبله مو د دين حقايق ضايع کړل). سبب دا و چي دغه سړی يوه ورځ د سيد جمال الدين مجلس ته راغی او پرته له دې چي ست ورته شوی اوسي په لوړ سر کښي کښېناست او سيد جمال الدين د خپل عادت له مخي چي د خپلو مېلمنو او زيارت کوونکو عزت به يې ساته هيڅ ورته ونه ويل او پرې يې ښود چي تر ټولو لوړ کښېني، خو چي دغه وخت بحث د معتزله وو، قدريه وو، او جبريه وو د خبرو او عقايدو په باب روان و دغه پګړی والا ملا راپورته شو او په بحث کښي راولوېد او د دغو اختلافاتو او نظرياتو په شرحه يې پيل وکړ. هغه اختلافات او نظريات چي د هغو په حل کښي لوی-لوی پوهان او د کلام د علم نامتو عالمان عاجز شوي او له عهدې يې وتلي نه دي. جمال الدين پرېښود چي ښکته پورته وځغلي او هغه خوا او دې خوا غوټې ووهي او په ناپوهی ځان وستايي اوهر څه چي په خوله ورځي ووايي تر څو چي يې جعبه ا کيسه تشه شي. نو د شيخ تمه پيدا شوه چي د ده خبرو په مجلس اثر کړی او معقولي او په زړه پوري خبري کوي. او په لومړني چا چي يې حمله وکړه او پر ورويې دانګل جارالله زمخشري و او ډېر بدرد يې ورته وويل او تر طعن او لعن لاندي يې ونيو تر دې چي ويې ويل: دغه زمخشري چي دی هر څوک چي د ده کشاف نومی کتاب لولي د اهل سنت له ډلي وزي او د ملحدانو له جملې څخه ګرځي. په دغه وخت کښي سيد جمال الدين اوږد اوسېلی له خولې وايست او د خپل عادت پر خلاف يې چي له خپلو مېلمنو سره به يې مماشات اکوه پر مخ يې د تاثر نښي نښانې ځرګندي او وچولی يې تريو شو او ويې ويل: ای حضرت شېخه! آيا کولای شې چي د جارالله زمخشري د لغزشونو ځايونه موږ ته وښيې ترڅو چي موږ هم ځانونه ترې وژغورو ؟ او هغه څه ته به مو ملتفت کړې

چي ده افراط پکښي کړی او ستا په ګمان د هغه د الحاد سبب شوی دی؟ ملا ورته وویل: چي د ده په باره کښي همدومره بس ده چي دی له معتزله وو څخه دی او په خپل تفسير کښي د جبريه وو له مذهب نه دفاع کوي او د ده د تکفير دپاره هم همدا بس ده چي علامه ابن خلدون په خپله مقدمه کښي ويلي دي چي واجب او لازم دی چي دزمخشري تفسير ونه لوستل شي او هر عالم چي د ابن خلدون له دغه اجتهاد سره مخالفت کوي هغه به له دين نه وتلی، ګمراه او د مسلمانانو ګمراه کوونکی ويز په دغه وخت کښي جمال الدين له خپل ځای نه راولاړ شو او د ملا مخي ته ودرېد او ورته ويې ويل:

ای حضرت شيخه! که تا جواب راکړ چي د اشتقاق او مذهب له مخي د اعتزال معنی څه ده او الحاد لغتاً او اصطلاحاً څه معنی لري او جبر او جبريه، قدر او قدريه لغتاً او اصطلاحاً څه معنی ور کوي نو بيا به زه بحث درسره وکړم چي ته پر حقه يې او که جارالله زمخشري؟ نو بيا دغه ملا د هغه معهود عادت له مخي چي دغه راز ملايان يې لري او يو څو جملې يې له مختلفو علومو نه زده کړي وي او بيا د مجلسونو په سر کښي کښېني او هغه له خولو څخه وباسي او ساده خلک پري غولوي چي دوی د علم له محيط بحر نه خروب شوي او له متبحرو علماوو ګرځېدلي او د محققو وارثينو مرتبې يې موندلي دي داسي جواب ورکړ، ای حضرت سيده! دا ماته کوم اهميت نلري چي په هغه څه لغتاً او اصطلاحاً پوه نشم چي تا يې له ما نه پوښتنه کړې ده او زما دپاره همدومره بس ده چي الحمدالله د سليمانيې د مدرسې له لويو علماوو او مدرسينو څخه يم او د ټولو عقلي او نقلي علومو او خلاقياتو او د هغه څه زدکړه مي پای ته رسولې چي د کلام علماوو ويلي دي او په دې پوه

شوی يم چي جبريه، قدريه او معتزله وايي چي د بنده ټول افعال خدای ته منسوب او د خدای په تقدير دي او بنده هيڅ تاثير پکښي نلري بلکي دی د جماداتو په څېر دی چي هيڅ اراده او حرکت نلري. حتی کفر او ګناه هم د خدای په تقدير ده (نعوذ بالله من الشيطان الرجيم) دا ای حضرت جمال الدين! د هغو کسانو مذهب دی چي تا ياد کړل او له دين نه وتلی او ګمراه کوونکی زمخشري د دوی په سر کښي واقع دی! ملا دغه خبري په ډېر شدت او حدت کولې چي لاسونه او ګوتي يې ښورولې، سترګي يې الوزولې او وريځي يې ښکته پورته کولې او جمال الدين په ډېر تېز نظر ورته کتل او په ډېره آرامۍ او پوره اطمينان يې د ده د حرکاتو مراقبت کاوه او ملا چي د سيد جمال الدين اوږد سکوت وليد په مخ يې ډېري د سرور او خوښۍ نښي ښکاره شوې. دغه وخت جمال الدين وويل: ای حضرت ملا! که زمشخري درته ووايي چي پاک خدای ته د بنده د افعالو په استاد کښي زما حجت او دليل د قرآن له صريح نص نه اخيستل شوی لکه چي وايي (ولا تقو لی لشيئی انی فاعل ذلک غدا الا ان يشا الله) يعني او هيڅ څيز ته مه وايه چي زه به دا سبا کوم مګر دا چي د خدای رضا شي. او لکه دا (وما تشاؤن الا ان يشاالله) يعني او تاسي د خدای له مشيت نه پرته څه کولای نشئ. (ليس لک من الامر شئ) يعني تا لره په هيڅ کار کښي څه نشته. (و من يضلله فما له من هاد) يعني او هغه څوک چي خدای بې لاري کړ، ده لره بل لارښوونکی نشته. او که بيا زمخشري درته ووايي چي کفر او ايمان هم د هغه خدای په تقدير اړه لري چي يکي او يګانه او په خپلو بندګانو غالب دی او بيا له قرآن نه دليل درته راوړی چي خپل رسول(ص) ته يې ويلی و(انک لا تهدی من احببت، و لکن الله يهدی من يشا) يعني ته چا ته هدايت نشې کړی، خو

**خدای هغه چا ته هدايت کاندي چي خوښه يې شي. نو بيا به ای ملا ته څه ورته ووايې؟ چي د بنده افعال د پيغمبر(ص) ددې خبري په دليل (الشقي من بطن امه وسعيد من بطن امه و کل ميسر لما خلق له) خدای ته منسوب دی ته به څه ورته ووايې؟ د حديث د معنی حاصل: شقي او د بدبخت د مور په ګېډه کښي شقي او سعيد اونېکمرغه د مور په نس کښي سعد وي او هر څوک په هغه لار ځي چي ورته پيدا شوې اوسي. او لا درته هغه لوی حديث راوړي چي يوه برخه يې دا ده: (لواجتمع اهل السما والارض على ان يضروک بشی لم يضرک الله به ما اضروک ولوا اجتمعوا) يعني که د آسمانو او ځمکي اوسېدونکي ټول وغواړي چي تا ته يو څه ضرر ور ورسوي چي خدای ستا د ضرر اراده کړې نه اوسي هيڅ ضرر به در ونه رسوی شي که څه هم اتفاق سره وکړي. او لا دا لکه چي ويلي يې دي: (مانفعوک جفت الاقلام و طويت الصحف الخ) يعني او څوک به ګټه در وانه ړوي، قلمونه وچ شوی او پاڼې ټولي شوي دي. او بيا ای حضرت شېخه! که زمخشري درته ووايي چي د بنده د تقوی او فجور اعمال هم خدای ته راجع دی او له قرآن نه دليل درته راوړي: (و نفس و ماسواها فالهمها فجور ها و تقوا ها) يعني او قسم دی په نفس او په هغه ذات چي څنګه يې انسان درست اندام کړ او بيا يې هغه ته بدکاري او پرهېزګاري ور زده کړه. او بيا درته ووايي چي ستا ايمان صحيح کيږي نه تر څو چي په دې ايمان ونلري چي خير او شر د خدای له لوري دي، او لا درته ووايي چي: (الاله الخلق والامر، والى الله ترجع الامور) يعني خلق او امر ده لره دی او هر څه خدای ته راجع کيږي. او داسي نور چي په قرآن او حديث کښي په مکرر ډول راغلي درته وړاندي کښي نو ته به څه ورته ووايې؟ جواب به دې څه وي او څنګه به يې دفع کړې؟**

بيا يې وويل: اى حضرت شېخه! زه په خپل ځوانۍ تېر ژوند کښي هغه وخت چي زه به له علماوو پسي د هغو له منقولات او معقولاتو نه استفادې دپاره تلم او په علمي مجلسونو او مقاماتو په تېرېدم او ګډون به مي پکښي کاوه او ډېر څه به مي ليدل او اورېدل به مي. چي د دغو مجلسونو له جملې نه عجيب ترين او دهشتناك ترين يې دا و چي ما به چي له خپل استاد نه د کومي جملې استفاده کوله غرور به هجوم راباندې راووړ او د استاد په کلماتو به مي تنقيد کاوه که څه به هم د هغه صرف او نحوي په باره کښي و چي له ده به مي زده کړي وو او کله ناکله به مي د ده غلطۍ نيوې او بيا به مي له ډېري کلان کارۍ پوښتنه نه ترې کوله (دا زما د ځوانۍ ورځي وې) که څه به نه پوهېدم هم، لکه د قدريه، جبريه او معتزله د مذاهبو تر منځ فرق شو. تر دې پوري چي يوه ورځ د ده د درس په مجلس کښي ناست وم او زما د ملګرو له جملې نه يو تن چي زما په څېر مغرور و او زمونږ د استاد په مخ کښي يې د جبريه، قدريه او معتزله مذهبونه سره خلط کړل او ټول يې سره يو وګڼل او يوه فرقه يې له بلې نه جلا نکړه، نو بيا استاد په ناصحانه توګه او لهجه وويل عزتندو بچيانو! علم له هغه چا زده کړي چي علم ادب ورښوولی وي، نو بيا د هغه د اعزاز دپاره ورټيټ او په تېز نظر ورته په ځير شو او په ورو او ټيټ اواز يې ورته وويل: هر څه چي معتزله دي انصاف نه دی چي د دوی ټول مذهب ته د دښمنۍ او کراهيت په سترګه وګورو او لا هر څه چي دوی ويلي دي ويې ومنو او رضامندۍ په سترګه ورته وکاته شي، ځکه چي په دوی کښي ډېر لوی-لوی داسي علما او امامان تېر شوی دی چي وروستي خلك د احترام سر ورته ټيټوي. مثلاً اواصل بن عطا در واخله هغه چي د خپل استاد حسن بصري ددرس له مجلس نه ولاړ او ترې

ګوښه شو او د نبوي(ص) مسجد له ستنو نه يوې ستني ته کښېناست او پـه منزلتينو قايل شو او ويې ويل چي د هر څه دپاره ابتـدا او انتهـا وي او د هغو تر منځ به هرومرو وسط هم وي نو د مطلق کفر او مطلـق ايمـان تـر منځ به ضرور يوه متوسط مرتبه وي چي نـه بـه د مطلـق کفـر او نـه بـه د مطلق ايمان حکم پرې کاوه شي، په دې معنی چي د کبيره ګنـاه مرتکـب ته نه په مطلق ډول کافر او نه په مطلق ډول مومن ويلی شو بلکـي بايـده ده چي په يوه متوسط منزلت ورته قايل شو. او بيا يې وويل چـي دا يـوه داسي نظريه ده چي صحيح نه ده چي شا ته واچولـه شـي او اعتنـا پـرې ونشي. په داسي حال کښي چي شارع(ص) ويلی دی: (څوک چي مړ شو او په دې يې شاهدي ورکوله چي له يوه خدای نه پرته بل خـدای نـشته جنت ته به ننوزي) هر څه چي د معتزله وو دا نظر او لا هغه څـه چـي لـه دوی نه نقل شوی او لا دوی ويلی دی چي دوی له دوو ګمراهو او بـې لارو ډلو (لکه خوارج او اهل سنت شول) اعتزال کړی او ګوښـه شـوی دی په دې کښي يو څه افراط او مبالغه وينم او همدغه څيز دی چي دې ته مفضی شوی چي علماوو د دوی د افکارو د قدحې دپاره ځانونه فـارغ کړي او نفياً او لا اثباتاً يې په داسي فرعي امورو کښي دلايـل اقامـه کـړي چي ښه دا ده چي اقتصار يې پرې کړی وای او په هغو حدودو درېـدلی وای چي په عباداتو او معاملاتو کښي د شارع د مقاصدو د فايدې او ګټـې په فهم پای ته رسېدلی وای. بيا يې وويل: د جبريـه وو مـذهب چـي دی (که څه هم په خپل وخت کښي د اسلامي فرقو له جملې نه يوه لويه فرقه او له ټولو نه ډېره جدلي فرقه وه) خو په هر څه کښي په حقه نه وه او نـه ټولو مسلمانانو ته روا ده چي عمـل پـرې وکـړي، ځکـه چـي ددوی پـه مباحث او د دوی د مذهب په اساسـونو کـښي دا ده چـي د بنـده ټـول

افعال خدای ته اسناد وي او د عمل له اختیاري او کسبي جز نــه د دوی انکار د ضعیف العقولو او لنډنظرو خلکو د ښویېدو سبب ګرځي او له دغه لغزش نه څوک سالم او مامون پاتي کېدای نشي مګر هغه کسان چــي پــه خپل ایمان کښي ثابت او په خپلو عقیدو کښي ټینګ وي. ځکــه چــي پــه دغو بحثونو کښي شدید صعوبت او داسي مقامات شته چي له هغو څخــه تېرېدل له پل صراط څخه د تېرېدو ډار تــه ورتــه دی، او دغــه مقامــات د جسماني علم په نسبت روحاني علم ته نژدې دی. او هر څه چي د جبریــه وو له خولې چي معتزله وو هم موافقت ورسره کړی په دې بحث کــښي راغلي چي انسان(اعوذبالله من الشیطان الرجیم) وایي نو که دغه استعاذه د دې دپاره وي چي شیطان ده ته وسوسه وروانه چــوي تــر څــو چــي د خپل خدای نافرماني ونکړي او له ښویېدو یې وساتي نو دا به بیــا لــه دوو حالاتو خالي نه وي، لا به داسي وي چي خدای به په ټولو محدثاتو عالم وي او په خپله ازلي قضا کښي به یې لــه دغــه کــار څخــه د شــیطان منــع راغلې وي او لا به نه وي راغلې، نو که منع راغلې وي او مقدره وي چي د خلکو په زړونو کښي وسوسه وانه چوي او دغه کار ونکړي نو بیا شیطان تر دې حقیرتر او عاجزتر دی چي د خدای د امر مخالفت وکــړي، او پــه دې صورت کښي استعاذه څه معنی نلري، او که شیطان د خدای له خــوا په دې مامور وي چي د انسان په زړه کــښي وسوســه واچــوي نــو بیــا بــه شیطان دغه کار ته داسي مجبور اوسي چي هیڅ خلاصون به تــرې نلــري او ضرور به دغه کار کوي چي بیا هم استعاذه څه فایده نلري، تــر پایــه.... (په داسي حال کښي چي خدای(ج) خاص د بنــده اصــلاح غــواړي او د خپلو بندګان له خبر نه پرته د بل څه اداره نه کــوي او ســتا پروردګــار لــه بندګانو سره ظلم نه کوي). دا او داسي نوري ټولي شبهې چي دي د هغو

په ظاهر باندي عمل کول روا نه دي او لکه چي د مخه مـو وويـل دا لـه هغو مقاماتو څخه يو مقام دی چي انسان ته حاصلېدای نـشي او نـه ورتـه رسېدای شي مګر په نفسي مجاهداتو او رياضتي امدادونو چـي پـه لـوی شارع پسي روان شي او ځان واحد خدای ته ورسوي، او له خـدای نـه پرته بل فاعل نـشته. د مـصطفی(ص) پـه دې دليـل، (اعـوذ برضـاکه مـن سخطك، واعوذ بعفوك من غضبك، واعوذ بك منـك، ولا احـصی ثنـا اعليك انت کما انت، و کما احصيت علی نفسك) د معنی حاصل: ستا پـه رضا ستا له سخط او ستا په عفو ستا له غضب نه پناه غواړم او په تا له تـا نـه پناه غواړم، او زه پر تا ثنا ويلای نشم لکه چي ته يې ورېيې او نـه هغـه ثنـا ويلی شم چي ته يې پر ځان وايې. دغه لوړ مقام د محمـدي(ص) مقامـاتو له جملې نه يو مقام دی. (هغه مقامات چي په هغو باندي د عالم شهود په وسيله چي د تعيناتو د مقام دپاره ده پوه شوی چي خـاص پـاك خـدای فاعل مختار دی او له ده نه پرته بل پروردګار نشته. زمـا اسـتاد علـي مـنلا خان وويل: هر څه چي قضا او قدر دی، لازم دی چي تعريف يې وشـي، ځکه چي ډېر خلك ګمان کوي چي دغه دواړه يـو شـی دي، او بهتـرين تعريف يې دا دی چي قضا عبارت دی له هغه څه څخه چي پاك خـدای په مجمله توګه په لوح محفوظ کښي په ازلي تعيناتو حکم پرې کـړی دی او قدر عبارت دی له هغه څه نه چي په تدريج سره له دغي مجمـوعې نـه يو د بل د وروسته په معلوم شخص او په ټاکلې موده کښي په معين سـبب په ځمکه نازليږي لکه په فلاني مر کښي د فلاني علت له کبله او پـه فلانـي وخت کښي د زيد مرګ شو، دا زما د استاد وينا وه، او ګمان کم چـي تـا حضرت شيخ دغه مسايل په سلېمانيه کـښي لوسـتي او بيـا در څخـه هېـر شوي دي، نو ته زمخشري او د جبريه وو، معتزله وو او قدريه وو د مذهب

د رد او دفع دپاره څه لرې؟ نو بیا شیخ د هغه چه په څېر مات او مبهوت شو چې پر مخ یې د دې خبرې نښې نښانې ښکاره شوې وې چې په دغو خبرو کښې په یه هم پوهېدلی نه دی او نه غواړي چې عجز او ناتواني یې نورو ته ښکاره شي، نو ځان یې راټول کړ او بیا یې په خپل جرئت منګولې خښې کړې او ویې ویل: ای حضرت سیده! ابن خلدون له ما او تا نه عالمتر دی او هماغه خلک د زمخشري د تفسیر له لوستلو منع کړي دي نو ته د ابن خلدون په دغه منع کښې څه وایې؟ نو بیا جمال الدین د ابن خلدون مقدمه راوغوښته او د تفاسیرو فصل یې ولوست تر څو چې د زمخشري ذکر ته ورسېد او ویې لیده چې داسې یې لیکلي و: (په تفاسیرو کښې بهترین تفسیر د زمخشري کشاف کتاب دی خو له دې کبله چې مولف یې په عقایدو کښې له معتزله وو ځنې دی او د دوی په فاسدو مذهبونو یې دلایل راوړي د اهل سنت محققین ترې ګرځېدلي او عام خلک یې له لوستلو منع کړي دیو سره له دې چې په هغه څه چې تر ژبې او بلاغت پورې تعلق لري د ده د قدم په رسوخ اعتراف کوي، نو که د دغه کتاب لوستونکی د اهل سنت په مذهب کښې پوره معلومات ولري او پوره پرې واقف اوسي او د ښه استدلال خاوند وي هرومرو به د هغه له شر او فساد نه مامون پاتې شي نو له دې کبله چې دغه کتاب په نادرو فنونو احتوا لري مطالعه یې غنیمت وګڼه). نو بیا یې ورته وویل: ای حضرت شیخه! دا و هغه چې ابن خلدون ویلي دي او له هغه څخه دا معلومیږي چې که څوک غواړي چې د زمخشري له تفسیر نه استفاده وکړي غټ شرط یې دا دی چې لوستونکی په عقایدو کښې د ثابت قدم او د عباداتو په حقایقو کښې د راسخ علم خاوند وي او دغه راز خلک کولای شي چې په خپله خوښه د زمخشري له تفسیر نه هر څه چې

غواړي استفاده وکړي ځکه چي په دغه تفسير کښي ډېر ښه نوي-نوي شيان شته. دا ای حضرت شېخه! هغه څه و چي د هغه په شان کښي ابن خلدون څه ويلي و نو ته د نورو طعنونو د اثبات دپاره څه لرې؟ شېخ وويل: ای حضرت سيد جمال الدين! له تا او له زمخشري او د منطق له نورو هغو علماوو سره چي ستاسي په څېر دي زما په شان يوه چا ته ګرانه ده چي مجادله ورسره وکړی شي او له تاسي سره له مقابلې نه زما عجز د جبريه د مذهب چي معتزله وايي له مهمو مسايلو سره موافقه کړې ده د ثبوت دليل کېدای نشي، جبريه او معتزله وايي چي له شيطان استعاذه او پناه غوښتل څه فايده نلري په داسي حال کښي چي د قرآن په صريح نص کښي راغلي: (فاذ اقرت القران فاستعذ بالله من الشيطان الرجيم) يعني کوم وخت چي دي قرآن لوسته نو په خدای سره له رجم شوي او رټل شوي شيطان نه پناه وغواړه نو بنا پر دې آيا د نص په موده کښي اجتهاد صحيح دی؟ او آيا د ابن خلدون له خبري دا نه ثابتيږي چي د زمخشري له تفسير نه ډار په کار دی او په اهل سنت باندي د هغه مطالعه منع ده؟ جمال الدين جواب ورکړ: ای حضرت شېخه! ما خو تر اوسه پوري په دغه باره کښي خپل مذهب اعلان کړی نه دی او نه مي تصريح پرې کړې ده، خو ما د دغو بدعتونو د خاوندانو خبري راوړې او غوښته مي چي بحث درسره وکړم او ستا عمق وازمايم او د هغه څه اندازه ځان ته معلومه کړم چي له تا سره د هغو دلايلو له جملې څخه شته چي اهل سنت د خپل مذهب د ثبوت دپاره اعتماد پرې لري او د معتزله وو او جبريه وو د مذاهبو دلايل پرې ماتوي او دغه دواړه مذهبونه د خپل اجتهاد په ظاهر کښي د عتاب وړ نه برېښي، ځکه چي دوی د خدای د لاندي فرمودې په حکم د خپلو عقلونو جلو ايله کړی او د قرآن په حکم

**د قرآن په معانيو کښي له تعقل او تدبر نه کار اخلي لکه چي فرمـايي: (انـا انزلنا قرآنا عربيا لعلکم تعقلون) يعني موږ قرآن په عربـي نـازل کـړی دی ښايي چي تاسي تعقل وکړئ او تدبر په کښي جاري وساتئ (انا جعلنا قرآنـا عربيالعلکم تعقلون) اې حضرت شېخه! عقل چي دی د هر شي له ورود او راتګ نه دمخه د تکليف د تحمل وړ و يعني عقل تر ټول مخلوق نـه لـوی دی او له شيطان نه پناه غوښتل د جبريه وو او نورو په نزد له هغـو امـورو څخه دي چي انساني عقل ته حق ورکوي چي هغه له څو لارو تر څېړني لاندي ونيس: لومړی دا چي آيا تر شيطان نه مقتدر تر څوک شته؟ دوهم دا چي آيا د شيطان قادره او قاهره قوت په ټولو محـدثاتو محـيط دی او که نه؟ په دغو محدثاتو عالم دی او که نه؟ ای حضرت شېخه! جواب خو به هرو مرو دا وي چي پاک خدای له شيطان نه قادرتر او همدغـه پـاک خدای په ټولو حوادثو احاطه لري، ايا داسي نـه ده؟ شـېخ وويـل: هـو! همدغسي ده. نو بيا يې ورته وويل: په دې صورت کښي که شـيطان (هغـه ورځ چي هر څوک له ځانه دفاع کوي) ووايي چي ای زمـا پروردګـاره! ما له خلکو نه (زيد) ته وسوسه واچلو چي فلانی کار وکړي او هغه ستا پـه لوح محفوظ او هغه مسطور کتاب کښي ليکل شوی و چي مخ کښي سـتا حکم او قضا پرې شوې وه نو ما څه قدرت درلود چي ستا قضا محو کـړم او د څه قوت خاوند وم چي ستا مبرمه اراده نافذه نه کړم؟ تا زه ورټلم او ملعون دي وګرځولم نو که ستا دغه کار زما د هغه جرم په سبب وي چـي له ما صادر شوی او ستا د علم له سبقيت او ستا له ارادې او قـضا نـه پرتـه اوسي په دې صورت کښي خو وايم چي ستا عظمت لوړ او قدرت دي تر دې پورته دی چي ستا له ارادې پرته يو څه کار وشي، تر دې لوړ يې چي په خپله بې سارې پادشاهۍ کښي شريک ولرې ته واحد يګانه يـې چـي د**

**خلق او امر مالك يې نو پر ما باندي ستا دغه حكم اى عادله خدايه! ظلم محض دى. (په داسي حال كښي چي زه ستا د بندګانو له كتار نه وتلى نه يم) او تا ويلي او ستا خبره حقه ده (و ما ربك بظلام للعبيد) يعني او ستا پروردګار پر بندګانو ظالم نه دى. او كه تا كوم بل شيطان پر ما مسلط كړى وي چي د هغه په لمسون بندګان اغوا او ګمراه كړم نو له تا نه پرته بل څوك دى چي هغه پر ما مسلط كاندي؟ او له تا نه پرته په آسمانونو او ځمكه كښي د بل څه دپاره مطلق سلطان او كامله قدرت نشته (ان استطعتم آن تنفذو امن اقطار السماوات والارض فانفذوا، لا تنفذون الا بسلطان) يعني اې پېريانو او انسانانو! كه تاسي كولاى شئ چي د آسمانونو او ځمكي له ګوښو نه بېرون ته وتښتئ نو وتښتئ (مګر) د خداى د قدرت او نفوذ له حوزې نه له كوم سند او اجازه نامې نه پرته وتى نشئ نو بيا اى حضرت شېخه! د دغو معتزله وو او جبريه وو په دې خبره كښي څه وايې؟ شېخ وويل: اى حضرت سيده! د معتزله وو او جبريه وو دغه ټولي مغالطې او سفسطې زموږ استادانو د تفاسيرو په مطولاتو كښي لكه د فخر رازي تفسير او په كشاف باندي د ابن طيبي شرحه شول لوستې او د اهل سنت علماوو د دوى د دلايلو فساد ثابت كړى دى او سره له دې چي زه اعجمي ژبى او د دليل له اقامې څخه لري يم په خپل بسيط عقل او لږ نقل كولى شم چي د جبريه وو او معتزله وو د علماوو او امامانو ټول هغه څه چي له دوى نه راغلي په يوه خبره رد كړم او هغه دا ده چي ټول اديان چي اسلام د هغو له جملې څخه دى حق دي او هغه تكاليف چي په هغو كښي راغلي دي واجب الاتباع دي او پيروان يې د ثواب او مخالفين يې د عذاب وړ دي او كه د جبريه وو او معتزله وو مذهبونه حق او صحيح اوسي چي د بنده ټول افعال خير دي او كه شر، په وحدانيت**

باندي اقرار وي او ک شرک، فسق وي او که فجور، غلا وي او که خون او که داسي نور مذموم افعال چي بنده يې کوي د خداى په امر او د ده په قضا او قدر باندي د عمل له مخي اوسي او بنده ته روا ده او حق لري چي له دې کبله چي د ده د امر او قضا او قدر اطاعت يې کړى له خداى نه ثواب وغواړي او وايي چي قتل غلا او کفر يې د ده د قضا او قدر په حکم کړى دى، او لکه چي د زکات او نورو فرايضو په ادا کښي د ثواب مستحق دى همدارنګه د منهياتو په ارتکاب سره هم د ثواب غوښتنه وکړي.

نو اى حضرت سيده! ته چي ځان د دې امت د نبي له اولادې بولې او په مسلمانانو کښي د ډېر شهرت خاوند يې او څوک دي له بهترينو علماوو او د شرعې او د هغې د احکامو په حقايقو او دقايقو باندي له ښو پوهانو ګڼي او څوک دي له دين نه داسي وتلى بولي چي په اديانو او په هغه څه بېخي ايمان او عقيده نلرې چي رسولانو راوړي دي او تا په ما باندي د زمخشري، واصل بن عطا معتزلي او د خوارجو اووه ګونو مذهبونو له خولې سوالونه وکړل او له دغه مجلس نه دمخه د دوى د مذاهبو په تفصيل هيڅ پوه نه وم نو که خوښه دي وي لوړى مي په خپل خاص مذهب پوه کړه چي ته څه عقيده لرې؟ او چي ستا په مذهب خبر شوم که مي له خپلي عقيدې سره موافق ومونده پيروي به دي وکړم او که نه نو درنه ګوښه به شم، ځکه چي د جبريه وو شبهې او د دوى دلايل او نتيجه اخيستل داسي دي چي په ترديد کښي يې عقلونه ګمراه کيږي، مخصوصاً هغه څوک چي زما په څېر ضعيف اوسي. په داسي حال کښي چي قرآن او شرعي تکاليف د دوى د مذهب معارض او زما په فکر د دوى په رد کښي د اهل سنتو دلايل ضعيف دي. اى جمال

**الدين! لنډه خبره دا ده چي لا به ټول هغه شيان چي په دين کښي له امر او نهي نه راغلي د پيروۍ وړ وي او لا به مطلق جبر اوسي چي په امـر او نهي به تکليف لزوم ونلري، او له امت نه زما په څېـر خلکـو پـه لار کـښي همدغه يوازني مشکل دی. نو ای حضرت سيده! که ته کـولی شـې چـي زموږ دپاره د دغه حقيقت له مخـه نقـاب لـري او سـختۍ راتـه آسـانه او حقيقت په داسي توګه راته څرګند کړې چـي د زړه د مريـضانو او کوتـاه نظرانو له نفسونو نه هغه څه لري کړې چي لـه شـک او ارتيـاب نـه پـرې طاري کيږي، نو دغه کار وکړه چي د شکر او ډېر اجر وړ وګرځې.**

**جمال الدين ورته وويل: ای محترمه شېخه! ستا موقف نـن عينـاً هغه موقف دی چي ما د خپل استاد علي منلاخان په حضور کښي درلود. هغه استاد چي د هند له ګوښو او د افغان د ښـارونو لـه ګوټونـو نـه بـه د طالبان کډې ورته رابار وې او د خپلو مشکلاتو او معضلاتو د حل دپاره به ورته راتلل او زه به د هغه څه يادونه درتـه وکـړم چـي پـه دغـه مهمـه او خطيره موضوع کښي ده خپلو شاګردانو ته ويلي او افاده کړي وو.**

**ده ويلي و: ای عزيزانو! اسلامي دين چـي لـه قـرآن نـه اخيـستل شـوی اجازه ورکوي چي په ښه توګه او محموده طريقه مجادله او مباحثه پکښي وشي. (وجادلهم بالتسی هی احسن) او په بحث کـښي يـې د خـشونت او زشتۍ منع کړې ده. څه ښه هغه مجادله او مباحثه ده چـي منظـور يـې د حقيقت څرګندېدل او د حق برېښېدل وي. ای عزيزانو! ښه په ځير شـئ او په دقت سره غوږ ورته کښېږدئ چي موضوع ډېره مهمـه او خطرناکـه ده، د خدای په کتاب او په هغه څه چي دغه کتاب له امر او نهی له ځـان سره راوړي پوهېدل ډېر دقتر غواړي، موږ ګورو چي تکليـف يـوازي پـه انسان تحميل شوی او نور ځناور ترې معاف دي، په داسـي حـال کـښي**

چي په دغو حيواناتو كښي داسي صفات شته چي انسان ته ورته دي او ځيني يې په ځينو صفاتو كښي لكه حس، شعور، وفا او صبر شول تر انسان پورته دي، خو سره له دې هم تكليف پرې تحميل شوى نه دى، دا ولي؟ هو! له دغو صفاتو سره-سره ولي بيا ټول د انساني حيوان دپاره مسخر شوي دي؟ په داسي حال كښي چي انسان د هغو له اكثرو نه په بنيه كښي ضعيف تر، په صبر كښي كمتر، په سركښي كښي ډېرتر او د نعمت په كفران كښي كافرتر دى او چي يو څه ضرر ورته ورسيږي تر ټولو زيات جزع او فزع كوي، هو په ده كښي داسي يو قدرت شته چي د ځمكي د مخ ټول شيان يې ورته مسخر كړي او د دغو موجوداتو د تسخير آله ګرځېدلې ده او هغه د ده د عقل روحانيت دى چي د هغه په وسيله نور موجودات لكه حيروان، جماد او نبات شول ورته مسخر شوي او په خپله خوښه تصرف پكښي كوي. دغه انسان يې په ښه قد او قامت پيدا كړى. او د همدغه عقل په بركت يې په ځمكه كښي خپل خليفه ګرځولى دى. نو خداى(ج) چي دى په ټولو محدثاتو پوه شو او خپله قضا يې وكړه او خپل تقدير يې مقدر كړ او انسان ته يې له خپل الوهيت نه يو څه وروبښل چي په هغه سره د ځمكي پر سر ټول حيوانان او غيره د ځان دپاره مسخر كاندي او په هغه سره پورته عالم ته ځان ورسوي، او د ده روح ته يې هم داسي يو څه وركړل چي په خپل واړه مرګ (چي د ده خوب دى) په غيب باندي احاطه وكاندي دغه انسان دغه وړوكى جرم، هغه چي لوى عالم پكښي پېچل شوى، د دې وړ دى چي د ترجيح لړ مرتبه وپېژني. عزيزانو! له موږ او تاسي نه به كوم څوك وي چي په بې څښتنه مال لاس ومومي او بيا د هغه د اخيستو او پرېښودو تر منځ متردد نشي، نو كه د هغه پرېښوول ورته مرجح شو د ترک فعل واقع شو، او كه اخذ يې مرجح وباله او واې

خيسته هرومرو به د اخذ فعل واقع شوی وي، نو په دغه ترجېح سره چي لا کړو او لا ترک ته منجر کيـږي انـسان د ثـواب او لا د عـذاب مـستحق ګرځي. او هغه امور چي د انسان ترجېح پکښي دخل نلري او نـه يـې پـه کړو او نه کړو کښي جزيي ترين تاثير لري نو په هغو کـښي نظـر شـته او د بحث وړ دی، همدغه شی دی چي په پوهېدو کښي يـې خلـک مـشوش شوي او د دغه راز امورو او هغه کارونو تر منځ فرق او توپير نـشي کـړای چي د انسان ترجېح دخل پکښي لري. او دا هغه څه دي چي کـسب او لا د اختياري جز په نامه يادېږي. او بيا يې په لاندي ډول مثالونه راوړل: پـه شريعت کښي حرام قتل په مطلقه توګـه د نفـس وژل دي خـو پـه شـرعه کښي يې تفصيل راغلی او په څو قسمونو يـې وېـشلی دی، پـه دې توګـه چي قصدي او عمدي قاتل وژل کيـږي او د نـورو قتلونـو دپـاره نـوري جزاګاني ټاکل شوي دي. قصدي او عمدي قاتل مخ کښي له هغه چـي د قتل مرتکب شي د هغه تصور کوي او ضرور به تصميم نيسي او دا فرصـت لري چي په دغه باره کښي فکر وکړي چي ايا د قتل اقدام وکـړي او کـه ترې تېر شي؟ او د وژلو او نه وژلو تر منځ متردد وي او د قتـل د تـرجېح او د هغه د ترک د ترجېح تر منځ فکر وهي او بيا د عمل جانب ته تـرجېح ورکوي او بيا قتل ترې پېښيږي او بيا په همدغه ترجېح سره د قـصاص وړ ګرځي او وژل کيږي او دغه قتل ته د عمد قتل وايي او حکم يې قصاص او ګناه ګاري ده. او که د کوم معدن خاونـد پـه خپـل معـدن کـښي يـو څوک استخدام کاندي او بيا يوه تېږه پرې راولوېږي او دغه مستخدم مړ ړکي په مستاجر باندي هيڅ نوعه تاوان نشته، همدارنګه کـه څـوک نـښه ولي او په خطايي سره پر چـا ولګيـږي او مـړ شـي دغـه سـړی نـه پـرې قصاصيږي، دا ولي؟ پـه داسـي حـال کـښي چـي پـه دغـو دريـو واړو

صورتونو کښي د نفس قتل راغلی او نتيجه يې يوه ده چې د نفس وژل دي، مګر موږ ګورو چې په لومړي صورت کښي چي قصدي قتل دی د فعل د يوه طرف ترجيح شوې ده او لازمه ده چي هغه جزا وګالي چې د ده دپاره ټاکل شوې ده او په نورو واړو صورتو کښي دغسي نه ده نو ځکه يې احکام فرق سره لري او تقدير ورته ورسېد چې د چا ترجيح پکښي برخه نلري.

دا و هغه څه چي زموږ استاد علي منلاخان ويلي و، ای حضرت شيخه! او زموږ دغه استاد په منقول او معقول کښي د رياست مقام ته رسېدلی و، خو سره له دې به هم د ځينو شاګردانو د ژبې له نېش نه خلاص نه و او يوه تن ورته وويل: مولانا! که موږ ترجيح ومنو او مرجح د خپلي ترجيح له کبله د عقاب او عتاب وړ وبولو نو بيا پوښتنه کوم چي آيا مرجح يوازي انسان دی او په دغه ترجيح کښي يې خدای(ج) هيڅ دخل نلري؟ او آيا انسان په هغو ظروفو کښي چي تا اشاره ورته وکړه د خالق له امر نه پرته د خپلو افعالو خالق دی؟

د دې سوال په جواب کښي استاد وويل: هغه څه مي چي دمخه درته وويل کفايت کوي او لنډه يې دا ده چي د بنده هغه افعال چې ترجيح پکښي واقع کيږي مسدود او محدود دی او دا، هغه دی چې په هغو تکليف راغلی او شرعي عمل پرې منع کړې او عذاب يې پرې لازم کړی دی. نو شارع اعظم(ص) د هغه څه مصدق و چې تر ده دمخه راغلي وو لکه تورات او انجيل شول او د ده شرعه واضحتره، صريحتره او فطرت ته نژدې خبره ده او د سليم عقل خاوندان ښه نتيجه ترې اخيستی شي. نو په ټولو شرايعو کښي منع شوي شيان له دې نه وتلي نه دي چي قتل مه کوه غلا او زنا مه کوه او داسي نور چې د کتاب

خاوندانو ته معلوم دي او د اسلام روښانه او حنيف دين يې تصديق کړی دی او په هغه چا يې عقاب لازم کړی چې د منهياتو مخالفت کوي. او دغه ټول منهيات د انسان افعال ګڼل کيږي چې وروسته له هغه منځ ته راځي چې انسان يې تصور کړی او د کړو او نه کړو تر منځ يې متردد شوی وي، نو فعل په قتل او سرقه کښي هغه هم وروسته له هغه چې د غلا وسايل او اسباب يې فراهم کړي وي هرمرو به د انسان په ترجيح اوسي او له دې نه هيڅوک منکر نه دی مګر دا چې مکابره کوي او متعنت اوسي او که خپل نفس ته مراجعه وکړي په يقيني توګه به پوه شي چې دی د خپل عمل په ترجيح نيول کيږي او هغه څه چې د بنده له ترجيح نه بېرون اوسي له هغه څخه نه پوښتل کيږي او نه يې په هغه عذابوي. همدارنګه ټول هغه احکام چې انبياوو(ع) راوړي هغه په دې کښي د خدای له حکمت سره موافق دی چې بنده يې د کړو توان ولري او هغه څيزونه چې د بنده له توانه بېرون اوسي په هغو کښي پر ده باندې عذاب او عتاب نشته. او په ټولو شرعي تکليفاتو کښي چې په هغو کښي ثواب او لا عذاب دی داسي تکليف نشته چې د انسان ترجيح په کلي توګه پکښي دخل ونلري او بيا يې په مکرر ډول وويل: هغه سارق او غل چې د غلا وسايل تهيه کړي او قلفونه پرانيزي او هغه څه چې له جنس او نقد نه په خونه کښي وي له ځان سره واخلي او چې بيا د قضا په لاس ورشي نو ووايي چې (د خدای تقدير و) او همدارنګه هغه زاني چې د عمل له اجرا نه وروسته رسوا او مفتضح شي او د قضا په ګوتو ورشي نو وايي چې (د خدای تقدير و) په دې به خلاص شي؟ حقيقت په دغو ټولو کارونو د همدغه مرجح چې انسان دی دا شعور دی چې هغه څه چې ده کړي دي يو قبيح او ناولی کار دی، او که له ده سره هغه څه وشي چې

ده له بل سره کړي یعني مال یې غلا شي او لا یې آبرو توی کړای شـي او بې ناموسي ورواوړي او لا یې خپلوان ووژل شي هرومرو به خبـره غتـه شي او هرومرو به د دغه مرتکب د سختي جزا غوښتنه وکړي که څـه هـم له لویو جبریاتو څنی وي او ضرور به د جبر له مذهب نـه تېـر شـي او پـه اختیاري او کسبي جزا به قایل شي او د مجرم د جزا مطالبـه بـه وکـړي.
وروسته بیا استاد خپلې خبرې داسې پای ته ورسولې:

عزیزانو! پاک خدای له عقل نه شریف تر څه پیدا کـړي نـه دي، هغه عقل چې په ځمکه کښې یې خپل خلیفه انسان ته ښبلی او بیا یې هغه څه چې په آسمانونو او ځمکو کښې دي د ده دپاره مسخر کړي دي نو بیا نه ښایي او ورته وړ نه ده چې خپل خاورین بدن په هغه پاک روح غالـب کاندي چې له پورته جهان او ملکوتي عالم سره علاقه لري، او هغه هـم د داسې امورو دپاره چې نتایج یې پښېماني او د خوندونو حقیقت یې د الم او درد دفع وي، له تاسې نه به یو څوک هم په دې کـښې شـک او تـردد نلري چې لوی شارع(ص) د خپل امت دپاره انفع او اصلح غوره کړي او بیا یې د مطلق خیر دپاره له ځینو کارونو نه نهي کړي او په هغـه څـه یـې امر کړی دی چې د امت دپاره وړ او شایسته وي قطع نظر لـه دې څخـه چې په آخرت کښې ثواب او لا په دنیا کښې عـذاب پـرې مرتـب اوسـي.
شېخ وویل: ای حضرت سیده! ستاسې د استاد مولانا علي منلاخان خبرې چې تا زموږ عقلونه پرې منور او زمـوږ سـینې دې پـرې خلاصـې کـړې بهترینې خبرې وې چې تر اوسه پورې مې اورېدلې نه وې خو یوه ډېـره مهمه خبره پاتې ده او هغه دا ده چې د مسلمانانو ځینـې فرنګـې مآبـان د دین د دښمنانو د ملاتړ دپاره په اسلام او مسلمانانو حملې کـوي او وایـې چې د مسلمانانو د ببرته پاتېدو او انحطاط، بې عزتۍ او بـې قـدرتۍ او د

ځمكې د ډېري برخې د نه تسخير يوازنى علت دا دى چې دوى په (قـضا او قدر) عقيده لري او دغې عقيدې دوى د ذلت او خوارۍ، عبوديت او بردګۍ دغې درجې ته رسولي دي چې موږ يې د سر په سترګو ګورو نو په دې باره كښې د سيد رايه څه ده؟ خداى دې د هغې ثواب دركړي او ستا علوم دې ګټور شي. نو بيا جمال الدين موسكى شو او يې ويل: حـضرت شېخه! معلوميږي چې ته په عربي ښه ګړېداى شـې! او ګومـان كـوم څـه شى چې لولې ښه به پرې پوهېږې سبا ته به كه خداى كـول يـوه چـاپې رساله دركړم چې د (قضا او قدر) په باره كښې بحث كوي او يوولس كالـه دمخه ما ليكلې او د په پاريس كښې چاپ شوې ده او په ګډه به يـې سـره ولولو او كه څه مشكل په نظر راځي يو د بل په مرسته به يې حل كړو. پـه سبايي نوموړى شېخ لومړنى ملاقات كوونكى و چې د پذيرايۍ پـه خونـه كښې يې پلټۍ وهلې وې او له سيد نه يې د خپلې وعـدې د پـوره كولـو غوښتنه وكړه. سيد لبيك ورته ووايه او په لاندې ډول يې موږ او ده تـه د قضا او قدر رساله ولوسته:

په خپل خلق كښې د خداى(ج) سنت په دې تلې دي چې قلبـي عقايد پر بدين اعمالو يو راز سلطه لري چې د هـري صـلاح او هـر فـساد مرجع د هغه د عقيدې صلاح او فساد څخه دى، يعني كه عقيـده صـالحه وه صالح اعمال ترې صادريږي او كه فاسده وه د فاسـدو اعمـالو مـصدر ګرځي. ډېر كرته يوه عقيده د افكارو اطراف تر تاثير لاندې نيسي او بيا نور عقايد او مدركات د هغې په پيروۍ منځته راځي او بيا له بدن نـه داسـي اعمال صادريږي چې په نفس كښې د هغې له اثر سره وړ اوسـي، او كلـه ډېر واري د خير له اصولو نه يو اصل او د كمال له قواعدو نه يوه قاعـده چې د شرعي په تعليم او لا په تبليغ كـښې خلكـو تـه وړانـدې كيـږي پـه

اورېدونکي باندي په هغې کښې اشتباه راځي، نو بیا حقیقت ترې الونیا شي او لا ده ته ځیني ردي صفات او باطله عقیدې پیدا کیږي، او په دواړو حالاتو کښې د عقیدې مخه اوړي او اثر يې مختلف کیږي، او ډېر کرته په فهم کښې د غلطۍ او لا د استعداد د خیانت له کبله فاسد عقاید ځای پکښې نیسي او بیا ناصالح اعمال ترې صادریږي، او دا پرته له دې چي عقیده کوونکی په دې وپوهیږي چي دغه عقیده څنګه ورته پیدا شوې؟ او لا يې خپله عقیده څنګه په کار اچولې؟ خو په ظواهرو غولېدلي خلك ګمان کوي چي دغه اعمال خاص د دې دپاره له ده څخه صادریږي چي په دغه اصل او دغه قاعده عقیده لري، او په فهم کښې د دغه انحراف او غلطۍ په څېر غالباً د ادیانو په ځینو اصولو کښې تحریف او تبدیل راغلی او په غالب ګمان په هره دین کښې د بدعتونو د ننوتو علت همدغه غلط فهمي ګڼل کیږي او ډېر کرته دغه انحراف او هغه بدعتونه چي ددغه انحراف په اثر منځته راځي د خلکو د طبایعو د فساد او بدو اعمالو منشا ګرځي، تر دې پوري چي د ځینو هغو کسانو د هلاکت سبب ګرځي چي خدای(ج) تر ابتلا لاندي نیولي وي. او همدغه شی دی چي ځیني بې خبره خلك چي د ځینو ساده ګانو او بې علمه کسانو له عقایدو نه په یوه حقه عقیده طعن وواېي. له دغې جملې نه یوه د (قضا او قدر) هغه عقیده ده چي د دین له اصولو ګڼل کیږي او په دغه باره کښې د اغفال کوونکو فرنګیانو آوازونه ډېر شوي او په هغې باندي يې راز-راز ګمانونه کړي دي، او داسي ګمان کوي چي د کوم قوم په زړونو کښې چي دغه عقیده ځای ونیسي همت او قوت ترې سلبوي او ضعف او سستي ځای پکښې نیسي، دوی مسلمانانو ته راز-راز نسبتونه

کوي او هغه ټول په (قدر) باندي تر اعتقاد پوري منحصروي او وايي چي:

مسلمانان په فقر او فاقه ژوند تېروي او په حربي او سياسي قواوو کښي تر نورو ملتونو بېرته پاتي دي، او په دوی کښي اخلاقي مفاسد عام شوي دي، دروغ ډېر وايي، نفاق، خيانت، کينه، بغض او بې اتفاقي ډېره پکښي ليدل کيږي، له خپلو حاضرو او راتلونکو حالاتو جاهل او له هغه څه چي ضرر ورته لري او لاګټه ورته رسوي غافل دي، په دې ژوند چي وخوري، وڅښي او ويده شي قانع دي او له نورو سره په فضيلت کښي رقابت او همچشمي نه کاندي، خو چي هر وخت کوم يوه ته ممکنه شي چي خپل ورور ته ضرر ورسوي نو نه يوازي کوتاهي نکوي، بلکي په ډېره چټکتيا سره د هغه په ضرر رسولو اقدام کوي، نو بيا خپله زورآزمايي په خپل منځ کښي سره شروع کوي او اجنبيان د شا له لوري پرې راځي او يو د بل د وروسته خوري او مړی ترې وهي، په هره عارضه راضي کيږي څري او بيا خپلو استوګنځيو ته راځي. زمامداران او مشران يې په لهو او لعب کښي ډوب وي او خپل ملي فرايض او واجبات نه پر ځای کوي، مصارف يې ورځ په ورځ زياتيږي او د ملت د ګټې په لار کښي يوه غاز که هم نه لګوي، عمومي مصالح د خپلو خصوصي ګټو دپاره له پښو لاندي کوي او کله چي د دوی تر منځ اختلاف نظر پيدا شي د هغه په اثر يو ملت له منځه وړي او تباه کوي يې. نو بيا اجنبيان او پردي ګوري چي قوت يې فاني شوی او وژونکی ضعف پرې مسلط شوی دی په آسانۍ سره هغه لاندي کوي او په شتو يې چرچې چاغوي خوف او وېره، جبن او بزدلي ترې داسي چاپېريږي چي له پس-پس نه ډاريږي او له لاس وروړو نه درديږي، عزت او شوکت ته د رسېدو حرکت نه کوي او نه د

خپل حيثيت د اعادې دپاره ځان ښوروي، او په دې ټولو کښې د دين له اوامرو مخالفت کوي، سره له دې چې خپل ګاونډيان بلکې هغه کسان چې په دوی مسلط دي ګوري چې ورځ په ورځ وړاندې ځي او پر دوی باندې په خپل پېشرفت وياړي او مباهات پرې کوي، او که د دوی له ورونو نه کوم قوم ته څه مصيبت ورسيږي او لا کوم تېری پرې وشي د هغوی د مصيبت د لرې کولو په لار کښې څه کوښښ نه کوي او نه د هغو د کومک دپاره ځانونه ښوروي، په دوی کښې لوی او واړه ملي جمعيتونه، نه په پټه او نه په ښکاره پيدا کيږي او نه کوم ملي فعاليت لري، داسې جمعيتونه، چې مقصد يې د خلکو د غيرت او حميت راويښول د ضعيفانو لاسنيوی، او د زورورو له بغي او تجاوز څخه د خپل حق ساتل او د پرديو له تسلط څخه خپل هيواد ته نجات ورکول وي. په دې توګه دوی مسلمانانو ته دغه راز نسبتونه کوي او په اسلام باندې تورونه لګوي او ګمان کوي چې د دې خبرې منشا په (قضا او قدر) باندې له عقيدې نه پرته بل څه نه دي او بيا حکم کوي چې تر څو چې مسلمانان په دغه عقيده اوسي هيڅ به ښه ورځ ونه ګوري، نه به عزت وموميو او نه به خپل مجد ا لويي راوګرځوي، نه به خپل حق په لاس راوستی شي او نه به د چا تېری دفع کړی شي . نه به د کوم سلطان د تقويې دپاره راپورته او نه د کوم پادشاه د تاييد دپاره، بلکې تل به په ضعف او ناتوانۍ کښې وي او هيڅ به ترې پوره نه وي، تر څو چې يې د هلاکت او زوال کندې ته وروغورځوي (العياذبالله) ځيني به ځيني نور په خپلو شخصي منازعاتو او اختلافاتو له منځه وړي او هغه چې له دوی نه پاتې شوي وي پردي (اجنبيان) يې ربېي او له منځه يې وړي. دغه فرنګيان عقيده لري چې په (قضا او قدر) باندې اعتقاد او د جبريه وو د مذهب تر منځ توپير نشته او

دواړه یو ځېز دي، هغه جبریه چي په دې قایل دي چي انسان پـه خپلـو ټولو کړووړو کښي مجبور محض دی او ګومان کوي چـي مـسلمانان پـه قضا او قدر باندي د عقیدې له کبله ځانونه د هغې بنې په ځېر ګڼـي چـي په هوا کښي ځوړنده وي او بادونه یې هـري خـوا تـه وړي راوړي او دا هم ثابته ده چي که د کوم قوم په زړونو کښي دا خبره راسخه شي چي په کړووړو کښي، په کار او ګفتار کښي، په حرکت او په سـکون کـښي هـیڅ واک او اختیار نلري بلکي دا ټول په یوې جابري قـوې سـره او پـه یـوه قاهر قوت سره کیږي نو هرومرو به یې قواوي له کـاره لـوېږي او د هغـو مواهبو مېوه له لاسه ورکـوي چـي خـدای دوی تـه بـښلې او هغـه لـه ادراکاتو او نورو مادي او معنوي قواوو څخه عبارت دي. همدارنګه دغه عقیده د دوی له زړونو نه د سـعي او کوښـښ داعیـه او د کـسب او کـار روحیه محوه کوي او له دې نه وروسته بیا د دې وړ ګرځي چي د وجود او هستۍ له عالم نه د عدم او نېستۍ عالم ته تحول وکړي. په دې توګه له فرنګیانو نه یـوې ډلـي دغـسي ګومـان کـړی او د دوی پـه مـذهب ډېـر فرهنګي مآبان او په مشرق کښي نور ضعیف العقله خلك تللي دي او زه له دې نه وېره نلـرم چـي ووایـم: ګومـان کـوونکي دروغ ویلـي، او وهـم کوونکی خطا شوی او زغـم کـوونکی پـر باطلـه تللـی او پـه خـدای او مسلمانانو یې په دروغو افترا کړې ده، او په دې وخت کښي یو مسلمان هم نه پیدا کیږي اعم له دې چي سني وي او که شیعه، زیدي وي او کـه اسماعیلي، او وهابي وي او که خارجي، چي د محض جبـر پـه مـذهب قایل او له ځانه د اختیار پـه سـلب بانـدي قایـل وي. بلکـي ټـولي دغـه مسلماني طایفې په دې معتقدي دي چي دوی پـه خپلـو اعمـالو کـښي د اختیاري جز چي کسب نومیږي خاوندانې دي او همدغه اختیاري جز او

کسب د ثواب او عذاب دارمدار دی او دوی په هماغـه څـه تـر حـساب لاندي نيول کيږي چي پاک خدای(ج) دوی ته ښيلی او هغـه اختيـاري جز دی او په همدې جز سره د الهی اوامرو او رباني نواهيـو پـه امتثـال مامور شوی دی چي د هـر خبـر دپـاره بلـونکی او هـري رسـتګاری تـه لارښوونکی دی او همدغه ډول اختيار د شرعي د تکليف مورد دی او په هغه سره حکمت او عدل پای ته رسيږي. هو! په مسلمانانو کښي يوه طايفه وه چي جبريه نوميده او په دې قايله وه چي انسان په خپلو ټولو کړو وړو کښي داسي مجبور او مضطر دی چي هيڅ اختيار نلري او ګومانيې کاوه چي د دې تر منځ چه سـړی د خـوراک او ژوولـو دپـاره خپلـي ژامـي وښوروي او لا ي سخته يخني ولړزوي څه فرق نشته، او د دغـي طـايفې مذهب، مسلمانان يوه فاسده سفـسطه بـولي او د دغـه مـذهب پيـروان د هجري څلورمې پيړۍ په وروستيو ګړيو کښي له منځه لاړل او هـيڅ اثـر يې پاتي نشو او په قضا او قدر باندي اعتقاد عيناً په جبر بانـدي اعتقـاد نـه دی او نه د دې اعتقاد له مقتضياتو څخه هغـه څـه دی چـي دغـو وهـم کوونکو ګومان کړی دی. په قضا باندي اعتقاد نه يوازي په قطعـي دليـل تاييد شوی بلکي انساني فطرت ورته هم لارښوونه کوي او هر څوک چي يو څه فکر ولري ورته آسانه ده چي دې ته ملتفت شي چي هر حـادث او نوی پيدا شوی څيز به ضرور يو داسي سبب ولري چـي پـه زمـان کـښي ورسره مقارن وي، او دغه سړی د اسبابو له سلسلې نه يـوازي هغـه سـبب ګوري چي ده ته حاضر اوسي او تېر سببونه يې د دغه نظام لـه مبـدع نـه پرته بل چا ته معلوم نه دي او له دغو اسبابو، نه هر يو په مابعد او مـستقبل کښي دخل لري چي هغه د عزيز او دانا خدای پـه تقـدير پـوري مربـوط دی. او د انسان اراده ددغي سلسلې له کړيو نه يـوه کـړۍ ده، او اراده د

ادراک اثر او ادراک په هغه څه د نفس د انفعال اثر دی چې پـه حواسـو او مشاهرو طاري کيږي او په هغه اړتياوو چـې پـه فطـرت کـښې آمانـت ايښوول شوی دی. نو بنا پر دې د دې جهان ظواهر او طبيعي عوامل پـه انساني فکر او اراه يوه داسې سلطه لري چې هوښياران لا څه چې ابلهان او ناپوهان هم ترې منکرېدای نشي. که موږ يو جاهل فرض کـړو چـې د جهان د صانع خدای په وجود باندې له اعتراف نه ګمراه شوی نو بيـا دا ورته ممکنه نه ده چې په بشري ارادو باندې د طبيعـي عواملـو او دهـري حوادثو د تاثير له اعتراف نه وتښتي، او آيا انسان کولای شي چې ځـان د خدای له دې سنت او قانون څخه وباسي چې د خپل خلـق دپـاره يـې وضع کړی دی، دا يو امر دی چې د علم لوړ مقام ته رسېدلی څه چـې د علم طالبان هم اعتراف پرې کوي، بل دا چې د فرنګيانو ځيني حکمـا او د سياست علما هم دې ته اړ شوي دي چې د قضا سلطې ته غاړه کښېږدي او د هغې د اثبات دپاره يې اوږدې خبرې کړي دي چې مـوږ د دوی پـه آراوو باندې استشهاد ته اړه نلرو. ځکه چې تـاريخ يـو علـم دی چـې لـه روايت نه پورته دی او د هر امت علماوو په هغه کښې بحث ته زياته توجه کړې او خاص عنايت يې ورته مبذول کړی دی. او دا يو علم دی چـې د ملتونو د ترقۍ او تنزل او د لويو پېښو د طبايعو د خواصو، او په اخلاقـو، عاداتو او افکارو کښې د تغير او تبديل په باره کښې، بلکې د باطن احساس او وجدان د خصايصو په باره کښې او د هغه څه په باب بحث کوي چې د دغو شيانو په تبيعت راځي او د ملتونو له نشئت، د دولتونو له تکـون او د حينو له منځ نه تګ څخه عبارت دی. دغه فن هغه فن دی چـې خلکـو د ادبي فنونو له جملې نه د قدر وړ او ډېر فايده منـد فـن بللـی دی، دا لـه دې کبله چې په دغه علم کښې په (قضا او قدر) باندې د اعتقاد او په دې د

یقین کولو بحث شته چې بشري قواوې د کایناتو د مدبر پــه قبــضه کــښې دي او که بشري قدرت مستقل تاثیر درلودای لوړ ملت به راټیټ شــوی او قوي به ضعیف شوی نه وای او نه به د چا د مجد ماڼۍ نړیــده او نــه بــه د چا نفوذ او قدرت انقراض مونده. په قضا او قدر باندې اعتقاد چې د جبــر له شناعت او ناولتیا نه مجرد شي په ســړي کــښې د شــجاعت او زړورتیــا، جرئت او اقدام صفت پیدا کوي او له هغو مهلکو سره یې پنجــه ورکولــو ته لمسوي چې د زمریانو زړونه رېږدوي او د پړانګانو تریخي چــوي، دغــه اعتقاد نفسونه په ثبات او د سختیو پــه تحمــل او د ډارونــو او اهوالــو پــه ټکولو او له منځه وړلو عادت ورکوي او دغه کارونه یې طبیعت ګرځي. د جود او سخا په ګاڼه یې ښکلي کوي او دې ته یې رابولي چــې لــه خپلــو ټولو ګرانو څیزونو نه تېر شــي، بلکــي دې تــه یــې لمــسوي چــې خپلــي ارواګاني وښندي او د ژوند له تازګیو او ښکلاوو تېر شي، دا ټــول د هغــه حق په لار کښې چې په دغه عقیده باندې د اعتقاد کولو دپاره یې رابولي. هغه څوک چې په دې عقیده لري چې اجــل محــدود او معــین دی، د رزق ضمانت شوی دی او ټول څیزونه د خدای په لاس کــښې دي او پــه خپله خوښه یې اړوي رااړوي څنګه به له خپل حق نه د دفــاع کولــو، د خپل ملت او لا امت د لوړتیا په لار کښې او د هغه څه دپاره په قیام کولــو له مرګ نه وویرېږي چې پاک خدای(ج) په ده باندې له دغو کارونو نــه فرض کړی دی؟ څنګه په د اللهــی اوامــرو او د بــشري ټولنــو د اصــولو مطابق د هغو مالونو په لګولو له فقر او نادرۍ نه وډار شــي کــوم چــې د حــق د اعــزاز او د لــویۍ او مجــد تــشئید او تحکــیم دپــاره وي. پــاک خدای(ج) د دغه اعتقاد درلودلو لــه کبلــه د مــسلمانانو ســتاینه کــړې او ورسره یې د هغه فضیلت او ښه والی بیان کړی او داسي یې فرمایلي دي:

(الذين قال الهم الناس ان الناس لقد جمعوالكم فاخشوهم فزدهم ايمانا و قالو احسبنا الله و نعم الوكيل فانقلبو بنعه من الله و فضل لم يمسهم سؤ واتبعو ارضوان الله، والله ذو فضل عظيم) يعني هغه كسان چې دوى ته خلكو وويل چي خلكو (قريشو) ستاسي د مقابلې دپاره لښكر جمع كړى دى نو ترې ووېرېږئ، نو بيا دغي خبري د دوى ايمان ته قوت وباښه او ويې ويل: موږ ته خداى كافي او ښه كارساز دى، نو بيا د خداى په نعمت او فضل و كرم پرته له دې چي كومه بدي ورته ورسيږي او له كومي ناوړي پېښي سره مخامخ شي بېرته راستانه شول، او د خداى د خوښي او رضامندۍ پيروي يې وكړه او خداى د لوى فضل څښتن دى. مسلمانانو د خپل نشئت په لومړي سر كښي نورو مملكتو ته مخه كړه او داسي يې يو د بل د وروسته فتحه كړل او تر خپلې سلطې لاندي يې راوستل چي زړونه يې په دهشت كښي واچلو او عقلونه يې حيران كړل، لوى-لوى دولتونه يې لاندي كړل او په سترو ملتونو بريالي شول، او سلطه يې د پيرني له غرونو نه چي فرانسه او هسپانيه سره بېلوي د چين تر دېوالونو پوري اوږده شوه او لكه چي دمخه وويل شول چي په دغه وخت كښي د دوى شمېر او جنګي وسايل ډېر لږ وو او د دغو اقاليمو له مختلفو هواګانو او د راز-راز هيوادونو له طبايعو سره عادي هم نه وو خو له دې سره-سره يې لوى-لوى پادشاهان له تختونو نه راوپرځول او له اتيا كلونو نه په كمه موده كښي يې قيصران او كسراګان خوار او زار كړل، په رښتيا چي د مسلمانانو دغه فتوحات د عاداتو له خوارقو او لويو معجزو ګڼل كيږي. په دغه لږه موده كښي يې ډېر ښارونه لاندي او غرونه يې ولتول او د ځمكي پر سر يې د جنګ د ميدانونو له دوړو او ګردونو نه بله ځمكه جوړه كړه، د غرونو څوكي يې د آسانو په سمانو ريز مريز كړې

او په عوض يې د هغو کسانو له سرونو ته نور غرونه او غونډې او تپې جوړې کړې چې د دوی حکومت ته يې غاړه نه ايښوده. هر زړه يې وربېږداوه او ټول خلك يې په سخته وېره کښې واچول، او په دغو ټولو کښې د دوی قايد او سايق په (قضا او قدر) باندې له عقيدې نه پرته بل څه نه و. همدغه اعتقاد و چې له دوی څخه يې د يو څه لږ شمېر سپايانو او غازيانو پښې ټينګې کړې او د دومره ډېرو دښمنانو په مخ کښې ودرېدل چې د ښو ګردونو يې فضا پېچله او سپېرې ځمکې تنګې ورته کولـه خو مسلمانان د همدغې عقيدې په زور دوی له خپلو سنګرونو نه پاڅول او پر شا يې وتنبول. په دغه اعتقاد يې په ختيځ کښې توري وبرېښېدې او په غربي متهاجمو لښکرو يې بڅري ور واورول. همدغه اعتقاد و چې دوی يې د خپلې کلمې د اعلا په لار کښې د خپلو مالونو او هر څه چې يې درلودل په لګولو او صرفولو داسې وادار کړل چې نه له فقره ډارېدل او نه يې له فاقې نه وېره کوله همدغه اعتقاد و چې د عالم په لرې ګوټونو کښې د جنګ ميدانونو ته د اولادونو، ښځو او هر څه چې د دوی په په غېږ و او ساتنه کښې وو، وړل آسانه کړل. داسې چې تا به ويل چې باغونو او چمنونو ته د سيل او تماشا دپاره ځي او لاګواکي دوی په خداى باندې د توکل له کبله له هرې ناوړې پېښې آمان اخيستی او پر خداى باندې د اعتماد په سبب داسې محکمو کلاګانو کښې په آمن او آمان ناست دي چې د هيچا له داړې او چپاول څخه نه وېرېږي. او د دوی ښځې او اولادونه به ګډ ورسره وو او له دې نه پرته چې وسلې به يې نه اخيستې په نورو ټولو کارونو کښې به يې ګډون ورسره کاوه او د غازيانو خدمتونه به يې کول چې نه به د جنګ مړو نه ډارېدل او نه به کوچنيانو وېره پېژنده. همدغه اعتقاد و چې دوی يې د لوړتيا هغې درجې ته

ورسول چې د ودې د نامه يادول به زړونه ويلې کول او لړمنونه بـه يـې خپرول، تر دې پورې چې دښمنان به يې له نامه ډارېدل او همدغه ډار به د هغوی د ماتې او د دوی د برې سبب کېـده. زه وايـم او لـه چـا څخـه ډارېږم نه چې د بشري ټولنې د تاريخ له ابتدا نه تر اوسه پورې کوم لـوی فاتح تېر شوی نه دی چې په متوسطو طبقو کښې پيدا شوی او بيا لـوړې درجې ته رسېدلی وي او بيا سرونه ورته خم شوي وي، مګـر دا چـې پـه (قضا او قدر) عقيده ولري. سبحان الله! انسان چې د فطرت او طبيعت پـه مقتضا په خپل ژوند حريص او په خپل وجود بخيل دی نو بيـا څـه شـی دی چې خطراتو ته غېږ ورکول، مهلکو ته وردانګل او له مرګ سره غېـږ نيول او پهلواني کول ورته آسانوي، دا بل څه نه دی مګر دا چې په قـضا او قدر عقيده ولري او زړه يې ډاډه وي چې مقـدر، کېـدونکی وي او د مظاهرو هول او دهشت څه اثر نلري. موږ ته تـاريخ ثابتـه کـړې ده چـې کوروش کبير(کيخسرو) چې د پخوانيو په تاريخ کښې لـومړنی فـاتح بلـل شوی د ده پراخ فتوحات د دې مولود ګڼل کيږي چې په قضا او قدر يـې عقيده درلوده او د دغې عقيدې په برکت وېرووونکو شيانو نـه ډاراوه او د سختيو په مقابل کښې يې په عزم کښې سستي نـه راتلـه، او کبيـر سـکندر (مقدوني) هم له هغو کسانو څنې و چې په نفسونو کښې يې راسخه شـوې وه او تاتاري چنګېز خان چې د مشهورو فتوحاتو خاوند و د دغې عقيدې له خاوندانو څخه و او لومړنی ناپليون (فرانسوی بوناپارت) له ټولـو نـه د قضا په عقيده کښې ټينګ تر و او همـدغې عقيـدې د ده لـږې لـښکري د ګڼو-ګڼو لښکرو په مقابل کښې درېدو او جنګېدو ته لمسولې او برى به يې ورپه برخه کاوه. او د هلاکت ځای ته به ورغوځېـدې او ځانونـه بـه يـې مرګ ته ورکول او پروا به يې نه کوله نو واقعـاً دا ډېـره عقيـده ده چـې

زړونه د بزدلۍ او بې زړه توب د رذالت له خيرو پاكوي او د شجاعت او مېړاني فضيلت يې په برخه كوي او څوك چې د بزدلۍ په خيرو ككړ اوسي د كمال ذروي څوكي ته رسېداى نشي بلكې د هر پېشرفت او وړاندي تګ لومړنى مانع ګڼل كيږي. هو! موږ انكار نه كوو چې دغه عقيده د ځينو عامو مسلمانانو په نفسونو كښي د جبر له عقيدې سره خلط شوې او ښايي چې هغوى يې بې لاري كړي اوسي. خو د عصر له راسخو علماوو او پوهانو نه زموږ هيله دا ده چې څپل ټول ممكنه كوښښونه په كار واچوي او دغه پاكه عقيده له هغو شوائبو نه خلاصه كړي كوم چې كله ناكله له بدعتونو څخه د خلكو په اذهانو او افكارو طاري كيږي او عوامو ته د اسلافو او نيكه ګانو په سنتونو پند وركړي او هغه څه پكښي خپاره كړي چې پخوانيو امامانو(رض) لكه امام غزالي او ده ته ورته امامان(رح) شول ثابت كړي دي دوى ويلي دي چې توكل او قضا ته تمايل كول له موږ نه شرعي په عمل كښي غوښتي دي نه په لټۍ او ټنبلۍ كښي، خداى موږ ته امر كړى نه دى چې خپل فرايض مهمل پرېږدو او د توكل په دليل خپل وجايب شا ته واچوو، بلكې دا له دين نه د وتلو او له سمې لارينه د بې لاري شوو كسانو دليل دى او په دې كښي له مسلمانانو نه هيڅوك شك او تردد نلري چې په دې وختونو كښي له خپل ملت نه دفاع كول په هر مكلف مسلمان باندې له عينې فرايضو ګرځېدلي دي، او هغو حقه عقايدو ته د مسلمانانو ملتفت كول كوم چې دوى سره يو كوي او دوى بېرته خپل عزت ته ورګرځوي او د دوى همتونه د خپل لومړني شان د استرداد دپاره راپاروي بل څوك نشي كړاى مګر هغه علما چې د تل دپاره د خير لاري ته خلك رابولي او هغه د خپلو غاړو فريضه ګڼي. او د مسلمانانو د انحطاط او بېرته پاتېدو په باره

کښې چې د دوی په ګمان منشا يې دغه عقيده او لا نور عقايد دي صحيح نه ده او نه دغه عقايد د دغه انحطاط او ښرته پاتېدو دليل کېدای شي ځکه دغي عقيدې ته د ښرته پاتېدو نسبت کول دې ته ورته دي چې نقيض ته يې نسبت وشي، بلکې دې ته ورته دی چې څوک واوري ته د حرارت او اور ته د برودت نسبت وکاندي. هو! مسلمانان ته د خپل نشئت په لومړي سر کښې د ښري نښه او د عزت او غلبې مستي پيدا شوه او دوی په همدغه حالت کښې وو چې ناڅاپي له دوو قوي صدمو سره مخامخ شول، يوه په دوی باندې د شرق له لوري د چنګېز خان او د هغه د لمسيانو د تهاجم صدمه او بله د غرب له لوري د ټولو اروپايي هيوادو ګډې حملې صدمه وه چې دوی ته ورسېده او دن شي په وخت کښې صدمه د طبيعت په حکم د انسان فکر او رايه له منځه وړي او د وارخطايۍ او پرامښۍ موجب يې ګرځي او له هغه وروسته د دوی د حکومت واګې داسي خلکو ته په لاس ورغلې چې په سياست ښه نه پوهېدل او حکومتي چاري ناآهلو ته وسپارلي شوې، نو بيا د دوی حکام او زمامداران په خپلو اخلاقو او طبايعو کښې د فساد د جراثيمو او مکروبونو ښه نمونه وه او د دوی د بدبختۍ او آفتونو سبب شول نو بيا ضعف ځای پکښې ونيو او د اکثرو د نظر نقطه هغه جزيات شول چې خوند يې له يوه ګړي نه تجاوز نه کاوه او هر يوه د بل ګرېوان ته لاس واچاوه چې ضرر ورته ورسوي او له هر لوري بدي ورواړوي بې له دې چې کوم صحيح علت ولري او لا کوم قوي سبب موجود اوسي، نو نتيجه دا شوه چې ضعف او نااميدي پرې مستولي شوه او په دغه وضعه اخته شول. خو زه وايم او حق وايم چې دغه ملت تر هغه وخته پوري نه مري څو چې دغه شريف عقايد د دوی په زړونو کښې خپل اصلي مقام

نيولی اوسي او هر وخت چي په دوی نفسي امراض عارض او پـه عقلـي ناجوړی اخته شي هرومرو به يې د حقه عقايدو قوت دفع کوي او امر بـه بېرته هغه څه ته ګرځي لکه چي شروع شوی و او بيا به د خپلو فعـاليتونو ګوندېې خلاصوي او د حکمت پر لارو به درومي. او دا لري نه ده، ځکـه چي تاريخي حوادث يې تاييدوي، تاسي عثمانيانو ته وګورئ چي له دغـو قوي صدمو (تاتاري او صليبي جنګونو) نه وروسته راپورته شول او خپلـي لښکري يې لور پر لور او هري خوا ته رواني کـړې او پـه نتيجـه کـښي د فتوحاتو ميدانونه ورته پراخ شول او ښارونه يې لانـدي کـړل او د ډېـرو زمامدارانو پزې يې په خاور ورسپېرې کړې او ډېر فرنګـي دولتونـه ورتـه تابع شول. تر دې پوري چي عثمـاني سـلطان پـه دولتـو کـښي د (لـوی سلطان) په لقب يادېده او له دې نه وروسته بيا سترګي ورواړوه او وګـوره چي د وروستيو هغو پېښو په اثر چي د دوی هستي يې تهديدوله او له بـد انجام سره يې مخامخ کول څنګه يو حرکت د دوی په نفسونو کښي پيـدا شو او په فعاليت يې شروع وکړه داسـي يـو حرکـت و چـي د ختـيځ او لوېديځ په اکثرو ګوټونو کښي د بصيرت د خاوندانو په افکـارو کـښي يـې سرايت وکړ او دوی له بهترينو وګړو نه يې د حق دپـاره جمعيتونـه جـوړ کړل، داسي جمعيتونه او ټولګي پر ځان يې فرض کړې وه چـي د عـدل او شرعي ملاتړ به کوي او د هغه د افکـارو د خپرولـو او د تيتـو او پرکـو خلکو د راغونډولو او د خبري د يو کولو دپاره بـه پـه ټـول همـت سـره خپل کوښښونه په کار اچوي او دغه ماته بېړۍ به د مقصد پراو ته رسـوي. د دوی له کارونو نه وړوکی يو کار دا و چي دوی په عربي ژبه يوه مجلـه خپروله چي هغه څه چي په دغه مجله کـښي ليکـل کېـدل هغـه د لـري خلکو تر منځ خپاره کړي او يو څه هغـه څـه ورتـه ورسـوي چـي پرديـو

اشغالګرو د دوی په نسبت په زړونو کښې پټ درلودل او موږ ګورو چې د (صالحه جمعيت) [1] د وګړو شمېر ورځ په ورځ زياتيږي او له پاک خدای نه د دوی د اعمالو کاميابي او د حق مقصد تاييد غواړو او د ده له کرم نه هيله من يو چې د دوی په نېکو کوښښو د شرقيانو دپاره عموماً او د مسلمانانو لپاره خصوصاً مفيد اثر مرتب شي. بيا يې وويل: دغه عقيده (قضا او قدر) چې په اسلامي دين کښې د عقايدو له اصولو ګڼل کيږي. حقيقت يې څنګه د جاهلو فرنګيانو او په شرق کښې د هغو ضعيف العقولو او غافلو فرني مآبانو په نزد منقلب شوی او څنګه يې نامطلوبه نتيجه ترې اخيستې ده چې د هغې له لوازمو کرټ نه ګڼل کيږي، بلکې په حقيقت کښې د هغې نقيض دی، او وروسته له هغه چې دغسې شريفې عقيدې خپل مقصد دې ته لمساوه چې د جرئت او اقدام په کامل ترينو صفاتو متصف شي او په ځان کښې د شجاعت او زړورتيا، مهالکو ته غېږ ورکولو او د سختيو تحمل، وجود او سخا، عالي اخلاق پيدا کړي او د حق په لار کښې مرګ سپک وګڼي او د مجد او لويۍ په طلب کښې شي، خو چې ويې ليدل چې مسلمانان په فقر او فاقه کښې ژوند تېروي او ضعف او ذلت ته يې تن ورکړی او نور مذموم اخلاق پکښې شته نو بيا يې هغه ټول د مسلمانانو دې عقيدې ته منسوب کړل چې دوی په قضا او قدر عقيده لري او که مسلمانان د خپلې عقيدې پر اساس روان وای نو بيا به دغسې نسبتونه ورته نه کېدل او له هغو څخه به بري وو، خو د وجود له سننو او د ملتونو د انحطاط له مقتضياتو او بېرته پاتېدو له لوازمو ځنې

---

[1] له صالحه جمعيت نه د سيد مقصد هغه د (ځواني ترکيې هغه سياسي ډله ده چې د هغې له ځينو رجالو سره سيد په پاريس کښې ليدلي و او بيا يې دغه مقاله په ۱۳۰۱هـ کال په پاريس کښې خپره کړې وه.) (مولف)

دا دی چي په هره بدی، وويشتل شي او هر فضيلت ترې سلب کړی شي او بيا يې نېکی، په بدی، بدلېږي او د کمال هر وصف يې نقصان ګڼل کيږي. لنډه دا ده چي ټول هغه محاسن چي لري يې ترې سلبيږي او د نورو بدیو جامې دوی ته اغوستل کيږي، اعم له دې څخه چي په عقايدو کښي وي او که په ښو صفات وکي له دغي جملې څخه يو هم (تعصب) دی او دا يو لفظ دی چي په خاصه توګه يې د شرقي خلکو خولې مشغولي کړې او شخوند پرې وهي او په غونډو او مجلسونو کښي يې له خولو راوباسي، تر دې پوري چي کم عقلان او د جامد فکر خاوندان د خبرو په وخت کښي پر هغه اتکا کوي او هيڅ يوه جمله له خولې څخه نه وباسي چي دغه لفظ يې لا فاتحه، او لا حاشيه او لا خاتمه نه اوسي او په دغه صفت متصف د هري بلا علت او د هري سختی، منبع ګڼي او ګومان کوي چي دغه صفت په هغه سره د متصفو، کاميابی، او بري تر منځ پريږ حجاب او ټينګ سد دی او هغه د هر نقصان عنوان او د هر رذالت نښه نښانه بولي او هغه فرنګي مآبان چي په خپل ړانده تقليد سره د خبط او خلط پر لارو روان دی او د حق او باطل تر منځ توپير نشي کولای تر ټولو زيات په دغه نوي بدعت ژامي کړپوي او د تعصب د مقاسدو په باب سرونه ښوروي، په خپلو ږيرو لوبي کوي او برېتونه الوزوي. او څوک چي په دغه تور تورن شي نو د دې دپاره چي د هغه له کرامت نه يو څه نور هم کم کاندي نو د هغه له تعصب څخه په فرنګي لفظ(فناتيک) تعبير کوي او که يو څوک ومومي چي د دوی له مشرب سره يو څه مخالفت لري هغه متعصب ګڼي استهزا پرې کوي او د سترګو په اشارو، غمزو او سترګک وهلو يې تحقيروي او بد-بد يې يادوي او چي ويې ګورې خپلي تندی تريووي، خپلي پزې ګونجي کړي او له ډېره قاره شا ورواړوي او

ورته ګوري قدر هم نه، او په درد او بلا يې له ځانه رټي. زه نه پوهېږم چي د دوی فکرونو ته له دغه لفظ نه څه معنی ورغلې او څه يې ترې فهمولي دي چي د هري بدي مبدا او د هري نقيصې مصدر يې بولي؟ آيا د دې لفظ په حقيقت باندي يو څه پوهه لري او که نه؟! (تعصب) په مصيبت باندي قيام ته وايي، او هغه له نسبتي مصادرو څخه دی چي عصبي ته يې نسبت شوی دی او هغه د انسان له قوم څخه عبارت دی، هغه قوم چي د انسان قوت او طاقت تقويه کوي او له ده څخه د نورو د تېري او تجاوز مخه نيسي، نو بنا پر دې تعصب د انساني نفس صفت دی چي له هغه څخه د خپلوانو تحفظ نهضت او له خپلوانو څخه د دفاع عمليه صادرېږي. او همدغه وصف دی چي پاک خدای(ج) د هغه په وسيله سره قومونه تشکيل کړي او د ملتونو د بنا بنسټ يې په هغه سره ايښی او هغه په هر ملت کښي د روابطو د تړون حيثيت لري چي د هغه ملت مختلف، تيت او پرک وګړي سره يو کوي او د پاک خدای(ج) په تقدير يو څيز ترې جوړوي او د يوه بدن په څېر چي له متعددو اجزاوو او عناصرو نه ترکيب شوی دی او يو روح يې تدبير کوي د يوه شخص غوندي ګرځي او په خپلو اطوارو او شئونو، نېکمرغۍ او بدمرغۍ کښي له نورو اشخاصو سره توپير پيدا کوي، او همدغه وحدت او يووالی د ملتونو او قبايلو تر منځ د وياړ او مباهات وسيله ګرځي او هر ملت چي د دغه يووالي په برکت يې د رفاهيت او ښه ژوند اسباب برابر کړي او د عزت او لوړتيا، د مقام د لوړتيا او د خبري د نفاذ وسايل يې په لاس راوستي وي د دې حق لري چي په نورو ملتونو وياړي او فخر او مباهات پرې وکړي. د ملتونو تر منځ رقابت او همچشمي د افرادو او اشخاصو تر منځ رقابت او همچشمۍ ته ورته ده او دغه رقابت د ژوند په

ټولو لوازمو کښي چي د انسان په وس کښي دي د کمال ورووستۍ درجې ته د رسېدو دپاره لوی باعث دی. تعصب یو کلي روح دی چي د هبوط او نزول ځای یې د ملت هيئت او صورت دی او د نورو افرادو ارواګاني یې حواس او مشاعر ګڼل کيږي، نو که د کوم پردي له لوري له دغو مشاعرو نه په يوه باندي داسي څه وشول چي ورسره وړ او مناسب نه وو نو بيا دغه کلي روح متاثر کيږي او طبيعت يې د هغه د دفعي دپاره په ځوښ راځي او بيا دغه تعصب له دغه کبله د ټولو حميت او غيرت راپاروي او د قوميت د نارو اور پر لمبو راولي او همدغه شعور او احساس د وګړو او افرادو نفسونه د دنائات کندو ته له لوېدو او په هغه څه کښي د خيانت له ارتکاب نه نجات ورکوي چي ضرر يې ملت ته راجع کيږي او لا يې له ناوړه عاقبت سره مخامخوي. نو بيا په دې کښي څه شک نشته چي په هر ملت کښي د طبيعت استقامت او د فضيلت رسوخ او ټينګښت په هغه ملت کښي د تعصب د درجې په اندازه وي او د ملت د ټولو وګړو تر منځ دغه نږدې والی به هر يو له دوی څخه لکه په يوه ژوندي بدن کښي د سالم غړي په څېر ګرځوي، په داسي توګه چي سر به له خپلي لوړتيا سره-سره له پښو نه مستغني نه وي او پښې به د وجود په مرتبه کښي له خپل ټيټوالي سره-سره د انحطاط احساس نه کوي او د بدن هر غړی به د بدن د ساتني او بقا په لار کښي خپل وظايف سر ته رسوي. او هر وخت چي د يوه ملت د افرادو تر منځ د تعصب د ضعف له کبله د ارتباط قوت ضعيف شو نو بيا يې پلې او اعصاب سستيږي تنابونه يې ورستيږي او رګونه يې له کاره لوېږي او د ملت د هستۍ بنا ا مانۍ انحلال ته رابولي، لکه چي دغه راز عوامل د بدني بنا مانۍ فنا کوي او له منځه يې وړي او بيا کلي روح مري او د ملت هيئت له منځه ځي که

څه هم افارد يې باقي وي ځکه چې دغه پاتي افراد به د تيتــو او پراګنـده اجزاوو په څېر لا به د هستۍ د ضرورت په حكم پـه نـورو بـدنونو پـوري نښلي او لا به د مرګ په قبضه كښې لوېږي تر څو چـې د وروسـتي نـشات ساه په كښې پو كړي شي. دا په حقيقت كښې د خداى(ج) جـاري سـنت دى چې كوم وخت په كوم قوم كښې تعصب كمزورى شـي نـو هغـه پـه ضعف او جبن محكومېږي او بيا يو د بل له حال نه غافـل كيـږي او د دې پسې د روابطو انقطاع راځي. يو بل ته شا كوي او يو له بل نـه تـښتي، پـه داسي توګه چې پښې يې نه ټينګيږي او هر څه له لاسـه وركـوي. نـو بيـا پرديو ته ميدان پراخ شي او په دوى كښې د ګوتو وهلو مجال پيـدا شـي او په خپله خوښه پرې لوبې كوي مګر دا چې پاك خـداى(ج) پـه دوى كښې بيا د دوهم ځل دپاره د تعصب ساه وچلوي او بېرتـه يـې راژونـدي كړي. هو! دا منم چې تعصب د نورو صفاتو پـه څېـر يـو صـفت دى چـې اعتدالي حد او د افراط او فريط دوه پلوونه لري. اعتـدال يـې هغـه دى چې موږ يې مزاياوي بيان كـړې او تفـريط يـې هغـه دى چـې مـوږ يـې ضررونو ته اشاره وكړه، افراط يې هـم داسـي مـذموم دى چـې ظلـم او تېري ته منجر كيږي په تعصب كښې افراط كوونكى نه خپلو منـسوبينو نـه په حق او ناحقه دفاع كوي او يوازې قـوم د كرامـت مـستحق بـولي او پرديو ته د مهملو څارويو په سترګه ګوري او په هيڅ ورته نه قايليږي او نـه يې د ذمه وارۍ رعايت ساتي، او بيا په دې سره د اعتدال له چوكـاټ نـه وزي د تعصب ګټه پر زيان بدليږي او د ملـت ارزښـت او مجـد لـه منځـه وړي. ځكه چې عدل د انساني ټولني د قـوام اسـاس او پـه هغـه سـره د ملتونو د ژوند او بقا مايې ولاړه ده، او هر قوت چـې عـدل تـه غـاړه نـه ږدي وروستۍ برخه يې زاوال دى او په تعصب كښې د افراط دغه حد ته

د شارع(ص) په ژبه په دې قول بد ويل شوي دي (ليس منا من دعا الى عصبية) يعني هغه څوک زموږ له ډلي څخه نه دی چې عصبيت ته رابلل کوي، تعصب څنګه چې مطلق ذکر شي او قومي ناره ترې مراديږي (او مرجع يې د نسبت رابطه او د قوميت يوه ريښه ده) همدارنګه د عرف خاوندانو په هغه کښې پراختيا راوستې او په هغو کسانو يې هم اطلاق کړی چې د دين په تار سره پيیل شوي وي او يو د بل مرسته کوي، او هغه غافله فرنګي مآبان چې په تعصب طعت او لعن وايي په خاصه توګه دغه ډول تعصب ته ډېر بد رد وايي او مذمت يې کوي او موږ خيال نه کوو چې د دوی دغه روش به د عقل له مذهب سره برابر او له واقعيت سره متفق وي، ځکه هغه رشته او هغه تار چې تيت او پرک اجزا داسي سره نښلوي چې له هغو څخه يو داسي قوت جوړ کاندي څو د ناوړو پېښو دفاع وکړي او هر راز کمال ته يې ورسوي په دې کښي سره څه توپير نه لري چې دغه رشته د دين وي او که د قوميت، او دا د عزيز او دانا خدای(ج) له تقدير څني دی چې د بشر په مختلفو اقوامو کښې يې دغه دواړي رابطې او رشتې پيدا کړي او له هري يوې څخه يې د انساني هستۍ د افتخار وړ آثار منځته راوستي او د عقل په نزد د دې خبري تر منځ چې يو خپلوان له بل خپلوان نه دفاع او لا دا چې د ژوندانه په ضرورياتو کښې ورسره مرسته کوي او د دې تر منځ چې د يوې عقيدې خاوندان او لا د دين په تار سره تړل شوي کسان يو د بل مرسته کوي هيڅ توپير نشته. نو په دين کښې د هغو مشترکينو تعصب چې د عقايدو په اصولو کښې سره يو وي که د اعتدال پر حد او پوله ولاړ وي او په معامله کښې تېرى او د مخالفينو د حرمت هتک ته منجر نشي او نه يې د تړون د ماتېدو سبب وګرځي نو دا بيان نه يوازي دا چې د انساني فضايلو لوی

فضيلت او ډېر ګټور تعصب دی، بلکي ډېره مقدسه او ډېره اعلی رابطه ده چي که محکمه وساتل شي د مکنت خاوندان به د سيادت لوړي درجې او د مجد لوړي څوکی ته ورسوي. مخصوصاً هغه کسان چي په دوی کښي د دين نفوذ قوي او نور خواهشونه يې د دين تر تسلط لاندي وي، لکه چي په اسلامي ديانت کښي مو ورته اشاره وکړه مسلمانان وو. موږ دي په دې ونه نيول شو چي موږ دغه رابطه له ډېرو سپېڅلو رابطو وګڼله، ځکه چي دغه رابطه څنګه چي د زياتو وګړو او اشخاصو تر منځ د اختلاف رسوم له منځه وړي او په مقاصدو، عزايمو او اعمالو کښي يې سره يو کوي، همدارنګه د قبايلو او قومونو بلکي په ژبه او عاداتو کښي د مختلفو اقوامو او په صورت او شکل او رنګونو کښي د متفاوتو ملتونو تر منځ نفرت او کرکه له منځه وړي او په يوه مطلب يې سره راټولوي چي هغه تر يوه جامع نامه لاندي د مجد او لويی ټينګښت او د شرف تاييد او د ذکر پايښت او دوام دی. دغه د قدر وړ اثر د ديني تعصب قوت ښکاره کړی او تاريخ وروسته له هغه چي صحيح عقل ورته لارښوونه کړې شاهدي پرې ورکړې ده. په دې وختو کښي ځينو زنديق مآبانو د ديني تعصب د مفاسدو په بيان کښي ژامي کړېولي او ګومان يې کړی دی، هغه څه چي د دين د خاوندانو دپاره د مدنيت کمال ته د رسېدو مانع او د دوی او د علم او معرفت د نور تر منځ حاجب شوی او دوی يې د جهل او نادانی په تورو تيارو کښي غورځولي او د دين په مخالفينو باندي يې ظلم او تېري ته لمسوي هغه له خپلو وروڼو نه د ظلم د پردو د ليري کولو دپاره د دوی حميت او له دين څخه د ضعف او سستی د عواملو د له منځه وړلو دپاره د دوی اتفاق دی، او دا هم د دوی له آراوو ځني ده چي د مفاسدو د له منځه وړلو او د مصالحو د تکميل دپاره بله لار نشته

مګر دا چي ديني تعصب منحل، آثار يې محوه او عقلونه د عقادو له تسلط نه خلاص کړی شي. دغه د اټکل خاوندان دروغ وايي ځکه چي دين د نفسونو دپاره لومړی معلم لارښوونکی استاد او لار مونـدونکی قايـد دی چي د علومو د زدکړي او د معارف پـه پراختيـا توصـيه کـوي، مهربـان مؤدب، او ښه بينا نقاش دی، چي د روح په لوحه باندي ښه آداب، عـالي اخلاق او کريمه سجايا نقشوي، د عدل په لويه لار يې روانوي او د انـسان د رحم او شفقت شعور راويښوي. خصوصاً د اسلام ديـن همدغـه ديـن و چي عربي ملت يې چي تر ټولو زيات وحشي، سخت زړی او ډېر کلـک و په لږه موده کښي د حکمت او مدنيت لوړي درجې ته ورسـاوه، هـو! پـه ديني تعصب باندي لکه په قومي تعصب کلـه ناکلـه داسـي غلـو او افـراط طاري کيږي چـي ظلـم او تيـري تـه مفـضي شـي او ډېـر واري د ديـن خاوندان د خپلو مخالفينو ورکاوي او له منځه وړلو ته راپاروي لکه چـي غربي ملتونه راوپارېدل، په شرقي هيوادو راتـوی شـول او وچ او لانـده يې وسوځول او د چا د کرامت او هستۍ احترام يـې ونـه سـاته او دا بـه هغه خونړۍ او ډاروونکې جګړه کښي و چي د (صليب) د جګړې په نامـه معروفه ده او لکه چي هسپانويانو د اندلس پـه مـسلمانانو وکـړل، او لکـه چي له دغي او هغې نه پخوا، هغه وخت چي مسيحي دين په لومړي سـر کښي شوکت وموندہ دغه راز کارونه وکړل، ځکه چي مسيحيانو د قدرت او او تسلط خاوند ټول يهوديان په قدس کښي سره راټول کړل او پـه اور يې وسوځول خو د دغه راز پېښو موده له دې کبله چي د دين له اصـولو نه مخالفي وې نه اوږديږي او بيا د دين خاوندان د دين هغـو اصـولو تـه بېر ته رجوع کوي چي د سولي، رحم او عدل په قواعـدو او سـتنو ولاړ وي. خو د اسلامي دين د خاوندانو له جملې نه ځينو په تېرو پېړيو کـښي

په خپل تعصب کښي يو څه افراط کړی دی، مګر د دوی دغه افراط دوی دې درجې ته ونه رسول چې مقصد يې له ځمکي د خپل دين د مخالفينو شړل او ورکول وي. لکه چي مسيحيانو په لومړي سر کښي وکړل اودا د مسلمانانو په تاريخ کښي وروسته له هغه چي د عربو د ټاپو له پولو نه تېر شول ساری نه لري او په دې زموږ روښانه دليل دا دی چي د دوی د هيوادونو په داخل کښي تر اوسه پوري مختلف ملتونه وو او شته چي په دوی باندي د مسلمانانو د تسلط له اول سر نه تر اوسه پوري خپل عقايد او خپل عادات خوندي ساتلي او د عقيدې په پرېښودو نه دي مجبور شوي، هغه هم په داسي شرايطو کښي چي مسلمانان د خپل قوت نهايي او وروستۍ درجې ته رسېدلي او دغه ملتونه د ضعف او ناتوانۍ په وروستي پړاو کښي وو. هو! مسلمانانو د خپلو مملکتو په پراختيا او د فتوحاتو په غځولو کښي ډېر شوق درلود او د دوی د سلطنت له معارضينو سره به يې شدت کاوه خو له دې سره-سره به يې هم د نورو د اديانو احترام ساته، د هغوی د ذمې د حق رعايت به يې کاوه او د مختلفو ملتونو چي  د دوی حکومت ته به يې غاړه کېښوده حق به يې پېژاند، د نورو تېری او عدوان به يې ترې دفع کاوه او دې ته به يې نه پرېښوول چي تجاوز پرې وشي، دا د دوی په زړونو کښي ټينګه عقيده شوې وه: (هغه څوک چي به ددوی په حکومت او ذمه وارۍ راضي شول هغوی د هغه څه مستحق وو چي دوی وو او پر هغو هغه، څه پر دوی وو) او له نورو سره په خپلو معاملاتو کښي د خدای له دې فرمودې څخه د يوه وېښته قدر هم نه و کښل شوی لکه چي وايي: (يا ايهاالذين ولاقربين الايه) يعني ای مومنانو! په عدل او انصاف قايم او مستقيم او خاص د خدای دپاره شاهدان اوسئ که څه هم دغه شهادت ستاسي او

ستاسي د مور او پلار او د خپلوانو پر زيان وي. د مسلمانانو د نشئت له لومړۍ ورځې نه تر اوسه پورې د خپلو مخالفينو له جملې نه دهيڅ يوه د تقدم او وړاندي تګ او لوړي رتبې ته د رسېدو نه دی مانع شوی بلکې په اسلامي دولتونو کښې د نورو مختلفو اديانو وګړي د خپل لياقت او استحقاق له مخي ډېرو لوړو رتبو ته رسېدلي او لوی-لوی منصبونه يې په برخه شوي دي، پرته له دې چې د دوی عقايد او لا قوميت په نظر کښې ونيول شي، او دا هم هغه وخت و چې اسلامي دولتونه د خپلې ځوانۍ د قوت او سطوت په حال کښې وو، خو په دې شرط چې د اسلامي دولت په نسبت به مخلص وو او د اسلامي دولت په نسبت به يې توطيې نه جوړولې او نه به يې کارشکنۍ کولې، او ګومان کوم چې غربي ملتونه به تر اوسه پورې د عدل او مسامحې دغې درجې ته رسېدلي نه وي. نو هغه کسان چې ګومان کوي، مسلمانان د خپل دين مخالفينو ته د خپل تعصب له کبله خپل حقوق ورکوي له حق او حقيقت نه ليري لوېدلي دي. مسلمانانو په نورو باندي د خپل دين د قبلولو په لار کښې د زور او اجبار لار نه ده تعقيب کړې که څه هم د خپلو دولتونو په لومړي سر کښې په خپلو جنګونو کښې د شدت خاوندان او د هيوادو په نيولو او د خپل مملکت په پراختيا کښې ساعي وو. دوی له ځان سره يو دعوت درلود چې که چا به په خپله خوښه قبول کړ نو ډېر ښه او که قبول به يې نه کړ نو يو څه مالي تاوان به يې پرې کښېښود چې د نورو په نزد د خراج قايم مقام و، هغه هم د هغو عادلانه شرايطو له رعايت سره-سره چې د اسلامي فقهي له کتابونو نه څرګنديږي. دا د رومانيانو او يونانيانو د هغه بري او غلبې پر خلاف و چې د خپل شوکت په لومړي سر کښې يې په برخه شوی و ځکه دوی هيڅ ځمکه او هيواد نه و لاندې کړی چې د هغه

ځای خلك به يې د خپل دين په پرېښودو او د دوی د دين په منلو مجبور کړي نه اوسي. لکه چې په ځينو شرقي ملکونو بلکي په خپلـه پـه فرنګـي هيوادو کښي او په مذهب کښي يې له خپلو مخالفينو سره وکـړل لکـه د (لوتير) له پيروانو سره چې يې د خپل مذهب (پروتستان) په لومـوړي سـر کښي عمل کړل. دا يو فصل و چې بيان کړی شو او په دې کښي پند شته که څوك غواړي چې پند ترې واخلي. او اوس ستا فکر بېرته هغه څه تـه راګرځوم چې موږ يې د بيـان پـه لټـه کـښي وو او هغـه د دينـي تعـصب موضوع وه. نو آيا د چا چې عقل په کـوم مـرض نـه وي اختـه شـوی او هوښيار اوسي دا حق به ولري چې ديني معتدل تعصب نقيـصه وبـي؟ او آيا ددغه تعصب او قومي تعصب تر منځ څه توپير شته، مګر دا چـې دينـي تعصب ډېر سپېڅليو پاك، او ډېر ګټور دی زه خيال نـه کـوم چـې کـوم عاقل سړی به د هغه څه په صحت کښي شـك او تـردد ولـري چـې مـوږ ثابت کړل، نو بيا څله دغه کسان په هغه څه خوله خوځوي چې پـرې نـه پوهيږي؟ په قومي تعصب باندي افتخار او مباهات کول د عقل له اصولو نه کوم اصل ته مستند بولي او هغه په څه له بهترينو فضايلو ګڼي او له هغه څخه (د وطن د ميني) تعبير کوي؟ او د بشري عمران لـه قواعـدو نـه پـه کومه قاعده باور کوي چې ديني معتدل تصب ښه نه دی او داسي نقيـصه يې ګڼي چې له هغه څخه بايد ځان ژغورل شي؟ هو! فرنګيانو تـه دا پتـه لګېدلې ده چې د مسلمانانو تر منځ له بلي هري رابطـې نـه دينـي رابطـه ډېره قوي او ټينګه رابطه ده او په دې هم ډېر ښـه پوهېـدلی دی چـې د مسلمانانو قوت د همدغه تعـصب د اعتقـاد زېږنـده ده او دغـه فرنګيـان د مسلمانانو په هيوادو کښي سياسي مطامع لري نو ځکه يې خپله ټوله توجه دې ته راګرځولې ده چې دغه راز ټيټ او بې ارزښته افکار په کښي خپاره

کاندي او دا ورته ښه وبرېښوي چي له دغي سپېڅلي رابطې نه تېر شي او دغه رشته يې پرې کړي او د اسلامي ملت بنا ونړوي او دوی ټوټې-ټوټې کاندي، ځکه چي دوی زموږ او د نورو ټولو هوښيارانو پـه څېـر پـه دې پوهېدلي دي چي مسلمانان په خپل ديني تعصب کښي ډېـر ټينـګ او پـه دغه لار کښي له هر څه نه تېر دي. دغو مفسديونو تـه پـه ځينـي اسـلامي هيوادو کښي په دغه باب يو څه بری په برخـه شـوی او پـه نـاپوهی او د تقليد له مخي يې ځينو غافلو مسلمانانو پيروي کړې او د ديني تعـصب پـه نسبت يې د کرکي پيدا کولو په باب د دوی د مساعدت کړی دی. هغه هم وروسته له هغه چي دغه رابطه يې له لاسه ورکړه او پـر ځـای يـې قـومي رابطه قايمه کړای شوه. او په دې کښي دوی هغه چا ته پاتي کيـږي چـي خپل روغ رمټ کور ړنګ کړی او بل استوګنځی يې د ځان دپـاره برابـر کړی نه وي او بيا دي ته اړ شي چي په دښته کښي پرېوزي او د يخنـۍ او نورو جوي حوادثـو د حملـې مـورد وګرځـي او خپـل ژونـد لـه لاسـه ورکړي. له دغي جملې نه هغه څه وو چي انګرېزانو په هند کښي وکـړل. کوم وخت چي انګرېزانو وغوښتل، چي په هند کښي د خپـل حکومـت نفوذ ته دوام ورکړي نو د مسلمانانو افکار يې تر مطالعې او څېړني لانـدي ونيول او بيا ورته څرګنده شوه چي د دوی په دين کښي داسي څـه شـته چي دوی دي راوپاروي خو خپل له لاسـه ورکـړی څيـز بېرتـه پـه لاس راوړي او د ملتونو په طبايعو کښي مطالعې او څېړني دوی تـه لارښـوونه وکړه چي د مسلمانانو ژوند د دين په صـله او رابطـه ولاړ وي او تـر څـو چي په دوی کښي محمد(ص) عقيده او ديني تعصب موجود وي ليري نه ده چي د خپلو حقونو مطالبه وکړي نو بيا يې يو څه داسـي کـسان پيـدا کړل چي په ظاهر کښي يې اسلامي جامې په تن وې او په باطن کښي لـه

دين نه وتلي وو چي دغه ډله په هند کښي د (نيچريه) يعني د دهريانو په نامه يادېدله نو هغوی يې د ځان کړل او د مسلمانانو د عقايدو د فاسدولو په لار کښي يې په کار واچول چي د ديني تعصب د علايقو توهين به يې کاوه او هڅه به يې کوله چي دغه علايق ضعيف کاندي. تر څو چي په دې ترتيب د مسلمانانو د حميت اور مړ او د دوی د غيرت لمبه سړه کړي، جمعيت يې تيت پرک او ټولنه يې ټوټه-ټوټه کاندي، له دغي ډلي سره يې د يوې لويي درسې په جوړلو او د يوې مجلې په خپرولو کښي هر راز مساعدتونه وکړل تر څو چي د هنديانو په منځ کښي دغسي باطل افکار خپاره او په عقايدو کښي يې ضعف تعميم کړي او د مسلمانانو تر منځ د روابطو تارونه وشکوي تر څو چي انګرېزان په دوی باندي د خپل تسلط د جاري ساتلو په لار کښي له خنډونو سره مخامخ نشي او ددوی له لوري يې زړونه ډاډه شي لکه چي د نورو له خوا ډاډه شوي وو. او دغه زنديقان د برتانيې د رجالو او وظيفه دارانو په صوري رعايت چي ورته به يې ښکاره کاوه او لا به يې د ځينو خسيسو او ناڅيزو وظايفو په ورکړه، ځانونه نژدې کول غولېدلي وو (ودي مري هغه څوک چي خپل ملت په يوه مړی پلوري او خپله ذمه واري په ناڅيز عيش ورکوي). دا د اروپايي سياست اسلوب دی چي اروپايي دولتو په کره توګه ازمايلي او د هغې مېوې يې ټولي کړي دي او په همدغه اسلوب يې شرقيان نيولي او لاندي کړي او بيا خپلو مطامعو ته رسېدلي دي. نو له دغو دولتو څخه ډېرو په عثماني ښارونو کښي لکه مصر اونور اسلامي هيوادنه شول خپل دامونه غوړولي او خلک په کښي نيسي او د خپلو سياسي اغراضو د حصول په لار کښي يې استعمالوي. موږ د هغو دهريانو او زنديقانو چي ځانونه د اسلام په لباس پټوي، دې کار ته په تعجب نه ګورو چي دغو

باطلو خواهشونو ته ميلان کوي او د پردو د لاس آله ګرځي خـو پـه دې ډېر تعجب کوو چي چي ځيني ساده مسلمانان سره له دې چي پـه خپلـو عقيدو پاتي او په خپل ايمان ثابت ولاړ هم دي د ديني تعصب د مذمت په باب خبري کوي او برالا ورته بدرد وايي او هغه نوي مدنيت ته د رسېدو مانع بولي، او دغه مسلمانان په دې نه پوهيږي چي پـه دغـو خبـرو سـره دوی خپله همسا ماتوي او خپل شئونات فاسدوي او په خپلو لاسونو او د دغو له دين نه وتلو پـه لاسـونو خپـل کورونـه ورانـوي. دوی د معتـدل تعصب محوه کېدل غواړي او دې ته ملتفت نه دي چي د هغه پـه محـوه کېدو ملت محوه او د پردو لاسونو ته ورکول کيږي، او تـر څـو چـي دا ځمکه او دا آسمانونه وي دوی به مريان کوي. په خدای چي له دغـو او هغو نه زموږ تعجب د هغو غربيانو او فرنګيانو په حال تعجـب ډېـر سـخت دی چي په شرقيانو کښي د دغسي افکارو د خپرولو په لار کښي خپل ټول کوښښونه په کار اچوي او له دې څخه خجالت نه باسي چي ديني تعصب بد يادوي او د تعصب خاوندان په خشونت رتي. په داسي حال کښي چي دغه فرنګيان په دغه راز تعصب کښي تر ټولو سـخت او پـه خپلـو سياسـي حکومتونو کښي د هغه په اساسي دواعيو باندي د قيام دپاره تر نـورو ډېـر حريص دي چي هغه د دين له داعيانو او د هغه د خپرولـو لـه مقـصديانو څخه له دفاع کولو او د هغوی د کاميابېدو په لار کښي لـه دوی سـره لـه مساعدت کولو څخه عبارت دی، او که کوم وخت کومـه داسـي حادثـه ورته پېښه شوه چي هيڅ بشري ټولنه ترې خلاصېدای نشي نـو بيـا نـارې سورې وهي او په ژړا او انګولا، په وير او ستاينو داسي لاس پوري کـړي چي انګازې د غربي مدنيت ټوله فضا پېچي او ټول يو بل ته نـارې وهـي چي هلئ! لويه بلا نازله شوې او مهمه پېښه، پېـښه شـوې ده! تـول سـره

راټول شئ او ددغي واقعې د تدارک دپاره تياری او احتياطي ترتيبات ونيسئ چي بله دغسي پېښه، پېښه نشي تر څو چي زموږ د يني جامعې ته صدمه ونه رسيږي. او دوی به ګوري چي په قوويت کښي له اختلاف سره-سره او په خپلو کښي د بغض او کينې، رخې او نه لوربيني او په سياست کښي له رقابت لرلو سره-سره او دا چي له دوی نه هر يو د بل د ښويېدو انتظار باسي چي ضرر ور رسوي او له ځان نه يې کمزوري کاندي. له دې او له دې ټولو سره-سره کوم وخت چي يو له دوی نه د دين ناره له خولې راوباسي بيا داسي سره نږدې او سره يو شي چي خپلي ټولي جنګي او سياسي قواوي د هغه چا د حمايت او نصرت په لور روانوي چي دوی ته په دين کښي ورته وي او شرکت ورسره لري که څه هم د چين په ليري سر کښي او لا د ځمکي په يوه ليري کونج کښي وي او هيڅ قومي رابطه ورسره ونه لري. خو که په نورو ځايونو کښي د فتنو توپانونه راوالوزوي او د ځمکي مخ ونيسي او په دين او مذهب کښي د دوی د مخالفينو ويني ټوله نږی ولږي نو بيا يې رګ هم ورته نه ښوريږي او نه يې احساس ورته راويښيږي، بلکي سترګي ترې ډومارې او پرېږدي يې چي خپل انتهايي حد ته ورسيږي، او هغه انساني شفقت او طبيعي مرحمت هېروي چي په بشري فطرت کښي آمانت ايښوول شوی دی، لکه چي دوی له خپل دين نه بېرون او وتلي خلک څرېدونکي څاروي او مهمل ځناور ګڼي او هغه انساني نوعه يې نه بولي لکه چي اروپايان ګومان کوي چي دوی يې حاميان او ساتندوی او ملاتړي دي، او دا يوازي ددوی ديندارانو پوري مختصه نه ده بلکي د دوی دهريان او هغه کسان چي په خدای(ج) او د هغه په کتابونو او رسولانو عقيده نه لري هم په ديني تعصب کښي تر دوی وړاندي درومي او د خپل قوم په تقويه

کښي له جد او جهد نه ځانونه نه ژغوري او کاشکي په دغه باب د حق پر پولو درېدای، خو د حق له حدودو او پولو تېرى کوي. فرنګيان د ديني تعصب په تمسک کښي (مخصوصاً انګرېزان) عجيب شان ته دي مثلاً که له دوى څخه يو تن په فکري آزادۍ کښي لوړي درجې ته ورسيږي تر دې پوري چي د حزب د رياست څوکۍ هم اشغال کاندي لکه (ګلاډستون) او د ده امثال شول، خو د دوى له خولو نه يوه خبره هم بهر نه راوزي چي په هغي کښي د (قديسينو) د يوه تن د روح پوکى نه وي او په هيڅ يوه عمل او کار پيل نه کوي تر څو چي په انجيل کښي يې استخاره کړې نه اوسي. او که دي باور نه راځي نو د همدغه (ګلاډستون) کتابونه او پخوانۍ خطابې او مقالې وګوره. نو اى مرحومه امته! دغه ستاسي ژوند دى او ويې ساتئ، دغه موويني دي بې ځايه يې مه تويوئ، دغه مو ارواګاني دي بې موجبه يې له لاسه مه ورکوئ، دغه مو نېکمرغي ده له مرګ نه پرته په نورو پيسو يې مه خرڅوئ. دا مو ديني روابط دي چي وسوسې مو ونه غولوي او خوشي باطلي او بې معنى خبري مو تېر نه باسي، او باطل زرنګار مو فرېفته نه کاندي. د فهم له سترګو، د وهم پردې ليري کړئ او د ديني رابطې په رسۍ ټينګي منګولي ولګوئ، هغه رابطه چي تر ټولو رابطو کلکه او په هغې سره ترکي له عربي، فارسي له هندي او مصري له (المغربي) سره تړل شوى او د نسب د رابطې ځاى يې نيولى دى، تر دې پوري چي يو له دوى نه په هغه څه دريمي چي بل ديني ورور ته يې رسيږي که څه هم هيوادونه يې ليري سره پراته وي، او دا له ډېرو ټينګو هغو رابطو څني ده چي خداى ستاسي په برخه کړې او عزت او قوت، حکومت او سيادت مو له هغې نه قوت مومي، نو هغه له لاسه مه ورکوئ. خ په تاسي لازمه ده چي د هغې په ساتنه او رعايت کښي د عدل

**نفوذ ته تابع اوسئ چي عدل د هستئ اساس دی او په هغه سره يې قـوام ساتل کيږي، هيڅ يو قوم نجات نه مومي او برى يې نـه پـه برخـه کيـږي چي د عدل د اصولو رعايت نـه سـاتي، او پـه تاسـي لازمـه ده چـي لـه خدای(ج) نه ووېرېږئ او د خپلو ذمه واريو په ساتنه کښي د هغه د اوامرو التزام وکړئ، د حق د خاوندان حقوق وپېژنـئ او پـه معاملـه کـښي ښـه اوسئ. د وطن په منافعو کښي خپل اتفاق او يـووالى وسـاتئ، لـه خپلـو وطنوالو سره خپل روابط ټينګ کړئ له خپلو ګاونډيانو سره که څه هم د مختلفو اديانو پيروان وي پـه ښـه توګـه وچلېـږئ او د ګاونـډي تـوب د حقونو رعايت يې وساتئ ځکه چي ستاسي مصالح د هغـوی پـه مـصالحو پوري اړه لري لکه چي د دوی مصالح ستاسي په مـصالحو پـوري پـوري مربوط دي په خپل وطنيت کښي سره وروڼه او يو د بل مرسـتيال اوسـئ چي څوک مو د خوړلو طمعه ونه کړي. خپل ديني تعـصب مـو د تېـري وسيله او د حقونو د پايمالولو ذريعه مه ګرځوئ ځکـه چـي ديـن مـو لـه دغسي کار څخه منع کوي او په سخت عذاب مـو وېـروي. دا پـه خـاطر ولرئ او خپل تعصب مو يو بل ته مجرد ميل مه ګرځوئ بلکي په اتفاق او ګډه سره هغه څه ته مخه کړئ چي له نـورو ملتونـو سـره مـو پـه قـوت، شوکت، سطوت او په هر څه کښي سيالي برابره شي او د ګټورو علومو په زدکړه او د فضايلو او نورو انساني کمالاتو په اکتساب کښي لـه نـورو سـره رقابت وکړئ خپل تعصب مو د خپلي خبري د يووالي او د وګړو د اتفاق وسيله وګرځوئ او يو بل ته د مرستي لاس وروغځوئ، تر څو چي هغه د نقصان له کندي نه د کمال څـوکي تـه ورسـوئ (وتعـاونوا علـی البـر و التقوی ولا تعاونوا علی الاثـم و العـدوان) يعنـي او پـه نېکـۍ او تقـوی**

باندي يو د بل سره مرسته وکړئ او په ګناه او تېري باندي يو د بل سره مرسته مه کوئ.

## د سيد جمال الدين ځيني وجيزې او حيكمانه متلونه

حقايق اوهامو ته زايل كيږي، د ذلت له عواملو يو هم مسكنت (فقر) دى، شرافت او سيادت له عزة النفس سره وي. تيټ همتى هغه څوک دى چي د فضيلت په موقع او د دعوت په صدق پوه شي او هغو ته په چټکۍ ورونه دانګي بلكي انتظار باسي چي په دغه باره كښي د بل تابع او مقلد وي د بې عقلۍ له دلايلو يو دا دى چي سړى يوازې په عمر او زړښت ځان له بل نه بهتر وبولي او ډېر دروند پېښې هغه دى چي د رخي خاوندان(حاسدان) وغواړي د محسود فضيلت پټ كاندي. اعتماد په نفس او توكل د ظفر او كاميابۍ له ډېرو قوي عواملو څخه دي. په انسان كښي داسي غړى نشته چي بې مقصده او بې غايې وښوريږي نو هر حركت چي انسان كوي او په غايه يې نه پوهيږي دغه حركت د ده په ناپوهۍ حكم كوي. حقيرترين د خلكو هغه څوک دى چي د ځان د ژوند دپاره د نورو مرګ غواړي او د دوی ډېر لوی هغه څوک دى چي د نورو د ژوندي ساتلو دپاره ځان وژني كه څه هم يو تن وي. ممكنه ده چي انسان د زمرو كار وكاندي مګر ممكنه نه ده چي زمريان د انسان كار وكړی شي. ذلت او صحيح علم دوه ضدين دي چي سره نه يو ځای كيږي. فقر د فضيلت دشمن او ثروت د رذالت مرستيال دی. تيره تر هغه انسان شه ده چي بې له كوم علت نه كرار ناست وي او د ځان په شان د بل احتياج باسي. د زمانې عالمان زمانه ښكاره كوي. د حق خاوند قوي دی كه څه هم ضعيف اوسي او مبطل ضعيف دی كه څه هم قوي اوسي. حق اخيستل كيږي او وركول كيږي نه، له حق نه ساكت محروم دی.

ډېر لږ کرته حق بې تکليفه لاس ته راځي. کامل انسان هغه دی چې د ځان وقار او د بل د حق رعايت وساتي. ځيني خلک د مرګ له ډاره په مرګ راضي وي او د ذلت له وېرې د ذلت جامې اغوندي. هيڅوک د خپل ملت په مينه کښې مړ شوی نه دی چې هغه ملت ژوندی کړی نه اوسي. که څوک له خپل ژوند سره مينه لري د خپل ملت د ژوند په لار کښې دي ځان ووژني. امت بې اخلاقو او اخلاق بې عقيدې او عقيده بې له فهم څخه نه وي. د ملتونو بهترين موازين د هغو اخلاق دي. د همت د لوړتيا لوی دليل دا دی چې انسان د خپل هغه معتاد څيز برالا مخالفت وکړي چې بطلان يې ورته ثابت شي. په هيڅ قوم کښې د صلاح او اصلاح مجرده دعوی نه ده ډېره شوې مګر دا چې فساد پکښې عموميت نه وي موندلی، د شرقيانو ډېر بد مرض په اتحاد باندي د دوی اختلاف او په اختلاف باندي د دوی اتفاق دی په داسي حال کښې چې ګواکي دوی اتفاق کړی دی چې متفق نشي. استقلال يوه هيله ده چې عمل غواړي د هغه څه پرېښوول چې د صعود سبب وي سقوط او هبوط ته مفضي کيږي. کوم وخت چې د چارو واګي ناپوهانو ته وسپارل شي احوال ناوړه کيږي. کوم وخت چې ميدان له هوښيارانو خالي شو جاهلان مسابقه کوي. زمری هر چيرته چې لاړ شي خپل ښکار مومي. حريت اخيستل کيږي او ورکول کيږي نه. استقلال په خبرو نه اخيستل کيږي. د وطن د حيات په لار کښې د مرګ غوښتنه داسي ده چې لا به شجاعانه شهادت مومي او لا به د عزت مند بادار په شان ژوند کوي. څوک چې د ځان له اصلاح کولو عاجز وي بل به څنګه اصلاح کړی شي. د خپل حق د اخيستلو دپاره د يوه ملت له خوا د يوه ساعت جهاد جاري ساتل هغه ملت چې په پېړه د قيامت تر ورځې پوري په ذلت کښې

ژوند وکړي. هغه ملت چي په پټه د خپل حاکم بدرد وايي او بـرالا يـې بندګي کوي د ژوند حق نه لري. مظلوم ژوندی دی که څه هم مـړ شـي او ظالم مړ دی که څه هم ژوندی اوسي، ډېر پلرونـه شـته چـي د خپلـو زامنو د ژوندي پاتېدو په لار کښي ځانونه وژني او ډېـر لـږ زامـن بـه وي چي د پلرونو د ژوند اوږدوالی پرې دروند نه اوسي او ژر يې مـرګ ونـه غواړي د خسو حمالان چي د تجارت دپاره يې وړي د سرو زرو له پنډيانو نه ښه دی چي ذخيره کوي يې. اديب چي په شرق کښي تر څـو ژونـدی دی مړ دی خو چي مړ شو بيا ژوندی شي، اديبان په خپل ژوند کښي تـر هر چا بېوزلي دي خو چي مړه شي په مرثيو او د تلـين پـه احتفـالاتو لـه تولو بډيانو زيات بډای شي. غرب په علم او عمل وړاندي تللی او شـرق په خپل جهـل او لټـی ټيـټ پرېـوتی دی. د عقلونـو مېـوه هغـه وخـت راټولول کېدای شي چي د اوهامو له ځنځيرونـو څخـه خوشـي کـړی شي. د هغو خلکو ضرر چي برالا پـر کـړه لار روان وي د هغـو کـسانو تـر ضرره ډېر لږ دی چي د استقامت دروغين لباس په تن لري. څـوک چـي غواړي په باطل خلـک وغولـوي پـه واقـع کـښي تـر ټولـو لـومړی دی غولېدلی دی. واقعي ړوند هغه څوک دی چي په نـورو د ړنـدو ګومـان کوي. علم پوست او مغز لري نو هغه چي په پوست واقف او له مغزه بهره ونه لي د غرور په سيند کښي غرقيږي. مغرور هغه دی چي له ځانه راضـي اوسي او بل څوک په نظر نـه ورځـي. کـه څـوک خپـل ځـان دغـسي محاسبه کړي چي بل محاسبه کوي خطاوي به يې کمي او کمـال تـه بـه نژدې شي. د ظالمانو جهل د مصلح دپاره رياضت او فرارول يې سـياحت او وژل يې شهادت دی. د قلم خاوند همسا ته ضـرورت نـه لـري. پـه يـو ميليون خلکو کښي دوه تنه هوښيار حکيمان له هغه يو زرو تنو نه ښـه دي

چي د هوښيارۍ او حکمت دعوی کوي. په خپل صحت باندي اسراف کول په مال باندي له اسراف کولو مضرتر دي. سعادت په دنيا کښي د بشر ورکه ده او چا چي ومونده لږ کرته به يې بل ته ښيي، او زه ګومان نه کوم چي په دې فاني دنيا کښي به موجود اوسي. هغه لښکر چي قايد يې د صبر او ثبات په ګاڼه ښکلی وي او له لښکري نه مخ کښي مرګ ته غېږ ورکوي لږ کرته ماتې خوري. قايد هغه دی چي په خپلو کړو قيادت کوي نه په خپلو امرونو او خبرو.

پای

Download from: aghalibrary.com